

# افغانستان

## په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه

## د ۲۰۱۶ کالنی راپور

کابل افغانستان ، فبروري ۲۰۱۷

عکس از شینگهو/رحمت علی زاده


د بشري حقونو لپاره د ملګرو
ملتونو د عالي کميشنرۍ دفتر

د افغانستان لپاره د ملګرو
ملتونو مرستندويه پلاوی

د مخ پوښ انځور: © (شينګهوا خبري اژانس/ رحمت عليزاده)

هغه قبرونه چې د ۲۰۱۶ د جولای د ۲۳ نيټې د قربانيانو لپاره تيار شوي کوم چې د کابل ښار په دهمزنګ کې په همدې ورځ په يوه سوله اييزه مظاهره کې د ځان مرګي بريد په پايله کې ووژل شول. دغه پېښه د يوناما له خوا له ۲۰۰۱ څخه را پدې خوا تر ټولو زياته مرګانۍ ثبت شوې پېښه ده. يوناما په دې پېښه کې د ۸۵ ملکي وګړو مرګ او ۴۱۳ ژوبله مستند کړې چې اکثريت يې هزاره وګړي او د شيعه مذهب پيروان ول. د داعش ډلې د دې بريد مسؤليت منلی دی.

"دغه خونړۍ جګړه د انسانانو ژوند له منځه وړي او د افغانستان په هره څنده کې ټولنې سره جلا کوي. د ملکي وګړو واقعي ساتنه ریښتیني ژمنتیا ته اړتیا لري او څرګندې عملي کړنې غواړي تر څو ملکي وګړي د ناخوالو څخه وساتي او د جګړې د ښکیلو غاړو څخه غواړي چې د بې توپیره او عمدي کړنو له امله د ملکي تلفاتو حساب ورکونه یقیني کړي."

تادامیچي یاماموتو ، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړی استازی ، کابل ، فبروري ۲۰۱۷

"د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنر زید راعد الحسین وویل ، د مرګ ژوبلې شمیرې راوښودله چې د ټولنې تر ټولو زیانمنونکې برخې تر ټولو لوړه بیه پرې کړې ، ماشومان ووژل شول ، ړانده شول ، معیوب شول او کله یې چې له ناچاوده توکو سره لوبې کولې ، په ناپوهۍ کې د خپلو ملګرو د مړینې لامل شول ، چې په غفلت سره د جګړې د ښکیلو ډلو له خوا شاته پریښودل شوي. ښځې تش په نوم موازي عدلي پروسې تر عنوان لاندې په دوامداره توګه په بیرحمۍ سره سزا ویني په داسې حال کې چې مذهبي اقلیتونه په جوماتونو کې د عبادت پر مهال په نښه کیږي. د تاوترخوالي د دې عمل پایلې کورنیو ، ګردو ټولنو ته وغځیدلې چې دوې ژوبل کړي او خواشیني شوي او نشي کولای چې په ښو ودریږي او یا عدالت او جبران تر لاسه کړي. وروسته له نژدې ۴۰ کلونو پر له پسې وسله والو جګړو څخه د داعش په نوم اوس یوه بله مرګانۍ ډله را پیدا شوه. اوس د دې وخت رارسیدلی چې په جګړه کې ټولې ښکلې خواوې د جنګې جرمونو ارتکاب ته خاتمه ورکړي او دهغه زیان په باره کې فکر وکړي چې خپلو میندو ، پلرونو ، ماشومانو او راتلونکو نسلونو ته یې د بې مانا جنګ د ادامې په ذریعه رسوي."

زید رعدالحسین ، د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي کمنشر ، ژنیو ، فبروري ۲۰۱۷

**صلاحیت/واک**

په افغانستان کې په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړوند د ۲۰۱۶ کال دغه راپور، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) د بشري حقونو د څانګې له خوا چمتو شوی دی، چې د ۲۰۱۶ کال د جنوري له لومړۍ نېټې څخه د دسمبر تر ۳۱ نیټې پورې موده رانغاړي.

دغه راپور د یوناما د بشري حقونو څانګې له خوا د هغه صلاحیت او واک له مخې چمتو شوی دی، چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له خوا د ۲۲۷۴ (۲۰۱۶) پریکړه لیک پر بنسټ یوناما ته ورکړل شوی دی تر څو د ملکي وګړو وضعیت وڅاري، د دوي د خوندیتوب د باوري کېدو په موخه هڅې همغږې کړي، حساب ورکول تقویه کړي او د بنسټیزو ازادیو او بشري حقونو د احکامو، چې د افغانستان په اساسي قانون او په نړیوالو تړونونوکې، چې افغانستان یې غړیتوب لري تسجیل شوي دي، په بشپړ ډول پلي کیدو کې مرسته وکړي، په ځانګړي ډول د هغو احکامو په پلي کولو کې چې د ښځو له خوا د هغوی له ټولو حقونو څخه د برخمن کیدو سره تړاو لري.

۲۲۷۴ (۲۰۱۶) شمیره پریکړه لیک چې په افغانستان کې د وسله والو شخړو په ترڅ کې د ملکي وګړو د وضعیت او په ځانګړي توګه د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په اړوند رواني څارنې او راپور ورکونې ته اهمیت ورکوي.

یوناما یو لړ فعالیتونه تر سره کوي چې هدف یې په ملکي وګړو د جګړې د اغیزو راکمول دي لکه: په خپلواکه او ناپیلي ډول د داسي پیښو څارنه چې د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې لامل ګرځي؛ په وسله والو جګړو کې د زیان من شویو ملکي وګړو د ساتنې د تقویې په موخه ملاتړ؛ او د داسي نوښتونو پیل چې د نړیوالو بشري  حقونو او د بشر پالنې نړیوال قانون او د افغانستان د اساسي قانون او نورو قوانینو سره سمون ولري او په جګړه کې د ټولو ښکیلو غاړو له لوري رعایت شي.

دا راپور د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمشنرۍ دفتر د تخنیکي معلوماتو څخه برخمن شوی دی.

## فهرست


| | |
|---|---|
| میتودولوژي | ۱ |
| لنډيز | ۳ |
| سپارښتنې | ۱۲ |
| ۱. په جنګ ځپلو سیمو کې د بشري حقونو ساتنه | ۱۷ |
| ښځې او وسله واله شخړه | ۱۷ |
| ماشومان او وسله واله شخړه | ۲۱ |
| په روغتیایي خدمتونو  د وسله واله جګړو اغېزې: | ۳۲ |
| د بیان د ازادۍ په حق باندې د وسله واله جګړو اغېزې: | ۳۷ |
| د شیعه مسلمانو مذهبي لړکیو په وړاندې عمدي فرقه ییز بریدونه | ٤۰ |
| د شخړې سره تړلې بې ځایه کېدنې | ٤۳ |
| د پولې پورې غاړې  په اوږدو کې  نښتې | ۴۴ |
| ۲. ځمکنۍ نښتې - د جګړې په منځ کې بند پاتې ملکي کسان | ٤٦ |
| افغان ملي امنیتي ځواکونو ته منسوب شوي ملکي تلفات | ۵۲ |
| ۳. دولت ضد عناصر او داعش/د خراسان ولایت لپاره اسلامي ډله | ۵۸ |
| ځای‌پرځای‌شوي چاودېدونکي توکي | ٦۰ |
| ځانمرګي او ډله ییز بریدونه | ٦۹ |
| د دولت ضد عناصرو له‌خوا هدفي او عمدي وژنې | ۷٤ |
| له شخړې سره د ملکي وګړو تړلې تښتونې | ۷۷ |
| د موازي عدلي جوړښتونو له خوا پلې شوې سزاګانې | ۸۰ |
| د ملکیانو او ملکي اهدافو په عمدي توګه په نښه کول | ۸۳ |
| د طالبانو له‌خوا د مسؤلیت ادعاوې او عامه څرګندونې | ۸۸ |
| د داعش اسلامی دولت/خراسان ولایت | ۹۱ |
| ۴. دولت پلوه ځواکونه | ۹۵ |
| هغه تاکتیکونه او پېښې چې ملکیانو ته تر ټولو زیات زیان اړوي | ۹۵ |
| هوایي عملیات | ۹٦ |
| د تلاشي شریک عملیات | ۱۰٤ |
| د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا د ملکي وګړو وژل: | ۱۰۵ |
| حکومت پلوه وسله والې ډلې: | ۱۰۸ |
| افغان سیمه ییز پولیس | ۱۱۱ |
| د ملکي تلفاتو د کمولو لپاره د دولت پالیسي ګانې او میکانیزمونه | ۱۱٤ |
| ۵. حقوقي چوکاټ | ۱۱۷ |

۶. اصطلاح ګانې ۱۲۳
لومړۍ ضمیمه: د طالبانو له خوا ادعا شوي بریدونه: د هدف د نمونې پر اساس تجزیه ۱۳۱
دویمه ضمیمه: د طالبانو د ادعاوو فهرست "جنګي جرمونه" ۱۳۲
دریمه ضمیمه: په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د عامه چارو مطبوعاتي خبرپاڼه ۱۳۳
څلورمه ضمیمه: په وسلواله جګړه کې د ملکي وګړو د خوندي ساتنې په اړه یوناما د ۲۰۱۶ کال راپور په اړه د افغانستان د اسلامی جمهوریت اعلامیه ۱۳۵
پنځمه ضمیمه: په وسلواله جګړه کې د ملکي وګړو د خوندي ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۶ کال راپور ته د غوڅ ملاتړ ماموریت رسمي ځواب ۱۳۸
شپږمه ضمیمه: په وسلواله جګړه کې د ملکي وګړو د خوندي ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۶ کال راپور په غبرګون کې د طالبانو ځواب ۱۴۰

# میتودولوژي

یوناما د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې راپورونه تر هغه ځایه چې ممکن وي د مرګ ژوبلې په سیمه کې څېړي ، له مخلتفو سرچینو سره په پراخه کچه سلا مشورې کوي او بېلابېل معلومات راغونډوي چې د اعتبار او ریښتینتوب له مخې ارزول شوي وي. یوناما د هرې پېښې په څېړنه او تحلیل کې زیاته هڅه کوي چې تر شوني بریده له مختلفو سرچینو څخه راټول شوي معلومات او نظریات کره او کنترول کړي ، لکه د عیني شاهدانو ، قربانیانو او په مستقیم ډول د زیانمن شویو وګړو ، د نظامي کارکوونکو (د افغان حکومت او نړیوالو نظامي ځواکونو ، د دولت وسله واله مخالفینو په ګډون)، د کلي / ولسوالۍ او ولایت ځایي چارواکو ، مذهبی او د ټولني د مشرانو او نورو برخه والو څرګندونې.

یوناما ټول معلومات د پیښو له سیمې څخه د مستقیمو لیدنو ، د پېښو له ځای څخه د لاسته راغلو موادو ، شواهدو او مدارکو د فزیکي ازمویني ، د روغتونونو او روغتیایي مرکزونو څخه د لیدنو ، د تصویرونو او ویډیوګانو ، د ملګرو ملتونو د امنیت او مصؤنیت د څانګې او نورو ادارو راپورونه ، د دوهم لاس سرچینو او د هغو معلوماتونو له لاري راغونډوي چې د نا حکومتي سازمانونو او دربیمګړو سرچینو له خوا ترلاسه شوي وي.

د ملکي تلفاتو د هرې ځانګړې پېښې د کره کولو لپاره یوناما لږ تر لږه دربو مختلفو او خپلواکو سرچینو ته اړتیا لري لکه قرباني ، شاهدان ، طبی پرسونل ، ځایي چارواکي ، په جګړه کې د ښکېلو غاړو له خوا تایید ، قومي مشر او یا نوري سرچېنې. تر هغه ځایه چې ممکن وي معلومات د قربانیانو یا د پېښو د عیني شاهدانو په مستقیم شهادت او د پېښې د ځای پر پلټنو ولاړ وي. دغه ډول څېړنې تل ممکنې نه وي ځکه د پېښې ځای ته د امنیتي ستونزو له امله لاسرسی محدود وي. په داسي وختونو کې یوناما په یو لړ تخنیکونو باندي اتکا کوي چې د امکان تر بریده د پراخو معتبرو شبکو څخه معلومات تر لاسه کړي او د اعتبار او باور له مخې یې کره کړي.

کله چې د ملکي تلفاتو پېښې مستندي کیږي ، یوناما هڅه کوي د جندر په لحاظ د بېلابېلو سرچینو سره او همدارنګه د نژادي لیږکیو ، قومي او مذهبي ډلو او په ټولنه کې له منزوي شویو ډلو سره مشورې کوي. په دي ډول یوناما د زیانمنیدونکو سرچینو د ساتنې لپاره هڅې کوي چې کیداي شي د معلوماتو د برابرولو له امله له ګبرګونونو سره مخامخ شي او له دوی سره په خوندي ځایونو کې ګوري او له ښځو سره د مروجو ټولنیزو نورمونو سره سم مرکې کوي او په هغو ځایونو کې څېړني نه کوي چیري چې ښایي دغه منابع د ګواښ سره مخامخ شي. دغه راز یوناما د ملکي تلفاتو په اړه د څارنې ، مستندکولو او مدافعه کولو تمایلاتو څخه په فعاله ډول ملاتړ کوي چې په پورتنیو یادو شویو ډلو باندي اغیزه کوي.

کله چې یوناما د یوې پېښې په اړه د معلوماتو له کره والي څخه ډاډمنه نه وي ، دغه ډول پېښې نه تاییدوي. ناتاییدشوي پېښې په دې راپور کې نه دي ځاي شوي. په ځینو قضیو کې تحقیقات ښایي مخکي له هغه چې نتیجي ته ورسیږي څو اوونۍ وخت ونیسي. دا په دې معنا ده چې د ملکي تلفاتو په اړه ارقام چې له یوې پېښې څخه مستند شوي وي ښایي چې بیا نوي شي ځکه چې تازه معلومات رارسیږي او په تحلیل کې ورڅخه کار اخیستل کیږي. په کوم ځاي کې چې معلومات ښه څرګند نه وي او تر څو چې معتبر او قناعت بخښونکي شواهد لاسته نه وي راغلي نو نتیجه ګیري تر هغو نه کیږي ، څو پوري چې د قناعت وړ شواهد لاس ته راشي ، له پایلو پرته قضیه تړل کیږي او په احصایوي راپور کې د هغې خبر نه شاملیږي.

په ټولو مواردو کې د بشرپالنې نړیوال قانون د تطبیق وړ ټول نورمونه یوناما ته لاربښودنه کوي. په ځینو پېښو کې د ځینو قربانیانو ملکي موقف نه شي کیداي چې په قطعي ډول سره په ګوته شي یا د هغه په اړه اختلاف موجودوي.
یوناما ملکې کسان هغه اشخاص ګڼي چې د وسله والو ځواکونو او یا د کومې منظمې وسله والې ډلې غړیتوب ونلري.
یوناما ملکی تلفات په هغه وخت کې نه مستند کوي چیرې ملکي شخص د مړینې یا ژوبلې په وخت کې په مستقیم ډول په دښمنیو کې برخه اخیستې وي، او نه د هغو کسانو مړینې او ژوبلې مستندې کوي چې له بریدونو څخه خوندي وي خو د بشرپالنې د نړیوال قانون لاندې ملکي کسان نه دي لکه د وسله والو ځواکونو طبي او مذهبي پرسونل[1]. یوناما د جګړې د عمر نارینه کسان ملکیان یا جنګیالي نه تصور کوي، بلکه دغه ډول قضاوت په حادثه پورې د تړلو موجودو حقایقو پر بنسټ کیږي او مستندوي. چیرې چې پوره مالومات نه وي، دغه ډول تلفات په احصائیه/راپور کې نه ځایوي.

په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د خپل راپور او ارزونې څخه د ملاتړ په موخه، یوناما په ۲۰۰۹ کال کې یو بریښنایی ډیتابیس جوړ کړ. ډیتابیس داسې طرح شوی، چې د معلوماتو سیستماتیکه، یوشان او اغیزمنه ټولونه او د مالوماتو تحلیل اسانه کوي، چې د جنس، عمر، مرتکب، تاکتیک، وسله او نورو کټګوریو په لحاظ د مالوماتو ویشل او تحلیل هم په کې شامل دي.

څرنګه چې په جګړه کې ډیرې غاړې ښکیلې وي، نو یوناما هر ډول هڅه کوي چې د امکان تر حده پورې په دقیق ډول په ملکي مرګ ژوبله کې مسؤل لوری په کره او مشخصه توګه په ګوته کړي. خو دا مساله په عملیاتي چاپیریال کې د ځینو اړوندو محدودیتونو لکه د ځینو نظامي عملیاتو ګډ ماهیت، او په ډیرو پېښو کې د لومړنیو سرچینو پاتې راتلل چې د ګڼ شمېر نظامي فعالینو یا شورشیانو په منځ کې توپیر وکړي یا داسې حالات چېرې چې هیڅ لوری د یوې پیښې مسؤلیت نه مني له امله تل شونې نه ده.

یوناما د ملکي تلفاتو د هرې پیښې لپاره دولت پلوه ځواکونه یا دولت ضد عناصر په ګډه مسؤل ګڼي او یا یې له نظره "مرتکب کس مالوم نه وي" لکه داسې پېښې چې له جګړو څخه د پاتې شونو توکو چاودنې چې یوه لورې ته هم نه شي منسوبیدلای او یا کیداشي له پخوانیو جګړو څخه پاتې شوي وي.

د دولت پلوه ځواکونو او د دولت ضد وسله والو ډلو تر منځ د ځمکنیو نښتو پر مهال چې کله ملکی مرګ ژوبله یوه لوري ته هم منسوب کېدای نه شي، نو یوناما داسې پیښه په یوه جلا کټګورۍ کې چې دواړو غاړو ته منسوبیږي، اچوي.

یوناما ادعاء نه کوي چې په دغه راپور کې احصایې بشپړې دي او مني چې په عملیاتي چاپیریال کې د محدودیت په پام کې نیولو سره کیداي شي د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې پوره راپور یې نه وي ورکړی.

۱. د زیاتو مالوماتو لپاره د حقوقي جوکاټ څېرکي وګورئ

## لنډیز

*"د روژې مبارکې میاشتې ته یوه ورځ پاته وه چې یو شمېر طالبان زموږ کلي ته راغلل ، نو زما خاوند پریکړه وکړه چې ، مخکې تر دې چې طالبان کلي ته نږدې پر افغان ملي اردو برید وکړي ، موږ باید کلی پرېږدو. لدې نه اووه ورځې مخکې ، څرنګه چې زما یو ماشوم زېږېدلی و او ډېره ناروغه هم وم ، د تلو توان مې نه درلود ، نو باید چې موږ پاتې شوي وای. خو سره لدې ، زما خاوند ، خوابنې ، درې ماشومان او زه له خپل نوي زېږېدلي ماشوم سره ، د نږدې پرانه کلي خواته روان شوو. کله چې موږ د زما د خاوند ریکشې ته ور نږدې شوو ، د هاوان یوه مرمۍ زموږ په خوا کې ولګیده چې زه او زما خوابنې یې ټپي کړو او پرځمکه را پریوتو. زما ماشوم چې په سینه کې د هاوان په ټوټو لګیدلی وو ، څو دقیقې وروسته مړ شو."* [2]

-- د فراه ولایت [3] په بالا بلوک ولسوالۍ کې د یوې ټپي میرمنې سره مرکه چې د جون د میاشتې په څلورمه نیټه یې د ځمکنۍ نښتې په ترځ کې د هاوان مرمۍ د چاودنې له امله یو ماشوم ووژل شو او دوه نور ملکي وګړي ټپیان شول [4] .

په ۲۰۱۶ کال کې د افغانستان د وسله والې جګړې اړوند تاوتریخوالی ملکي وګړو ته درانه تلفات اړولي دي چې په ټوله کې دا د ۲۰۰۹ کال را هیسې ثبت شویو شمېرو کې ترټولو لوړه کچه ده ، چې ملکي وګړو ته یې تلفات وراړولي دي او د هغوی خوندیتوب ته یې هم زیان اړولی. د اوږدې ځمکنۍ وسله والې جګړې په ترځ کې بریدونه د ملکي وګړو هغو خوندي ځایونه  چې باید په امان کې وای هم سرایت کړی. لکه: په جوماتونو کې ځانمرګي بریدونه ، د ولسوالیو په مرکزونو ، بازارونو او د خلکو په کورونو باندې په نښه شوې بریدونه او د پوځي موخو لپاره د ښوونځیو او روغتونونو نه ګټه اخیستنه یې د یادولو وړ بېلګې دي.

یوناما د جنوري د لومړۍ نیټې څخه ، د ډسمبر د میاشتې تر ۳۱مې نیټې پورې ، ۱۱۴۱۸ ملکي تلفات (۳۴۹۸ مړینې او ۷۹۲۰ ژوبلې) ثبت کړیدي ، چې د وژل شویو کسانو په شمېر کې دوه سلنه کموالی او د ټپیانو په شمېر کې شپږ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي. خو په ټولیزه توګه ، د ۲۰۱۵ کال د همدې مودې په پرتله د ملکي وګړو په تلفاتو کې درې سلنه لوړوالی ښيي. [5] د ۲۰۰۹ کال نه را پدیخوا په افغانستان کې وسله والې جګړې د ۲۴۸۴۱ ملکي وګړو د وژل کېدو او ۴۵۳۴۷ کسانو د ټپي کېدو لامل ګرځیدلې دي.

په ۲۰۱۶ کال کې یوناما د ځمکنیو نښتو ، ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو او د جګړو د پاتې شونو چاودېدونکو توکو څخه په ثبت شوي شمیر کې او همدارنګه د ۲۰۰۹ کال څخه راپدیخوا  د هوایي عملیاتو له امله تر ټولو زیات شمېر

---

۲. د فراه د ښار له یو قرباني سره د یوناما ټیلفوني مرکه — د ۲۰۱۶ کال د جون ۱۴ نیټه.

۳. د طالبانو او افغان ملی نظامي ځواکونو تر منځ جنګ څو ورځې دوام وکړ او د دواړو خواو نه د غیر مستقیم او یا چاودیدونکو توکو استعمالول چې له امله یې ملکي وګړي پخپلو کورونو کې بند پاتې وو.

٤. طالبانو پخپل پښتو ویبپاڼه کې په دغه منطقه کې د افغانستان پر ملي پوځي ځواکونو د ۲۰۱۶ کال د جون په ۵ نیټې د برید مسؤولیت په غاړه اخیستې خو د ملکي تلفاتو په اړه یې څه ندي ویلي. نوموړې ویبپاڼه په لاندې ادرس د لاسرسي وړ ده.(http://alemara1.org/?=53236) ،دې ویبپاڼې ته د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر په پنځمه د وروستي ځل لپاره لاسرسۍ شوې ده.

۵. یوناما په ۲۰۱۵ کال کې ۱۱۰۳۴ ملکي تلفات (۳۵۶۵ مړه او ۷۴۶۹ ټپیان) ثبت کړي ، د یوناما ۲۰۱۵ کال د افغانستان په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې کلنی راپور ته مراجعه وکړئ.

ملکي تلفات ثبت کړي دي.٦ د دغو تکتیکونو له امله په ملکي مرګ ژوبله کې په عمومي ډول درې سلنه ډیروالی راغلی ، پداسې حال کې چې له چاودیدونکو توکو ، ماینونو او په نښه شوې او عمدي وژنو ملکي تلفات کم شوی دی.

د ۲۰۱۵ کال په څیر د حکومت د مخالفینو او دولت پلوو ځواکونو ترمنځ ځمکنۍ نښتې په ځانګړې توګه په ګڼ میشتو او هغو سیمو کې چې ګڼه ګوڼه او د خلکو تګ راتګ پکې زیات و ، چاودیدونکې توکي ، ځانمرګي او ډله ییز بریدونه ، هدفي او عمدي وژنې د ملکي تلفاتو ستر او عمده لامل ګڼل کیږي.[۷]

په ۲۰۱۶ کال کې افغان ماشومان د شخړې له امله په جدي توګه اغیزمن شوي. یوناما د ماشومانو ۳۵۱۲ د ماشومانو تلفات (۹۲۳ مړیني ۲۵۸۹ ژوبلې) مستند کړي ، چې د ۲۰۱۵ په پرتله ۲۴ سلنه زیاتوالی ښیي ، چې دا په یوه کال[۸] کې د یوناما[۹] لهخوا د ماشومانو تر ټولو لوړ شمیر ملکي تلفات ګڼل کیږي. په ۲۰۱۶ کال کې د ماشومانو تلفاتو کې غیرمتناسب زیاتوالی په عمده ډول د ۶۶ سلنه ملکي تلفاتو زیاتوالی څخه رامنځته شوي ، چې له جګړې څخه د چاودیدونکو پاتې شونو له امله پیښ شوي ، چې زیاتره قربانیان یې ماشومان وو.

په ۲۰۱۶ کال کې یوناما د ښځو ۱۲۱۸ تلفات (۳۴۱ مړیني او ۸۷۷ ژوبلې) ثبت کړي دي چې د ۲۰۱۵ کال په پرتله دوه سلنه کموالی ښیي[۱۰]. د ځمکنۍ نښتو له امله د ۲۰۱۵ کال په پرتله د ښځو په تلفاتو کې اووه سلنه زیاتوالی راغلی. بله د اندېښنې وړ خبره دا ده چې د حکومت وسلوالو مخالفینو د موازي قضایي جوړښتونو له لارې د ښځو مجازات کولو ته دوام ورکړی.




٦ په ۲۰۰۹ کال کې یوناما د هوایي بریدونو په پایله کې ۶۲۲ ملکي مرګ ژوبلې (۳۸۸ مړینې او ۲۳۴ ژوبلې) مستندې کړې دي.
۷. په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه د یوناما ۲۰۱۵ کلنی راپور ته مراجعه وکړئ.
۸. په ۲۰۱۵ کال کې یوناما ۲۸۴۰ د ماشومانو ملکي تلفات ثبت کړي (۷۳۶ مړه او ۲۱۰۴ ټپیان).
۹ په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۵ کال کلنی راپور وګورئ.
۱۰. د ۲۰۱۵ کال د جنوري ۱ نیټې او دسمبر ۳۱ نیټې تر منځ یوناما ۱۲۴۷ د ښځو تلفاتو (۳۳۴ مړه او ۹۱۳ ټپیان) ثبت کړي.

په ۲۰۱۶ کال کې د افغانستان په اتو زونونو کې په ملکي تلفاتو کې پنځه سلنه زیاتوالی راغلی. وسله واله جګړه تر ټولو زیات جنوبي زون اغیزمن کړی چې ۲۹۸۹ ملکي تلفات (۱۰۵۶ مړه ، ۱۹۳۳ ټپیان) ثبت کړي دي چې دا د ۲۰۱۵ کال په پرتله ۱۷ سلنه زیاتوالی ښيي[۱۱]. مرکزي زون کې دوهم لوړ ملکي تلفات ثبت شوي دي - ۲۳۴۸ (۵۳۴ مړه او ۱۸۱۴ ټپیان) چې د ۲۰۱۵ کال په پرتله ۳۴ سلنه زیاتوالی ښيي چې په ځانګړې ډول په کابل ښار کې د ځانمرګی او پیچلو بریدونو له امله رامنځ ته شوي[۱۲]. په شمال ختیځ[۱۳] او ختیځوسیمو کې په ملکي تلفاتو کې کمښت لیدل کېږي یعنی ۱۵۹۸ ملکي تلفات(۴۳۶ مړه او ۱۱۶۲ ټپیان) په ختیځه سیمه او په شمال ختیځه سیمه کې ۱۲۷۰ ملکي تلفات (۳۸۲ مړه او ۸۸۸ ټپیان) چې دا د پام وړ تعداد یې ثبت کړي دي. یوناما په شمال ختیځ زون کې ۹۰۳ ملکي تلفات[۱٤] (۳۴۱ مړه او ۵۶۳ ټپیان)[۱٥] او په مرکزي لوړه سیمه[۱٦] کې ۱۱۵ ملکي تلفات (۲۵ مړه او ۹۵ ټپیان) مستند کړیدی[۱۷].




په ځمکنی جګړو کې شدت او په ټولنیزو توکه د ناامنیو زیاتوالی او همدارنګه د جګړې درګیرو غاړو لخوا په ځانګړې ډول د حکومت مخالفینو لخوا بشري حقونو او بشر پالنې نړیوال قانون ته درناوی نشتوالی د ملکي وګړو خوندیتوب

۱۱. یوناما په ۲۰۱۵ کال کې ۲۵۵۹ ملکي تلفات (۹۰۶ مړه او ۱۶۵۳ ټپیان) د افغانستان جنوبی سیمه کې یې د هلمند ، کندهار ، نیمروز ، اروزګان او زابل ولایتونو مشتمل دی ثبت کړي دي.

۱۲. د یوناما د تعریف له مخې د افغانستان مرکزي سیمه په کابل ، کاپیسا ، لوګر ، میدان وردک ، پروان او پنجشیر ولایتونو مشتمل دی. کابل ولایت کې ۱۷۵۸ ملکي تلفات (۳۷۶ مړینې او ۱۳۸۶ ژوبلې) مستند کړي. دا په ۲۰۱۶ کې په هیواد کې د بل هر ولایت په پرتله زیات تلفات ګڼل کیږي.

۱۳. د یوناما د تعریف له مخې شمال شرقی زون په بدخشان ، بغلان ، تخار او کندوز ولایتونو مشتمله ده. په شرقی سیمه کې د یوناما په اند کنړ ، لغمان ، ننګرهار او نورستان ولایتونه پراته دي او ملکي تلفات د ۲۰۱۵ کال په پرتله درې سلنه کم شوي دي چې یوناما ۱۶۴۷ ملکي تلفات (۴۸۴ مړه او ۱۱۶۳ ټپیان) ثبت کړي دي. په شمال ختیځ زون کې د ۲۰۱۵ کال په پرتله ملکي تلفات ۳۶ فیصده کم شوي دي چې یوناما ۱۹۸۲ ملکي تلفات (۶۳۷ مړه او ۱۳۴۵ ټپیان) ثبت شویدي.

۱٤. د یوناما د تعریف له مخې شمالی زون په بلخ ، فاریاب ، جوزجان ، سمنګان او سرپل ولایتونو مشتمل دی. ملکي تلفات د ۲۰۱۵ په پرتله ۵۸ سلنه زیات شوي چیرته چې یوناما ۸۶۲ ملکي تلفات (۲۹۸ مړه او ۴۱۵ ټپیان) ثبت کړیدي.

۱٥. د یوناما د تعریف له مخې جنوب ختیځ زون په غزني ، خوست ، پکتیا او پکتیکا ولایتونو مشتمل دی ، ملکي تلفات د ۲۰۱۵ کال په پرتله ۱۸ سلنه زیات شوي چېرته چه یوناما ۱۴۷۰ ملکي تلفات (۵۱۴ مړه او ۹۵۶ ټپیان) ثبت کړي دي.

۱٦. د یوناما د تعریف له مخې غربي زون دبادغیس فراه ، غور او هرات ولایتونو باندې مشتمل دی ملکي تلفات د ۲۰۱۵ کال په پرتله ۱۸ سلنه زیات شوي چیرته چې یوناما ۷۰۳ ملکي تلفات (۲۸۸ مړه او ۴۱۵ ټپیان ثبت کړي دي)

۱۷. د یوناما د تعریف له مخې بامیان او دایکندي په مرکزي لوړې ارتفاع زون کې واقع دي ملکي تلفات ۲۰۱۵ کال په پرتله ۹۸ سلنه زیات شوي چیرته چې یوناما ۵۸ ملکي تلفات (۳۰ مړه او ۲۸ ټپیان) ثبت کړي دي.

د ګواښ سره مخ کړی او په پراخه کچه د حساب ورکونی نه شتون دغه وضعیت نور هم ترینګلی کړی ، پدې برسیره د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د نه منلو وړ اوچتې شمېرې سره په ۲۰۱۶ کال کې د جګړې له امله په لوړه کچه ملکیان د خپلو کورونو څخه بېځایه شوي چې د خپل معیشت او جایداد پرېښودو سره سره د دوی لاس رسی روغتیا او زده کړو ته محدوده شویده.

په افغانستان کې په وسلواله جګړو کې د ملکي وګړو د ساتنی د ۲۰۱۶ کال راپور زمونږ پام د ځمکنی نښتو د ناوړه او ویجاړونکو پایلو ، په پراخه کچه د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو چې په قصدي ډول ملکي وګړې په نښه کوي ، د ځای په ځای شویو بمونو ، دوامداره استعمال ناوړه اغیزې په ملکیانو باندې او په ملکي سیمو کې د ناچاودو توکو شتون چې د ماشومانو لپاره یې بدې پایلی درلودلی رااړولی - دغه راپور د بیان ازادي ، د دین اوعقیدې پر ازادیو باندې د جګړې ناوړه اغیزو په اړوند تفصیلي معلومات وړاندي کوي.

*د ملکي تلفاتو د مسؤلیت منسوبول:*

یوناما د ټولو ملکي وګړو د مرګ ژوبلې ۶۱ سلنه د دولت ضد وسلوالو مخالفینو (په خاص ډول طالبان)[۱۸] ، ۲۴ سلنه یې د دولت پلوو ځواکونو (۲۰ سلنه افغان ملی نظامی ځواکونو ، دوه سلنه دولت پلوو ملېشو[۱۹] او دوه سلنه نړیوال ځواکونو) ته منسوب کړي او ۱۰ سلنه[۲۰] نور یې د دولت ضد وسلوالو مخالفینو او دولت پلوه قواو تر منځ د ځمکنیو نښتو پر مهال رامنځ ته شوي او کوم خاص لوري[۲۱] ته ندي منسوب شوي - د ملکي تلفاتو پاتې ۵ سلنه یې د جګړې څخه د چاودیدونکو پاتې شونې توکو له امله رامنځ ته شوي او کوم لور ته منسوب شوي نه دي[۲۲].

۱۸. دولت ضد عناصر پر ټولو هغو افرادو او وسله والو ګروپونو چې د افغانستان دولت او یا د نړیوالو ځواکونو پر خلاف مسلحانه فعالیت کوي ، ویل کېږي. څوک یې ځان طالبان معرفي کوي یا هغه افراد چې غیر دولتي وسله وال ګروپونه چې وسله والو شخړو کې ښکېل دي په شمول د حقاني شبکه ، حزب اسلامي ، د ازبکستان اسلامي تحریک ، د اسلامي جهاد اتحاد ، د لشکر طیبه ، جیش محمد ، ګروپونه چې د داعش اسلامې دولت خراسان ولایت په نوم اونوري ملیشه او وسله وال ګروپونه چې د سیاسي ایډیالوژیکي یا اقتصادي موخو د وسله والو ورانکارو ګروپونو په شمول چې په مستقیم ډول وسله والو شخړو اویا په جنګ کې ښکېل دي.

۱۹. د دولت پلوه ځواکونو اصطلاح د افغان دولت ملی پوځي ځواکونه ، نور ځواکونه او پوځي او نیمه پوځي ګروپونه چې د ترهګرۍ پر خلاف عملیاتو کې دخیل وی او د افغانستان دولت تر کنترول لاندې اوسي استعمالیږي.

۲۰. د ټولو ۱۷۷۳ ملکي تلفاتو (۴۸۲ مړه او ۱۲۹۱ټپیان) چې په ځمکنی نښتو کې افغان پلوه ځواکونو ته منسوب دی. یوناما ۸۹۹ ملکي تلفات (۲۵۴ مړه او ۶۴۵ ټپیان) افغان ملی اردو ، ۱۳۵ ملکي تلفات (۴۲ مړه او ۹۳ټپیان) افغان ملی پولیسو او ۱۰۳ ملکي تلفات (۱۸ وژل شوي ۸۵ ټپیان) دولت پلوه ملیشو ته منسوب دي دغه ارقامو د ځمکنې نښتو دوه پېښې چې بین المللی نړیوال امنیتي پوځي ځواکونو ته منسوب دي چې په نتیجه کې یې اوه ملکي وګړي وژل شوي دخیل دي.

۲۱. یوناما ۱۷ ملکي تلفات (۶ مړه او ۱۱ ټپیان) یعنی د یو فیصد خلورمه برخه د پولی هغه غاړه د پاکستان نه افغانستان ته د توپونو ویشتل ته منسوب کړی.

۲۲. د جنګ نه پاتی شوی چاودیدونکې توکي ناچاوده توکې (UXO) یا جګړې نه پریښودل شوي )(AXOچاودېدونکو توکو ته وویل کیږي.




*د دولت ضد عناصر او داعش*

په ۲۰۱۶ کال کې د دولت ضد عناصرو د ټولو ملکي تلفاتو د ۶۱ سلنې لامل وو چې نوموړي تلفات د هغو بریدونو په نتیجه کې رامنځ ته شوي چې ملکي وګړو ژوند ته یې درناوی نه درلود چې په هغه کې په ملکي میشتو سیمو کې د ځای پر ځای شویو چاودېدونکې توکي بې توپیره کارَونه هم شامله ده. د جنوري د لومړۍ نیټې او دسمبر د ۳۱ تر منځ یوناما ۶۹۹۴ ملکي تلفات (۲۱۳۱ مړه او ۴۸۶۳ ټپیان) د دولت مخالف عناصرو ته منسوب کړي چې دا د ۲۰۱۵ کال په پرتله دوه سلنه زیاتوالی ښیی [۲۳]. دا لړ زیاتوالی په ملکي تلفاتو کې کېدای شي د ځانمرګي او پیچلو بریدونو له امله وي سره له دې چې د ځای پر ځای شویو چاودېدونکو توکو ، په نښه شویو اوعمدي وژنو له امله د ملکي تلفاتو په برخه کې کمي راغلی .

په ۲۰۱۶ کال کې دولت ضد عناصرو ته منسوب ټول ملکي تلفاتو ۶۹۹۴ (۲۱۳۱ مړه او ۴۸۶۳ ټپیان) له جملې څخه یوناما ۴۹۵۳ ملکي تلفات ( ۱۶۱۸ مړه او ۳۳۳۵ ټپیان) طالبانو ته منسوب [۲۴] ، ۸۹۹ ملکي تلفات (۲۵۹ مړه او ۶۹۰ ټپیان) داعش (خلافت اسلامی خراسان ولایت(ISKP) ته او ۱۰۹۹ ملکي تلفات (۲۸۶ مړه او ۸۱۳ ټپیان) د دولت ضد نامعلومو عناصرو ته منسوب دی چې نه خو یې چا پړه په غاړه اخیستی او نه یې کومی ځانګړې ډلې ته منسوبول ممکن و [۲۵].

په ۲۰۱۶ کال کې هغه ملکي تلفات چې داعش ته منسوب دي د ۲۰۱۵ کال په پر تله لس برابره زیاتوالی پکې راغلی - یوناما ۸۹۹ ملکي (۲۰۹ مړه او ۶۹۰ ټپیان) ثبت کړیدي. پداسې حال کې چې په ۲۰۱۵ کال کې ۸۲ ملکي تلفات

---

۲۳. په ۲۰۱۵ کې یوناما ۶۸۷۱ ملکي تلفات (۲۳۲۴ مړه او ۴۵۴۷ ټپیان) دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي دي . یوناما د افغانستان په وسله وال جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه د ۲۰۱۵ کال کلنی راپور ته مراجعه وکړئ ، صفحه (۴)

۲٤. په ۲۰۱۵ کال کې یوناما ۴۰۵۰ تلفات (۱۵۳۴ مړه او ۲۵۱۶ ټپیان) طالبانو ته منسوب کړی ، دغه ارقام هغه پیښې چه طالبانو لخوا ادعا شوی یا یې ادعا نده شوی خو د ملکي تلفاتو لامل ګرځیدلی شامل دی.

۲۵. یوناما ۴۵ ملکي تلفات چه په عام ډول یې ادعا نده شوې په لاندی ډول منسوب کړی: حقانی شبکه ۴ ملکي تلفات (۱ مړ او ۳ ټپیان)، حزب اسلامی ۷ ملکي ټپیان ، لشکر طیبه ۴ ملکیان مړه ، تحریک طالبان پاکستان ۱۲ ملکي تلفات (۸ مړه او ۴ ټپیان) او ۱۸ ملکي تلفات (۵ مړه او ۱۳ ټپیان) طالبانو او داعش/ISKP ګروپونه ته ځمکنی نښتو کې منسوب دی.

(۳۹ مړه او ۴۳ ټپیان) ثبت شوی وو. داعش د ملکي وګړو پر خلاف په ځانګړی دول د شیعه مسلمانانو د مذهبي لړکیو د نښه کولو لپاره د ځانمرګي بریدونو او په نښه شویو وژنو نه د لومړني تکتیکونو په ډول کار اخیستی. د ملکي تلفاتو اکثریت چې د دولت ضد عناصرو ته منسوب دي د ځای پر ځای شویو چاودېدونکو توکو د بې توپیره او غیر قانونی استعمال له امله رامنځ ته شوی- یوناما ۲۱۵۶ ملکي تلفات(۷۰۰ مړه او ۱۴۵۶ ټپیان)د ځاي پر ځای شویو چاودېدونکو توکو[۲۶] له امله چې یوازې د دولت ضد عناصرو لخوا کارول کېږي ثبت کړی چې د ۲۰۱۵ کال په پرتله نهه سلنه کمښت ښيي - د یوناما ماموریت د ۲۰۰۹ کال د جنوري لومړۍ نېټې راپدیخوا تر اوسه پورې ۱۹۹۹۳ ملکي تلفات (۶۸۶۱ مړه او۱۳۱۳۲ ټپیان) په ۵۹۰۵ بمي حملو کې ثبت کړي شوي.[۲۷]

په ۲۰۱۶ کال کې د یوناما ماموریت د ریموټ کنترول ، ځانمرګي موټربم او مقناطیسي بمونو د چاودونو له امله د ملکي وګړو مرګ ژوبله کې کموالی ثبت کړی دی. البته د فشاري او پرسونل ضد بمونو د استعمال له امله یې ملکي تلفاتو کې څلور سلنه زیاتوالی ثبت کړی دی ، چې ۱۱۰۰ ملکي تلفات (۴۷۳ مړه او ۶۲۷ ټپیان) یې اړولي دي[۲۸]. د نیمایي نه زیات ملکي تلفات د همدغه بې توپیره او غیر قانوني وسلو د استعمال له امله رامنځ ته شوي دي - فشاري بمونه چې د قرباني په واسطه چول کېږي چې هر څوک پرې برابر شي ، الوزی ، که څه هم هغه کوم ماشوم یا موټر وي - د دولت ضد عناصر د فشاری بمونو نه په ملکي ځایونو یا هغه ځایونه چې د ملکیانو لخوا کارول کېږي لکه سړکونه ، حکومتي دفترونو شا او خوا کې ، بازارونو ، ښوونځیو او د ولسونو تم ځایونو کې ترې کار اخلي.

د ۲۰۰۹ کال راهیسې چې یوناما په سیستماتیک ډول سره د ملکي تلفاتو ثبتول شروع کړي په ۲۰۱۶ کال کی د ملکي تلفاتو تر ټولو لویه شمیره د ځانمرګو او ډله ییزو حملو له امله رامنځ ته شوي - یوناما ۱۹۶۳ ملکي تلفات (۳۹۸ مړه او ۱۵۶۵ ټپیان) د دغه تکتیکونو له امله ثبت کړي دي چې د ۲۰۱۵ کال په پرتله ۷ سلنه زیاتوالی ښیي[۲۹]. ځانمرګي او ډله ییز حملې په ۲۰۱۶ کال کې د ملکي تلفاتو لوی لامل ګڼل کیږي چې د دولت ضد عناصرو ته منسوب دي او په ۲۰۱۶ کال کې د ملکي تلفاتو دوهم مخکښ لامل دی —چې د ټولو ملکي تلفاتو ۱۷ سلنه جوړوي.

د طالبانو او دولت ضد عناصرو نورو ډلو د هغو هڅو له امله چې د خاورې د نیولو او یا ساتلو لپاره کوي په ځمکنۍ نښتو کې د ملکی تلفات د زیاتوالی لامل شویدی. په ۲۰۱۶ کال کی یوناما ۱۴۶۹ ملکي تلفات ( ۳۰۸ مړه او ۱۱۶۱ ټپیان) د ځمکنیو نښتو پر مهال د دولت ضد عناصرو ته منسوب کړی.

یوناما د ملکي تلفاتو چې د هدفی وژنو له امله رامنځ ته شوي او د دولت ضد عناصرو ته منسوب دي شپاړس سلنه کموالی ثبت کړیدي چې ۱۱۱۸ ملکی تلفات (۵۷۴ مړه او ۵۴۴ ټپیان)[۳۰] یې مستند کړي لیکن د ملکي خلکو

---

۲۶. د ځای پر ځای شویو چاودېدونکو توکو ارقامو کې هغه ملکي تلفات چه ځانمرګي او ډله ییز حملو له امله رامنځته شوی (چه IED تاکتیک څخه پکې کار اخیستل شوی) یا هدفي وژنې چې دولت ضد عناصرو لخوا تر سره شوی او IED پکې کارول شوی پ شامل نه دي. دغه پېښې د ځانمرګی بریدونو او ډله ییز حملو چې د دولت ضد عناصرو لخوا ترسره شوی فصل کې لیکل شوی. د زیاتو معلوماتو لپاره د ځای پر ځای شویو چاودېدونکو توکو فصل ته مراجعه وکړئ.

۲۷. په ۲۰۱۵ کال کې یوناما ۲۳۷۵ ملکي تلفات (۷۱۹ مړه او ۱۶۵۶ ټپیان) د IED د کارونې له امله ثبت کړي.

۲۸. په ۲۰۱۵ کال کې یوناما ۱۰۵۸ ملکي تلفات (۴۶۵ مړه او ۵۹۳ ټپیان) د فشاري بمونو د کارولو له امله ثبت کړي دي.

۲۹. په ۲۰۱۵ کال کی یوناما ۱۸۴۰ ملکی تلفات (۳۰۸ مړه او ۱۵۳۲ ټپیان) د ځانمرګی او د ډله ییزو حملو په پایله کې ثبت کړي دي.

۳۰. په ۲۰۱۶ کال کی یوناما ۱۰۶ ملکی تلفات (۸۱ مړه او ۳۵ ټپیان) د دولت پلوه ځواکونو لخوا هدفي او عمدي وژنو له امله ثبت شوی دي . دافغان ملی امنیتي ځواکونو ته منسوب نور وژنو په اړه فصل فصل ته مراجعه وکړئ. په ۲۰۱۵ کال کی یوناما د هدفي وژنو په پایله کې ۱۴۲۵ ملکي تلفات (۸۵۳ مړه او ۵۷۲ ټپیان) چه د دولت ضد عناصر یی ۹۴ سلنه ذمه وار دی منسوب دی ۱۳۳۷ ملکی تلفات (۷۹۲ مړه او ۵۴۵ ټپیان) دي .

عمدي وژنې چې په دې کې د دولت ملکي کارمندان ، تعلیمی او طبی پرسونل ، قومي مشران ، بشری مرستو رسوونکي ، ماین پاکان او نورو وژل شامل دي ، په دوامدار ډول مستند کړي [۳۱]. د دولت ضد عناصرو ملکي حکومتي چارواکي او ملکي وګړي چې د دوی په ګمان د دولت ملاتړ کوي د هغوې په شمول د ټولنی مشران او مذهبي مشران ، عدلي چارواکي ، قبایلي مشران ، د ټاکنو کارکوونکي ، د سولې د پروسې ملاتړ کوونکي او په رخصت باندي تللي پولیس افسران په نښه کړي او وژلي دي.

یوناما ، په ډیرې خواشینۍ سره ، په ۲۰۱۶ کال کې د عبادت ځایونو د حملو له امله د ملکي وګړو په تلفاتو کی ۶ برابره زیاتوالی مستند کړی - یوناما ۳۷۸ ملکي تلفات (۸۷ مړه او۲۹۱ټپیان) ثبت کړي ، چې د ۲۰۱۵ کال په پرتله ، ۵۶ ملکي تلفات (۴۲ مړه او ۱۴ ټپیان) وو او په عمومي ډول سره دغه تلفات د فرقه ایزو بریدونو چې د شیعه مسلمانو په مذهبی لړکیو باندی ترسره شویدي ، له امله منځته راغلي.

*دولت پلوه ځواکونه*

که څه هم په ۲۰۱۶ کال کې د ملي او نړیوال نظامي ځواکونه د ملکیانو د زیانمنکیدو د کمیدو هلی ځلو ته په پام سربیره ، یوناما ۲۷۲۸ ملکي تلفات (۹۰۳ مړه او ۱۸۲۵ ټپیان) دولت پلوه نظامی ځواکونو ته منسوب کړیدي چې دا د ټولو ملکي تلفاتو ۲۴ سلنه جوړوي او د ۲۰۱۵ کال په پرتله ۴۶ سلنه زیاتوالی ښیی. یوناما د ټولو ملکي تلفاتو ۲۴ سلنه افغان ملي نظامي ځواکونو ته ۲ سلنه نړیوالو نظامي ځواکونو او ۲ سلنه حکومت پلوه ملیشو ته منسوب کړیدي.

په ۲۰۱۶ کال کي یوناما مشاهده کړې چې د دولت ضد عناصرو د زیاتیدونکو بریدونو او د ډیرو ځمکنیو عملیاتو له امله چی د افغان ملی نظامي ځواکونو لخوا په لاره اچول شوي د دولت پلوه ځواکونو د ملکي وګړو د مرګ ژوبلی د زیاتوالي سره مرسته کړي. یوناما ۱۷۷۳ ملکي تلفات (۴۸۲ مړه او ۱۲۹۱ ټپیان) افغان ملی نظامي ځواکونو ته د ځمکنیو عملیاتو پر مهال منسوب کړي. چې دا د ۲۰۱۵ کال په پرتله ۴۰ سلنه زیاتوالی ښیي [۳۲]. د تلفاتو اکثریت یی د غیر مستقیمو وسلو یا چاودیدونکو وسلو په ځانګړي ډول د هاوانونو د استعمال له امله په ملکي کڼ میشته ځایونو کې رامنځ ته شوي.

له ځمکنیو نښتو نه وروسته په ۲۰۱۶ کال کې هوایي عملیات دولت پلوه ځواکونو ته منسوب د ملکي تلفاتو دوهم لوی لامل ګڼل کیږي. د یوناما ماموریت د ۲۰۰۹ کال راپدیخوا د هوایی عملیاتو له امله تر ټولو زیات ملکي تلفات په ۲۰۱۶ کال کې ثبت کړیدي. په هوایی حملو کې چې د نړیوالو او د افغان هوایی ځواک لخوا تر سره شوي ۵۹۰ تلفات (۲۵۰ مړه او ۳۴۰ ټپیان) ثبت کړیدي. چې دا د ۲۰۱۵ کال په پرتله کابو دوه برابره دی [۳۳]. ښځي او ماشومان د هوایی عملیاتو له امله د ملکي تلفاتو ۵۲ سلنه جوړوي. د هوایی عملیاتو په ترځ کی د ملکي تلفاتو زیاتوالی چی نظامي ځواکونو ته منسوب دي د دفاعي او تهاجمي هوایی عملیاتو په معیارونو او د نښتی څخه د مخه احتیاطی تدابیرو یعنی دواړو کی د بیا کتنې لپاره د شدیدې اړتیا ضرورت څرګندوي.

۳۱. فهرست او د دولت ضد عناصرو لخوا هدفي وژنی چی د ملکی تلفاتو څخه بحث کوي د یوناما د هدفي وژنو تعریف لاندې برخی ته مراجعه وکړئ.
۳۲. یوناما په ۲۰۱۵ کال کی د ځمکنی نښتو په پایله کی ۱۲۶۴ ملکی تلفات (۳۴۳ مړه او ۹۲۱ ټپیان) ثبت کړي دي.
۳۳. یوناما په ۲۰۱۵ کال کی د هوایی عملیاتو په پایله کی ۲۹۶ ملکی تلفات (۱۴۹ مړه او ۱۴۷ ټپیان) ثبت کړي دي. له همدی امله په ۲۰۱۶ کال کی د هوایی عملیاتو په نتیجه کی د ملکی وګړو تلفات د ۲۰۱۵ کال په پرتله ۹۹ سلنه زیات شوی دي.

د ځمکنيو عملياتو پر مهال د دولت پلوه ځواکونو لخوا د ملکي تلفاتو د کچې ډېروالی  د ملکي تلفاتو مخنیوی او کموالي د ملی پالیسی د جوړوني او پلی کیدنی  له لاری او د تکتیکي لارښودونو ، روزنی او د غیر مستقیم ډول وسلو د کارونو یا چاودیدونکو وسلو د هدفی ټرینګونو د تقویه کولو له لاری اصلاح کیدای شي.

په ۲۰۱۶ کال کې یوناما ۱۸۵ ملکي تلفات (۵۲ مړه او ۱۳۳ ټپیان) حکومت پلوه وسلوالو ډلو ته منسوب کړي چې دا د ۲۰۱۵ کال پر پرتله ۴۲ سلنه زیاتوالی ښیي[٣٤]. له هغه وخته راهیسی چې یوناما په سیستماتیک ډول د ملکي تلفاتو ثبتول شروع کړي دا په یو کال کې تر ټولو زیات شمیر ملکي تلفات دي چې حکومت پلوه وسلوالو  ډلو ته منسوب شوي.




## په ۲۰۱۶ کال کې په ملکي خلکو د وسلواله جګړې د اغیزو په اړه کتنې

د ۲۰۱۶ وسلواله جګړې پورې تړلې ناامنۍ او تاوتریخوالي ملکي وګړي او په ځانګړې ډول ښځې او ماشومان زیات زیانمن کړي دي. د یوې سیمې د نیولو یا له لاسه ورکولو په سر د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد وسلواله عناصرو تر منځ په وسلواله نښتو کې د شدت له امله ملکي خلکو ته د پام وړ زیان اوښتی  دی ، چې په دې کې ماشومانو ته په زیات شمیر تلفات اوښتي او د ۲۰۰۹ راپدیخوا تر ټولو زیات شمیر داخلي بېځایه شوي پکې شامل دي. د حکومت او طالبانو ترمنځ په پنځلس کلنه روانه اوږده وسله واله جګړه کې افغانستان د ملکي تلفاتو کې د پام وړ ډېروالی لیدلی چې د ځمکنیو نښتو ، ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو او جګړې څخه چاودیدونکې په پاتې شونو سربیره د ۲۰۰۹ کال راهیسې هوایي عملیات تر ټولو ډېر د ملکي وګړو د تلفاتو لامل ګرځیدلی.

د دولت ضد وسلوالو عناصرو لخوا په بې توپیره ډول سره په دوامداره بریدونو کې د ملکي وګړو په نښه کول — په ځانګړي ډول د ملکي وګړو په ګڼ میشتو ځایونو کې د ځای په ځای شوي چاودیدونکي توکي او ځانمرګي بریدونه

٣٤. یوناما په ۲۰۱۵ کال کی ۱۳۰ ملکی تلفات (۴۸ مړه او ۸۲ ټپیان) ثبت کړي چه د دولت پلوه وسله والو ډلو د فعالیتونو په نتیجه کی رامنځته شوی دي.

غیرقانوني او د غندني وړدي او په زياتو قضيو کې جنګي جنايت شميرل کيدای شي. دا ضروري ده ، چې د دې مرتکبين هرڅوک چې وي د داسې اعمالو په مقابل کې حساب ورکړي.

په داسي حال کې چې د دولت ضد وسلوال او زيات طالبان د زيات شمير ملکي وګړو د تلفاتو لامل دي او په دوامداره ډول دولت پلوه ځواکونو ته منسوب په ملکي تلفاتو کې ډيروالي هم د انديښنې وړ ده. د دولت پلوه ځواکونو لخوا ملکي وګړو ته زياتره زيان هم انديښني را پيدا کړي چې د غیرمستقيم ډول فيرکيدونکو وسلو يا چاودیدونکو وسلو لکه توپچي ، هاوان ، راکټ او لاسي بمونو له امله دی چې د ځمکنيو نښتو په دوران کې د افغان امنيتي ځواکونو لخوا کارول کيږي او د افغان او نړيوالو نظامي ځواکونو لخوا د هوايی عملياتو د تر سره کيدو له امله رامنځ ته شوي.

د جګړې څخه د پاتې شونو چاودیدونکو توکو له امله د ماشومانو په مرګ ژوبله کې زياتوالي ښيي چې د جګړې په ميدان کې د ښکيلو خواو لخوا پاتي شوي ناچاوده توکي دي چې دوي يې په پاکولو کې پاتي راغلي او د مخنيوي وړعواقبو په نتيجه کې يې ماشومانو ته تلفات اړولي دي. په دې رابطه د ۱۹۸۰ کال د ځينې دوديزو وسلو د کنوانسيون مربوط د جګړې[۳۵] څخه د چاوديدنکو پاتې شونو توکو پنځم پروټوکول د افغانستان د لوري په نږدې وخت کې تصويب شوی د هغه په تعقيب بايد د تطبيق د پاره تدابير ونيسي چې د خپل کنترول لاندې د جګړې څخه چاوديدونکې پاتې شونو په اغيزمن شوېو سيمو کې ځايونه په نښه ، پاک او يا له منځه يوسي.[۳۶]

په ختيځ افغانستان کې د داعش ( اسلامي دولت د خراسان ولايت) مخ پر زياتيدونکي ظرفيت چې د ګمان څخه اخوا سيمه کې نفوذ او بريدونه کړي ، جګړه يې لا زياته او امنيتي چاپيريال يې ويجاړ کړي. د داعش لخواد ترسره شوي بريدونو بڼه د دې ښکارندوي کوي چې دوي کوشش کوي چې جګړه فرقه ييز لوري ته يوسي. په دې بر سيره ، د داعش له خوا د وحشت او د بريدونو له امله ملکي تلفات چې شيعه مذهبه ليږکي يې په نښه کړي وو ، د جنګي جرمونو او د بشريت ضد جرمونو او د داسې پيښو د اغيزو په اړه چې د مذ هب په ازادي او د ليږکيو په خونديتوب باندي لري ، نوري انديښني زيږوي.

يوناما د افغانستان د دولت له خوا د ملکي خلکو د د تلفاتو د مخنيوي د ملي پاليسي په جوړولو سره چې په ملکي خلکو د جګړو اغيز راکم کړي په دې اړه تعهد کې پرمختګ مشاهده کړی . يوناما د لوړې کچې د ملکي وګړو خوندي ساتني د کاري ډلي جوړولو يادونه کوي چې د ملکي کسانو د ساتني ډيالوګ او د پاليسيو طرح کول پر مخ بيايې. د افغان دولت دا ګامونه د دې سبب هم ګرځي چې افغان ملي ځواکونه د مخالفينو په وړاندې د خپلو نظامي عملياتو په ترڅ کې د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې د مخنيوي په موخه کلک ګامونه واخيستلای شي.

---

۳۵ د افغانستان باندينو چارو وزارت ( د الحاق سند) د ۲۰۱۷ کال د جنوری په ۱۵ مه نېټه امضاء کړ ، او د ۱۹۸۰ کال د دوديزو وسلو او الحاقي ، II پرټوکول ( ۱۹۹۶ کې تعديل شوې بڼه) ، III ، IV او V) د سند کاپي د يوناما په ريکارډ کې ده. د کنوانسيون او د دې د پروټوکول د تصويب د پروسيجر مطابق د باندنيو چارو وزارت د ملګرو ملتونو د سرمنشي دفتر ته په ۲۶ جولای ورسپارلی –په دې اړه معلومات د بريښناليک د لارې د ماين پاکی د همغږی دفتر او باندنيو چارو وزارت تر منځ د ۲۰۱۷ کال د جنوری په مياشت کې تر لاسه کړی. د دې په اساس يوناما باور لري دا کنوانسيون او پروکوټول د ۲۰۱۷ کال د جنوری د ۲۶ نېټې راهيسې مرعی الاجرا دی.
۳۶ د جګړې نه د پاتې شوي چاوديدونکو په اړه ( د ۱۹۸۰ کال د ځينو دوديزو وسلو په اړه د کنوانسيون V پروټوکول) ۲۸ نومبر ۲۰۱۳ کال ، ماده ۳(۲)

سره له دې چې د جولای په میاشت کې د افغان دولت او د ګلبدین حکمتیار د اسلامي حزب تر منځ د سولې د هوکړه لیک لاسلیک کیدل یو ښه ګام وو خو له طالبانو سره د سولې هڅو کومه پایله نه درلوده. له همدې کبله په ۲۰۱۷ کال کې د سولې ترسره کیدا ناشوني ښکاري. دغه د سولې هوکړه لیک چې کیدای شي له طالبانو سره د سولې د خبرو اترو ور پرانیزي ، ګلبدین حکمتیار او د حزب اسلامي نورو غړیو ته د پراخې بخښنې سبب شو او د دې سبب کیدلای شي چې په جنګي جنایاتو ، نسل وژنې ، د بشري حقونو په سرغړاوي او نورو سترو جرمونو د تورنو کسانو د محاکمې مخنیوی وکړي. دا ډول بخښنې د نړۍ والو قوانیونو په وړاندې د افغانستان د مسولیت او د ملګرو ملتونو له معیارونو سره په ټکر کې دي. له دې ور هاخوا دا ډول هر اړخیزې بخښنې ، له سزا څخه د خلاصون د ودې او همدارنګه د تلپاتې سولې د هڅو د کمزوري کیدو سبب وګرځي. همدارنګه د سولې دغه هوکړه لیک د بشري حقونو د تیری د قربانیانو او د دوي د کورنیو هغه حق نه مني چې دوي باید د حقایقو په اړه معلومات ترلاسه کړي. یوناما ټینګار کوي چې د سولې د هرې کچې په خبرو اترو کې باید د ښځو حقونه په پام کې ونیول شي.

په داسې حال کې چې ملکي وګړو ته زیان په بیسارې ډول لوړ شوی خو په جګړه کې ښکیلو لورو او په ځانګړې ډول د دولت ضد وسلوالو عناصرو په دوامدار او بشپړ ډول مسترد کړی.[۳۷] که څه هم ښکیلو لورو په ځینو پیښو کې د نظامي عملیاتو په نتیجه ملکي تلفات تایید کړي خو په زیاتو پیښو کې چې طالبانو ته منسوب شوي ، مسولیت یې ندی اخیستل شوی. تر هغو چې ښکېلې خواوې کوټلې هڅې ونکړي ، چې د خپلو عملیاتو پایلو ته بیا کتنه وکړي او عواقب یې اصلاح کړي ، د ملکي تلفاتو کچه ، داخلي بیځایه کیدل او نور بشری ناورین ډولونه د زیاتیدو د خطر سره مخ دی.

د ښکیلو خواو له لوري د قانوني مکلفیت سره په مطابقت کې غښتلې ژمنې ته اړتیا ده چې د وژلو او ټپي کیدو مخنیوی وکړي او د ملکي افغانانو د خوندیتوب د پاره نور لازمي تدابیر ونیسي. په ملکي تلفاتو کې کمښت او د بشري حقونو خوندیتوب ته وده باید په افغانستان کې د سولې او ټیکاو د ښه والي په لور د هڅو لپاره اصلي شاخص وي.

**سپارښتنې**

یوناما په جګړه کې ښکېلو خواو ته لاندې سپارښتنې کوي چې د ملکي وګړو د خوندي ساتنې ، د ملکي تلفاتو د مخنیوي او د نړیوال بشر دوستانه قانون او د بشري حقونو د قوانینو په رڼا کې د خپل مکلفیت د ترسره کولو په هکله په هڅو کې د هغوې سره مرسته کوي.

**دولت ضد عناصر**

د بشر پالنې د نړیوال قانون لاندې مکلفیتونو سره په مطابقت کې:

- په عمدي ډول د ټولو ملکیانو او ملکي ځایونو په شمول د دولت د کارکونکو ، خبریالانو ، بشری حقونو د مدافعینو ، قاضیانو ، څارنوالانو ، مرستندویه کارکونکو ، عبادت ځایونو او د کلتوري مرکزونو په نښه کول ودروئ.

---

۳۷ د تعامل د مخې یوناما په عادي ډول منسوب شوي ملکي تلفات او جدي پېښې د اړوند خواو سره شریکوي.

- د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د کارولو او د ځانمرګي او دله ییزو بریدونو په وخت کې په ځان پورې تړلي یا په موټر کې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو استعمال ودروئ ، په ځانګړي ډول کله چې دا توکي په ملکي سیمو کې په بې توپیره او غیر متناسب ډول کارول کیږي او له دې سربیره غیر قانوني د فشار په واسطه فعالیدونکي ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکې په سملاسي ډول ودروئ.

- د ملکي وګړو د میشت سیمو څخه او هم د ملکي وګړو په میشت ځایونو باندې د هوانونو ، راکیټونو او لاسی بمونو فیر کول ودروئ.

- په ملکیانو او د ملکیانو په میشت ځایونو د حملو د مخنیوی په اړه د طالبانو د مشرتابه له خوا اعلامیې پلې کړئ او هغه لارښودونه پلي کړئ چی د طالبانو غړو ته امر کوي چی د ملکي تلفاتو مخه ونیسي ، او د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د طالبانو پالیسي علنی کړئ.

- ډاډ ورکړئ چې ټول لارښودونه او حکمونه د بشر پالنې د نړیوال قانون سره په مطابقت کې دي او هغه کسان مسؤل وګڼئ څوک چې په ملکي کسانو بې تفکیکه بریدونه تر سره کوي ، ملکي وګړي وژني او یا یې ټپي کوي ، دا یقیني کړئ چې د دولت ضد عناصر ښوونځي ، روغتونونه ، کلینیکونه او د بشر پالنې د نړیوال قانون له مخې نور خوندي ځایونه د خپلو پوځي موخو لپاره نه کاروي ، او د روغتیا پالنې د کارکونکو په وړاندې د ګوزڼ د واکسیناتورانو او د پولیو د واکسین د کمپاینونو په ګډون د ټولو بریدونو او ګواښونو ترسره کول ودروئ ، او د هر ډول اعمالو د ترسره کولو چې د وګړو پوهنې او روغتیا پالنې معیاري خدمتونو ته د لاسرسي د حقونو مخنیوی کوي ، ډډه وکړئ.

- د ښځو او نجونو د ګرځیدو په مشروع حق محدودیت ، زده کړو ، روغتیا یې پاملرنې ته لاس رسې او په کار کولو وضع شوي محدودیتونه په سملاسي ډول لرې کړئ څکه دا په قانون او مذهب کې اساس نه لري او په موازي محکمو کې د سزا د ورکړې فوري مخنیوی وکړئ.

**د افغانستان حکومت**

- د ملکي وګړو په میشت سیمو په غیر مستقیم ډول فیر کیدونکي هاوانونه ، راکټونه ، لاسي بمونه او نورې وسلې او په ملکي سیمو کې هوایي بریدونه ودروئ. په جګړه کې د نښتو ، د چاودیدونکي وسلو او پوځې الوتکو د کارولو په تړاو روښانه تاکتیکي لارښودونه او د جګړې اصول او نورو پروسیجر ( کړنلارې ) را منځ ته او پلې کړئ.

- د ملکي تلفاتو د مخنیوي او کمولو ملي پالیسۍ تصویب او د پلې کولو لپاره یې د عملي کړنلارې بشپړول ، چې په کې څرګند اهداف او اضافي تدبیرونه شامل شي چې موخه یې په جګړه کې د ملکي تلفاتو مخنیوی وي ، او د دولت په دننه کې د یوه ځانګړې شوې څانګې را منځ ته کول یقیني شي چې د وسله والې جګړې سره د تړلې ملکي خلکو ته د اوختي زیان د ټولو پیښو څیړنه وکړي.

- د ټولو ناقانونه وسله والو ډلو ، ملېشو او ملي پاځون د خوځښتونو سملاسي بې وسلې کول او منحلول او د افغان امنیتي ځواکونو سره په عملیاتو کې د غیر رسمي ځواکونو ، ملېشو او وسلواله ډلو د برخه اخستو مخنیوی وشي.

- د دې ډاډ تر لاسه شي چې د افغان امنیتي ځواکونو او دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا د بشرپالنې د نړیوال قانون د سرغړونو ، د نړیوال بشري حقونو د قانون او د بشري حقونو د قانون او د ښځو د حقونو د سرغړونو ټول موارد څیړل کیږي ، او د افغان او نړیوالو قوانینو د غوښتنې مطابق د مسولو او ګرم پیژندل شوي کسانو عدلي تعقیب او هغوي ته سزا ورکړل شي.

- د ۱۹۸۰ کال د یو شمیر دودیزو وسلو د کنوانسیون د پنځم پروټوکول د پلي کولو کړنلاره تصویب کړئ او د اصلاح کونکو تدبیرنو څخه ډاډ ورکړئ چې د جګړې نه د پاتې شویو چاودیدونکو توکو خطر او اغیز را کم کړي او د دې لپاره ملي ظرفیت لا پیاوړی کړئ . د عملیاتو وروسته د ککړو سیمو د تطهیر د عملي کړنلارې د پلي کولو او لازمي ګامونو د اخستلو لپاره دې منابع ځانګړي شي.

- د دې څخه ډاډ چې د نړیوال بشر پالنې قانون او نړیوال بشري قانون د سرغړونو قربانیانو ته د جبران لپاره په موثر ډول عدالت ته د لارس رسي ، د غرامت ورکولو ، د خسارې جبران ،بیا رغونې او د داسې پېښو د تکرار مخنیوی تضمین شي او د سرغړونو او غرامت ورکولو د میکانیزم په اړه معلوماتو ته لاس رسی د جنسي او توکمي تبعیض پرته یقیني شي.

- په دوامدار ډول د افغان ملی امنیتی ځواکونو ظرفیت لوړولو ته لومړیتوب ورکړئ چې په اغیزمن ډول د چاویدونکو توکو ضد مبارزې قومانده او کنترول وکړای شي چې په دې کې د چاودیدونکو توکو لمنځه وړل او

د ځای په ځای شویو چاودیدونکو توکو سره د مبارزې د ملي د دې استحصال هم شامل دی [۳۸]. ستراتیژۍ د بشپړ تطبیق لپاره ټولې اړینې سرچینې اختصاص کړئ.

- صحي پرسونل او صحي وسایط د ناپیلو مرکزونو او غږو په حیث طبي مراکزو ته احترام یقیني کړئ، او د دې ډاډ ورکړئ چې د افغانستان ټول وګړي معیاري پوهنې او د روغتیا پالنې خدمتونو ته لاسرسي لري.

## نړیوال نظامي ځواکونوته

- د وسلوالو نښتو د ترسره کولو په وخت کې د ملکي تلفاتو د مخنیوي او کمولو په هکله د ملي پالیسي د تطبیق په برخه کې د افغانستان د حکومت ملاتړ وکړئ، او د مناسبې عملي کړنلارې په جوړولو کې ورسره مرسته وکړئ چې د جګړې په وخت د ملکي وګړو د تلفاتو د مخنیوي لپاره څرګند اهداف ولري.

- د افغان امنیتي ځواکونو په روزلو او د سرچینو په چمتو والي کې د ۲۰۱۷ کال نه وروسته په پالیسۍ او عملیاتي کچو کې مرستو ته ادامه ورکړئ، دا چارې باید تاکتیکي کچو ته هم وغزولې شي او په ځانګړې توګه، په غیر مستقیم ډول د وسلو د فیر کولو او پوځې الوتکو د کارولو په حواله د ملکي تلفاتو د را کمولو تدابیر، روزنې او مناسب پرتوکول اړتیا ته پاملرنه وشي چې له امله یې د نړیوال بشر دوستانه قانون په مطابقت کې خپل مکلفیت سرته رسول یقیني شي.

- د افغان ملي امنیتي ځواکونو د ملاتړ دوام څو قومانده او کنترول په لاس کې ونیسي او د ۲۰۱۷ کال وروسته د ځای پر ځای شویو چاویدونکو توکو په ضد د مبارزې عملیات، د دې په له منځه وړلو او استحصال کې مرسته وکړئ.

- د هغو عملیاتو په هکله په کومو کې چې د استخباراتي ځواکونو په شمول نړیوال نظامي ځواکونه، ښکیل وي، د ملکي تلفاتو د ادعاوو په صورت کې د عملیاتو وروسته په روښانه ډول بیا کتنې او څیړنې وشي، په ځانګړې ډول د هوایي بریدونو او د بې پیلوټه الوتکې د عملیاتو په شمول، د تلاشۍ ګانو په حواله دې د عملیاتو د ترسره کولو او حساب ورکونې څخه ډاډ حاصل کړئ چې عملیات د بشر پالنې د نړیوال قانون او نړیوالو بشري حقونو د قانون سره په مطابقت کې تر سره کیږي او د پیښې قربانیانو او ژوندي پاتې شویو کسانوته د خساري جبرانول اطمیناني کړئ.

---

۳۸ د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو استحصال هغه پروسې ته ویل کیږي چی په هغه کی د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د پیښې د ځای مشخص کول، د معلوماتو راټولول، پروسیس او عمل وړ معلومات ترلاسه شي ترڅو په ترڅ کی د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو ضد پروسیجر او لاری چارې تقویه شي او په دې لړ کی د حکومت ضد وسلوالو سرچینې راکمې شي او عدلي تعقیب کې مرسته وکړي. په دې کې د متخصص او صلاحیت لرونکو مرکزونو په واسطه د چاودیدونکو توکو په خپله اصلي بڼه کې د ساتلو، مشخص کولو او د تخنیکی، عدلی طب او بایومتریک معایناتو او تحلیل شامل دي. د چاودیدونکو توکو استحصال د ماین ضد دوامداره او مؤثرې مبارزې لپاره یوه مهمه برخه ده.

## په سیمه ییزه کچه د ملکي وګړو مرګ او ژوبله
## د جنورۍ - دسمبر ۲۰۰۹-۲۰۱۶




| | مرکزی سیمه | مرکزی لوړه سیمه | ختیځ | شمال ختیځ | شمال | جنوب ختیځ | جنوب | لودیځ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2009 | 942 | 27 | 785 | 262 | 188 | 959 | 2441 | 365 |
| 2010 | 641 | 8 | 975 | 479 | 381 | 1387 | 2940 | 351 |
| 2011 | 1242 | 3 | 1262 | 606 | 369 | 1775 | 2057 | 528 |
| 2012 | 1183 | 14 | 1183 | 376 | 848 | 1442 | 2021 | 523 |
| 2013 | 1255 | 53 | 1606 | 573 | 667 | 1624 | 2050 | 810 |
| 2014 | 1488 | 67 | 1813 | 929 | 1060 | 1677 | 2687 | 814 |
| 2015 | 1753 | 58 | 1647 | 1982 | 862 | 1470 | 2559 | 703 |
| 2016 | 2348 | 115 | 1595 | 1270 | 1362 | 903 | 2989 | 836 |

## ۱. په جنګ ځپلو سیمو کې د بشري حقونو ساتنه

### ښځې او وسله واله شخړه

*"زه په خپل کلي کې وم چې کله د طالبانو او افغان امنیتي ځواکونو تر منځ جګړه پیل شوه. ما د ډار احساس وکړ او له خپلو ماشومانو سره یو ځای د جګړې د سیمې څخه لرې د خپلوانو کره د خوندیتوب لپاره ولاړو. موږ په یوه خونه کې ناست وو چې د افغان ملي پولیسو له خوا د طالبانو په لوري یو توغول شوی هاوان په کور ولګید. زما دوه لوراني او د خپلوانو یو ماشوم ووژل شول. زه د خپلو دوو زامنو او یوې لور سره یو ځای ټپي شوم. زموږ د خپلوانو لور هم د هاوان د چاودیدو له امله د کور دننه ټپي شوه."*

- د سپټمبر په ۲۶ ، د تخار ولایت د خواجه غار په ولسوالي کې د افغان ملي پولیسو له خوا د هاوان د یوې توغول شوې ګولۍ په نتیجه کې یوه ۳۲ کلنه ښځینه قرباني.

د ۲۰۱۶ کال په جریان کې ، په افغانستان کې د وسله والې شخړې دوامداره تاوتریخوالي په ډیرو زیان منیدونکو حالتونو کې د قرباني کیدلو کچه دوه برابره کړې. د شخړې سره تړلې خشونت ښځې او نجونې وژلي او ټپي کړی ، د دغو ښځو او نجونو زیاتره برخه د بشري حقونو د سرغړونو په معرض کې واقع شوي چې په دې کې د دولت ضد عناصرو له خوا په موازي عدلي چوړښتونو کې د شدیدو سزا ګانو تطبیق هم شامل دی. په نورو ځایونو کې دولت ضد عناصرو په عمدي ډول اساسي بشري حقونه او د خوځښت ازادي محدوده کړې او کله نا کله یې روغتیا پالنې ته د لاسرسي مخه نیولې او د ابتدایي ښوونځې نه وروسته یې معارف ته د نجونو لاسرسی محدود کړی.

*د جګړې د تاوتریخوالي له امله د ښځو تلفات*

د ۲۰۱۶ کال په جریان کې ، یوناما د ښځو ۱۲۱۸ تلفات (۳۴۱ مړینې او ۸۷۷ ژوبلې) ثبت کړي چې دا د ۲۰۱۵ کال د همدې مودې په پرتله ۲ سلنه کموالی ښکندوي.[۳۹] ځمکنی ښکیلتیاوې ، ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي ، هدفي او عمدي وژنې د ښځو د تلفاتو عمده لاملونه پاته شوي.[۴۰] په ۲۰۱۶ کال کې د ټولو ملکي تلفاتو ۱۱ سلنه د ښځو تلفات جوړوي.

په داسی حال کې چې دولت پلوه ځواکونو ۴۰ سلنه تلفات اړولي ، په ۲۰۱۶ کال کې دولت ضد عناصر د ټولو ښځینه ملکي تلفاتو د ۴۶ سلنې لامل شوي. د ملکي تلفاتو پاته برخه د دولت پلوه او دولت ضد عناصرو تر منځ د ډزو د تبادلې په پیښو کې را منځ ته شوي ، یوناما نشي کولای د ۱۳ سلنه تلفاتو او د جګړې د پاتې شونو چاودیدونکو توکو په نتیجه کې د را منځ ته شویو ۲ سلنو تلفاتو مسولیت د شخړې کوم اړخ ته منسوب کړي.

---

۳۹ د ۲۰۱۵ کال د جنوري له لومړۍ د ډسمبر تر ۳۱ پورې ، یوناما د ښځو ۱۲۷۴ تلفات (۳۳۴ مړینې او ۹۱۳ ژوبلې) مستند کړي

۴۰ د ځمکنیو نښتو په پایله کې ۵۸ سلنه ښځینه ملکي تلفات اوښتي-۷۰۴ ښځینه ملکي تلفات (۱۷۳ مړینې او ۵۳۱ ټپي کیدنې) ، ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو ۱۲ سلنه ملکي تلفات اړولي-۱۵۱ ښځینه ملکي تلفات(۶۶ مړینې او ۸۵ ټپي کیدنې) هوایې بریدونو ۹ سلنه ملکی تلفات را منځ ته کړي-۱۰۴ ښځینه ملکي تلفات (۳۳ مړینې او ۷۱ ټپي کیدنې)هدفي او عمدي وژنو ۸ سلنه ملکي تلفات را منځ ته کړي- ۱۰۰ ښځینه ملکي تلفات (۳۸ مړینې او ۶۲ ټپي کیدنې)ځانمرګي او پیچلو بریدونو ۸ سلنه ملکي تلفات اړولي- ۹۹ښځینه ملکي تلفات(۱۰ مړینې او ۸۹ ټپي کیدنې) او د جګړې څخه د پاتې شونو چاودیدونکو توکو د چاودنو په نتیجه کې ۲ سلنه ملکي تلفات اوښتي-۲۴ ښځینه ملکي تلفات(۵ مړینې او ۱۹ ټپي کیدنې) . پاته تاکتیکونه ، د موازې عدلي جوړښتونو سزاګانې ، تلاشي ګانې ، د تهدیدونو پیښې ، ګواښ او ځورونې ، د خبردارې او د ملکي کسانو د تښتولو سره د تړلې خشونت د ښځو د ملکی تلفاتو د دریو سلنو لامل شوي.

په ملکي ګڼ میشتو سیمو کې د شخړې سره د تړلې  تاوتریخوالیپه نتیجه کې ښځو ته درانه تلفات اوښتي. د ځمکنیو نښتو په نیتجه کې ښځو ته ۵۸ سلنه تلفات اوښتي، چې دا ۷۰۴ ښځینه تلفات دي (۱۷۳ مړینې او ۵۳۱ ټپې کیدنې)، چې دا د ۲۰۱۵ کال په پرتله ۷ سلنه زیاتوالی ښیې.[41] یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د ځمکنیو نښتو په پایله کې د ۱۹۲ ښځو تلفات (۳۳ مړینې او ۱۵۹ ټپې کیدنې) مستند کړي چې دا د ۲۰۱۵ کال د ورته مودې په پرتله ۱۴ سلنه زیاتوالی ښېي.[42] د دولت پلوه ځواکونو له خوا د ځمکنیو نښتو په پایله کې ۳۵۴ ښځینه ملکي تلفات را منځ ته شوي (۱۰۱ مړینې او ۲۵۳ ټپې کیدنې)، چې دا د ۲۰۱۵ کال د ورته مودې په پرتله ۳۵ سلنه زیاتوالی ښیې، دا تلفات تر ډیره بریده په ملکي ګڼ میشتو سیمو کې د هاوانونو او نورو چاودیدونکو توکو د بې توپیره او غیر مستقیمې کارونې په نتیجه کې را منځ ته شوي.[43]

یوناما ټولټال ۱۵۱ ښځینه ملکي تلفات (۶۶ مړینې او ۸۵ ټپې کیدنې)  مستند کړي چې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د چاودنې له امله را منځ ته شوي او له دې جملې څخه ۶۶ سلنه د  د فشار سره فعالیدونکو ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د چاودنې له امله را منځ ته شوي.[44] په داسې حال کې چې دا ارقام د ۲۰۱۵ کال په پرتله ۲۵ سلنه کموالی ښیې، دغه بې توپیره او ناقانونه تاکتیک په ۲۰۱۶ کال کې د ښځینه ملکي تلفاتو د دوهم مخکښه لامل په حیث پاته شوي.[45] د بیلګې په توګه، د نومبر په ۲۸، د کندهار ولایت د شاولي کوټ په ولسوالي کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو په وړاندې د طالبانو له خوا د فشار د تختې په ذریعه د فعالیدونکو ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د چاودنې په نتیجه کې دوه ښځې، درې نجونې او دوه نارینه ووژل شول.

په ۲۰۱۶ کال کې، د دولت پلوه ځواکونو له خوا د مخ پر زیاتیدونکو هوایې عملیاتو په نتیجه کې، په خاص ډول د افغان هوایې ځواکونو له خوا، د ځمکنیو ځواکونو د ملاتړ په موخه، په ګڼ میشتو سیمو کې د دولت ضد عناصر په نښه کړي، او د پام وړ ښځینه ملکي تلفاتو د را منځ ته کیدو باعث شوي.  په ۲۰۱۵ کال کې د ۲۷ ښځینه ملکي تلفاتو(۱۳ مړینو او ۱۴ ټپې کیدنو ) په پرتله، یوناما په ۲۰۱۶ کال کې د هوایې بریدونو په نتیجه کې۱۰۴ ښځینه ملکي تلفات (۳۳ مړینې او ۷۱ ټپې کیدنې) مستند کړي.

٤١ د ۲۰۱۵ کال د جنوري له لومړۍ د ډسمبر تر ۳۱ پورې، یوناما د ځمکنیو نښتو په پایله کې  د ښځو ۶۵۷ ملکي تلفات (۱۵۳ مړینې او ۵۰۴ ژوبلې) مستند کړي.
٤٢ په ۲۰۱۵ کال کې، یوناما د ځمکنیو نښتو پر مهال دولت پلوه ځواکونو ته ۱۶۸ ملکی تلفات (۴۲ مړینې او ۱۲۶ ټپې کیدنې) منسوب کړي.
٤٣ په ۲۰۱۵ کال کې، یوناما د ځمکنیو نښتو پر مهال دولت ضد عناصرو ته ۲۶۲ ملکی تلفات (۵۳ مړینې او ۲۰۹ ټپې کیدنې) منسوب کړي.
٤٤ په ۲۰۱۶ کال کې، د فشار په ذریعه فعالیدونکي ځای پر ځای شوې چاودیدونکې توکې د ۱۰۰ ښځینه ملکي تلفاتو لامل شوي، (۵۴ مړینې او ۴۶).
٤٥ یوناما په ۲۰۱۵ کال کې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د چاودنې په نتیجه کې ۲۰۲ ښځینه ملکي تلفات (۸۴ مړینې او ۱۱۸ ټپې کیدنې) مستند کړي.




*د ښځو هدفي وژنې*

د ۲۰۱۶ کال پر مهال ، یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا[٤٦] د هدفي او عمدي وژنو د کومو په پایله کې چې دولت ضد عناصرو په قصدي توګه ښځې هدف نیولې ، د ملکي ښځو ۹۶ تلفات (۳۵ مړینې او ۶۱ ټپي کیدنې) مستند کړي ، په داسې حال کې چې د تلفاتو پاته برخه د هدف نیولو په نورو پېښو کې[٤٧] د تصادفی زیان په حیث واقع شوې. د بیلګې په توګه ، د نومبر په ۱۲ ، دولت ضد عناصرو د فراه ولایت د بالا بلوک په ولسوالي کې یوه ښځه له هغه وروسته په خپل کور کې ووژله چې د تاوتریخوالی او افراطیت په ضد د کمپاین کولو په تور تورنه شوې وه. د اکتوبر په ۱۵ ، دولت ضد عناصرو د بدخشان ولایت په وردوج ولسوالي کې د یوه نا دولتي سازمان ښځینه کار کونکې (او د ښوونځي ښوونکې) څوک چې په فعال ډول د مرستو په چارو او انتخاباتي پروژو کې ښکیله وه ، ووژله.

دولت ضد عناصرو د بشري حقونو ښځینه دفاع کونکې څوک چې په عامه ژوند کې فعالې وي ، او همدارنګه هغو ښځو چې په غیر عنعنوي سکټورونو ، یعني پولیسو او امنیت کې دندې ترسره کولې هدف ونیولې او د غچ اخیستنې او ډار له امله په دغو سیمو کې د ګډون څخه منع شوي. د بیلګې په توګه ، د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر په ۱۷ ، دولت ضد عناصرو د کندهار ولایت په کندهار ښار کې د یوه خصوصي امنیتي شرکت پنځه تنه ښځینه کارکونکې ووژلې. طالبانو د وژنو مسولیت رد کړ او "پېښنه یې د کندهار د چارواکو لپاره یوه داخلي موضوع عنوان کړې."[٤٨] د پیښې په

---

٤٦ په دغو ارقامو کې یو شمیر موارد چیرې چې ښځه د برید موخه نه وه خو د برید پر مهال وژل شوې یا ټپي شوې ,شامل دي. د نورو معلوماتو لپاره چې یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا څنګه هدفي وژنې مستندې کړي ، د دولت ضد عناصرو په هکله خپرکي ته چې د هدفي وژنو په هکله دي ، او ملکي تلفات یې را منځ ته کړي ، مراجعه وکړئ.

٤٧ په ۲۰۱۵ کال کې ، یوناما د هدفي وژنو په نتیجه کې د ملکي ښځو ۸۲ تلفات (۳۹ مړینې او ۴۳ ټپي کیدنې) مستند کړي

٤٨ طالبانو په خپل تویتر پاڼه بیان خپور کړ ، په لاندې پته د لاسرسي وړ ده: http://www.twitter.com/zmujahid5 ,
په وروستي ځل د ۲۰۱۷ کال د جنورې په ۲۳ ورته لاسرسی شوی.

تعقیب په کندهار ښار کې هدفي وژونو ته ورته وژنې ترسره شوې.[۴۹] د یوناما ترلاسه شوې معلومات ښیې چې برید کونکو ښایې ښځې د دې لپاره چې د کور څخه د باندې کار کوی ، وژلي وي. د کندهار چارواکو د وژنو څخه څو اونۍ وروسته دوه شکمن ونیول ، خو د وژنو اصلي موخه لا هم څرګنده نه ده.

د شخړې اړوند د ښځو د هدفي وژنو د مرتکبینو د نه مسؤل ګڼلو په برخه کې او د ښځو په وړاندې د جرمونو په حصه کې د ممکنه چوپتیا په اړه د دولت د دوامدارې بې کفایتي په هکله اندیښنې را پورته شوي ، په خاص ډول ، دا درک چې ښځې نقش لوبولای شي یا په فعالیتونو کې برخه اخیستلای شي ، چې ممکن د عمومي ټولنیزو نورمونو سره په ټکر کې وي.

*د ښځو او نجونو د اساسي حقونو د برخمن کیدو په هکله محدودیتونه*

لکه څنګه چې په ۲۰۱۵ کال کې ، دولت ضد عناصرو د افراطي تاوتریخوالی په واسطه تحریک شوي وو ، دولت ضد عناصرو د هغوي تر کنترول لاندې سیمو کې د ښځو او نجونو د اساسي بشري حقونو څخه په برخمن کیدو محدودیتونه ولګول. یوناما هغه پیښې په کومو کې چې دولت ضد عناصرو روغتیا پالنې ته د ښځو لاسرسی محدود کړی ، مستندې کړې. د بیلګې په توګه ، د ۲۰۱۶ کال د مارچ د میاشتې په لومړیو کې ، دولت ضد عناصرو د بدخشان ولایت په یمګان ولسوالۍ کې بیان خپور کړ او اعلان یې وکړ چې ښځې نه شي کولای د نارینه محرم نه پرته د ولسوالي روغتیایي کلینیک ته مراجعه وکړي. د جنوري په لومړیو کې ، یوناما یو شمیر راپورونه ترلاسه کړل چې دولت ضد عناصرو د کلینیک په دروازه کې یو ساتونکی درولی. یوناما همدارنګه د دولت ضد عناصرو له خوا د نجونو د زده کړې په وړاندې د تهدید ، ګواښ او ځورونې ۲۲ پیښې مستندې کړې دي.[۵۰]

د ۲۰۱۶ کال د سپتمبر او نومبر د میاشتو تر منځ ، د ښځو ، سولې او امنیت په هکله د ماموریت د نړیوالې ازادې ورځو ( په کال کې یوه ورځ چې خلک دفتر ته راغوښتل کیږي او د دفتر د کارونو په اړه ورته معلومات ورکړل کیږي. د یوې برخې په حیث ، یوناما د ټولټال ۲۳۵ ښځو په شمول د ۴۰۰ څخه زیاتو مدنې ټولنې د فعالانو سره سلا مشورې ترسره کړې. ګډونوالو په نا راجستر شویو مدرسو ، جوماتونو ، بندیخانو ، پوهنتونونو ، عامه غونډو او انټرنیټ پاڼو کې د افراطي ایډیالوژیکانو د خپراوې په هکله اندیښنې مطرح کړې. یوناما همدارنګه د دولت ضد عناصرو له خوا د استخدام د تاکتیکونو په اړه راپورونه ترلاسه کړي چې د زیانمنیدونکو مجبوریتو نو یې ګټه اخستلی ، د بېلګې په توګه د افغان امنیتي ځواکونو د وژل شویو غړو د میندو یا د زنداني ښځو څخه د چا چې د خپل اصلي کورنیو سره د ټولنیز پیغور له امله بیا یو ځای کیدل ډیر ستونزمن دي ، د ځان په ګټه کار اخیستی.

د هغو ننګونو په رڼا کې چې بره یې یادونه وشوه ، یوناما د دولت څخه غوښتنه کوي څو په لوړه کچه پایداره تمویل او سیاسي ملاتړ په شمول د ښځو ، سولې او امنیت په اړه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۱۳۲۵ پریکړه لیک د عمل د ملي پلان د پلې کولو لپاره نور ګامونه اوچت کړي.

---

۴۹ په ۲۰۱۶ کال کې ، یوناما په کندهار ښار کې د کامیابه یا ناکام هدف نیولو او وژنو په پایله کې د ملکي تلفاتو ۲۵ پیښې (۱۸ مړینې او ۱۱ ټپي کیدنې) مستندې کړي. د دولت ضد عناصرو په اړه هدفي وژنو څېړکی وګورئ د کومو په پایله کې چې ملکي تلفات را منځ ته شوې.

۵۰ د ماشومانو او وسله والې شخړې په هکله څپرکې ته مراجعه وکړئ.

## ماشومان او وسله واله شخړه

*"د اکتوبر په ۱۷ ، زه په خپل کلي کې ګرزیدم چې کله مې د یوې ډاروونکې چادونې اواز تر غوږو شو. زه په ریښتیا پوه نه شوم چې څه واقع شول. اوس زه پوه شوم چې ما خپله یوه پښه له لاسه ورکړې. زما ورور وايي زه د فشار په ذریعه د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د چاودنې په نتیجه کې ټپې شوم."* [51]

- د اکتوبر په ۱۷ ، د کندز ولایت د امام صاحب په ولسوالي کې د فشار په ذریعه چاودیدونکي ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د چاودنې په نتیجه کې یو ۱۵ کلن ماشوم ټپې شو.

په ۲۱۰۶ کال کې د وسله واله شخړې سره د تړلې تاوتریخوالی په نتیجه کې د ماشومانو تلفات په دوامداره توګه لوړ شوې.[52] د ۲۰۱۶ کال د جنورۍ د ۱ نیټې نه د ډسمبر تر ۳۱ پورې ، یوناما د ماشومانو ټولټال ۳۵۱۲ تلفات (۹۲۳ مړینې او ۲۵۸۹ ټپي کیدنې) ثبت کړي ، چې دا د ۲۰۱۵ کال د ورته مودې په پرتله ۲۴ سلنه زیاتوالی ښیې.[53] د ماشومانو د تلفاتو ۷۰ سلنه هلکان او ۲۹ سلنه یې نجونې جوړوي.[54] په ۲۰۱۶ کال کې په افغانستان کې د شخړې سره د تړلو ټولو ملکي تلفاتو ۳۱ سلنه ماشومان دي. یوناما د ځمکنیو نښتو په پایله کې د ماشومانو د تلفاتو د دوامداره زیاتوالې په هکله خاصه اندیښنه لري.

یوناما په ۲۰۱۶ کال کې د ځمکنیو نښتو په پایله کې د ماشومانو ټولټال ۱۷۶۱ تلفات (۳۹۰ مړینې او ۱۳۷۱ ټپي کیدنې) مستند کړي چې دا د ۲۰۱۵ کال د ورته مودې په پرتله ۲۳ سلنه زیاتوالی ښیې.[55] د ۲۰۱۵ کال په څیر ، په ۲۰۱۶ کال کې هم ځمکنۍ نښتې د ماشومانو د لا زیاتو تلفاتو لامل شوي ، چې دا د ماشومانو د ټولو تلفاتو نیمايي برخه جوړوي.[56] د ځمکنیو نښتو په نتیجه کې د ماشومانو ملکي تلفات د بالغو کسانو د ملکي تلفاتو په پرتله په چټکې سره په دې علت پورته تللي چې په ملکي ګڼ میشتو سیمو کې چیرې چې د زیاتو ماشومانو په درلودلو سره لوې او سترې کورنۍ اوسیږي ، ځمکنیو نښتو زور اخیستی. د ځمکنیو نښتو په پایله کې په خاص ډول نجونې ډیره متاثره شوې ، چې له امله یې د هلکانو د تلفاتو د ۴۳ سلنې په پرتله د ټولو نجونو د تلفاتو ۶۷ سلنه جوړوي.[57]

یوناما په ۲۰۱۶ کال کې د جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو د چاودنې په نتیجه کې د ماشومانو په تلفاتو کې ۶۵ سلنه زیاتوالې مستند کړی چې د ماشومانو ۶۰۹ تلفات (۱۸۳ مړینې او ۴۲۶ ټپي کیدنې) یې ثبت کړي.[58]

---

۵۱ د قرباني شخص سره د یوناما مرکه ، کندز ښار ، کندز ولایت ، د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر ۲۳.
۵۲ یوناما یادونه کوي چې د ۲۰۱۴ کال په پرتله په ۲۰۱۵ کال کې د ماشومانو تلفات ۱۴ سلنه لوړ شوي. په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په هکله د یوناما د ۲۰۱۵ کال کلنې راپور ۱۸ پاڼه وګورئ.
۵۳ په ۲۰۱۵ کال کې ، یوناما د وسله والې شخړې په نتیجه کې ټولټال ۲۸۴۰ ملکي تلفات (۷۳۶ مړینې او ۲۱۰۴ ټپي کیدنې) مستند کړي.
۵۴ یوناما نه ده توانیدلې چې په ۲۰۱۶ کال کې د ماشوانو د تلفاتو د یوې سلنې جندر- د ماشومانو ۲۶ تلفات (۱۶ مړینې او ۱۰ ټپي کیدنې) معلوم کړي. یوناما د هلکانو ټولټال ۲۴۶۲ تلفات (۶۶۸ مړینې او ۱۷۹۴ ټپي کیدنې) او د نجونو ټولټال ۱۰۲۴ تلفات (۲۳۹ مړینې او ۷۸۵ ټپي کیدنې) مستند کړي.
۵۵ په ۲۰۱۵ کال کې ، یوناما د ځمکنیو نښتو په پایله کې د ماشومانو ۱۴۳۱ ملکي تلفات (۲۹۳ مړینې او ۱۱۳۸ ټپي کیدنې) مستند کړي.
۵٦ په ۲۰۱۶ کال کې ، د جګړې څخه پاته شونې چاودیدونکي توکي د ماشومانو د تلفاتو دویم ستر لامل و ، د دې په تعقیب ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي او هوايي بریدونه راځي.
۵۷ یوناما په ۲۰۱۶ کال کې د ځمکنیو نښتو په پایله کې د ماشومانو ټولټال ۱۰۶۰ ملکي تلفات (۲۵۰ مړینې او ۸۱۰ ټپي کیدنې) او د نجونو ټولټال ۶۸۸ تلفات (۱۳۳ مړینې او ۵۵۵ ټپي کیدنې) مستند کړي.
۵۸ د نورو معلوماتو لپاره د جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو او ځمکنیو نښتو په اړه څېرکی وګورئ: د ډزو په تبادله کې راګیر ملکي کسان. په ۲۰۱۵ کال کې ، د جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو د چاودنې په نتیجه کې د ملکي ماشومانو ټولټال ۳۶۹ تلفات (۱۱۵ مړینې او ۲۵۴ ټپي کیدنې) مستند کړي.

یوناما د غیر مستقیمو/ یا چاودیدونکو وسلو ، د بیلګې په توګه د راکټونو او د هاوانونو د ګولیو د دوامداره کارونې په اړه چې په نمونه یې ډول د شخړې د ښکیلو ډلو له خوا نا چاوده توکي تولیدوي ، انیښمنه ده. یوناما همدارنګه د دغو فعالینو د دوامداره بې کفایتي په اړه چې نه شي کولای سیمې نشانې کړي او د ځمکنیو نښتو په تعقیب په ګنې میشتو سیمو کې د جګړې سیمې د نا چاودو توکو څخه پاکې کړي ، په بې سارې ډول اندیښمنه ده.

په ۲۰۱۶ کال کې د جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو په نتیجه کې ۸۴ سلنه ماشومانو ته ملکي تلفات اوښتي. په ماشومانو باندې د دې وسیلو غیر متناسب اغیز دغربت او د نا چادو توکو د خطرونو په اړه د زده کړې او پوهاوي د نه شتون سره تړلي دي. هغه ماشومان چې د شخړې له امله په متاثره شویو سیمو کې ژوند کوي ، نه شي کولای د ماینونو د خطر په اړه زده کړې تر لاسه کړي ، او په مکرر ډول د فطري لیوالتیا خاصیت له امله تحریک کیږي چې د خپلو کورنو او لوبو د میدانونو شاخوا نا اشنا او ځلیدونکي توکو ته لاس ور وړي. ماشومان همدارنګه د اوسپنیزو ټوټو د راغونډولو او خرڅولو په موخه د اوسپنیزو کشف کیدونکو وسیلو څخه کار اخلي او اکثره وخت په جګړه ځپلو سیمو کې په نا چادو توکو پسې ګرځي ، په یو شمیر زیاتو مواردو کې ښایې والدین او ماشومان د جګړې څخه د پاته شونو توکو په خطر خبر اوسي خو کورنۍ د غربت له امله دې کار ته دوام ورکوي.[59] د جګړې څخه پاته شونې چاودیدنکي توکي په خاص ډول هلکان زیات اغیز من کړي چې دوي د دې تلفاتو ۲۱ سلنه او نجونې یې ۹ سلنه تلفات تشکیلوي. .[60]

د ۲۰۱۵ کال په پرتله په ۲۰۱۶ کال کې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په نتیجه کې د ماشوانو تلفات ۴ سلنه زیات شوي.[61] د دې تاکتیک (د فشار په ذریعه چاودیدونکي ځای پر ځای شوې چاودیدونکي توکي او د ریموټ کنترول په واسطه چاودیدونکي توکي) د کارولو په نتیجه کې ، یوناما د ټولټال ۵۵۴ ماشومانو تلفات (۱۶۷ مړینې او ۳۸۷ ټپي کیدنې ) مستند کړي ، چې دا په ۲۰۱۵ کال کې دا د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په برخه کې د ماشومانو تلفاتو کې د کموالي بالعکس ښکاروندوي کوي.[62] ځانمرګو او ډله ییزه بریدونو په ۲۰۱۶ کال کې د ماشومانو ټولټال ۱۵۵ تلفات (۱۶ مړینې او ۱۳۹ ټپي کیدنې) را منځ ته کړل ، چې دا د ۲۰۱۵ کال د ورته مودې په پرتله ۳۱ سلنه کموالی ښیې.[63]

۵۹ د لا نورو معلوماتو لپاره د جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو په هکله څپرکی وګورئ.

٦۰ په ۲۰۱۶ کال کې ، یوناما د جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو په نتیجه کې د ټولټال ۸۹ ملکي نجونو تلفات (۲۴ مړینې او ۶۵ ټپي کیدنې) او د هلکانو ټولټال ۵۲۰ تلفات (۱۵۹ مړینې او ۳۶۱ ټپي کیدنې) مستند کړي.

٦۱ په ۲۰۱۵ کال کې ، یوناما د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په نتیجه کې د ماشومانو ټولټال ۵۳۲ ملکي تلفات (۱۵۸ مړینې او ۳۷۴ ټپي کیدنې) مستند کړي.

٦۲ په ۲۰۱۵ کال کې ، د ۲۰۱۴ کال په پرتله د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د کارونې په نتیجه کې ۱۴ سلنه کموالی راغلی.

٦۳ په ۲۰۱۵ کال کې ، یوناما د ځانمرګو او پیچلو بریدونو په پایله کې د ماشومانو ۲۲۵ ملکي تلفات (۵۰ مړینې او ۱۷۵ ټپي کیدنې) مستند کړي.




*د ماشومانو تښتونه*

یوناما په ۲۰۱۶ کال کې د تښتونو ۱۰ پیښې ثبت کړې  په کومو کې چې ۱۵ ماشومانو تښتول شامل دي. په ټول هیواد کې په شمول  د فراه ،کندز ، هلمند ، میدان وردګو ، لغمان ،ننګرهار او بدخشان  ولایتونو کې  کې تښتونې ترسره شوې.

دې ماموریت ۷ هغه پیښې په کومو کې چې ۱۱ ماشومان تښتول شوي طالبانو ته منسوب کړې  او یوه پیښه داعش ته(د خراسان ولایت لپاره د اسلامي دولت) ډلې ته منسوب کړې چیرى چې یادې ډلې دوه ماشومان تښتولي.[٦٤] دولت ضد عناصرو په اصل کې د دولت د ملاتړو ، د افغان ملي امنیتي ځواکونو د غړو ، یا د سیالو دولت ضد عناصرو د ډلو سره د اړیکو په تور د ۱۶ او ۱۷ کلنو تر منځ ماشومان تښتولي. دبیلګې په توګه ، د نومبر په ۱۳ ، دولت ضد عناصرو د لغمان ولایت د الینګار په ولسوالي کې د یوې نقلیه وسیلې څخه یو تن نارینه او دوه ماشومان په دې ګمان چې د کورنۍ غړي یې د دولت لپاره کار کوي ، وتښتول. دولت ضد عناصرو په پای کې دریې واړه ګسان د ځایي مشرانو سره د خبرو اترو وروسته خوشې کړل. افغان سیمه ییزو پولیسو او دولت پلوه وسله والو ډلو ، هرې یوې یې یو ماشوم تښتولی ، او ګمان کیږي چې دواړه تښتونې د جنسي ناوړه ګټه اخستنې په موخه رامنځ ته شوې.[٦٥]

---

٦٤ د امنیت شورا د ۲۵۵۵ (۲۰۱۵) شمیرې پریکړه لیک سره په مطابقت کې ، د ملګرو ملتونو د امنیت شورا په ۲۰۱۵ کال کې طالبان  د تښتونو لپاره فهرست کړې. د فهرست کولو د پروسې موخه دا ده تر څو وسله والې ډلې او نور فعالین چې د ماشومان په وړاندې په جدې سرغړونو تورن دي ، نومونه واخلې. طالبان همدارنګه د ماشومانو د استخدام او کارولو  ، د ماشومانو د وژلو او معیوبولو ، بیا پیښودونکو بریدونو یا په ښوونځیو ، روغتونونو او خوندي کسانو د بریدونو د ګواښ په خاطر فهرست شویدي.
٦٥ د ساتندویه لاملونو لپاره د اضافي توضیحاتو د ورکولو څخه ډډه شوې.

*په وسله واله شخړه کې د ماشومانو استخدام او کارونه*

یوناما د نظارت او راپور ورکولو په هکله د ملګرو ملتونو د هیواد په کچه د نظارت او راپور ورکونې کاري ټیم د ګډ مشرتابه په توګه د دولت ضد عناصرو او افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا د ماشومانو د استخدام او کارونې په اړه دوامداره راپورنه ترلاسه کړي ، [٦٦] په ۲۰۱۶ کال کې یې ۵۹ پیښې مستندې کړي په کومو کې چې ټولټال ۹۱ ماشومان استخدام شوي.[٦٧] د ناسمو یا کم راپور ورکولو د احتمال په نظر کې نیولو سره ، یوناما یادونه کوي چې دا ارقام ممکن د شخړې د ښکیلو ډلو له خوا په ځانګړې ډول د داعش/ د خراسان ولایت د اسلامي دولت او طالبانو لخوا د ماشومانو د استخدام او کارونې واقعي اندازه په سمه توګه منعکسه نه کړي.[٦٨] دولت ضد عناصرو زیات ماشومان استخدام کړي او یا کارولي. د نظارت او راپور ورکولو په هکله د ملګرو ملتونو د هیواد په کچه د نظارت او راپور ورکونې کاري ټیم د طالبانو له خوا د ۶۶ ماشوانو استخدام او کارونه ، د داعش/ خراسان ولایت لپاره اسلامي دولت ډلې له خوا د ۱۰ ماشومانو استخدام او کارونه ، د نا معلومو دولت ضد عناصرو له خوا د ۵ ماشومانو استخدام او کارونه مستنده کړي چې زیاتره یې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د ښخولو ، د چاودیدونکو توکو د انتقال ، د ځانمرګو بریدونو د ترسره کولو او جاسوسي په چارو بوخت وو. د بیلګې په توګه ، د جولای په ۱۴ ، د پکتیا ولایت په ګردیز ولسوالي کې د یوه ۱۳ کلن برید ګر ماشوم واسکټ هغه وخت چې کله یې د برید نه وړاندې په خپل کور کې په ځان پورې تړه ، وچاودید. افغان ملي امنیتي ځواکونو په ۲۰۱۶ کال کې ۹ تنه هلکان استخدام یا کارولي (د افغان ملي پولیسو له خوا ۵ تنه او د افغان ملي اردو له خوا ۱ ماشوم ، دوه تنه ماشومان د افغان سیمه ییزو پولیسو او یو تن د افغان ملي پولیسو او افغان ملي اردو له خوا په ګډه استخدام او کاریدلي) او د دولت پلوه وسله والې ډلې له خوا یو ماشوم استخدام کړی یا کاریدلی.

*د جنسي تیري او جنسي ځورونې /خستنې نور ډولونه*

یوناما د جنسي تیرې د یوې پیښې په شمول ، په ۲۰۱۶ کال کې د ماشومانو په وړاندې د شخړې سره د تړلې خشونت ۴ پیښې مستندې کړي دي. کیداي شي دا ډول پیښې د ټولنیزو نورمونو له امله په کمه اندازه راپور شوې وي ، د بیلګې په توګه ، د جنسي تاو تریخوالی د قربانیانو سره د تړلې پیغور چې ممکن د ټولنې څخه تجرید او شړلو ته لار هواره کړي.

---

٦٦ د نظارت او راپور ورکولو په هکله د افغانستان د نظارت او راپور ورکون کاری یم د ۲۰۰۸ کال په سپټمبر میاشت کې د ماشومانو په وړاندې د ۶ جدي سرغړونو د نظارت او راپور ورکولو د میکانیزم د یوې برخې په حیث را منځ ته شو او د امنیت شورا ۱۶۱۲ (۲۰۰۵)پریکړه لیک کې فهرست شوی: (۱)د ماشومانو وژل او معیوبول ; (۲) د وسله والو ځواکونو یا وسله والو ډلو له خوا د ماشومانو استخدام او کارونه ; (۳) د ماشومانو په وړاندې جنسي تاوتریخوالی ; (۴) د ښوونځیو او روغتونونو په وړاندې بریدونه ; (۵) د ماشومانو تښتونه ; او (۶) د ماشومانو لپاره د بشري مرستو د لاسرسي مخنیوی.

٦٧ په ۲۰۱۵ کال کې ، د نظارت او راپور ورکولو په اړه د هیواد په کچه د نظارت او راپور ورکونې کاري ټیم د شخړې د ښکیلو ډلو له خوا د ټولټال ۴۸ ماشومانو د استخدام او کارونې خبر ورکړی. یوناما څکه ماشومانو ته اشاره کوي چې د نظارت او راپور ورکولو په هکله هیوادنې کاري ځواک د شخړې د ښکیلو ډلو له خوا د نجونو د استخدام او کارونې هیڅ ډول پیښې نه دې مستندې کړې.

٦٨ د وسله والو ځواکونو او ډلو له خوا د ماشومانو استخدام او کارونه د ۱۸ کالو نه د ټیټ عمر هر شخص ته راجع کیږي ثوک چې [...] د وسله وال ځواک یا وسله والې ډلې له خوا په هر ظرفیت کې ، د بیلګې په توګه د جنګیالیو ، آشپزانو ،جاسوسانو ، انتقالونکو یا د جنسي موخو لپاره استخدام او په دندو وګمارل شي ، خو په ماشومانو ، هلکانو او نجونو پورې محدود نه وی. د وسله والو ځواکونو او وسله والو ډلو سره د تړلو ماشومانو په هکله د پاریس اصول او لارښودونه وګورئ. په لاندې پته د لاسرسي وړ دی: https://childrenandarmedconflict.un.org/publications/ParisPrinciples_EN.pdf.

يوناما د بغلان او کندز په ولايتونو کې د افغان سيمه ييزو پوليسو له خوا د ماشومانو څخه د جنسي ګټې اخيستنې او جنسي موخو د کارونې لپاره د جنسي تيرې او جنسي استعمار په شمول د جنسي تيرې دوه پيښې مستندې کړي دي.[٦٩]

يوناما همدارنګه د اکتوبر په ۱۷ د پکتيا په ولايت کې د افغان ملي اردو د ځانګړو ځواکونو له خوا د يوه ۱۶ کلن ماشوم په وړاندې د جنسي ناوړه چلند يوه پيښه مستنده کړې ، په دې پيښه کې يادو ځواکونو د ښوونکو او زده کونکو تر مخ د نوموړي هلک څخه په زور کالي ايستلي او انځورونه يې اخيستي. د زده کونکو او ښوونکو له خوا له نيوکو وروسته ، د افغان ملي اردو خاصو ځواکونو د ښوونځې په انګړ کې ډزې وکړې او يو تن زده کونکی يې په غاړه کې جدې ټپي کړ او بل يې دومره وواهه چې په پای کې بې هوشه شو. د اکتوبر په ۱۹ ، د افغان ملي اردو د خاصو ځواکونو ۵ تنه ښکېل کسان ونيول شول او د افغان ملي اردو ځانګړو ځواکونو قطعي ته په کابل ښار کې د عدلي تعقيب لپاره واستول شول.[۷۰]

د اکتوبر په ۲۱ ، د ولسمشر د دفتر څخه سياسي را ليږل شوي پلاوي د ګرديز د ښار څخه ليدنه وکړه څو د ځايې دولتي چارواکو او شورا له غړو سره ووينې او د پيښې په تړاو خبري وکړي. د پېښې له امله ښوونځی د دريو ورځو لپاره د زده کونکو پر مخ وتړل شو او ۱۲۰۰ زده کونکي يې په موقت ډول د زده کړو څخه محروم کړل. د ترلاسه شويو معلوماتو په حواله ،د خاصې قطعي محکمې يو تن دوهم بريد من د ځواک څخه د ناقانونه کارولو او په پيښې کې د ښکيلتيا په خاطر په دوه کلن بند محکوم کړ او بل تن سرباز يې د وهلو په قضيه کې پړ وباله او په يوه کلن بند يې محکوم کړ.[۷۱] د شواهدو د نه شتون له امله دريو سربازانو ته برآت ورکړل شو. هيڅ مرتکيب د جنسي ځورونې يا د ماشوم څخه د ناوړه ګټې اخيستني په خاطر متهم و نه پيژندل شول.

په ۲۰۱۶ کال کې ، يوناما په ارزګان ولايت کې د افغان ملي پوليسو له خوا د هلکانو په وړاندې د جنسي سرغړونو د تعقيب هڅه وکړه. ياد دفتر حکايتي شواهد تر لاسه کړي او ټينګار کوي چې په ولايت کې سرغړونې دوامداره او پراخه کچه شتون لري ، تر ټولو جدې حساسيتونه په ځانګړي ډول قربانيانو ته ګواښ او خطرونه متوجه کيدل شامل دي ، او دا يوناما له دې را ګرزوي چې د خپلې ميتودولوژۍ په مطابقت کې خاصې پيښې تصديق کړي.

د ۲۰۱۶ کال په جريان کې ، يوناما د بچه بازي او د جنسي سرغړونو د نورو ډولونو د جنايي کولو او مخنيوي په برخه کې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون ملاتړ ته دوام ورکړی.[۷۲] يوناما د دولت څخه غوښتنه کوي چې بچه بازي دې جرمي عمل وپيژندل شي او د کمېسيون لخوا دا د جرمي عمل پېژندلو وړانديز شوې طرح دې د ولسمشر د فرمان په واسطه تائيد شي .

٦٩ د نورو معلوماتو لپاره په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په هکله د يوناما د ۲۰۱۶ کال نيم کلن راپور ۲۰ پاڼه وګورئ.
۷۰ يوناما د جنوري د مياشتې په ۱۵ د ملي امنيت شورا څخه وغوښتل څو مرتکيبين د عدالت ميز ته را کښ کړي ، خو تر اوسه يې لا په دې هکله کوم ځواب نه دی ترلاسه کړی.
۷۱ د يوناما او کورنيو چارو د وزارت تر منځ د ايميل تبادله ، د ۲۰۱۷ کال د جنوري ۲۲.
۷۲ بچه بازې هغه اصطلاح ده چې په په ساده ډول د ماشومانو د لوبولو په حيث ژباړل شوې او د افغانستان په يو شمير سيمو کې د قومندانانو او نورو مخورو خلکو لخوا چې په عمومي توګه د ماشومانو د استحصال او د ناوړې ګټې اخيستنې سره تړاو لري او د دغو اشخاصو له خوا پر مخ وړل کيږي. په افغانستان کې د بچه بازې د لاملونو او پايلو په هکله ملي پلټنه وګورئ ، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون ، د ۲۰۱۴ کال د اګسټ ۸: په لاندې پته د لاسرسي وړ ده:
http://www.aihrc.org.af/home/research_report/3324, last accessed 10 July 2016.

یوناما د کمیسیون سره د هغوې په کوښښونو کې مرسته کړې څو د بچه بازۍ په وړاندې په قربانیانو متمرکزه تگ لارې چې په دې کې تولنیزه پاملرنه او د خسارې جبران شامل دی دفاع وکړي. په اوس حال کې د بچه بازۍ د قربانیانو لپاره ډېر کم خدمتونه او ملاتړي میکانیزمونه شتون لري ، په داسې حال کې چې د دې مسئلې د ځوابولو لپاره ترسره شوي جزایي تدبیرونه د ادعا سره سم بیا د قربانیاني په اوړو پریوزي او د د قانون د پلې کونکو او محکمې د سیستم له خوا هغه اکثرا په سزا رسیږي چې بیا دویم ځل قرباني کیږي.

*د ښوونځیو او معارف سره تړلې پېښې*

یوناما د وسله واله جګړې سره تړلې ۹۴ داسې پیښې ثبت کړي په کومو کې چې معارف او د معارف اړوند کارکونکي هدف ګرځیدلی او یا متاثره شوي وو ، چې دا د ۲۰۱۵ کال د ورته مودې په پرتله ۲۰ سلنه کموالی ښيې- د کومو په نتیجه کې چې ټولټال ۹۱ ملکي کسانو ته تلفات (۲۴ مړینې او ۶۷ ټپې کیدنې) اوښتي دي.[۷۳] یوناما له دې جملې دولت ضد عناصرو ته ۸۲ سلنه پېښې منسوب کړي په کومو کې چې معارف په نښه شوی او یا ترې متاثره شوی ، او پاته ۲۱ سلنه یې افغان ملي ځواکونو او دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي .

د معارف د اړوندو کارکونکو او امکاناتو په وړاندې د ترسره شوېو تهدیدونو او ګواښونو پیښو ( د معارف د ریاست د ښوونکو ،ساتونکو او کارکونکو په شمول) دا موندلی چې په ۲۰۱۶ کال کې اکثرا پیښې د معارف په وړاندې ترسره شوي. یوناما د دې ماهیت ۴۴ پېښې مستندې کړي چې دا د ۲۰۱۵ کال د ورته مودې په پرتله د پیښو په شمیر کې ۴۱ سلنه کموالی ښیې.[۷۴] د دې کموالې سربیره ، یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د نجونو د معارف په برخه کې د دوامداره مداخلو په اړه اندیښمنه ده- د ګواښونو ، تهدیدونو او ځورونو ۱۶ پیښې چې د نجونو معارف په نښه کوي. د بیلګې په توګه ، د سپټمبر په ۴ ، دولت ضد عناصرو د لغمان ولایت د علینګار ، الیشینګ او دولت شا په ولسوالیو کې د نجونو عالي لیسې مدیرانو ته حکم کړی چې په ښوونځیو کې ۷ ټولګي وتړي او د ټولنې له مشرانو یې غوښتي چې د لوړو زده کړو د حاصلولو څخه نجونې را وګرزوي.د دې سربیره ، یوناما همدارنګه د نجونو د یوه ښوونځي د یوې سرمعلمې د تښتونې پېښه ، په ډزو د یوه ښوونکي وژل چا چې د نجونو په ښوونځي کې کار کاوه او د نجونو د ښوونځي د باندې د ځاي پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د چاودنې پیښې د کومو په نتیجه کې چې د ښوونځي ټولګي زیامن شوي او د نجونو د ښوونځیو ته قصدا زیان اړولو درې اضافي پیښې مستندي کړي.

د معارف د ریاست د کارکونکو غړو له خوا د دولت ضد عناصرو د مخفیانه ګواښونو په ځواب کې د ګوا ښونو او تهدیدونو د نورو پیښو په پایله کې د نجونو او هلکانو ښوونځي تړل شوي. د نظامي موخو د پاره د ښوونځیو کارونې پر مهال تهدیدونه او ګواښونه راپیښ شوي ، د ښوونځیو شتمنیو ته ته په عمدي ډول- تاوان اوښتی ، د ښوونځي په محوطه کې جنسي تاوتریخوالی پیښ شوی(پورته تېره برخه کې وګورئ) او یو ښوونکی وهل شوی.

یوناما په ۲۰۱۶ کال کې د معارف مسلکي کسانو د هدفي وژنو ۱۳ پیښې مستند کړي چې په نتېجه کې یې ۱۱ ملکي کسان وژل شوي او ۱۰ نور ټپیان شوي دي; په ۱۲ پیښو کې د معارف اړوند ۵۵ کارکونکي او زده کونکي تښتول

---

۷۳ په ۲۰۱۵ کال کې یوناما معارف هدف ګرځولو په پیښو کې ۲۶ ملکي تلفات (۱۱ مړینې او ۱۵ ټپې کیدنې) مستند کړي.
۷۴ د ۲۰۱۵ کال د ۷۵ پیښو په پرتله ، په ۲۰۱۶ کال کې ، یوناما د معارف په وړاندې د ګواښونو او تهدیدونو په پایله کې ۴۴ پیښې مستندې کړي.

شوي؛ د معارف ودانیو ته ته په عمدي ډول زیانونو اړولو ۱۰ پیښې؛ د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو ۵ پېښې چې موخه یې د معارف په نښه کول و مستندې شوي او په یوه پوهنتون ډله ییز برید برید ترسره شوی.[۷۵]

یوناما د شخړې د ښکېلو ډلو له خوا د پوځې موخو لپاره د تعلیمي ودانیو کارول په دوامداره ډول ثبت کړي . یوناما په ۲۰۱۶ کال کې ، د پوځې موخو د پاره د ۳۶ ښوونیزو مرکزونو کارول ثبت کړي چې زیاتره یې د د افغان ملي امنیتي ځواکونو لخوا کارول شوي او د ۲۶ ښوونځیو نیول یې مستند کړي دي. یوناما همدارنګه د دولت پلوه وسله والې ډلې له خوا د یوه ښوونځې کارول او د دولت ضد عناصرو له خوا د ۹ ښوونیزو مرکزونو کارول مستند کړی دي. د هلمند ، کندز ، لوګر ، میدان وردګو ، تخار ، فراه ، بدخشان ، غور ، جوزجان او پکتیا ولایتونو په شمول د هیواد په کچه د پوځې موخو لپاره د ښوونیزو مرکزونو نیولو او کارولو دوام درلود.

د زده کړو څخه د ماشومانو د محرومیت سربیره ، د پوځې موخو لپاره د ښوونیزو مرکزونو کارول دا د ځمکنیو جګړو او هوایې بریدونو په خطر کې واقع کوي. د بیلګې په توګه ، د افغان ملي اردو سرتیرو د مارچ له ۱۳-۱۵ نیټې پورې د عملیاتو پر مهال د میدان وردګو د ولایت په نرخ ولسوالي کې دوه لېسې ونیولې. د افغان ملي اردو او دولت ضد عناصرو تر منځ د جګړو په پایله کې د ښوونځې دروازو او کړکیو ته زیان واوښت.

یوناما د ښوونځیو نه په دوامدار ډول د پوځې موخو د پاره د کارولو په هکله ، په خاص ډول د افغان امنیتي ځواکونو له خوا اندیښمنه ده ، سر بیره په دې چې د معارف وزارت له خوا د ۲۰۱۶ کال د جون د ۴ او جولای د ۴ نیټو په استول شویو لارښودونو کې د امنیت له ټولو اړوندو وزارتونو غوښتل شوې چې د پوځې موخو لپاره د ښوونځیو د کارولو څخه ډډه وکړي او د ښوونځیو د خوندي ساتنې اعلامیې رعایت ته ژمن اوسي.[۷۶] یوناما د ټولو افغان امنیتي ځواکونو څخه غواړي څو د خوندي ښوونځیو اعلامیه رعایت کړي او د شخړې له ټولو اړخونو څخه غوښتنه کوي څو د پوځې موخو لپاره د ښوونیزو مرکزونو د کارولو څخه ډډه وکړي.

---

۷۵ یوناما همدارنګه داسې ۹ پیښې چې په مستقیم ډول د پورته یادو شویو پیښو سره تړاو نه لري مستندې کړي ، یعني د تصرف او اشغال ۷ پیښې او یا د ښوونیزو مرکزونو کارول چې په هغو کې ګواښ او تهدیدونه شامل نه و او د ښوونځیو د سامان الاتو د لوټ دوه پیښې شامل دي.

۷۶ " د خوندي ښوونځیو اعلامیه " غړو هیوادونو ته فرصت برابروي چې په وسله واله شخړه کې د معارف د ساتنې او دوام لپاره سیاسي ملاتړ برابر کړي ، او د غړو هیوادونو لپاره داسې افزار دی چې د وسله والې شخړې پر مهال د پوځې کارونې څخه د ښوونځیو او پوهنتونونو د ساتنې په هکله لارښودونه تصویب او پلې کړي. دا اعلامیه د اوسلو په کنفرانس کې د ۲۰۱۵ کال د مي په ۲۹، د ناورې د بهرنیو چارو په وزارت کې د خوندي ښوونځیو په هکله د تائید لپاره وړاندې شوه. وګورئ: http://www.protectingeducation.org/guidlines/support,last وروستي ځل د ۲۰۱۷ کال د جنوري په ۵ نیټه ورت لاسرسی شوی. یاده اعلامیه د ۲۰۱۵ کال د مي په میاشت کې د افغانستان دولت لاسلیک کړه.

## د جګړې نه  پاتې شوي چاودیدونکي توکي

" پرون ما له نورو ماشومانو سره په کلي کې زموږ کورته نژدې په کوخه کې لوبې کولې. ما ولیدل چې زموږ یوه ګاونډي هلک ،چې وروسته بیا مړ شو ،د اوسپنې یو شی په لاس کې نیولی و. پوهېدم چې دا چاودېدونکی شی دی."او بیا زه له هغه خخه لیرې شوم. هغه شی په ډبرو وټکاوه. چاودنه وشوه. زه بې سده شوم بیا پوه نه شوم چې څه پېښ شول."[۷۷]

- دیارلس کلنه نجلۍ د بغلان ولایت د پلخمري په ولسوالي کې د جولای په ۱۶ له جګړو څخه د پاتې شونې توکي د چاودنې له امله ژوبله شوې. په دې چاودنه کې یوه نجلۍ او درې هلکان وژل شوي او یو هلک او دوه نجونې ژوبلې شوي.

یوناما له دې درکه ډېره اندېښمنه ده چې له جګړو څخه د پاتې شویو چاودېدونکو توکو له امله زیات شمېر ملکي کسان تلفات ورکوي. یوناما په ۲۰۱۶ کې له جګړو څخه د پاتې شویو چاودېدونکو توکو له امله د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړ شمېر ثبت کړی له کله چې یوناما په ۲۰۰۹ کې د ملکي تلفاتو د ثبتولو کار پیل کړی دی.[۷۸] یوناما د جنورې د لومړۍ نېټې څخه د ډسمبر تر وروستۍ هغې پورې له جګړو څخه د پاتې شویو چاودېدونکو توکو ۳۲۶ پېښې ثبتې کړې چې په پایله کې یې ۷۲۴ ملکي تلفات ( ۲۱۷مړینې او ۵۰۷ ژوبلې) رامنځ ته شوې او د ۲۰۱۵ کال په پرتله ٪۶۶ زیاتوالی څرګندوي. له جګړو څخه د پاتې شویو چاودېدونکو توکو له درکه  ملکي تلفات په ۲۰۱۶ کال کې د ټولو ملکي تلفاتو  ٪۶ جوړوي .[۷۹]




---

۷۷ د ۲۰۱۶ کال د جولای ۱۷ ، د قرباني شخص سره د یوناما مرکه ، بغلان ولایت ، پلخمري ښار.

۷۸ یوناما د ۲۰۱۶ کال نه مخکې د  جګړې څخه د پاته شونو توکو په نتیجه کې لاندې ملکي تلفات مستند کړي : ۲۰۱۵-۴۳۶ ملکي تلفات(۱۲۹ مړینې او ۳۰۷ ټپي کیدنې)؛ ۲۰۱۴- ۴۲۵ ملکي تلفات(۱۲۴ مړینې او ۳۰۱ ټپي کیدنې)؛ ۲۰۱۳-۳۵۱ ملکي تلفات(۱۱۶ مړینې ۲۳۵ ټپي کیدنې)؛ ۲۰۱۲- ۲۲۰ ملکي تلفات(۷۷ مړینې او ۱۴۳ ټپي کیدنې)؛ ۲۰۱۱ -۲۰۸ ملکي تلفات(۶۹ مړینې او ۱۳۹ ټپي کیدنې) ؛ ۲۰۱۰-۱۶۲ ملکي تلفات(۴۹ مړینې او ۱۱۳ ټپي کیدنې) او ۲۰۰۹-۱۱۳ ملکي تلفات(۳۱ مړینې او ۸۲ ټپي کیدنې).

۷۹ په ۲۰۱۵ کال کې ، یوناما د جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو د انفجار په نتیجه کې ۴۳۶ ملکي تلفات(۱۲۹ مړینې او ۳۰۱۷ ټپي کیدنې) مستند کړي دي.

یوناما په پرلپسې ډول مشاهده کړې چې په ملکي تلفاتو کې د زیاتوالي او له جګړو څخه د پاتې شویو چاودېدونکو توکو او دغه راز د ځمکنیو جګړو تر منځ دغه اړیکه شته چې ډېر ځله پکې په ګڼ مېشتو سیمو کې له غیر مستقیمو او/ یا چاودېدونکو وسلو څخه کار اخیستل شوی.[80] لس ولایتونه چې له جګړو څخه د پاتې شونو له امله په ۲۰۱۶ کې تر زیاتې اندازې زیانمن شوی په هغو لسو ولایتونو کې شامل دي چې د ځمکنیو جګړو له درکه هم متاثره شوي. دغه رابطه ښیي چې په ځمکنیو جګړو کې داسې وسلې کارول کیږي چې ناچاودې ګولۍ په ښارې او ګڼ میشتو سیمو کې اوروالی شي(لکه راکټونه ، لاسي بمونه ، او مرمۍ).[81] د مثال په ډول ،د نومبر په ۱۶ د کندز ښار د زرخرید په سیمه کې د راکټ په ذریعه توتغول شوی ناچاوده بم چې د طالبانو د بریدونو په وخت کې له جګړو څخه پاتې شوی و د ۲۰۱۶ د اکتوبر په میاشت کې دیوه واده پر مهال وچاودېد او دوه هلکان یې ووژل او اووه تنه نور هلکان یې ژوبل کړل.

په دې برسېره چې په ګڼ مېشتو سیمو کې ځمکنیو جګړو زور اخیستی او نا امني نوره هم زیاته شوې ،د بشرپالنې په کارمندانو باندې برېدونو ماین پاکان هم له خپلو کارونو څخه منع کړي او په دې ډول یې د ملکي وګړو لپاره خطرونه نور هم ډېر کړل. په ۲۰۱۶ کې یوناما د ماین پاکانو په ضد د برېدونو او تهدیدونو ۲۰ جلا پېښې مستندې کړې چې ۱۹ ملکي تلفات ( نهه مړینې او لس ژوبلې) یې واړول. د مارچ په ۹ ،طالبانو د امنیتي ساتونکو په یوې ډلې برید وکړ چې د کورنیو چارو د وزارت له خوا د ننګرهار ولایت د مومند درې په ولسوالي کې د ماین پاکانو د ساتنی لپاره ګمارل شوې وه. په برېد کې درې تنه ساتونکي ووژل شول او یو بل ژوبل شو. طالبانو دوه تنه ساتونکي چې یو یې ژوبل شوی ساتونکی و ،له ځان سره یو وړل او د دوی په ولکه کې پاتې شول. طالبانو د برید مسؤلیت منلی دی.[82] یوناما همدارنګه ۱۲ نورې جلا پېښې مستندې کړي چې پکې ۱۱۰ تنه ماین پاکان د حکومت ضد عناصرو له خوا تښتول شوي وو. د مثال په ډول ، د اګسټ په ۷ ، حکومت ضد عناصرو د میدان وردکو ولایت د سید اباد په ولسوالی کې د ماین پاکانو د ټیم ۳۲ تنه چې په دې ولسوالی کې یې د نظامی تمرینونو ځای له ماینونو څخه پاکول وتښتول او د دوی ۵ نقلیه وسیلې او نور سامانونه یې ضبط کړل. حکومت ضد عناصرو له هغوی څخه د پوښتنو کولو وروسته ټول بې له کوم زیان څخه خوشي کړل. د ځایي ټولنې د منځګړیتوب په ذریعه د ماین پاکانو سامانونه او وسایط هم بېرته هغوی ته وسپارل شول.

همدارنګه ،یوناما اندېښنه لري چې له جګړو څخه پاتې شوني په ماشومانو په غیر متناست ډول زیات منفی اثر غورځوي. په ۲۰۱۶ کې ماشومانو د ټولو هغو ملکي تلفاتو ۸۴٪ جوړوله چې له جګړو څخه د پاتی شویو چاودېدونکو توکو د چاودنې له امله رامنځ ته شوی وو او په دې ډول دغه چاودنې له ځمکنیو جګړو وروسته د ماشومانو د تلفاتو

---

۸۰ غیرمستقیمي او/یا د چاودیدونکو توکو نا چاوده الې تولیدوي- د جګړې څخه پاته شوې چاودیدونکي توکي: په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۶ کال نیم کلن راپور ۲۷ -۴۲ پاڼې وګورئ.

۸۱ د کندهار ،هلمند ،فاریاب ،هرات ،ننګرهار ،بغلان او کندز ولایتونه د ۱۰ هغو ولایتونو له جملې څخه دي کوم چې د جګړې د پاته شونو چاودیدونکو توکو د چاودنو او ځمکنیو نښتو له امله ډیر متاثره شویدي. د غزني او زابل ولایتونه چې د جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو د ۱۰ متاثره شویو ولایتونو په جمله کې راځي د ځمکنیو نښتو له امله په ۱۱ او ۱۲ ځای کې راځې. په ملکي کسانو د غیر مستقیمو او/یا چاودیدونکو توکو د اغیزو لپاره د ځمکنیو نښتو په اړه ځپرکی وګورئ:د ډزو په تبادله کې را ګیر ملکي کسان.

۸۲ د طالبانو د ادعا مسولیت په انګلیسي ویب پاڼه خپور شوی ، پخوا پدې پته د لاسرسي وړ وه ، کاپي د یوناما سره په ریکارډ موجوده ده.
http://shahamat-english.com/5-killed-11-injured-in-nangarhar-operation

دویم لوی لامل بلل شوی.[۸۳] یوناما په ۲۰۱۶ کې له جګړو څخه د پاتې شونو د چاودنې له امله د ماشومانو ۶۰۹ تلفات ( ۱۸۳ مړینې او ۴۲۶ ژوبلې) مستند کړې. دغه پېښې په هغه وخت کې رامنځ ته شوي چې ماشومانو له دغو توکو سره یا لوبې کولې یا یې د ناچاودو توکو له پیدا کولو وروسته هغو ته لاس وروړی،کله چې دوی د فلزي ټوټو په راټولولو بوخت وو چې ذخیره یې کړي او/ یا په زراعتي کارونو کې لګیاوو او یایې لوبې کولې. د مثال په ډول ،د اګست په ۸ ،د ورو ماشومانو یوې ډلې د کندهار ولایت د سپین بولدک په ولسوالی کې یوه ناچاودې مرمۍ پیدا کړه او له هغې سره یې لوبې کولې. په نتیجه کې مرمۍ وچاودله او پنځه تنه ماشومان یې چې عمرونه د ۲ او ۵ کلونو تر منځ وو ،ووژل.




د ۲۰۱۶ په اوږدو کې ،په جګړو کې ښکېلې خواوې ونه توانېدلې چې له امنیتي عملیاتو وروسته ناچاودې توکې په نښه کړي او هغه ایسته کړي چې په نتیجه کې یې ټولنې له خطر سره مخامخ شوې ،په خاص ډول ماشومان. دغه غفلت د دې لامل شو چې د ملکي تلفاتو کچه لوړه شي ،دوی د بدن غړي له لاسه ور کړي ،د لیدلو او اوریدلو توانایی یې کمزورې شي او په جدی ډول ټپیان شی ،همدارانګه کورنۍ تبا شوې ، ماشومان ،میندې او پلرونه او نور خپلوان یې له لاسه ورکړل. د ژوبلېدو پایلې له جسماني زیانونو څخه ها خوا وې: هغه ماشومان چې له جګړو څخه د پاتې شونو د چاودنې له امله یا ړانده شوی یا ګوډ شوي شاید له تعلیم څخه محروم پاتې شي. ژوبل شوي کسان چې د کورنیو نفقه یې برابروله دوی نور لکه د کښت په څېر او نور داسې جسماني کارونه شاید ونه کړای شي. ډېر ژوبل شوي کسان شاید طبي درملنې ته لاس رسی ونلري چې په هغو کې لومړنۍ رواني درملنه او وروسته بیا د مصنوعی غړو درملنه او فیزیوتراپي شاملیږي.

په جګړو کې ښکېلې خواوې باید اغیزناک اقدامات وکړي څو یقیني کړي چې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه خپلې ژمنې عملي کوي. په دې اړه باید مشخص ګامونه اوچت کړي څو په ګڼ مېشتو سیمو کې د داسې وسلو د کارولو اندازه ټیټه

۸۳ د ماشومانو او وسله والې شخړې په هکله څېړکی وګورئ.

وساتي چې ناچاودې مرمۍ توليدوي لکه د هاوانونه ، توپونه ،راکټونه او لاسي بمونه. په جګړو کې ښکېلې خواوې باید د جګړو له میدانونو او د خلکو د اوسېدلو له ځایونو څخه په سملاسي ډول له جګړو پاتي شوي چاودېدونکي توکي په نښه او پاک کړي.[٨٤]

یوناما یو ځل بیا په ټولو خواوو غږ کوي چې د بشر پالنې د نړیوال قانون غوښتنه داده چې د جګړو په دوران کې هره هڅه باید وشی چې ملکي کسان د جګړو له زیان څخه وژغورل شي او ټول ضروري اقدامات ونیول شي چې د ملکي خلکو د زیان ،ژوبلېدو یا تاوان مخنیوی وشي.

یوناما د ځینو دودیزو وسلو په اړه د ١٩٨٠ د تړون مربوط پنځم پروتوکول تصویبول چې له جګړو څخه د پاتی چاودېدونکو توکو په باره کی وستايي.[٨٥] یوناما د افغانستان حکومت هڅوي چې د پروتوکول له خوا تعریف شوي او مقید شوي اقدامات ونیسي لکه د مناسبو طرزالعملونو او پالیسیو طرح کول چې تر خپلې ولکې لاندې ساحو[٨٦] کې له جګړو څخه پاتي شوني په نښه کړي ،پاک یی کړي یا يې له منځه یوسي او ټول ممکن احتیاطي تدابیر ونیسي چې په دې کې خبرداری ، د ماین دخطرونو په اړه پوهاوی ، په نښه کول ، د ککړ شوې سیمې انګړ راتاو کول او د دغه سیمې نظارت کول شامل دي  څو تر خپلې ولکې لاندې ساحه کې چې د داسي وسیلو په ذریعه ککړه شوې وي ملکي ابادي ، ملکي کسان او ملکي شیان د هغو له خطرونو او اغېزو څخه خوندي وساتي.[٨٧]

یوناما په ټینګار سره سپارښتنه کوي چې طالبان او نور حکومت ضد عناصر باید ټول ضروري تدابیر ونیسي چې تر خپل نفوذ لاندې ساحو کې له جګړو څخه پاتي چاودېدونکي توکي سملاسي په نښه او پاک کړي او/یا د بشر پالنې ماین پاکانو ته اجازه ورکړي چې په دې ساحو کې د خلکو د اوسېدنې له ځایونو څخه ناچاودي توکې ایسته کړي.

یوناما یو ځل بیا له حکومت څخه غوښتنه کوي چې د ملکي کسانو د تلفاتو د مخنیوي او کمولو ملي پالیسي تطبیق او پلی کولو ته لومړیتوب ورکړي څو په پنځم پروتوکول کې له درج شویو مسؤلیت ونو سره په مطابقت کې خپل مکلفیت ترسره کول  یقینی کړي.

---

٨٤ په  ضمني ډول د دریمې مشترکې ماده  ، د الحاقي  دویم پروتوکول ، ۴ ، ١٣ مادې ، همدارنګه د الحاقي اول پرتوکول ۵٧ ماده هم وګورئ (په غیر نړیوالو او وسله والو شخړو د عملي کیدو وړ نه دی خو د عنعنوي نړیوال قانون په حیث منل شوې- د ای سي ار سي عنعنوي نړیوال بشر دوستانه قانون ١۵-٢٢ قاعدې وګوري).

٨۵ د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر د ٢٠١٧ کال د جنوري په ١۵ د لاسرسي یو سند لاسلیک کړ ، د دودیزو وسلو په اړه د  ١٩٨٠ کال کنوانسیون او اول او دویم الحاقي  پروتوکول (لکه څنګه چې په ١٩٩۶ تعدیل شوې) تصدیق کړ ، دریېم ، څلورم او پنځم—د سند کاپي د یوناما سره په ریکارډ کې موجوده ده. د بهرنیو چارو وزارت د کنوانسینونو او د پروتوکولونو د تصدیق کولو لپآره د طرزالعمل سره په سمون کې د جولای په ٢۶ د ملګرو ملتونو د عمومي منشي دفتر ته سند وسپاره-د یوناما او د ماین پاکي د همغږې د دفتر/ بهرنیو چارو د وزارت تر منځ د ٢٠١٧ کال په جنوري کې د یوه بریښنالیک له لارې معلومات تر لاسه شول.

٨۶ د جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو په هکله د یو شمیر دودیزو وسلو په اړه د  ١٩٨٠ کنوانسیون پنځم پروتوکول ، د ٢٠١٣ کال د نومبر ٢٨ ، (پنځم پروتوکول)، ٣(٢) ماده.

٨٧ پنځم پروتوکول ، ۵(١) ماده.

**په روغتیایي خدمتونو د وسله واله جګړو اغېزې:**

*"مور دعلیشنگ له ولسوالی شخه د مهترلام عمومی روغتون ته په لارکي و او حامله ښځه مو روغتون ته په امبولانس کې لېږدوله. یو ناڅاپه حکومت ضد عناصرو په امبولانس باندې فیر وکړ او ناروغ یې په شت/ غاړه باندې ژوبل کړ. موږ په هغه ځای کې ودرېدلو او ناروغ مو یوه کورته یووړ چې لومړنی درملنه یې وشي او د وینې بهېدل ودریږي. له دوو ساعتونو مذاکرو شخه وروسته چې ځایي مشرانو له حکومت ضد عناصرو سره وکړې، هغو ته جوته شوه چې امبولانس ځایی پولیس نه بلکه یوه حامله ښځه لېږدوله. وروسته له هغه دوی موږ ته اجازه راکړه چې ناروغ د مهترلام روغتون ته ولېږدوو."* [88]

- په یوه امبولانس باندې د حکومت ضد عناصرو د بریدیو شاهد په دې پېښه کې چې د لغمان ولایت د علیشنګ په ولسوالي کې د ۲۰۱۶ کال د اګست په ۲۹ وشوه یوه حامله ښځه ژوبله شوه.

یوناما په ۲۰۱۶ کې په جګړو پورې تړلې ۱۱۹ پېښې مستندې کړې چې پکې د روغتیایي پاملرنې کارکونکي یا روغتیایي پاملرنه اغېزمنه شوې او په پایله کې ۲۳ ملکي تلفات ( ۱۰ مړینې او ۱۳ ژوبلې) رامنځ ته شوي او ۴۲ ملکي کسان تښتول شوي. دغه شمېر په ۲۰۱۵ کال[89] کې له مستند شوي شمېر سره برابر دی. په دغو پېښو کې اکثریت د ډېرونې او تهدید پېښې او د طبي پرسونل تښتونې شاملې وې، خو یوناما داسې پېښې هم مستندې کړې چې په هغو کې طبي پرسونل په عمدي ډول وژل شوي او/ یا طبي اسانتیاوې او مرکزونه د نظامي هدفونو لپاره نیول شوي دي. یوناما د ۹۵ حادثو مسؤلیت حکومت ضد عناصروته منسوب کړی او د ۲۳ حادثو مسؤل یې د افغان ملي امنیتي ځواکونه بللي او یوه پېښه یې حکومت پلوه وسله واله ځواکونو ته منسوب کړې.

په ۲۰۱۶ کې له ۱۱۹ مستندو پېښو شخه ، یوناما ۷۴ داسې پېښې ثبتي کړي چې روغتیایی مرکزونه تر تهدید لاندې راغلي او لږ تر لږه ۲۰ روغتیایی مرکزونه په موقت ډول تړل شوي وو. په تهدیدونو او ډېرونو کې ویل شوي وو چې کلینیکونه او د واکسیناسیون پروګرامونه باید و تړل شي او طبي پرسونل باید مالیات ورکړي. د مثال په ډول، د بغلان ولایت د پلخمري ولسوالی په بورکه کې ۱۶ کلینیکونه د لسو ورځو لپاره تړل شوي وو کله چې حکومت ضد عناصرو د جولای په ۲۳ د هغو د تړلو امر صادر کړ او طبي پرسونل یې تهدید کړ. حکومت ضد عناصرو دغه امر د افغان ملي امنیتي ځواکونو په ځواب کې صادر کړی و او وروسته له هغه یې د دهن غوري د ولسوالی، چې پخوا یې د حکومت ضد عناصرو ژوبل شوي کسان تر درملنې لاندې نیول ،یو امبولانس او طبي سامانونه ضبط کړل.

یوناما ۲۱ پېښې ثبتي کړي چې روغتیایی کارګران ( په ځینو پېښو کې د امبولانس نیول هم شامل وو) د حکومت ضد عناصرو له خوا تښتول شوي او د تښتول شویو کسانو شمېر ۴۲ ملکي کسانو ته رسېده او ۵ نورې داسې پېښې یې

88 د شاهد سره د یوناما تلیفوني مرکه ، جلال اباد ښار ، ننګرهار ولایت ، د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر ۵.

89 په ۲۰۱۵ کال کې ، یوناما ۱۰۹ پېښې په کومو کې چې روغتیا پالنه هدف نیول شوې ، د کومو په نتیجه کې چې ۱۵ ملکي تلفات را منځ ته شوې (۷ مړینې او ۸ ټپي کېدنې) او ۵۱ ملکي کسان تښتول شوي ، مستندې کړې. په داسې حال کې چې د ۲۰۱۵ کال د ورته مودې په پرتله ، د ۲۰۱۶ کال په اوله نیمایې موده کې یوناما د روغتیا پالنې په وړاندې د هدف نیولو په پېښو کې ۴۵ سلنه زیاتوالی مستند کړی خو دا تمایل د ۲۰۱۶ کال په دویمه نمایې کې مخ پر ښکته شوی. په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په هکله د یوناما د ۲۰۱۶ کال نیم کلن راپور ۲۲ مخ وګورئ.

ثبتي کړي چې طبي پرسونل او کارپوهان پکې په عمدي ډول وژل شوي یا د هغو د وژنې هڅې شوي ( په دې پېښو کې دوه بریدونه په امبولانسونو شوي). دغه راز یوناما د یوه طبي ډاکټر د تښتولو ناکامه پېښه هم مستنده کړي چې د سمنګان ولایت د ایبک په ولسوالی کې د حکومت ضد عناصرو له خوا تر سره شوه.

دغه راز یوناما ۵ پېښې ثبتي کړي چې طبي مرکزونه په عمدي ډول په نښه شوي وو ،په پنځو نورو پېښو کې طبي مرکزونه لوټ شوي خو په څمکنیو جګړو کې دغه مرکزونه تر تهدید لاندې نه دي نیول شوي ،په یوه حادثه کې یو طبي مرکز له لیرې څخه د ځای پر ځای شوي چاودېدونکو توکو په ذریعه په نښه شوي و او ۵ داسې پېښې وې چې له طبي مرکزونو څخه سامانونه غلا شوي یا لوټ شوي وو.

د تېرو یادو شویو پېښو په ترڅ کې ،یوناما (۱۰) لس داسې پېښې ثبت کړي چې حکومت ضد عناصرو روغتیایی مرکزونه اشغال کړي (شپږ یې طالبانو ،یو د داعش ګروپ او درې نور د نامعلومو وسله والو حکومت ضد عناصرو له خوانیول شوي وو). د مثال په ډول ،حکومت ضد عناصرو د پکتیا ولایت د جاني خیلو په ولسوالی کې د اګست په ۲۷ د ولسوالی په مرکز کې روغتیایی کلینیک ونیو او افغان امنیتي ځواکونو هغه د سپټمبر په ۹ بېرته ونیو او د اکتوبر تر ۴ پورې یې په اختیار کې وو. د اګست له ۲۷ او اکتوبر تر ۴ پورې په جګړو کې ښکېلو خواوو په کلینیک ولکه کړې وه او نږدې ٪۶۰ د کلینیک طبي سامانونه یې لوټ او ویجاړ کړل او د تعمیر ۵ برخو ته یې زیان رسولی دی.

په دې برسېره ،یوناما د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا د روغتیایی مرکزونو د اشغال ۱۳ پېښې ثبتي کړي دي.[۹۰] دغه راز افغان ملي امنیتي ځواکونو په روغتیایي مرکزونو کې د تلاشي دوه عملیات تر سره کړي چې یو ملکي کس پکې ووژل شو او بل تن ژوبل شو. دواړه پېښې په میدان وردک ولایت کې رامنځ ته شوې.

یوناما د دې یادونه کوي چې له ۹۵ پېښو څخه ۱۸ هغې حکومت ضد عناصروته منسوبیږي ،چې د پولیو د واکسیناسیون پروګرامونه یې په نښه کړی او د پولیو د واکسیناتورانو د تښتولو اووه(۷) پېښې پکې شاملې دي.[۹۱]

د دغو پېښو سره سره چې په روغتیایی پاملرنې یې اغېزه درلوده یایې هغه تر هدف لاندې نیولې و ،یوناما ۵ نورې حادثې ثبتي کړي چې وسله واله جګړو په غیر مستقیم ډول روغتیایی مرکزونه متاثره کړي ،په عمده ډول په داسې وخت کې چې دوی په څمکنیو جګړو کې له غیر مستقیمو او/یا له چاودېدونکو وسلو څخه کار اخیستی دی. د مثال په ډول ،د مې په ۲۸ د بامیان ولایت د شیبر د ولسوالي د غندک په سیمه د طالبانو د برید په ترڅ کې دوه راکټونه د روغتیایی مرکز په انګړ کې ولوېدل چې د مرکز کړکۍ یې ماتي کړې. یو راکټ د مرکز په بام وغورځېد خو ونه چاودید.[۹۲]

یوناما یو ځل بیا په جګړو کې له ښکېلو خواوو څخه غوښتنه کوي چې د بشر پالنې د نړیوال قانون او د بشري حقونو د نړیوال قانون درناوی وکړي ،ناروغان او ژوبل شوي کسان وساتي ،د روغتیا پالنې حق ته درناوی وکړي او دغه راز د روغتیا د ممکنه عالي معیارونو ته د لاس رسی د حق احترام وکړي چې د وسله واله جګړو په دوران کې هم د تطبیق

۹۰ یوناما د تهدید او ګواښونو پرته د پوځې موخو لپاره د روغتیايي مرکزونو د کاروني یا اشغال څلور پیښې مستندې کړيدي. د روغتیايي مرکزونو د پوځې کارونو یا اشغال پاته دوسیې د تهدیدونو او ګواښونو د پیښو په شمیر کې اضافه شوي ، همدارنګه پیښې د تهدیدونو ، ګواښونو او ځورونو په شمیر کې اضافه شوې.

۹۱ د نورو معلوماتو لپاره ، د پولیو د له منځه وړلو په هکله د وسله والې شخړې د اغیز په باب لاندې برخه وګورئ.

۹۲ طالبانو په خپله دري ویب پاڼه د برید د ترسره کولو مسولیت منلی ، پخوا په لاندې پته د لاسرسي وړ و ، http://shahamat-farsi.com/?p=29961 ، کاپې د یوناما په ریکارډ کې موجوده ده.

ور دي.[۹۳] په دې حق کې د حکومت هغه مسؤلیت ونه شامل دی چې روغتیایی مرکزونو ته او دغه راز له تبعیض څخه پرته خدماتو او هوسایني ته د لاس رسی حق په ځانګړي ډول زیانمنېدونکو او هغو کسانو ته چې ګوښه کړای شوي دي ،حداقل ضروري خوړو ته لاس رسی چې د تغذيې په لحاظ کافی او خوندي وی ،سرپناه ، کور ،او حفظ الصحی او په کافی اندازه د څښاک اوبو ته لاس رسی تضمین کړي او ضروري درمل تهیه کړي او دغه راز روغتیایی مرکزونه ،او خدمات په متوازن ډول برابر کړي.[۹٤]

یوناما بیا یادونه کوي چې طبي پرسونل او روغتیایی مرکزونه چې په بشپړ ډول د ناروغانو او ژوبل شویو کسانو په درملنه کې بوخت وي ،له بریدونو څخه خوندي دي ،ځکه چې دوی د ملکي کسانو موقف لري.[۹٥] طبي پرسونل له ټولو ناروغانو او ژوبلو څخه په بې طرفه ډول پاملرنه کوي او دې ته پام نه کوي چې هغوی په کوم لوري پورې تړلی دي او د طبي پرسونل په حیث د خپلې دندې په اجرا کې له ملکي موقف څخه برخمن دي.[۹٦] په دې برسېره ،طبي پرسونل او مرکزونه چې ځانګړي سمبولونه (د سرې میاشتې په شمول) لري او طبي پرسونل او مرکزونه چې د ښکېلو خواوو له خوا یوازې د دې لپاره ګمارل شوي وي چې د ناروغانو او ژوبلو کسانو پاملرنه وکړي د بشر پالنې د نړیوال قانون لاندې له ځانګړې پاملرنې او ګټو څخه برخمن دي.[۹۷] د بین المللي حقوقي مسؤلیت ونو سره سم ،دواړه خواوې ،افغان ملي امنیتي ځواکونه او د حکومت ضد عناصر د طبي پرسونل د ګرځېدا د مخنیوي په ذریعه باید د دې مانع ونه ګرځي چې د ناروغانو او ژوبلو کسانو روغتیایي پاملرنه وشي.[۹۸] دغه راز ،طبي مرکزونه لکه کلینیکونه او روغتونونه او طبي ترانسپورتونه (د مثال په ډول امبولانسونه) باید د ښکېلو خواوو له جانبه وساتل شي او درناوی یې وشي.[۹۹]

۹۳ د بشري حقونو د ۱۹۴۹ کال د نړیوالې اعلامیې ۲۵ ماده وګورئ ; د اقتصادي ، ټولنیزو او کلتوري حقونو په هکله د (۱۹۶۶) کال ۱۲ ماده وګورئ ; د اقتصادي ، ټولنیزو او کلتوري حقونو په اړه د ملګرو ملتونو کمیټه ، عمومي تبصره نمبر ۱۴(۲۰۰۰). همدارنګه د عدالت نړیواله محکمه وګورئ ، په اشغال شوې فلسطین کې د دیوال د جوړولو پر سر د حقوقي مسلو په هکله مشورتي نظر ، د ۲۰۰۴ کال د جولای ۹ ، ۱۰۶ پاراګراف.

٩٤ د ملګرو ملتونو د اقتصادي ، ټولنیرو او کلتوري حقونو په اړه (۱۹۹۹) د کمیټې ۳ نمبر عمومي تبصره ، ۱۸ (۲۰۰۰) وګورئ.

۹٥ د ژینو د کنوانسیونونو د ۱۹۴۹ د اګست د ۱۲ دریېمه مشترک ماده (دریېمه عمومي ماده)؛ دویم پرتوکول ، د ۱۹۴۹ کال د اکست د ۱۲ د ژینو الحاقي پرتوکولونه ، ۱۹۷۷ ، د جون ۸(دویم الحاقي پروتوکول)، ۴(۲)، ۱۳ مادې ، د سره صلیب نړیواله کمیټه ، عنعنوي نړیوال بشر دوستانه قانون ، ۲۰۰۵ ، اول ټوک ، ("د سره صلیب د نړیوالې کمیټې د عنعنوي نړیوال بشر دوستانه قانون څېړنه")، په لاندې پته د لاسرسي وړ ده https://ihl-databases.icrc.org/customary-ihl/eng/docs/v1. : ۱ ، ۶ قاعده.

٩٦ په ضمني توګه په دریېمه مشترکه ماده کې ، الحاقي دویم پروتوکول ، ۴(۲)، ۷ (۲) ماده ، د سره صلیب د عنعنوي نړیوال بشر دوستانه قانون څېړنه ، ۲۵ ، ۱۱۰ قواعد ،همدارنګه الحاقي دویم پرتوکول ، ۱۰(۱) ماده وګورئ: " د طبي خدمتونو د ترسره کولو لپاره باید د هر ډول شرایطو لاندې چې د طبي قوانینو سره په سمون کې وي ، بې له دې چې شخص د هغه څخه ګټه پورته کوي ، چا ته سزا ور نه کړل شي."

۹۷ ۳ مشترکه ماده؛ دویم الحاقي پروتوکول ، ۹(۱) ۱۲ ، ۱۰ ، ۱۳ (۲) ماده؛ د سره صلیب د عنعنوي نړیوال بشر دوستانه قانون څېړنه ، ۲۵ ، ۲۶ ، ۲۸-۳۰ قواعد. همدارنګه د امنیت شورا ۲۲۸۶(۲۰۱۶) پریکړه لیک وګورئ چې د ټپیانو او ناروغانو ، طبي کارکونکو او بشر دوستانه کارکونکو کوم چې په خاص ډول په رودغتیایې کارونو بوخت دي ، د هغو په وړاندې د بریدونو او ګواښونو غندنه کوي.

۹۸ په ضمني توګه په دریېمه مشترکه ماده کې ، الحاقي دویم پروتوکول ، ۷(۲)، ۸-۱۰ ، د سره صلیب د عنعنوي نړیوال بشر دوستانه قانون څېړنه ، ۲۵ ، ۲۶ ، ۲۸ ، ۲۹ ، ۳۰ ، ۱۱۰ قواعد.

۹۹ په ضمني توګه په دریېمه مشترکه ماده کې ، الحاقي دویم پروتوکول ، ۷ ، ۸-۱۰ ، ۱۱ ، د سره صلیب د عنعنوي نړیوال بشر دوستانه قانون څېړنه ، ۲۵ ، ۲۶ ، ۲۸ قواعد. همدارنګه د نړیوالې جنایي محکمې د روم اصول وګورئ ، د ۱۹۹۸ د جولای ۱۷ ، ("د نړیوالې جنایي محکمې اصول ")، ۸ (۲) ماده (e) (iv):"[...] د روغتونونو او هغو ځایونو په وړاندې چیرې چې ټپیان او ناروغان ساتل کیږي په دې شرط چې هغه پوځې موخې نه وې د قصدي بریدونو رهنمایې کول."

په دې برسېره، يادونه کوي چې که څه هم د روغتيايي مرکزونو څخه نظامی استفاده کول او د هغوی اشغال په حتمي ډول د بشر پالنې د بين المللي قانون سره مغايرت نلري، خو د هغوی د استعمال اجازه يوازې د نظامي ضرورت په صورت کې مجاز ده.[١٠٠]

**په وسله والو جګړو کې د ښکېلو خواوو له جانبه د طبي ترانسپورتي وسايلو په لېږد کی مداخله**

يوناما په دې اندېښمنه ده چې د حکومت ضد عناصر او هم افغان ملي امنيتي ځواکونه نه دي توانېدلي چې د طبي ترانسپورتي وسيلو (په خاص ډول امبولانسونو) درناوی او ساتنه وکړي. په ۲۰۱۶ کی يوناما ۱۷ داسې پېښې ثبتې کړي چې د ښکېلو خواوو په ذريعه په نقليه وسيلو بريدونه شوي، ويجاړې شوي، غلا شوي يا د هغوی د حرکت مانع ګرزيدلي (د ۱۲ امبولانسونو په شمول) چې ناروغان، طبي پرسونل يا طبي سامانونه يې لېږدول.[١٠١]

يوناما د ۱۷ پېښو څخه ۱۲ هغې حکومت ضد عناصروته منسوب  کړي، چې په دوو بريدونو کې امبولانسونه په مستقيم ډول تر هدف لاندې راغلي دي. د مثال په ډول، د فبرورۍ په ۲۲، د کندهار ولايت د ميوند په ولسوالي کې حکومت ضد عناصرو په يوه امبولانس بريد وکړ، چې له ميوند کلينيک څخه يې يو ناروغ د کندهار ميرويس روغتون ته لېږداوه، او په بريد کې موټر چلوونکی په لاس ژوبل شو او موټر ته تاوان ورسېد. ناروغ په بله وسيله کې روغتون ته انتقال شو.

يوناما ۶ پېښې مستندې کړي چې حکومت ضد عناصرو امبولانسونه غلا کړي او په څلورو نورو پېښو کې يې موټر چلونکي تښتولي دي. د ځايي مشرانو له منځګړيتوب وروسته حکومت ضد عناصرو زيات امبولانسونه او تول تښتول شوی کسان خوشي کړل. د مثال په ډول، د سپتمبر په ۱۷ حکومت ضد عناصرو د پکتيا ولايت د زرمت په ولسوالي کې يو امبولانس ودراوه او موټر چلونکی يې وتښتاوه. امبولانس يو ناروغ د ګرديز روغتون ته لېږداوه. حکومت ضد عناصرو موټر چلونکی لس ورځې وروسته خوشی کړ او امبولانس يې ۵۰ ورځې وروسته بېرته کلينيک ته تسليم کړ. دغه راز، يوناما په قصدي ډول د امبولانس د تخريبولو يوه پېښه او درې نورې پېښې مستندې کړي چې پکې حکومت ضد عناصرو نورې وسېلې غلا کړي يا يې نيولې وي چې طبي مواد يې لېږدول.

يوناما ۵ پېښې ثبتې کړي چې د افغان ملي امنيتي ځواکونو له خوا د هغو نقليه وسيلو د حرکت مخنيوی شوی چې طبي مواد يې لېږدول. د مثال په ډول، د ملي امنيت اداري په کندز ولايت کې د اپريل په مياشت کې د غير حکومتي سازمانونو درې لارۍ ودرولې چې له کندز ښار څخه يې د امام صاحب او خان اباد ولسواليو ته طبي لوازم لېږدول. د ملي امنيت اداري وروسته هغو لاريو ته د حرکت اجازه ورکړه چې کله د عامې روغتيا وزارت او د کندز د عامې روغتيا رياست مداخله وکړه.

١٠٠ همدارنګه د دويم الحاقي  پروتوکول ١١ (٢) ماده وګورئ: "د طبي او ترانسپورتي واحدونو ساتنه بايد تر هغه وخته خوندي دي تر څو چې دوي د خپلو بشري دندو څخه د باندې مخالف عملونه نه وي ترسره کړي. د ملکي وګړو خوندي ساتنې ه ممکن يواځې د اخطار د ورکولو وروسته   او د داسې اخطار د نه په پام نيولو وروسته د پام وړ وخت په محدوده کې هغه وخت له منځه ولاړه شي."
١٠١ دغه ډول پيښې د ګواښونو، تهديدونو ، ملکي شتمنيو د قصدي ورانولو يا عمدي وژنو په حيث د يوناما د ملکي کسانو د ساتنې په ډيټابيس کې ، د واقيعتونو پر مبنا مستندې شويدي.

یوناما ټینګار کوي چې په امبولانسونو چې ناروغان او ژوبل کسان لېږدوی عمدي بریدونه د بشر پالنې د نړۍ وال قانون څخه جدي سرغړونه ده او کېدای شي چې په جنګي جرمونو کې وشمېرل شي.[102]

په جګړو کې ټولې ښکېلې خواوې باید ناروغ او ژوبل شوي کسان او دغه راز طبي پرسونل اسانتیاوې او د هغوی لېږدول وساتي او له هغوی څخه پاملرنه وکړي. د طبي پرسونل د ګرځېدو په وړاندې خنډ اچول او د امبولانسونو او نورو نقلیه وسیلو د حرکت مانع کېدل چې ناروغان، ژوبل کسان یا طبي لوازم لېږدوی د بشر پالنې د نړیوال قانون سره په ټکر کې دي، بې له دې چې د ناروغ یا ژوبل کس هویت ته پام وشي.[103] طبي پرسونل موظف دی چې ناروغان او ژوبل کسان له هرې خوا سره تړاو لري باید تر درملنې لاندې ونیسي او په جګړو کې ښکېلې خواوې باید طبي کارکوونکو ته اجازه ورکړي چې ناروغان او ژوبل کسان تر درملنې لاندې ونیسي.[104]

*د پولیو یا ګوزڼ په محوه کولو باندې د جګړو اغېزې*

افغانستان په نړۍ کې له دریو هیوادونو څخه یو دی چې د پولیو ناروغی[105] اوس هم پکې شته. په ۲۰۱۶ کې یونیسف او د نړۍ د روغتیا سازمان (ډبلیو ایچ او ) د پولیو ۱۳ قضیې ثبت کړې چې ټولې یې په هغو ساحو کې موندل شوي چیرې چې حکومت ضد عناصر نفوذ لري.[106]

په ۲۰۱۶ کې یونیسف او ډبلیو ایچ او په وسله والو جګړو پورې تړلې ۲۰ داسې پېښې ثبت کړې چې د پولیو د واکسیناسیون کارمندان په کې شامل وو، که څه هم په یوه پېښه کې هم د پولیو پروګرام په مستقیم ډول تر هدف لاندې نهو نیول شوی. په ۶ قضیو کې د پولیو واکسیناتوران په جګړو کې وژل شوي یا ژوبل شوي دي، په ۱۱ پېښو کې واکسیناتوران تښتول شوي او په دریو پېښو کې د واکسیناسیون مواد او سامانونه تخریب شوي دي. یونیسف او ډبلیو ایچ او راپور ورکړی چې د واکسیناسیون کارمندان د حکومت ضد عناصرو له خوا ببرول شوی او تهدید شوي هم دي او دوی یې هغو ساحو ته نه دي پرې اینبې چیرې چې حکومت ضد عناصر نفوذ لري او د لنډې او اوږدې مودې لپاره یې د واکسیناسیون پروګرامونه درولي دي. ځایی مشرانو ډیرې ادا ډول بندیزونه لیرې کړي دي.[107]

د یونیسف او ډبلیو ایچ او د تخمین له مخې له ( ۲۵۰۰۰۰) څخه زیات ماشومان د نا امنې له وجې د نومبر د میاشتې د واکسیناسیون د محلي کمپاین په وخت کې له واکیسناسیون څخه محروم شوي. د دغو ماشومانو له ډلې

---

۱۰۲ په ضمني توګه په دریېمه عمومي ماده کې؛ دویم اضافي پروتوکول ، ۴(۲) (الف) ماده ، ۷؛ د نړیوالې جنایې محکمې اصول ، 8(2)(c)(i), 8(2)(e)(i), 8(2)(e)(ii), 8(2)(e)(iii)

۱۰۳ په ضمني توګه په دریېمه مشترکه ماده کې؛ دویم الحاقي پروتوکول ، ۴(۲) ، ۷(۲) ، ۸، ۱۰ ، ۱۲ د سره صلیب د نړیوالې کمېټې عنعنوي نړیوال بشر دوستانه قانون څیړنه ، اصول ، ۲۵و ۲۶و ۲۸ او ۱۱۰

۱۰٤ په ضمني توګه په دریېمه مشترکه ماده کې؛ دویم الحاقي پروتوکول ، ۴(۲) ، ۷(۲)، د سره صلیب د نړیوالې کمېټې عنعنوي نړیوال بشر دوستانه قانون څیړنه ، اصول ، ۲۵ ، ۱۱۰. همدارنګه د الحاقي دویم پرتوکول ۱۰ (۱) ماده وګورئ: " د طبي خدمتونو د ترسره کولو لپاره باید د هر ډول شرایطو لاندې چې د طبي قوانینو سره په سمون کې وي ، بې له دې چې شخص د هغه څخه ګټه پورته کوي ، چا ته سزا ور نه کړل شي."

۱۰۵ پولیو یوه ډیره ساري او ویروسي ناروغې ده چې عصبي سیستم له منځه وړي. د ناروغې څخه د مخنیوي په خاطر تر ټولو موثره لار د خولې له لارې په وخت سره د پولیو د واکسین تطبیق دی. پاکستان او ناجیریا په پولیو دوه نور ککړ پاته هیوادونه دي. په ناجیریا کې د ۲۰۱۶ کال په دویمه نیمایې کې بیا د پولیو نښې نښانې لیدلې شویدي. په دې اړه د ډبلو ایچ او معلومات پاڼه وګورئ: تیر ځل د ۲۰۱۷ کال د جنوري په ۹ کتل شوې. http://www.who.int/mediacentre/factsheets/fs114/en/

۱۰٦ د یونسیف څخه په بریښنالیکونو کې د ۲۰۱۷ کال د جنوري په ۳ او ۳۱ معلومات تر لاسه شوي.

۱۰۷ د یونسیف څخه په بریښنالیکونو کې د ۲۰۱۷ کال د جنوري په ۳ او ۳۱ معلومات تر لاسه شوي.

شخه (۱۰۵۰۰۰) په شمال شرقي او (۱۲۰۰۰۰) په جنوبي برخو کې محروم شوی دي. د پرلپسې ناامنيو له امله په شمال شرقي برخو کې ماشومان لا هم نه دي واکسين شوی ،خو په جنوبي برخو کې دغه کمپاين سرته رسېدلي دی. په شمال شرقي برخو کې د نومبر د کمپاين په مهال ٪ ۵۰ ماشومان واکسين شول او پاتی نور د حکومت ضد عناصرو له خوا د کور په کور په کمپاين باندي د بنديز لګولو له امله پاتی شول.[۱۰۸]

**د بيان د ازادۍ په حق باندې د وسله واله جګړو اغېزې:**

لکه څنګه چې يوناما په وسله واله جګړو کې د ماشومانو د ساتنې په باب د ۲۰۱۶ کال د نيمايی مودې په راپور کې څرګنده کړې ،په جګړو کې د ښکېلو خواوو له لوري بشري حقونو ته درناوی نشته ،په ځانګړې ډول د افغانستان د خلکو د بيان د ازادي حق ته او هغه حق چې کولای شی معلومات تر لاسه کړي او ويی لېږي.[۱۰۹]

د ۲۰۱۶ کال د سپټمبر او ډسمبر د مياشتو تر منځ ، يوناما ټولټال ۱۱ سيمه ييزې سلامشورې ترسره کړي او د ۲۲ ولايتونو څخه يې د هغوي د خپلو تجربو په حواله چې د بيان د ازادي د حق څخه د برخمن کيدو په هکله دي ، د ټولټال ۲۴۰ خبريالانو او مدني ټولنې د استازو نظريې او انديښنې مستندې کړې. ګډونوالو د خپلو نظريو د بيان د ازادي په حواله او د بشري حقونو د سرغړونو او په خاص ډول د شخړې سره د تړلو پيښو د سرغړونو په حواله د تهديد او بيرونو د يوه چاپيريال سره د مخامخ کيدو په هکله چې حکومت ضد عناصرو او دولتي فعالينو ته منسوب کيږي په دوامداره توګه انديښنې څرګندي کړې.

خبريالان او د مدني ټولنې فعالين چې د وسله والي شخړې څخه په متاثره شويو سيمو کې ، په خاص ډول په فراه ،کندز او ارزګان ولايتونو کې ژوند کوي ، د دولت ضد عناصرو او افغان ملي امنيتي ځواکونو له خوا د مستقيمو يا درک شويو ګواښونو او بيرونو په وړاندې د خپل سانسور څخه د ځان خوندي ساتنې په حيث کار اخلي.[۱۱۰] يوناما په دې هکله دوامداره راپورونه ترلاسه کړي چې دا ډول ننګونو د ښځو فعالانې په غير متناسب ډول ، په تيره بيا د شخړې څخه په متاثره شويو سيمو کې د دولت ضد عناصرو له خوا د خشونت نه ډکو افراطي نظريو له امله چې په عامه ژوند کې د ښځو د ګډون او د ښځو د حقونو د ترويج مخه نيسي اغيزمنې کړيدي.[۱۱۱]

په ۲۰۱۶ کال کې ، طالبانو د رسنيو د ګواښلو په موخه کم تر کمه ټولټال ۱۱ بيانونه صادر کړي.[۱۱۲] په دغو بيانونو کې ، طالبانو د طلوع نيوز ، شمشاد ، او ازادي راډيو په شمول ځينو مهمو خبري برابرونکو ته د انتقاد ګوتې نيولي او هغوي يې دښمن ته په استخباراتي پروپاګنده کولو ، د دښمن له خوا په غير عادلانه راپور ورکولو او د مجاهدينو په

---

۱۰۸ د يونسيف څخه په پرېښناليکونو کې د ۲۰۱۷ کال د جنوري په ۳ او ۳۱ معلومات تر لاسه شوي.

۱۰۹ په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د يوناما د ۲۰۱۶ کال نيم کلن راپور ۳۰-۳۲ مخونه وګورئ. يوناما د هغو پيښو نظارت کوي په کومو کې چې د بيان ازادي شامله ده او د خبريالانو ، مدني ټولنې او سياسي تحليل کونکو په اړه دي او د سولې ،مدني ټولنې او بشري حقونو چې د دوې د د کار برخې دي . په دغه څېرکې کې شاملې پيښې هغه پيښې دي کومې چې د يوناما د ملکي کسانو د ساتنې د ميتودولوژې سره په سمون کې تشخيص شوې. د ميتودولوژې په هکله برخه وګورئ.

۱۱۰ په فراه ، کندزاو ارزګانو ولايتونو کې د وسله والې شخړې له امله د بې ځايه شوې مدني ټولنې سره د يوناما مرکه.

۱۱۱ په فراه ، کندزاو ارزګانو ولايتونو کې د وسله والې شخړې له امله د بې ځايه شوې مدني ټولنې سره د يوناما مرکه.

۱۱۲ د خپرولو پر مهال ، لاندې اړيکي د طالبانو ډيجټلي رسنيو ته لاسرسی برابراوه:
(English), http://alemara1.org/ (Pashto), http://alemarah-dari.com/ (Dari).http://alemarah-english.com/
د طالبانو وياند همدارنګه له دغه لاندې تويتر حساب څخه کار اخيست:.https://twitter.com/zmujahid5 . د يوناما په وينا د بيانونو کاپي ګانې نور په آنلاين بڼه د لاسرسي وړ نه دي.

بدنامولو تورن کړي.[۱۱۳] د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر په میاشت کې د کندز د ښار د برید په تعقیب طالبانو د طلوع او یو تلویزیونونه د پوځي موخو په حیث ونومول.[۱۱۴]

طالبانو د جنوري په ۲۰ نیټه د موبي ګروپ (د طلوع تلویزیون د کمپنۍ) د سپرلۍ د موټر په وړاندې چې د کابل ښار په یوه مهم سړک د تلو په حال کې و، یو ځانمرګي برید ترسره کړ چې په نتیجه کې یې (د دریو ښځو په شمول) ۸ تنه ملکي کسان ووژل شول او د رسنیو د یو شمیر کارپوهانو په ګډون یې نور ۳۰ تنه ټپیان کړل، او د رسنیو د فعالینو په وړاندې یې د دولت ضد عناصرو له خوا له تاوتریخوالي څخه ډک غچ په یقین بدل کړ او په دې سره یې د ډار یو چاپېریال را منځ ته کړ چې د بیان ازادي یې په منفي توګه متاثره کړه.

طالبانو په خپله ویب پاڼه د پیښې مسولیت منلی، او زیاته یې کړه چې د طلوع تلویزیون کارکونکي یې د اسلام سره د زیاتي دښمني او د متحده ایالتونو لپاره د پروپاګندې د یوه ماشین او د کندز خلکو ته د نه درناوي او د بې مورده اعدامونو د تورونو، غلاوو، تښتونو او نورو سرغړونو په خاطر هدف ګرزولي.[۱۱۵]

پر دې سربیره، د ډسمبر په ۱۵، د لوګر ولایت په محمد اغه ولسوالي کې د ملي پیغام راډیو لپاره یو سیمه ییز خبریال هغه وخت د وسله والو له خوا په ډزو وویشتل شو چې کله د کور څخه د دفتر په لور روان و. په دوو مخکنیو مواردو کې، قرباني شخص راپور ورکړی چې په سیمه کې دولت ضد عناصرو هغه د تیلفون له لارې ګواښلی او ورته ویل شوي چې د ښځو اوازونه خپاره نه کړي او د افغان ملي امنیتي ځواکونو په اړه د اعلانونو د خپریدو څخه ډډه وکړي. طالبانو په پیښه کې د ښکیلتیا څخه ډډه کړې.[۱۱۶] یوناما په ۲۰۱۶ کال کې په ننګرهار ولایت کې، د داعش/خراسان ولایت لپاره د اسلامي دولت له خوا د خپلواکو رسنیو د چلونکو په وړاندې د ګواښ او بیرونو دوه پیښې مستندې کړي دي.[۱۱۷]

د مدنې ټولنو د کار د ماهیت او کله نا کله په ټولنه کې د هغوي د مهم نقش له امله د مدنې ټولنې فعالینو د دولت ضد عناصرو او افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا د تاوتریخوالی په پایله کې خپل خوندیتوب په خطر کې اچوي. د

---

۱۱۳ د بیلګې په توګه، د طالبانو په ویب پاڼه دا لاندې مطالب: "د ازادي راډیو د بد نیته شبکې د پروپاګند په اړه د اسلامي امارت د ویاند څرګندونې"، د ۲۰۱۶ کال د د ډسمبر ۲۴

( http://alemarah-english.com/?p=8787, last accessed 6 January 2017); "Remarks by spokesman of Islamic Emirate concerning false reports by some media outlets", 17 January 2016 (formerly accessible at: http://shahamat-english.com/remarks-by-spokesman-of-islamic-emirate-concerning-false-reports-by-some-media-outlets/, copy on record with UNAMA);

" په افغانستان کې د ټولو رسنیو رییسانو او د رسنیو د ساتنې کمیټو ته خبرتیا "، د ۲۰۱۶ کال د اپریل ۲۰(د مخه په دې پته د لاسرسي وړ وه:)
http://shahamat-english.com/notice-to-all-media-chiefs-and-media-protection-committees-in-afghanistan/chiefs-and-media-protection-committees-in-afghanistan/, کاپي د یوناما په ریکارډ کې موجوده ده.

۱۱۴ د طلوع او یک جاسوسو تلویزیوني شبکو په هکله د اسلامي امارت د پوځي کمیسیون بیان وګورئ، د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر ۱۵، پخوا په دې پته د لاسرسي وړ وه:
http://shahamat-english.com/statement-by-the-military-commission-of-islamic-emirate-concerning-intelligence-tv-networks-of-tolo-and-1-tv
کاپي د یوناما سره په ریکارډ کې موجوده ده

۱۱۵ د طالبانو د ادعا مسولیت چې د ۲۰۱۶ کال د جنوري په ۲۰ په انګلیسي ژبه خپور شوی و، پخوا په لاندې پته د لاسرسي وړ و،
http://shahamat-english.com/many-killed-as-martyr-attack-hits-invaders-run-media-vehicle/ ,
کاپي د یوناما سره په ریکارډ کې موجوده ده. د نورو معلواتو لپاره د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۶ کال نیم کلن راپور ۳-۳۱ مخونه وګورئ.

۱۱۶ د ډسمبر په ۱۶، طالبانو په خپل تویتر سایټ د برید د مسولیت څخه انکار وکړ، په لاندې پته د لاسرسي وړ ده،
http://www.twitter.com/zmujahid5, تیر ځل د ۲۰۱۷ کال د جنوري په ۵ د لاسرسي وړ وه.

۱۱۷ د نورو معلوماتو لپاره، د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۶ کال نیم کلن راپور ۳۰، ۳۱ مخونه وګورئ.

بيلګې په توګه ، د فبروري په ۱۴ ، دولت ضد عناصرو د کاپيسا ولايت په تګاب ولسوالۍ کې د مدني ټولنې يو فعال او يو ډاکټر هغه مهال چې کله د واليبال د يوې لوبې څخه چې د مدني ټولنې له خوا په لاره اچول شوې وه ، ستنيدل ، په ډزو وويشتل او وواژه . د مدني ټولنې فعال د دولت ضد عناصرو له خوا پخوا تښتول شوی وو او د مدني ټولنې سره د کار کولو په خاطر ګواښل شوی هم و.

يوناما ټينګار کوي چې خبريالان او مدنې ټولنه د ملکي موقف څخه برخمن دي ځکه چې دوي د بشري حقونو او مدنې ټولنې د عمل په تړاو په سوله ييز ډول فعاليتونه تر پوښښ لاندې نيسي او ترسره کوي.[118] په داسې حال کې چې هغوي خپل کارونه په سوله ييز ډول پر مخ وړي ، يوناما ټينګار کوي چې د نړيوال بشر دوستانه قانون لاندې د مدنې ټولنې يا خبريالانو په وړاندې عمدي بريدونه منع دي او ممکن په جنګې جرمونو کې وشميرل شي.[119]

يوناما د هغو هڅو چې په ۲۰۱۶ کال کې د بيان د ازادي د حق دخونديتوب او درناوي له پاره د افغانستان د دولت له خوا په لاره اچول شوي ، يادونه کوي. د جنوري په ۳۱ ، ولسمشر د يوه فرمان په ترڅ کې په رسنيو کې د بيان د ازادي په تړاو د افغانستان د ژمنې بيا تصديق وکړ او د مارچ په ۸ يې يو کميسيون را منځ ته کړ تر څو د تيرو ۱۵ کلونو په ترڅ کې د خبريالانو او رسنيو د کارکونکو په وړاندې د قتل او تاو تريخوالي دوسيې وڅيړي. کميسيون د ۴۰۰ څخه زياتي دوسيې اړوندو چارواکو ته د لا زياتو څيړنو د ترسره کولو په هدف واستولې.

يوناما د دولت څخه غوښتنه کوي څو داډ حاصل کړي چې د ولسمشر فرمان په ښه نيت عملي او د کميسيون له خوا ټولې مشخصې شوې دوسيې د اړوندو دوسيو په حيث نه يواځې په چټکې ، مناسب ډول او بې پرې توګه وڅيړل شي بلکه د څيړنو موندنې د خلکو سره شريکې او مرتکبين د قانون منګولو ته وسپارل شي.

يوناما د افغانستان- اروپايې اتحاديې د بشري حقونو په ډيالوګ کې چې د جون په ۱ نيټه ترسره شو د افغانستان د ژمنې يادونه کوي څو د خبريالانو او مدني ټولنې د غړو په وړاندې د ګواښونو په هکله د امنيتي وزارتونو تر منځ د ۲۰۱۶ کال تر پايه د معلوماتو د شريکولو يو ميکانيزم را منځ ته کړي. يوناما همدارنګه يادونه کوي چې د دې راپور تر نشرولو پورې ، ياد ميکانيزم لا هم نه و را منځ ته شوی. يوناما د دولت څخه غوښتنه کوي چې د خپلو ژمنو مطابق ژر تر ژره ياد کميسيون را منځ ته کړي.

يوناما يادونه کوي چې اروپايې ټولنې په افغانستان کې د بشري حقونو د مدافعينو لپاره د اروپايي ټولنې د ۲۰۱۴ کال خپله سيمه ييزه ستراتيژۍ (EU+) په ۲۰۱۶ کال کې په دوامداره توګه پلې کړې. د بشري حقونو د مدافعينو کميټه ، يو رضاکاره نهاد چې د محلي سازمانونو د استازو او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون د غړو څخه را منځ ته شويچې په کندز ، هلمند ، ارزګان او فراه ولايتونو کې د طالبانو د بريدونو په پايله کې ښځايه شويد بشري حقونو د مدافعينو لپاره مرسته او ملاتړ برابر کړی. يوناما د بشري حقونو د متاثره شويو مدافعينو وضعيت د

۱۱۸ دريېمه مشترکه ماده؛ دويم پرتوکول ، ۴(۱) ماده؛ د سره صليب د نړيوالې کميټې نړيوال بشر دوستانه قانون څيړنه ، ۶ ، ۳۴ قاعدې. د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر کلنۍ راپور ، د بشري حقونو د شورا د ۲۴ غونډې راپور وګورئ ، د خبريالانو خونديتوب ، A/HRC/24/23, para. 14

۱۱۹ دريېمه مشترکه ماده؛ دويم الحاقي پروتوکول ، ۴(۲) ماده ، ۱۳ ، د سره صليب د نړيوالې کميټې نړيوال بشر دوستانه قانون څيړنه ، ۱ ، ۶ ، ۱۵۶ ، د نړيوالې جنايې محکمې اصول ، ۸ ماده (i)(2)(c)(i), 8(2)(e)(i) وګورئ.

دغو هڅو د ملاتړ له لارې له نړدې ځارې او ملاتړ ته يې دوام ورکړی او همدارنګه د اروپايې ټولنې او د کميټې سره همکارې کوي.

**د شيعه مسلمانو مذهبي لړکيو په وړاندې عمدي فرقه ييز بريدونه**

په ۲۰۱۶ کال کې ، د شيعه مسلمانو مذهبي لړکيو په وړاندې د عمدي فرقه ييز بريدونو را څرګند شويو نمونو چې تر ډيره بريده يې مسؤليت داعش/د خراسان ولايت اسلامي دولت منلی ، دې مسلې د مذهبې ازاديو د حق يا د عقيدې او د لړکيو د ساتنې په هکله جدې اندېښنې را پورته کړې.

د کال په دوهمه نيمايې کې ، يوناما د شيعه ګانو د جوماتونو او غونډو او اجتماعاتو په وړاندې پنځه جلا بريدونه مستند کړي.[۱۲۰]

- د ۲۰۱۶ کال د جولای په ۲۳ ، دوو ځانمرګو بريدګر و د کابل ښار په ديهمزنګ ځلور لارې کې په يوه سوله ييز لاريون چې موخه يې د هيواد څخه د تيريدونکي بريښنا پروژې د مزو د تيريدلو په وړاندې د احتجاج او اعتراض ښودل و ، بريد وکړ چې په نتيجه کې يې کم تر کمه ۸۵ تنه ملکي کسان ووژل شول او نور ۴۱۳ تنه ټپيان شول- دا د ۲۰۰۱ کال راهيسي تر ټولو خونړی بريد و چې يوناما مستند کړی دی. نړدې ټول قربانيان نارينه او د شيعه مسلماني مذهبي لړکيو هزاره ګانو د ډلې غړي وو. د بريد مسوليت د تويتر پاڼې له لارې په ورته ورځ داعش/د خراسان ولايت لپاره د اسلامي دولت ډلې چې د اعماق خبرې اژانس سره رابطه لري ، په غاړه واخيست ، اودا بريدونه يې په سوريه کې د ادعا سره سم د دولت په پلوي په جګړه کې د هزاره ګانو د ګډون سره ونښلاوه. په ورته پيغام کې يې د شيعه مسلمانانو په ضد بيانونه خپاره کړي.[۱۲۱] د ۲۰۱۶ کال د جولای په ۲۵ ، د دغې پيښې په تعقيب ، د ولسمشر له خوا د موندنو او څېړنو يوه کميټه را منځ ته شوه ، خو يادې کميټې تر اوسه د پيښې د څرنګوالي په اړه کوم راپور نه دی خپور کړی.
- د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر په ۱۱ ، د افغان ملي امنيتي ځواکونو په يونيفورم سمبال يو تن بريد ګر د عاشورا په ورځ په کابل کې د کارته سخي جومات ته ننوت او په شيعه عبادت کونکو يې ډزې وکړې او د لاسي بم په کارولو سره يې ۱۹ تنه ملکي کسان ووژل او ۶۰ نور ټپيان کړل. د بريد په پايله کې جومات ته سطحي زيان واوښت. داعش/د خراسان ولايت لپاره د اسلامي دولت ډلې د يوه انلاين بيان د خپرولو له لارې د بريد مسوليت ومانه او په بيان کې يې د شيعه لړکيو لپاره د نفرت څخه ډکه لهجه کارولي وه.[۱۲۲]
- د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر په ۱۲ ، د بلخ ولايت د بلخ ولسوالي د خواجه غولک په سيمه کې د يوه جومات په دروازه کې چيرې چې شيعه عبادت کونکي د مذهبي مراسمو د ترسره کولو لپاره را غونډ شوي وو ، يوه

---

۱۲۰ ښکارې چې په ۲۰۱۷ کال کې تمايل لا هم دوام لري. د جنوري په ۱ ، د هرات ولايت په هرات ښار کې د شيعه ګانو په يوه جومات کې د ريموټ کنترول له لارې کنتروليدونکي ځای پر ځای شوي چاوديدونکي توکي وچول چې په نتيجه کې يې يو تن شيعه عبادت کونکی ووژل شو او نور پنځه تنه ملکيان ټپيان شول.

۱۲۱ داعش/د خراسان ولايت لپاره اسلامي ډلې د اعماق خبرې اژانس له لارې په دهمزنګ ځلور لاره کې د جولای د ۲۳ نيټې بريد پړه په لاندې تويتر پاڼه ومنله ، https://twitter.com/Terror_Monitor/status/756895238975664128, last accessed 16 January 2017, د بريد په اړه د نورو معلوماتو لپاره — د ۲۰۱۱ کال راهيسي ، په يوه بريد کې تر ټولو زيات ملکي تلفات دي چې يوناما ثبت کړي-د ملکي کسانو د عمدي موخه نيولو او ملکي شتمنيو په اړه ځېرکی وګورئ. يوناما همدارنګه د اکتوبر په ۱۸ د بريد په هکله يو خاص راپور خپور کړ چې په لاندې پته د لاسرسي وړ ده ، http://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports , تير ځل د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر په ۵ د لاسرسي وړ وه.

۱۲۲ داعش د اعماق خبرې اژانس له لارې د اکتوبر د ۱۱ نيټې د بريد مسوليت د لاندې تويتر پاڼې له لارې ومانه: https://twitter.com/Terror_Monitor/status/756895238975664128, last accessed 16 January 2017.

چاودنه وشوه. په دغه پېښه کې د ۳۶ ماشومانو په ګډون۱۸ تنه ووژل شول او نور ۶۷ ټپيان شول او په پېښه کې د جومات دروازې ته سطحي زيان واوښت. د دې پېښې مسوليت کومې ډلې نه دی منلی.

- د ۲۱۰۶ کال د نومبر په ۲۱ ، د کابل په باقرالعلوم جومات کې د اربعربين د مذهبي مراسمو د ترسره کولو په جريان کې ، د عاشورا نه وروسته په ۴۰ ورځ ، د يوه ځانمرګي برید په پايله کې د ماشومانو په ګډون کم تر کمه ۴۰ تنه ووژل شول او نور ۷۴ ټپيان شول. ځانمرګي برید کونکي په جومات کې خپله آله وچوله او په عمدي توګه يې لږکي شيعه ګان عبادت کونکي په نښه کړل.[۱۲۳] داعش/د خراسان ولايت لپاره د اسلامي دولت ډلې د دې برید مسوليت منلی او په صادر شوې بيان کې يې د شيعه ګانو په وړاندې د تير په څير له توهين څخه ډکه لهجه کارولې.[۱۲٤]
- د ۲۰۱۶ کال د نومبر په ۲۲ ، دولت ضد عناصرو په هرات ښار کې په رضايه جومات کې د ريموټ کنترول په واسطه ځای پر ځای شوي چاديدونکي توکي وچول چې په نتيجه کې يې څلور تنه شيعه عبادت کونکي ټپيان شول. کومې ډلې د دې پېښې مسوليت نه دی منلی.

په ۲۰۱۶ کال کې د مذهبي کسانو او عبادت ځايونو په وړاندې د عمدي هدف نيولو په بريدونو کې د ملکي تلفاتو په شمير کې نږدې ۶ برابره زياتوالی په څلورو جوماتونو باندې د بريدونو په پايله کې را منځ ته شوی. يوناما په ټوله کې د داسې بريدونو په پايله کې د ملکي کسانو ټولټال ۳۷۷ تلفات (۸۶ مړينې او ۲۹۱ ټپي کيدنې) مستند کړيدي ، چې دا د ۲۰۱۵ کال د ورته مودې په پرتله ۵۷۳ سلنه زياتوالی ښيې.[۱۲۵]

نړيوال قانون د مذهبي کسانو او عبادت ځايونو په شمول په ملکي کسانو او ملکي جايدادونو په باندې د عمدي بريدونو ترسره کول منع کوي.[۱۲٦] په هغه بريدونه چې هدف يې خلک او عبادت ځايونه وي کوم چې د خلکو کلتور يا ميراث تشکيلوي ، د دې قانون له مخې منع دي.[۱۲۷] نړيوال بشر دوستانه قانون په دې اړه تصريح کوي چې ټول هغه کسان چې په وسلواله جګړه کې کې په مستقيم ډول برخه نه اخلي بايد د هغو د مذهبي فعاليتونو درناوی وشي او په وړاندې يې بايد د تبعيض څخه کار وا نه خيستل شي.[۱۲۸]

دا ماموريت د دولت په مکلفيت بيا تاکيد کوي څو د مذهبي او قومي لږکيو په شمول د هغوي د مذهبي مراسمو د ترسره کولو پر مهال د لږکيو امنيت او خونديتوب يقيني کړي. دولت بايد همدارنګه د ټولو کسانو ، په خاص ډول د هغو کوم چې په لږکيو ډلو پورې تړلي وي د حقونو ساتنه وکړي ، څو په دې ډول وکولای شي په سوله ييزه توګه سره راغونډ شي او په عمل کې خپل دين او عقيده څرګنده کړاي شي او په عامه ژوند کې خپل دين يا عقيده او عبادت په

---

۱۲۳ همدارنګه د برید په پايله کې د جومات ديوال او کړکيو ته سطحي زيان واوښت.

۱۲٤ داعش/د خراسان ولايت لپاره اسلامي ډلې د اعماق خبرې اژانس له لارې د نومبر د ۲۱ نيټې د برید مسوليت په لاندې تويتر پاڼه ومانه. په لاندې پته د لاسرسي وړ ده ، https://twitter.com/Terror_Monitor/status/786176073163694080 په وروستي ځل د ۲۰۱۷ کال د جنوري په ۱۷د لاسرسي وړ وه.

۱۲۵ په ۲۰۱۵ کال کې ، يوناما د ۳۴ جلا بريدونو په پايله کې چې موخه يې د ديني کارکونکو او عبادت ځايونو هدف نيول وه ټولټال ۵۶ ملکي تلفات (۴۲ مړينې او ۱۴ ټپي کيدنې)مستند کړي.

۱۲٦ دربيمه مشترکه ماده وکورئ دويم الحاقي پروتوکول ۴ (۲) ماده ، ۱۳; د سره صليب د نړيوالې کميټې د عنعنوي نړيوال بشردوستانه قانون څيړنه ، ۱ ، ۶، ۱۵۶ قاعده ; د نړيوالې جنايي محکمې اساسنامه ، ۸(۲) (c)(i), 8(2)(e)(i). همدارنګه د نړيوالې جنايي محکمې اساسنامه وګورئ ، 8(2)(e)(iv) ماده ، همدارنګه د نړيوالې جنايي محکمې اساسنامه وګورئ ، چې د هغو بريدونو د مرکزونو په وړاندې چې دين ته مختص شوې قصدي بريدونه رهبري کوي.

۱۲۷ دويم اضافي پروتوکول ، ۱۶ ماده. همدارنګه د مدنې او سياسي حقونو په اړه نړيوال ميثاق وګورئ ، د بيان ، فکر او مذهب د ازاديو په هکله ۱۸ ماده.

۱۲۸ دويم الحاقي پروتوکول ، ۴(۱) ماده

ښکاره ډول سر ته ورسوي.[129] دولت مکلف دی تر څو یقیني کړي چې د قومي ، نژادي یا مذهبي کرکې هر ډول ملاتړی چې تبعیض ، دښمني یا تاوتریخوالی راپاروي نه یواځې د قانون له مخې منع دی بلکې قانون دې په بشپړ ډول پلی شي..[130]

**داعش/د خراسان ولایت لپاره د اسلامي دولت ډلې په کابل ښار کې د شیعه ګانو لړکیو په وړاندې د بریدونو مسولیت په څرګند ډول ومانه.**

په ۲۰۱۶ کال کې ، د کابل په ښار کې د جولای په ۲۶(د دهمزنګ په څلور لارې کې د عامه لاریون پر مهال)، د اکتوبر په ۱۱(د کارته سخي په زیارت کې) او د نومبر په ۲۱ (د باقرالعلوم په جومات کې) داعش/ د خراسان ولایت لپاره د اسلامي دولت ډلې د هغه لویو بریدونو مسؤلیت په غاړه واخست چې ملکي کسان یې هدف وګرځول ګمان کیدا چې ګوندې دوي په شیعه لړکېو ډله پورې تړاو لري.[131] د دغو دریو بریدونو په پایله کې یواځې ۶۹۱ ملکي تلفات (۱۴۴ مړیني او ۵۴۷ ټپي کیدني) را منځ ته شول.

داعش/د خراسان ولایت لپاره د اسلامي دولت ډلې غړو د اعماق خبري اژانس له لارې د دریو واړو بریدونو مسولیت ومانه او د شیعه ګانو پر وړاندې یې نا سمه لهجه کارولې او قربانیانو ته یې د رسوايې نه په یوه ډک انداز کې په دریو واړو بیانونو کې د مشرکینو او مرتد خطاب کړی.[132] د جولای د ۲۳ نیټې د برید په حواله ، داعش/ د خراسان لپاره د اسلامي دولت ډلې ادعا کړې چې دوي هغه رټل شوي مشرکین [...] چا چې د سوریې په جګړه کې د سنیانو په وړاندې د شیعه ګانو په پلوي برخه اخیستې ، او هم د دې لپاره چې د خراسان او نورو مسلمانانو خاورې د دوې د شرک څخه پاکه شي ،هدف ګرځولي.[133]

د عمدي بریدونو په واسطه ملکي کسانو هدف ګرځول د نړیوال بشر دوستانه قانون څخه جدي سرغړونه ده او ممکن په جنګي جرمونو کې وشمیرل شي.[134] د دې علاوه ، ملکي وګړو باندې قصدي ، پراخ او سیستماتیک بریدونه په کومو کې چې ملکي کسان (مذهبي او/یا قومي لړکې)عمدا وژل کیږي ممکن د بشریت په وړاندې په جرمونو کې

---

۱۲۹ د بشري حقونو نړیواله اعلامیه(۱۹۴۸)؛ د مدنی او سیاسي حقونو په اړه نړیوال میثاق(۱۹۶۶)، ۲، ۱۸ ، ۲۷ مادې. همدارنګه د بشري حقونو کمیټه ، د ۱۸ مادې په هکله ۲۲ عمومي تبصره وګورئ. همدارنګه د عدالت نړیواله محکمه ، تر اشغال لاندې فلسطیني خاوره کې د دیوال د جوړولو د حقوقي پایلو په اړه مشورتې نظریه وګورئ ، د ۲۰۰۴ کال د جولای ۹ ، ۱۰۶ پاراګراف

۱۳۰ د مدني او سیاسی حقونو په اړه نړیوال میثاق ، ۲۰ ماده.

۱۳۱ یوناما ټول درې واړه بریدونه د مطبوعاتي بیانیو له لارې چې د جولای په ۲۳ صادرې شوي په څرګند ډول غندلي دي (http://unama.unmissions.org/statement-un-envoy-tadamichi-yamamoto-condemning-attack-targeting-civilians-attending-peaceful); 11 October (http://unama.unmissions.org/unama-condemns-killing-civilians-kabul-mosque-attack); 21 November (http://unama.unmissions.org/unama-condemns-killing-civilians-kabul-mosque-attack-0).

د ملګرو ملتونو امنیت شورا هم د جولای د ۲۳ بریدونه په څرګند ډول غندلي: http://unama.unmissions.org/security-council-press-statement-terrorist-attack-kabul-1. ټولې اړیکې د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر په ۵ د وروستي ځل لپاره د لاسرسي وړ وي.

۱۳۲ د اعماق د خبرې اژانس د ادعاوو د منلو پورتني انترنیټي ادرسونه وګورئ.

۱۳۳ په دهمزنګ څلور لارې کې د جولای د ۲۳ نیټې د برید په تړاو د داعش/ خراسان ولایت لپاره د اسلامي ډلې د ادعا مسولیت د اعماق خبرې اژانس له لارې په تویتر ویب پانه وګورئ: https://twitter.com/Terror_Monitor/status/756895238975664128, :تیر ځل د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر په ۵ د لاسرسي وړ و.

۱۳۴ ۳ مشترکه ماده؛ دویم الحاقي پروتوکول ، ۴(۲) ماده ، ۱۳ (۲)؛ د نړیوالې جنایي محکمې اساسنامه ،;8(2)(c) and 8(2)(e)(i) ماده؛ د سره صلیب د نړیوالې کمیټې د عنعنوي نړیوال بشر دوستانه قانون د مادو څیړنه ، ۱ ، ۶ ، ۱۵۶ قاعدې.

راشي.[۱۳۵] د بشر پالنې نړیوال قانون او جنایي قانون په خلکواو عبادت ځایونو باندې بریدونه کوم چې کلتوري شتمنې تشکیلوي بریدونه منع کوي.[۱۳٦]

## د شخړې سره تړلې بې ځایه کیدنې

په ۲۰۱٦ کال کې ، د وسلواله شخړې سره د تړلې تاوتریخوالي په پایله کې د نیم میلیون څخه زیات افغانان بې ځایه شوي ، دا په افغانستان کې د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر او د بشر پالنې د چارو د همغږۍ لپاره د ملګرو ملتونو د دفتر له خوا تر ټولو لوړ ثبت شوي ارقام دي.۱۳۷ د جنوري د ۱ نه د ډسمبر تر ۳۱، د شخړې له امله ټولټال ٦۳٦۵۰۰ کسان د خپلو کورونو څخه تښتیدلي یا یې کورونه پرې ایښي ، دا د ۲۰۱۵ کال په پرتله ٦٦ سلنه زیاتوالی ښیې ، دا د داخلي بې ځایه شویو کسانو د شمیر په برخه کې د مخ پر زیاتیدونکی څلور کلن میلان دوام دی.[۱۳۸] په ۲۰۱٦ کال کې ماشومان د داخلي بې ځایه شویو کسانو ۵٦ سلنه وو.[۱۳۹] د هیواد د ۳۴ ولایتونو له جملې څخه ، ۳۱ ولایتونو (د ۳۹۹ ولسوالیو له جملې څخه د ۲۱۳ په شمول ) په ۲۰۱٦ کال کې یو شمیر اجباري بې ځایه کیدنې مستندې کړې ، او ټول ۳۴ ولایتونه د بې ځایه شویو کسانو کوربه وو.[۱۴۰]

په ۲۰۱٦ کال کې په ملکي ګڼ میشتو سیمو کې د دولت ضد عناصرو او افغان ملي امنیتي ځواکونو تر منځ دوامدارو خونړیو ځمکنیو جګړو داخلي بې ځایه کیدنو ته لار هواره کړه. د داسي نښتو د ماهیت او موقعیت په نتیجه کې ، داخلي بې ځایه شویو کسانو اکثرا خپل کورونه سملاسي پرې ایښي او د سر پناه او ملاتړ او نورو مرستو د ترلاسه کولو په خاطر په نورو سیمو کې په موقت ډول د کورنیو په شبکو تکیه کړې. داخلي بې ځایه شوي کسان په مکرر او سملاسي ډول د ورستیو نښتو سیمو ته راګرزي ، ځانونه د نا چاودە توکو او نورو ګواښونو ، د بیلګې په توګه ، د بیا پیښیدونکو وسله والو

---

۱۳۵ د بیلګې په توګه ، د بشریت په وړاندې جرمونه لکه څنګه چې د نړیوالې محکمې د اساسنامې په ۷ ماده کې تعریف شوې ، د نورو تر څنګ قتل; د له منځه وړلو عملونه یا د سیاسي ، قومي ،ملي ، نژادي ، کلتوري ،مذهبي ،جنسیتي یا نورو تړاونو په اساس یا د هرې پیژندل شوې ډلې په وړاندې عدلي تعقیب; یا د ورته خصوصیتونو غیر انساني عملونه چې موخه یې په عمدي توګه د زیاتو زیانونو ، وجود ، فزیکي او رواني روغتیا ته د جدي ټپونو اړول هدف وي او یا کله چې د ملکي وګړو په وړاندې د برید په نیت په پراخ او سیستیماتیک ډول بریدونه ترسره شی ،احتوا کوي.

۱۳٦ د سره صلیب د نړیوالې کمیټې د عنعنوي نړیوال بشر دوستانه قانون څېړنه ، ۳۸ قاعده. د نړیوالې جنایي محکمې اساسنامه ، ۸(۲)(e)(iv) ماده ، په غیر نړیواله او پوځي شخړه کې "د هغو ودانیو په وړاندې چې د مذهبي موخو ، تاریخي څلو لپاره ځانګړي شوې ، پدې شرط چې پوځې موخې نه وي ، د عمدي بریدونو ترسره کول " جنایت شمیري. همدارنګه د دویم الحاقي پروتوکول ۱٦ ماده ، د سیاسي او مدني حقونو په هکله د نړیوال میثاق ۱۸ ماده وګورئ.

۱۳۷ د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنري دفتر په ۲۰۰۹ کال کې په افغانستان کې د داخلي بې ځایه شویو کسانو د شمیر په مستند کولو پیل کړی. په ۲۰۱٦ کال کې ، د داخلي بې ځایه شویو کسانو د شمیر د معلوملو دنده د اوچا دفتر ته وسپارل شوه. هغه معلومات چې د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر /او د اوچا د دفتر له لارې په افغانستان کې ترلاسه شوی: د شخړې په پایله کې د را منځ ته شوېو بې ځایه کیدنو شمیر:
https://www.humanitarianresponse.info/en/operations/afghanistan/idps, په وروستي ځل د ۲۰۱۷ کال د جنوري په ۱۰ ورته لاسرسی شوی.

۱۳۸ په ۲۰۱۵ کال کې ، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنري دفتر نږدې ۳۸۴۴۲٦ تنه داخلي بې ځایه شوې کسان ثبت کړي( په ۲۰۱۵ کال کې د کندز ښار څخه د داخلي بې ځایه شویو کسانو ربښتینی شمیر څرګند نه دی). د ۲۰۱۷ کال د جنوري په ۱۰ د اوچا د دفتر څخه د بریښنالیک له لارې او د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر / د اوچا د دفتر له لارې د هیواد په کچه ترلاسه شوې معلومات: د شخړې له امله د بې ځایه شویو کسانو شمیر:
https://www.humanitarianresponse.info/en/operations/afghanistan/idps ;
http://reliefweb.int/sites/reliefweb.int/files/resources/afg_conflict_idps_2016_jan_dec_snapshot_20170129.pdf,
دواړه د ۲۰۱۷ کال د جنوري د لاسري وړ وه.

۱۳۹ د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر / د اوچا د دفتر له لارې د هیواد په کچه ترلاسه شوې معلومات: د شخړې له امله د بې ځایه شویو کسانو شمیر:
https://www.humanitarianresponse.info/en/operations/afghanistan/idps , تیر وار د ۲۰۱۷ کال د جنوري په ۳۰ د لاسرسي وړ وه.

۱۴۰ په مقایسه کې ، په ۲۰۱۵ کال کې د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر په ټولټال ۱۲۹ ولسوالیو کې داخلي بې ځایه شوې کسان مستند کړي. د ۲۰۱۷ کال د جنوري په ۱۰ ، د اوچا د دفتر له لارې په یوه بریښنالیک کې تر لاسه شوي معلومات.

ښتو او هوايي عملياتو په خطر کې واقع کوي.[۱۴۱] د هیواد په یو شمیر سیمو کې ، ګواښونه ، تهدیدونه ، تښتونې او د ملکي کسانو هدفي وژنې د دولت په ملاتړ او همکاري ترسره کیږي او دې مسلې د داخلي بې ځایه کیدنې سره مرسته کړې.

اکثرا بې ځایه کیدنې د هیواد په شمال ختیځه سیمه کې (۲۰۳۳۲۰ داخلي بې ځایه شوي کسان) ، او د دې په تعقیب په جنوبي سیمه کې (۱۷۷۹۵۲) ، را منځ ته شوې[۱۴۲] چې په ترتیب سره د ۲۱۰۶ کال په اکتوبر میاشت کې د طالبانو له خوا د لنډ وخت لپاره د کندز ښار نیولو او د ۲۰۱۶ کال په اګسټ کې د طالبانو له خوا د هلمند د لشکرګاه ښار نیولو هڅې او کنترول ترلاسه کولو ته منسوبیږي. د افغان ملي امنیتي ځواکونو او داعش/د خراسان ولایت لپاره د اسلامي دولت ډلې تر منځ د نښتو له امله د ننګرهار ولایت د پچیر اګام ولسوالي راځي او په تعقیب یې د فاریاب ولایت چیرې چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو او طالبانو تر منځ نښتې او همدارنګه د دولت پلوه وسله والو ډلو تر منځ نښتې پیښې شوي ، د پام وړ نورو بې ځایه کیدنو ته لار هواره کړې.

د دغو بې ځایه شویو کسانو شدید زیانمنتوب د یوناما لپاره د ډیرې اندیښنې وړ دی. داخلي بې ځایه شوی کسان د عامو وګړو په پرتله د زیاتې مرګ ژوبلې په معرض کې واقع کیږي ځکه چې هغوي د فزیکي برید ، تښتونو او د ډزو د تبادلې په پیښو کې د را ګیر کیدو په خطر کې واقع کیږي ، په خاص ډول کله چې هغوي د تاوتریخوالي څخه تښتي. داخلي بې ځایه شوې ښځې او ماشومان د خپلو اساسي حقونو په تړاو د سرغړونو د ځانګړو خطرونو سره مخ دي ، په خاص ډول مناسبې سرپناه ، خوړو او روغتیایي خدمتونو ته د لاسرسي په اړه خطر سره مخ دي.

د داخلي بې ځایه شویو کسانو د شمیر د زیاتیدو په غبرګون کې ، دولت د داخلي بې ځایه شویو کسانو د بیا راستنیدونکو کسانو لپاره په ۲۰۱۶ کال کې د پالیسۍ د چوکاټ مسوده نهایي کړې ، د دې پالیسۍ موخه دا ده څو د هغه وخت موده را کمه کړي چې داخلي بې ځایه شوې کسان یې په موقتي ځایونو کې تیروي.

## د پولې پورې غاړې په اوړدو کې نښتې

د ۲۰۱۶ کال د جنوري له ۱ نه د ډسمبر تر ۳۱ نیټې پورې ، یوناما د پاکستان څخه د افغانستان لورې ته د پولې په اوږدو کې د ګولیو د ویشتلو ۱۱ پیښې ثبت کړې کومې چې په کنړ او ننګرهار ولایتونو کې لګېدلې دي. د پولې په اوږدو کې د ګولیو د ویشتلو په نتیجه کې ۱۷ ملکي تلفات (۶ مړینې او ۱۱ ټپي کیدنې) را منځ ته شوي ، چې دا د ۲۰۱۵ کال په پرتله ۴۷ سلنه زیاتوالی ښیې.[۱۴۳] د بیلګې په توګه ، د اکتوبر په ۱۴ ، د پاکستان پوځي ځواکونو د درنو وسلو ۱۱ ګولۍ د کنړ ولایت په سرکانو ولسوالۍ وتوغولې چې په نتیجه کې یو ۱۲ کلن ماشوم په جدي توګه ټپي شو.

۱۴۱ د بشري حقونو او داخلي بې ځایه شویو کسانو په هکله د ملګرو ملتونو د ځانګړي راپور ورکونکي ، ښاغلي چالوکا بییاني د ماموریت د پای راپور چې د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر په ۱۱-۲۰ یې د افغانستان د اسلامي جمهوریت څخه لیدنه وکړه ، وګورئ.

۱۴۲ http://www.ohchr.org/EN/NewsEvents/Pages/DisplayNews.aspx?NewsID=20712&LangID=E ,
په وروستي ځل د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر په ۱۸ ورته لاسرسی شوی.

۱۴۳ د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر/ د اوچا د دفتر له لارې د هیواد په کچه ترلاسه شوې معلومات: د شخړې له امله د بې ځایه شویو کسانو شمیر:
https://www.humanitarianresponse.info/en/operations/afghanistan/idps ,
په وروستي ځل د ۲۰۱۷ کال د جنوري په ۳۰ ورته لاسرسی شوی.

یوناما همدارنګه د ناچاوده توکو په نتیجه کې د دوو هلکانو او درېو نجونو ټپيې کیدل ، مستند کړي کوم چې پخوا د پولې په اوږدو کې د پاکستان له خوا د جولای په ۲۸ د کنړ ولایت د سرکانو په ولسوالۍ توغول شوی و ، وروسته ماشومانو نا چاوده توکی وموند او د ماشومانو لخوا په ډبرو ویشتلو وروسته وچاودید .

## ۲. ځمکنۍ نښتې - د جګړې په منځ کې بند پاتې ملکي کسان

*"د ښېې پر مهال کله چې موږ ویده وو ، زما په کور د هاوان یوه ګولۍ را پریوته چې په نتیجه کې یې ځای پر ځای زما ۱۰ کلن زوی ووژل شو او زما اته کلنه لور ټپي شوه. زما دوه نورې لوڼې ، ۳ او ۶ کلنې او زما ۷ کلن زوی ټپي شو. یواځې ما او زما ښځې ته کوم زیان او نه وښت. سهار وختي طالبانو د افغان ملي پوځ په یوه پوسته برید وکړ. دواړو خواوو په یو بل د راکټونو او هاوانونو ګولۍ وکارولې. د افغان ملي پوځ توغول شوې ګولۍ زما په کور ولګیده. موږ خپل ژوند له لاسه ورکړ. زما کور وران شو او نه شم کولای د خپلو ماشومانو د درملنې له لګښتونو شخه ووځم او د کور لپاره کافي ډوډۍ برابره کړم."*[۱٤٤]

-د پنځو قرباني شویو ماشومانو متضرر پلار ، د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر په ۴ ، د افغان ملي پوځ له خوا د هاوان توغول شوې ګولۍ د کندهار ولایت په شاولي کوټ ولسوالي کې په یوه ملکي کور ولګیده چې په نتیجه کې یو هلک او یوه نجلۍ ووژل شو او د نوموړي د کور درې نور ماشومان یې ټپیان کړل.

په ۲۰۱۶ کال کې ، د شخړې د ښکیلو خواوو تر منځ د ځمکنیو نښتو دوام ملکي کسان ډیر اغیزمن کړل. د ۲۰۱۶ کال د جنوري د ۱ نه د ډسمبر تر ۳۱ ، یوناما د ځمکنیو نښتو په پایله کې ټولټال ۴۲۹۵ ملکي تلفات (۱۰۷۰ مړینې او ۳۲۲۵ ټپي کیدنې) مستند کړي دي ، دا د ۲۰۱۵ کال په پرتله ۳ سلنه زیاتوالی ښیي چې دا د ۲۰۰۹ کال راهیسې د ځمکنیو نښتو په نتیجه کې چې کله یوناما د ملکي کسانو د تلفاتو په ثبتولو پیل وکړ ، تر ټولو زیات ملکي تلفات دي.[۱٤٥] ځمکنۍ نښتې د ملکي کسانو د تلفاتو تر ټولو مخکښنه لامل پاتې شوی ، چې د ټولو ملکي تلفاتو د ۳۸ سلنې لامل شوی.




---

۱٤٤ د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر په ۵ ، په کندهار ښار کې ، د قرباني شخص سره د یوناما تلیفوني مرکه.
۱٤٥ په ۲۰۱۵ کال کې ، یوناما ټولټال ۴۱۱۵ ملکي تلفات (۱۱۲۱ مړینې ۳۰۳۰ ټپي کیدنې) مستند کړي.

په ۲۰۱۶ کال کې د ځمکنيو نښتو په پايله کې دولت پلوه ځواکونه د ټولو ملکي تلفاتو د ۴۱ سلنې[۱۴٦]؛ دولت ضد عناصر د ۳۴ سلنې لامل شوي او د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو تر منځ د ځمکنيو نښتو په پايله کې ۲۵ سلنه تلفات را منځ ته شوې،چې د همدې امله يوناما نه شي کولای د پيښې اصلي مرتکب معلوم کړي نو مسوليت يې دواړو لورو ته منسوب کړی دی .[۱٤۷]

د ملکي وګړو مرګ او ژوبله : په جګړه کې د ښکېلو ډلو تر منځ ځمکنۍ نښتې
جنوري - دسمبر ۲۰۱۶




يوناما د ښځې د ښکيلو ډلو له خوا په ملکي ګڼ ميشتو سيمو کې د غير مستقيمو او/يا چاوديدونکو توکو د دوامداره کارونې په اړه ډيره اندېښمنه ده. د وسلو دغه سيستمونه د ځمکنيو نښتو پر مهال را منځ ته شوې د ملکي تلفاتو د ۶۱ سلنې لامل ګرځېدلې دی ، او د ټولو ملکي تلفاتو ۲۳ سلنه تشکيلوي چې د يوناما له خوا په ۲۰۱۶ کال کې مستند شوي.[۱٤۸]

د دولت ضد عناصرو د بريدونو په زمينه کې چې موخه يې د لا زياتو سيمو (د ښارې سيمو په شمول) نيول او ساتل دي او د افغان ملي امنيتي ځواکونو له خوا د پراخو دفاعي او د پاکسازي د عملياتو په تعقيب په ملکي ګڼ ميشتو

۱٤٦ د ځمکنيو نښتو په پايله کې د ملکي تلفاتو د شمير برخه کومه چې دولت پلوه ځواکونو ته منوسب شوې ، يوناما د دوو ځمکنيو پيښو په پايله کې ۱۶۶۳ ملکي تلفات(۴۵۷ مړيني او ۱۲۰۶ ټپي کيدنې افغان ملي امنيتي ځواکونو ته)؛ ۱۰۳ملکي تلفات (۱۸ مړينې او ۸۵ ټپي کيدنې) دولت پلوه وسله والو ډلو ته او ۷ ملکي تلفات(۷ مړينې) نړيوالو پوځي ځواکونو ته منسوب کړي.
۱٤۷ د پاکستان څخه د پولې په اوږدو کې د راکيټونو د ويشتلو په پايله کې ۱۲ ملکي تلفات (څلور مړينې او اته ټپي کيدنې) را منځ ته شوي.
۱٤۸په دې زمينه کې د "غير مستقيمو يا چاوديدونکو توکو" د ترمينالوژي په کارولو سره ، يوناما د دوسلو دوو کتګوريو ته په خاص ډول اشاره کوي: (۱) د پراخو اغيزو درلودونکو تاثيراتو د ځمکې نه ځمکې ته د چاوديدونکو وسلو کارول ، د بيلګې په توګه ، هوانونه او راکيټونه ؛ او (۲) د ځمکې نه ځمکې ته د غير مستقيمو وسلو د سيستمونو کارول ، د بيلګې په توګه ، توپونه او هاوانونه ، دا هم چاوديدونکي توکي دي او د اغيزې ساحه يې زياته ده. د داسې وسلو کارول ، د بيلګې په توګه ، د هاوانونو او توپونو- په افغانستان کې د ځمکنيو نښتو په پايله کې زيات ملکي تلفات را منځ ته کوي او د تصادفي زيان په پايله کې د ملکي کسانو او ملکي موخو د ساتنې په حواله جدي انديښنې مطرح کوي.

سيمو کې د رواني  ځمکنۍ جګړې په ترځ کې په مکرر ډول د غير مستقيمواو/يا چاودېدونکي وسلو کارول شامل دي ، ښځو او ماشومانو ته د ځمکنيو نښتو په پايله کې په ۲۰۱۶ کال کې زيات تلفات اوښتي.[149]

په ۲۰۱۶ کال کې د ځمکنيو نښتو په پايله کې ښځي او ماشومان د ملکي تلفاتو ۵۷ سلنه برخه جوړوي. يوناما د ماشومانو ټولټال ۱۷۶۱ تلفات (۳۹۰ مړيني او ۱۳۷۱ ټپي کيدني) مستند کړي چي دا د ۲۰۱۵ کال په پرتله ۲۳ سلنه زياتوالی ښيي ، د ښځو ټولټال ۷۰۴ تلفات (۱۷۳ مړيني او ۵۳۱ ټپي کيدني) ثبت شوي چي دا د ۲۰۱۵ کال په پرتله ۷ سلنه زياتوالی دی.[150]




يوناما د ځمکنيو نښتو په پايله کې د ملکي تلفاتو د مخ پر زياتيدونکي شمېر په هکله ډېره انديښمنه ده. په داسي حال کې چې د ځمکنيو نښتو په پايله کې ملکي تلفات د ۲۰۱۵ کال د مستند شويو ارقامو سره په سمون کې دي ، ارقام بايد د ۲۰۱۵ کال په اکتوبر کې د ملکي تلفاتو په برخه کې د زياتوالي په اړه  چې د طالبانو له خوا د کندز د ښار د برید شخه سرچينه اخلي تر غور لاندې ونيول شي ، د کومو په نتيجه کې چې يواځې د ځمکنيو نښتو په پايله کې کم تر کمه ۸۹۶ ملکي تلفات واوښتل.[151] د بيلګي په توګه ، د جنورې د ۱ نه د سپتمبر د ۳۱ نيټو تر منځ ، يوناما د ۲۰۱۵ کال د ورته مودې په پرتله د ځمکنيو نښتو په پايله کې د ملکي تلفاتو په برخه کې ۱۸ سلنه زياتوالی مستند کړی.

د دې سربيره ، د ۲۰۱۵ کال په پرتله ، د افغانستان د ۳۴ ولايتونو له جملې شخه په ټولټال ۲۰ ولايتونو کې د ځمکنۍ نښتو له امله ملکي تلفات ډير شوي ،  په جنوبي سيمه کې د نږدې ټولو ولايتونو په شمول(هلمند ، نيمروز ، ارزګان او زابل) د طالبانو او افغان ملي امنيتي ځواکونو تر منځ د مخ پر زياتيدونکو نښتو د طالبانو له خوا د يرغليزو

---

[149] د ۲۰۱۵ کال د جنوري د ۱ نيټې شخه افغان ملي امنيتي ځواکونو ته د امنيتي مسوليت د بشپړ ليږد په تعقيب ، يوناما د دولت ضد عناصرو له خوا په ملکي ګڼ ميشتو سيمو کې د کنترول په موخه د ځمکنيو نښتو په پايله کې د ملکي تلفاتو په برخه کې زياتوالی مستند کړی ، دا د ۲۰۱۴ کال په پرتله د ښځو د تلفاتو په برخه کې ۲۵ او د ماشومانو د تلفاتو په برخه کې ۳۵ سلنه زياتوالی ښيي. په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د يوناما د ۲۰۱۶ کال د نيم کلن راپور ۲۵ مخ او په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د يوناما د د ۲۰۱۵ کال د کلنې راپور ۲۹ مخ وګورئ.

[150] په ۲۰۱۵ کال کې ، يوناما ټولټال ۱۴۳۱ ملکي تلفات (۲۹۳ مړينې او ۱۱۳۸ ټپي کيدنې) او ۶۵۷ ښځينه ملکي تلفات(۱۵۳ مړينې او ۵۰۴ ټپي کيدنې) مستند کړي.

[151] په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د يوناما د ۲۰۱۵ کال راپور ۳۰ مخ وګورئ.

بریدونو په شمول چې موخه یې د هلمند ولایت د لشکرګاه او د ارزګان ولایت د ترینکوټ نیول وو ، د ځمکنیو نښتو په پایله کې ملکي تلفات زیات شوي.[152] د طالبانو د مخ پر یاتیدونکي شتون او په سیمه کې د لا زیات قدرت له امله د شمالي سیمو په ټولو ولایتونو کې (بلخ ، فاریاب ، جوزجان ، سمنګان او سر پل په ولایتونو کې) د ځمکنیو نښتو په پایله کې ملکي تلفات زیات شوي.[153] ځمکنۍ نښتې د هلمند ، فاریاب ، ارزګان او کندز په ولایتونو کې د زیاترو ملکي تلفاتو لامل شوې.[154]

د دې پس منظر په مقابل کې په ۲۰۱۷ کال کې په ملکي ګڼ میشتو سیمو کې د شخړې د ښکیلو ډلو تر منځ د احتمالي دوامداره ځمکنیو نښتو په اړه ، یوناما د شخړې له ټولو ډلو غوښتنه کوي څو د ځمکنیو نښتو پر مهال د توپیر او تناسب اصول په پام کې ونیسي او د پوځي عملیاتو د ترسره کولو پر مهال ټول ممکنه تدبیرونه خپل کړي څو ملکي کسانو ته زیان وا نه ړوي.[155] د شخړې ښکیلې خواوې باید د نړیوال بشر دوستانه قانون په واسطه د هغوي د ټاکل شویو ژمنو سره په سمون کې ملکي کسانو ته د تصادفي زیان د اوښتو څخه مخنیوی وکړي او کچه یې را کمه کړي.[156]

یو ناما دا په ګوته کوي چې د هوایی بریدونو په نتیجه کې ملکي وګړو ته اوښتي زیان چې ځمکني عملیات ورسره مل وو ، او د دولت ضد وسلوالو لخوا په دفاعي ډول چاویدونکو توکو ځای په ځای کول چې په دې کې ملکي ابادۍ او شتمنۍ ته ، روغتیایی مراکزو ، تعلیمي ادارو او په تګ راتګ محدودیت ته مستقیم یا تصادفي ډول زیان اوښتی په ملکي ګڼ میشتو سیمو کې د ځمکنیو نښتو پر مهال د چاودیدونکو وسلو مستقیمې کارونې په ملکي کسانو ډیرې اغیزې پریښې او کیدای شي دا اغیزې د دې شواهدو سره نور هم کره شي چې د نا چاودو توکو په واسطه د ملکي تلفاتو کې زیاتوالی راغلی. په ۲۰۱۶ کال کې ، یوناما د ۲۰۱۵ کال په پرتله د داسې وسیلو په نتیجه کې د ملکي تلفاتو په برخه کې ۶۶ سلنه زیاتوالی مستند کړی چې د هغو له جملې څخه ماشومان ۸۴ سلنه جوړوي.[157]

---

۱۵۲د کندهار په ولایت کې د ځمکنیو نښتو په پایله کې ملکي تلفات ۱۳ سلنه کم شوي.

۱۵۳ د کابل ، لوګر ، ډایکونډي ، کنړ ، لغمان ، بغلان ، تخار ، خوست ، پکتیکا ، بادغیس او هرات ولایتونو کې هم د ځمکنیو نښتو په پایله کې ملکي تلفات زیات شوي. د یادونې وړ ده چې د شینډنډ په ولسوالي کې د مخ پر زیاتیدونکو جګړو له امله د ۲۰۱۵ کال په پرتله د هرات په ولایت کې ملکي تلفات زیات شوي- په ۲۰۱۶ کال کې یوناما په هرات ولایت کې ۲۰۷ ملکي تلفات (۷۲ مړینې او ۱۳۵ ټپي کیدنې) مستند کړي ، دا د هغه څه څخه درې برابره زیات دي کوم چې په ۲۰۱۵ کال کې ریکارډ شوي (۵۷ ملکي تلفات) (۲۱ مړینې او ۳۶ ټپي کیدنې)، ۸۲ سلنه ملکي تلفات په شین ډنډ ولسوالي کې واقع شوي. په ۲۰۱۶ کال کې د ارزګان ولایت د دهرود په ولسوالي کې د مخ پر زیاتیدونکو نښتو له امله ۵۲۰ ملکي تلفات (۱۵۹ مړینې او ۳۶۶ ټپي کیدنې) را منځ ته شوې ، دا د هغو ارقامو په پرتله (۱۴۱) ملکي تلفات (۳۵ مړینۍ او ۱۰۶ ټپيي کیدنې) درې برابره زیات دي کوم چې په ۲۰۱۵ کال کې ریکارډ شوي ، د دغو له جملې څخه ۴۸ سلنه په دهرود ولسوالي کې را منځ ته شوي. په ارزګان ولایت کې د ځمکنیو نښتو په هکله د لا زیاتو معلوماتو لپاره د ۲۰۱۶ کال اول نیم کلن راپور وګورئ ، همدارنګه په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۶ کال د نیم کلن راپور ۳۷ مخ وګورئ.

۱۵۴ په ۲۰۱۶ کال کې ، یوناما د ځمکنیو نښتو په پایله کې لاندې ملکي تلفات مستند کړي: هلمند ولایت- ۴۹۷ ملکي تلفات(۱۶۴ مړینې او ۳۳۳ ټپي کیدنې)؛ ارزګان ولایت- ۵۲۰ ملکي تلفات (۱۵۴ مړینې او ۳۶۶ ټپي کیدنې)؛ فاریاب ولایت-۳۰۹ ملکي تلفات(۸۴ مړینې او ۲۲۵ ټپي کیدنې)؛ او کنړ ولایت-۳۴۲ ملکي تلفات(۷۵ مړینې او ۲۶۷ ټپي کیدنې).

۱۵۵ په ضمني توګه په دریېمه عمومي ماده کې؛ دویم اضافي پروتوکول ، ۳ ، ۱۳ ماده. د بې توپیره بریدونو لپاره ، د اضافي اول پرتوکول ۵۱ ماده (په غیر نړیواله وسله واله شخړه د پلې کیدو وړ نه ده خو د عنعنوي نړیوال قانون په حیث منل شوې) وګورئ-د سره صلیب د نړیوالې کمیټې د عنعنوي نړیوال قانون څیړنه ، ۱۱ قاعده ؛ څارنوال و. دوسکو تادیچ ، IT-94-1 ، د قلمرو په هکله د تمهیدي استیناف لپاره د مدافع وکالت په هکله د استیناف خونې پریکړه ، د ۱۹۹۵ کال د اکتوبر دویمه ، ۱۲۷ پاراګراف. د بې توبیره بریدونو لپاره ، د اول اضافي پرتوکول ۸۵ (۳) (ب) ماده وګورئ(په غیر نړیواله وسله واله شخړه د پلې کیدو وړ نه ده خو د عنعنوي نړیوال قانون په توګه منل شوې)-د سره صلیب د نړیوالې کمیټې د عنعنوي قانون څیړنه ، ۱۴ قاعده.

۱۵۶ په ضمني توګه په دریېمه عمومي ماده کې؛ اضافي پروتوکول ، ۴ ، ۱۳ ماده. همدارنګه وګورئ او ل اضافي پروتوکول ، ۵۷ ماده(په غیر نړیواله وسله واله شخړه کې د تطبیق وړ نه ده خو د عنعنوي نړیوال قانون په حیث منل شوی)- د سره صلیب د نړیوالې کمیټې د عنعنوي قانون څیړنه ، ۱۵-۲۲ قاعده.

۱۵۷ د لا زیاتو تفصیلاتو لپاره د جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو په هکله څپرکی وګورئ. یوناما په ۲۰۱۶ کال کې د جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو په پایله کې ۶۰۹ ملکي تلفات (۱۸۳ مړینې او ۴۲۶ ټپي کیدنې) مستند کړي.

په دې حواله ، یوناما د شخړې په ټولو خواوو غږ کوي تر څو په خپلو ژمنو عمل وکړي او په خپلو سیمو کې د بریدونو د اغیزو په وړاندې د ملکي وګړو او ملکي شتمنیو د ساتنې په موخه ټول ممکنه تدبیرونه ونیسي. په دې کې د ملکي ګڼ میشتو سیمو څخه د باندې د نظامي موخو معلومول او د پوځي موخو د ور څیرمه ځایونو څخه د ملکي وګړو او ملکي شتمنیو لرې کول هم شامل دي.[158]

**د ملکي وګړو مرګ ژوبله : ځمکنۍ نښتې په سیمه ییزه کچه**
**د جنورۍ - دسمبر ۲۰۰۹-۲۰۱۶**



| | مرکزی سیمه | مرکزی لوړه سیمه | ختیځ | شمال ختیځ | شمال | جنوب ختیځ | جنوب | لویدیځ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2009 | 139 | 0 | 430 | 68 | 100 | 289 | 376 | 28 |
| 2010 | 192 | 8 | 535 | 128 | 125 | 496 | 543 | 83 |
| 2011 | 276 | 1 | 578 | 51 | 60 | 549 | 470 | 77 |
| 2012 | 325 | 3 | 507 | 56 | 181 | 348 | 127 | 85 |
| 2013 | 358 | 12 | 727 | 129 | 196 | 392 | 368 | 152 |
| 2014 | 415 | 18 | 770 | 352 | 435 | 413 | 925 | 276 |
| 2015 | 351 | 22 | 686 | 1269 | 261 | 404 | 936 | 222 |
| 2016 | 288 | 79 | 688 | 656 | 446 | 312 | 1487 | 339 |

**د هلمند په ولایت کې د طالبانو برید ۲۰۱۶ کال ، اګست – اکتوبر**

په ۲۰۱۶ کال کې د هلمند په ولایت کې د ځمکنیو نښتو په پایله کې تر ټولو زیات ملکي تلفات ، یعنې ۴۹۷ تلفات (۱۶۴ مړینې او ۳۳۳ ټپي کېدنې) ثبت شوي- دا د۲۰۱۵ کال په پرتله ۴۰ سلنه زیاتوالی ښیي.[159] د ځمکنیو نښتو په پایله کې تر ټولو زیات ناد علي ولسوالي (۱۲۰ ملکي تلفات- ۴۱ مړینې او ۷۹ ټپي کېدنې) او نهر سراج ولسوالی (۱۰۶ ملکي تلفات-۲۱ مړینې او ۸۵ ټپي کېدنې) متاثره شوې. د ۲۰۱۶ کال په اګست او اکتوبر میاشتو کې د طالبانو له خوا د لشکرګاه د ښار د کنټرول په خاطر هڅو زیات ملکي تلفات را منځ ته کړل.

۱۵۸ د سره صلیب د نړیوالې کمیټې د عنعنوي نړیوال قانون څیړنه ، ۲۲-۲۴ قاعدې. همدارنګه د درېیمې عمومي مادې دویم اضافي پرتوکول ۱۳ ماده (په ټوله کې ، د تویږر د اصولو په حواله) او همدارنګه د سره صلیب د نړیوالې کمیټې د عنعنوي نړیوال قانون د څېړنې ۹۷ قاعده چې موخه یې له انسانانو څخه د بشري ډال په حیث د کارونې مخنیوی دی ، وګورئ.

۱۵۹ په ۲۰۱۵ کال کې ، یوناما د هلمند په ولایت کې د ځمکنیو پیښو په نتیجه کې ټولټال ۳۵۴ ملکي تلفات (۱۱۷ مړینې او ۲۳۷ ټپي کېدنې) مستند کړي.

د ۲۰۱۶ کال په اګسټ کې، طالبانو د لشکرګاه د ښار د محاصرې او کنټرول په موخه په لشکرګاه، ګرمسیر، نهرسراج، ناد علي، ناوې بارکزۍ او نوزاد ولسوالیو کې بریدونه ترسره کړل.

د روانو بریدونو سربیره دغه عملیات په موسی کلا، نوزاد او کجکي ولسوالیو کې ترسره شوي څو د شمالي هلمند په سیمو کې د تریاکو په فصلونو او ارزګان ته په څیرمه سیمو ولکه ټینګه کړي. د دې په نتیجه کې، د افغان ملي امنیتي ځواکونو سره د وسله والو نښتو د شمیر او شدت په برخه کې د پام وړ زیاتوالی راغلی چې په دې سره د ۲۰۱۵ کال د ورته مودې په پرتله د اګسټ د میاشتې د ۱ نیټې نه د اکتوبر د میاشتې تر ۳۱ هغې پورې د ځمکنیو نښتو په پایله کې د ملکي تلفاتو په برخه کې ۳۶ سلنه زیاتوالی راغلی.

د ۲۰۱۶ کال د اګسټ د میاشتې د ۱ نیټې نه د اکتوبر د میاشتې تر ۳۱ هغې پورې، یوناما د هلمند په ولایت کې د ځمکنیو نښتو په پایله کې ټولټال ۱۲۳ ملکي تلفات (۳۱ مړیني او ۹۲ ټپي کیدني) ثبت کړي په کومو کې چې ۶۶ سلنه ښځې او ماشومان وو. د شخړې د ښکیلو ډلو له خوا د غیر مستقیمو او/یا چاودیدونکو وسلو کارول د دغو تلفاتو د ۸۰ سلنې لامل شوي. د بیلګې په توګه، د اکتوبر په ۱۲ طالبانو د لشکرګاه په ښار د والي په انګړ یو شمیر راکټونه وتوغول چې په نتیجه کې یې (د ۱۰ ماشومانو او دریو ښځو په ګډون) ۱۷ تنه ملکي کسان ټپيان شول.[۱۶۰] یوناما همدارنګه د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا د غیر مستقیمو وسلو د کارولو په نتیجه کې ملکي تلفات مستند کړي. د بیلګې په توګه، د اګسټ په ۷، د افغان ملي پوځ له خوا د دولت ضد عناصرو په هدف د هاوان د یوې توغول شوې ګولۍ په نتیجه کې چې د هلمند ولایت د ناوې بارکزۍ په ولسوالي کې په یوه ملکي کور کې ولګیده د یوې کورنۍ پنځه تنه ماشومان او درې ښځې ووژلې.

د اګسټ د میاشتې د ۱ نیټې نه د اکتوبر د میاشتې تر ۳۱ هغې پورې، یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د فشار سره چاودیدونکو ځای په ځای شویو توکو د کارولو په نتیجه کې چې موخه یې د هغو سړکونو کوم چې د دوی د ولکې لاندې سیمې څخه تیریږي دفاع وکړي، ټولټال ۷۱ ملکي تلفات (۳۳ مړیني او ۳۸ ټپي کیدني) مستند کړي. یوناما همدارنګه د همدې مودې په جریان کې د دولت پلوه ځواکونو د ترسره شویو هوایي بریدونو په نتیجه کې زیات ملکي تلفات، یعني ۳۹ ملکي تلفات (۲۱ مړیني او ۱۸ ټپي کیدني) مستند کړي.

د ملکي تلفاتو سربیره، د شخړې له امله نږدې ۲۰۰۰ کورنۍ په هلمند کې بې ځایه شوي چې له همدې جملې څخه ټولټال ۱۲۰۰ کورنۍ لشکرګاه ښار ته رسیدلي چې یو بشري کړکیچ یې را منځ ته کړی. د جګړو په نتیجه کې د لشکرګاه- کندهار لویه لار وتړل شوه چې له امله یې بشري مرستې په خپل وخت و نه رسیدې او د خلکو د خوځښت د ازادۍ مخه یې ونیوله.

د نښتو له امله ملکي شتمنیو ته هم زیان واوښت او په نتیجه کې یې د معارف او روغتیا پالنې د مرکزونو دروازې د خلکو پر مخ وتړل شوې.

---

۱۶۰ طالبانو د اکتوبر په ۱۲ په ټویټر د پیښې مسولیت منلی، پخوا په لاندې پته د لاسرسي وړ وه: https://twitter.com/qyahmadi , کاپي د یوناما سره په ریکارد کې موجوده ده. دولت ضد عناصرو همدارنګه د اکتوبر په ۹ د لشکرګاه په ښار راکټونه وتوغول چې په نتیجه کې یې ټولټال دوه تنه ملکیان ټپیان شول او د اکتوبر په ۱۶ یو ملکي تن ټپي شو. هیڅ کومې ډلې د دې بریدونو مسولیت نه دی منلی.

## افغان ملي امنيتي ځواکونو ته منسوب شوي ملکي تلفات

*"زموږ په کلي کې د افغان ملي امنيتي ځواکونو او طالبانو تر منځ درنه جګړه ونښتله. طالبانو خلکو ته امر وکړ تر څو خپل کورونه پرېږدي. موږ بيا د ګاونډي په کور کې پټ شوو. موږ په دې لټه کې وو تر څو سيمه د يوه خوندي ځای په هدف پرېږدو چې کله د دولتي ځواکونو له خوا توغول شوی هاوان زما په کور ولګيد او زما وراره او ګاونډي يې ووژل. زه هم سخت ټپي شوم. دولتي ځواکونو هڅه کوله چې په هغه وخت کې طالبان په نښه کړي خو طالبان په تيښته بريالي شول او په بدل کې يې موږ ملکيانو ته زيان واوښت". [١٦١]*

*- د جوزجان ولايت په مرديان ولسوالي کې د ۲۰۱۶ کال د اګسټ د ۲۷ نېټې په پېښه کې د طالبانو سره د يوې نښتې پر مهال د افغان ملي امنيتي ځواکونو له خوا د هاوان د يوې توغول شوې ګولۍ قرباني چې په نتيجه کې يې دوه تنه ملکيان او يو بل ټپي شو.*

په ۲۰۱۶ کال کې ، افغان ملي امنيتي ځواکونو د ځمکنيو نښتو پر مهال ټولټال ۱۶۶۳ ملکي تلفات (۴۵۷ مړينې او ۱۲۰۶ ټپي کيدنې) اړولي ، چې دا د ۲۰۱۵ کال د ورته مودې په پرتله ۴۱ سلنه زياتوالی ښيي.[١٦٢] په دې ارقامو کې ۸۹۹ ملکي تلفات (۲۵۴ مړينې او ۶۴۵ ټپي کيدنې) چې د ځمکنيو نښتو پر مهال د افغان ملي پوځ ، ۱۳۵ ملکي تلفات (۴۲ مړينې او ۹۳ ټپي کيدنې) د افغان ملي پوليسو او ۳۵ ملکي تلفات (۸ مړينې او ۲۷ ټپي کيدنې) د افغان سيمه ييزو پوليسو له خوا اوښتي ، شامل دي.[١٦٣]

افغان ملي امنيتي ځواکونو ته اکثريت منسوب شوي ملکي تلفات د دولت ضد عناصرو يعني طالبانو په وړاندې د يرغليزو او دفاعي عملياتو په زمينه کې په تصادفي توګه واقع شوې. دا نديښنې وړ ده چې په ۲۰۱۶ کال کې د ملکي تلفاتو زياتره برخه — ۸۳ سلنه د افغان ملي امنيتي ځواکونو له خوا په ملکي ګڼ ميشتو سيمو کې د غير مستقيمو او/يا چاوديدونکو توکو چې زياتره يې د هاوان او توپونو د کارولو له امله رامنځ ته شوي .[١٦٤]

يوناما يو وار بيا د افغانستان د دولت څخه په کلکه غوښتنه کوي څو د ملکي کسانو د تلفاتو د مخنيوي او را کمولو په هکله د خپلې ملي پاليسي تصويب او پلې کولو ته لومړيتوب ور کړي. د پاليسې هدف دا دی چې د ملکي کسانو د ساتنې په موخه د اندازې وړ اهداف او تدبيرونو ته ته ځای ورکړي چې په ټولو وزارتونو ،رياستونو او د وسله والو ځواکونو په عناصرو په اجرا کولو باندې مسؤل وي او دا به د نښتو د ترسره کولو پر مهال د ملکي کسانو د ساتنې د تدبيرونو ، د پاليسې د پلې کولو او د دولت د پاليسې ګانو د پياوړتيا په برخه کې يو مهم ګام وي. په پاليسې کې بايد د ملکي کسانو د تلفاتو د را کمولو په خاطر غښتلو او عملي تدبريونو ته ځای ورکړي کوم چې د افغان ملي امنيتي ځواکونو له خوا د غير مستقيمو او/يا چاوديدنکو وسيلو او توکو د کارولو په نتيجه کې را منځ ته شوې ، او د هغو کسانو د حسابورکونې څخه ډاډ حاصل کړي چا چې غفلت کړی او يا يې په قصدي توګه ملکيانو ته زيان اړولی.

---

١٦١ د قرباني سره د يوناما مرکه ، د شبرغان عامه روغتون ، د جوزجان ولايت ، د ۲۰۱۶ کال د اګسټ ۳۱

١٦٢ په دغو ارقامو کې هغه ۱۰۳ تنه ملکي تلفات (۱۸ مړينې او ۸۵ ټپي کيدنې) کوم چې دولت پلوه ځواکونو ته او هغه ۷ تنه ملکي تلفات کوم چې نړيوالو ځواکونو ته منسوب دي نه دي شامل. په ۲۰۱۵ کال کې ، د ځمکنيو نښتو په پايله کې يوناما افغان ملي امنيتي ځواکونو ته ۱۱۷۷ ملکي تلفات (۳۲۱ مړينې او ۸۵۶ ټپي کيدنې) منسوب کړي چې په دې کې ( ۸۱ ملکي تلفات- ۱۹ مړينې او ۶۲ ټپي کيدنې چې دولت پلوه وسله والو ډلو ته منسوب دې ) شامل نه دي.

١٦٣ يوناما افغان ملي امنيتي ځواکونو ته ټولټال ۴۹۴ ملکي تلفات (۱۲۴ مړينې او ۳۷۰ ټپي کيدنې) چيرې چې د خاصو مرتکيبينو پيژندل ممکن نه وي ، منسوب کړي. افغان ځانګړې ځواکونه ، افغان ملي پوله ساتي ځواکونه ، د عامه نظم افغان ملي پوليس د پاته ۶۷ ملکي تلفاتو ( ۲۰ مړينو او ۴۷ ټپي کيدنو) لامل شوي.

١٦٤ افغان ملي پوځ ته ۹۱ سلنه منسوب ملکي تلفات د ځمکنيو نښتو له امله د غير مستقيمو او/يا چاوديدونکو توکو د کارولو په نتيجه کې را منځ ته شوي.

لاندې پېښې د ملکي کسانو د تلفاتو هغه بېلګې دي کومې چې د افغان امنيتي ځواکونو له خوا د ځمکنيو نښتو پر مهال واقع شوي:

- د نومبر په ۱۰ ، د هرات ولايت د شينډنډ ولسوالۍ په زير کوه دره کې د دولت ضد عناصرو په وړاندې د افغان ملي اردو له خوا د توپ يوه توغول شوې ګولۍ د استوګنې په سيمه کې ولګېده چې په نتيجه کې يې د اوو ماشومانو په ګډون اته تنه ملکي کسان ووژل اود دوو نجونو په شمول يې نورې درې تنه ټپيانې کړې.
- د اکتوبر په ۳۱ ، د طالبانو د بريد په غبرګون کې افغان ملي اردو د درنو وسلو يوه مرمۍ وتوغوله چې د کنړ ولايت په دانګام ولسواالۍ کې د استوګنې په يوه سيمه ولګېده چې په نتيجه کې يې يوه ۲۴ کلنه ښځه او د هغې يوه کلنه لور ووژله او نور څلور هلکان ټپيان شول.

**دولت ضد عناصرو ته د ځمکنيو نښتو په پايله کې منسوب شوي ملکي تلفات**

"*دولت ضد عناصرو د ولسوالۍ په اداري مرکز د هاوانونو ډزې وکړې. يوه هاوان په بازار اصابت وکړ، بل د بازار شاته ولګيد او بل د ښاروالۍ د مارکيټ په ننوتونکې دروازې کې ولګيد. ما د هاوان د دوهمې ګولۍ اغيزې وليدلې. ما يو هلک وليد چې د کوڅې په اړدو کې يې منډې وهلې. کله چې هغه د کوڅې بل طرف ته ورسيد نو ولويده. ما غوښتل چې هغه را واخلم او کلينيک ته يې انتقال کړم. ما خلک وليدل چې يو زوړ سړی په يوه کوچنۍ موټر کې کښينوي. هغه په وينو لړلی و.*"[۱۶۵]

-د اګسټ په ۱۱ ، د بغلان ولايت د ډنډې غوري د ولسوالۍ د اداري مرکز په وړاندې د دولت ضد عناصرو د هاوان د بريد قرباني. د بريد په ترڅ کې يو ۷۰ کلن ملکي وګړی ووژل شو او دوه نور هلکان ټپيان شول.

په ۲۰۱۶ کال کې ، يوناما د ځمکنيو نښتوپه پايله کې دولت ضد عناصرو ته ټولټال ۱۴۶۹ ملکي تلفات (۳۰۸ مړينې او ۱۱۶۱ ټپي کيدنې) منسوب کړي دي چې دا د ۲۰۱۵ کال په پرتله ۴۴ سلنه زياتوالی ښيي[۱۶۶].

يوناما د ځمکنيو نښتو په پايله کې طالبانو ته ټولټال ۱۳۲۳ ملکي تلفات (۲۷۷ مړينې او ۱۰۴۶ ټپي کيدنې) منسوب کړي دي چې دا د ۲۰۱۵ کال په پرتله ۶۷ سلنه زياتوالی ښيي.[۱۶۷] يوناما د ځمکنيو نښتو پر مهال داعش/د خراسان ولايت لپاره د اسلامي دولت ته ۱۸ ملکي تلفات (۹ مړينې او ۹ ټپيې کيدنې) منسوب کړيدي.[۱۶۸]

د ځمکنيو نښتو پر مهال د دولت ضد عناصرو له خوا ملکيانو ته تلفات اوښتي چې په عام ډول د افغان ملي امنيتي ځواکونو په ضد يې تهاجمي بريدونه کول په تصادفي توګه ملکي وګړو ته تلفات اوښتي . يوناما يادونه کوي چې دولت ضد عناصرو په مکرر ډول په ملکي سيمو کې امنيتي پوستې ، کاروانونه او د هغو سرکونو په شمول په کومو کې چې ملکي موټر تګ او راتګ کوي په مکرر ډوول په نښه کړيدي. يوناما همدارنګه د دولت ضد عناصرو له خوا د غير مستقيمو او/ يا چاوديدونکو توکو په مټ ملکي دولتي مرکزونو په شمول د ولايت او ولسوالۍ د اداري مرکزونو باندې بريد په ترڅ کې

---

۱۶۵ د بغلان ولايت په پلخمري ښار کې د عيني شاهد سره د يوناما تليفوني مرکه ، د ۲۰۱۶ کال د اګسټ ۱۱.

۱۶۶ په ۲۰۱۵ کال کې ، د ځمکنيو نښتو په پايله کې يوناما دولت ضد عناصرو ته ۱۰۸۱ ملکي تلفات (۲۹۴ مړينې او ۷۲۴ ټپي کيدنې) منسوب کړي.

۱۶۷ په ۲۰۱۵ کال کې ، د ځمکنيو نښتو په پايله کې يوناما طالبانو ته ۷۹۲ ملکي تلفات (۲۳۲ مړينې او ۵۶۰ ټپي کيدنې) منسوب کړي.

۱۶۸ د پاته ملکي تلفاتو له جملې څخه ، يوناما ټولټال ۱۱۴ ملکي تلفات (۱۹ مړينې او ۹۵ ټپي کيدنې) نا پيژاندو دولت ضد عناصرو ته (چيرې چې د خاصو دولت ضد عناصرو د مرتکبينو پيژندل ممکن نه و)، منسوب کړي او د يوه ملکي شخص تلف کيدل لشکر طيبه ته منسوب کړي.

ملکي تلفات مستند کړي . د بیلګې په توګه ، د اګسټ په ۱۸ د ازادۍ د ورځې د لمانځلو په مناسبت ، دولت ضد عناصرو د کنړ ولایت د اسداباد د مرکز په لوري د هاوان درې مرمۍ وتوغولې چې په نتیجه کې یې درې ملکي کسان ووژل شول او د ۱۸ ماشومانو په ګډون ۵۳ نور ټپیان کړل. هیڅ ډلې د پېښې مسئولیت نه دی منلی.[169]

لاندې پېښې د ملکي کسانو د تلفاتو هغه بیلګې دي کومې چې د دولت ضد عناصرو له خوا د ځمکنیو نښتو پر مهال واقع شوي:

- د نومبر په ۲۴ ، د دولت ضد عناصرو له خوا د هاوان یوه توغول شوې مرمۍ چې موخه یې د افغان سیمه ییزو پولیسو د تلاشۍ د پوستې په نښه کول و ،د لغمان ولایت د مهترلام په ښار کې د واده په مراسمو کې ولګیده چې په نتیجه کې یې یوه ۱۰ کلنه نجلۍ ووژل شوه او د ۱۰ کلونو نه د ټیت عمر د دریو ماشومانو په ګډون یې نور پنځه تنه ملکیان ټپیان کړل.
- د اکتوبر په ۳۰ ، د دولت ضد عناصرو له خوا د هاوان یوه توغول شوې مرمۍ د بغلان ولایت په بغلان جدید ولسوالي کې په یوه ملکي کور کې ولګیده چې په نتیجه کې یې دوه ښځې او پنځه ماشومان ووژل شول او یوه نجلۍ ټپي شوه. قربانیان په ورته کورنۍ پورې تړلي وو. سرچینو راپور ورکړی چې ممکن د هاوان ګولۍ د افغان ملي اردو او افغان سیمه ییزو پولیسو په پوستو توغول شوی وي.

**د ځمکنیو نښتو په پایله کې اوښتي ملکي تلفات چې کوم ځانګړي لور ته یې مرګ ژوبله منسوبول ممکن نه وه**

په ۱۶ کال کې ، یوناما د ځمکنیو نښتو په پایله کې ټولټال ۱۰۴۱ ملکي تلفات (۲۷۶ مړینې او ۷۶۵ ټپي کیدنې) ثبت کړي په کومو کې چې ملکي مرګ ژوبله کومې خاصې ډلې ته ممکن نه وه . زیاتره ملکي تلفات د افغان امنیتي ځواکونو او دولت ضد عناصرو چې زیاتره یې طالبان و ، تر منځ وسلواله نښتو کې رامنځ ته شوي. یوناما همدارنګه د داعش/د خراسان ولایت لپاره د اسلامي ډلې او افغان امنیتي ځواکونو یا طالبانو تر منځ د ځمکنیو نښتو په پایله کې نهه ملکي تلفات (نهه ټپیان) او همدارنګه د نا منسوب شویو ځمکنیو نښتو په پایله کې د دولت پلوه وسله والو ډلو او دولت ضد عناصرو تر منځ ۱۶ ملکي تلفات (درې مړینې او ۱۳ ټپي کدنې) مستند کړي.

**د ځمکنیو نښتو پر مهال غیر مستقیمې او/یا چاودیدونکي توکي**

*"د افغان ملي امنیتي ځواکونو او طالبانو تر منځ شخړه زموږ کلي ته راورسیده. موږ له ډاره خپل کور پرینبود او له خپلو ماشومانو سره یوځای د خپلوانو کور ته چې د شخړې د میدان څخه لرې وه ، ولاړو. موږ د خپلوانو د کور په یوه خونه کې ناست وو او د راپور له مخې چې کله د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا د طالبانو په لور د هاوان یوه توغول شوې مرمۍ په کور کې ولګیده . په دې پیښه کې زما دوه لونې- ۹ کلنه او ۵ کلنه او زما د خپلوانو یو ماشوم ووژل شول. زما د دوو درې کلنو غبرګوني زامنو ،زما د اته کلنې لور او یوې بلې نجلۍ او د ځان په ګډون نور اوه تنه کسان ټپیان شوو.*[170]

---

۱۶۹ د اکتوبر په ۴ او ۵ ، دولت ضد عناصرو یو وار بیا د ولایتي مرکز په لوري راکټونه وتوغول او په نتیجه کې یې درې تنه ملکیان ووژل شول او اته تنه نور ټپیان شول.
۱۷۰ د تخار ولایت د تالقانو په ښار کې ، د قرباني سره د یوناما مرکه ، د ۲۰۱۶ کال د سپتمبر ۲۷

*-د سپټمبر په ۲۵ ، د تخار ولایت د خواجه غار په ولسوالي کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا د هاوان د یوې توغول شوې مرمۍ د لګیدو په نتیجه کې قرباني ،د کومې په پایله کې چې درې ماشومان ووژل شول او یوه ښځه او ۶ ماشومان یې ټپیان کړل.*

یوناما په ملکي ګڼ میشتو سیمو کې د شخړې د ښکیلو ډلو له خوا د غیر مستقیمو او/یا چاودیدونکو توکو د دوامداره کارونې په اړه ډیره اندیښمنه ده. په ۲۰۱۶ کال کې ، د هاوانونو ، راکیټونو او لاسي بمونو په نتېجه کې ټولټال ۲۶۲۰ ملکي تلفات[۱۷۱] (۶۲۹ مړیني او ۱۹۹۱ ټپي کیدنې) را منځ ته شوي ، چې دا د ځمکنیو نښتو په پایله کې د ټولو ملکي تلفاتو ۶۱ سلنه او د ټولو ملکي تلفاتو ۲۳ سلنه جوړوي.

یوناما د غیر مستقیمو او/یا چاودیدونکو وسلو په نتېجه کې د ملکي تلفاتو ۵۵ سلنه دولت پلوه ځواکونو او ۳۴ سلنه دولت ضد عناصرو ته منسوب کړې او د ۱۱ سلنه تلفاتو چې د متقابل ډزو د وجې رامنځ ته شوي هیڅ یو لوري یې مسؤل ندی پیژندل شوی .[۱۷۲]

په ۲۰۱۶ کال کې د ځمکنیو نښتو پر مهال د غیر مستقیمو او/یا چاودیدونکو توکو په نتیجه کې د ټولټال ۲۶۲۰ ملکي تلفاتو (۶۲۹ مړینو او ۱۹۹۱ ټپي کیدنو) له جملې څخه ، ۶۸ سلنه ښځې او ماشومان تشکیلوي چې دا په ماشومانو د دغه ډول وسلو ویجاړونکي اغیزې ښیې.[۱۷۳] د بیلګې په توګه ، د نومبر په دریمه ، د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا د هاوان یوه توغول شوې مرمۍ د فاریاب ولایت د خواجه سبز پوش په ولسوالي کې د واده په مراسمو کې د ملکي کسانو په یوې ډلې ولګیده چې په نتیجه کې یې د ۱۰ ماشومانو په ګډون ۱۲ تنه ملکیان ووژل شول او د ۱۰ ماشومانو په ګډون ۱۳ تنه نور ټپیان شول.

د ملکي کسانو د مرګ ژوبلې سربیره ، د غیر مستقیمو او/یا چاودیدونکو توکو کارولو هم ملکي شتمنیو او زیربناوو ته زیان اړولی. یوناما د دغه ډول تاکتیکونو د کارولو په نتیجه کې ډیر شمېر پېښې داسې پېښې ثبت کړي چې په پایله کې کې تعلیمي او د روغتیا پالنې مرکزونو ته تصادفي زیان اوښتی.[۱۷۴] د بیلګې په توګه ، د اکتوبر په ۲۶ ، د دولت ضد عناصرو له خوا د راکټ یوه توغول شوې مرمۍ چې د ولسوالۍ مرکز یې په نښه کړی و ، د میدان ښار په ولایتي روغتون کې ولګیده چې په نتیجه کې یې یو ماشوم ووژل شو او نور ۷ تنه ملکي کسان ټپیان شول او د روغتون د مړو د چسد ونو د کېښودلو د خونې د دیوال یوه برخه او همدارنګه د روغتون دیوالونه او د عاجلي خونې کړکۍ زیانمنې کړې.

د زیاتي کچې تاثیر درلودونکي غیر مستقیمې وسلې ، سیستمونه او چاودیدونکې توکي چې کله په ملکي ګڼ میشتو سیمو کې وکارول شي ي ملکي کسان د لید وړ جدي خطرونو په معرض کې واقع کوي. هغه چاودیدونکي توکي چې د اغیز کچه یې زیاته تر پراخه سیمې اغیز ولري د زیات قوت چاودیدونکو توکو باندې مشتمل وي او هدف ته نږدې

---

۱۷۱ په دغو ارقامو کې هغه ټول ملکي تلفات کوم چې د ځمکنیو نښتو په پایله کې را منځ ته شوي شامل دي.

۱۷۲ د پاکستان د پوځې ځواکونو له خوا د پولې په اوږدو کې د راکټونو د ویشتلو په نتیجه کې ټولټال ۱۱ ملکي کسانو ته تلفات اوښتي (۴ مړینې او ۷ ټپي کیدنې-د یوې سلنې څخه کم).

۱۷۳ د غیر مستقیمو او/یا چاودیدونکو وسلو او توکو د کارونې له امله ټولټال ۵۱۲ ښځینه ملکي تلفات او د ماشومانو ټولټال ۱۲۶۷ملکي تلفات (۲۹۳ مړینې او ۹۷۴ ټپي کیدنې) را منځ ته شوي.

۱۷۴ د نورو معلوماتو لپاره ، د ماشومانو او وسله والې شخړې په اړه او په روغتیا پالنه د وسله والې شخړې د اغیزو په هکله څپرکی وګورئ.

سیمه کې د پام وړ زیان را منځ ته کوي او د ملکي او پوځي موخو تر منځ توپیر هم نه شي کولای. د دې علاوه ، د غیر مستقیمو وسلو د سیستمونو کارونکي ، د بیلګې په توګه ، هوانونو او توپونه- او همدارنګه د لوړې کچې تاثیر درلودونکي چاودیدونکي توکي د اوږد واټن د لیدو د توان او د وسلو کارولو لپاره کومه مستقیمه کرښه نه لري او په دې اړه دقت او پاملرنه هم خطر سره مخ کوي.

د دې په نتیجه کې ، په ملکي ګڼ میشتو سیمو کې د غیر مستقیمو/یا چاودیدونکو توکو کارول ممکن د بریدونو په هکله د نړیوال قانون محدودیتونو سرغړونه وکړي کله چې ځانګړی هدف په نښه نه کړای شي ، او په دې کې هغه سیستمونه هم شامل دي چې د هغه وسلو څخه کار اخلي چې د پوځي او ملکي موخو تر منځ توپیر نه شي کولای او هغه بریدونه چې ممکن په غیر متناسب ډول ملکیانو ته زیان واړوی.[۱۷۵] د دې علاوه ، د شخړې ښکیلې خواووې مکلف دي څو د بریدونو د اغیزو په وړاندې په خپلو کنترول لاندې سیمو کې د پوځي عملیاتو د ترسره کولو پر مهال ټول ممکنه تدبیرونه ونیسي او د ملکي کسانو په وړاندې د تصادفي زیان ، ټپي کیدو او د ملکي شتمنیو د زیان په هکله د پیښیدو مخه ونیسي او یا یې هم کچه را کمه کړي.[۱۷۶] هغه بریدونه —چې په عمدي یا د وسلو د کارولو د ماهیت له لارې و نه شي کولای د پوځي او ملکي موخو تر منځ توپیر وکړي ، ممکن په جنګي جرمونو کې وشمیرل شي.[۱۷۷]

یوناما بیا یادونه کوي چې په ملکي ګڼ میشتو سیمو کې د مخ پر زیاتیدونکو ځمکنیو نښتو تر منځ اړیکه چې د غیر مستقیمو او/یا چاودیدونکو توکو د کارولو په واسطه تشریح شوې ، د جګړې د پاته شونو چاودیدونکو توکو په نتیجه کې د ملکي تلفاتو په برخه کې زیاتوالی په وار وار مشخص کړې.[۱۷۸]

یوناما د شخړې د ښکیلو ډلو څخه بیا غوښتنه کوي څو په ملکي ګڼ میشتو سیمو کې د هاوانونو ، راکیټونو ، لاسي بمونو او د نورو غیر مستقیمو او/یا چاودیدونکو توکو د کارولو څخه ډډه وکړي او د غیر مستقیمو او/یا چاودیدونکو توکو او د لوړې کچې اغیزلرونکو چاودیدونکو توکو د کارولو په هکله د نښتو په طرزالعملونو او اصولو له سره کتنه وکړي.

---

۱۷۵ د بې توپیره بریدونو لپاره ، د لمړي پروتوکول ۵۱ ماده (په غیر نړیواله پوځي شخړه کې د پلي کیدو وړ نه ده خو د دودیز نړیوال قانون په حیث منل شوې) وګورئ- د سره صلیب د نړیوالې کمیټې د عنعنوي نړیوال قانون خیړنه ، ۱۱ قاعده وګورئ؛ څارنوال و ډوسکو تادیچ ، ای تي-۹۴-۱ ، د قلمرو په هکله د تمهیدي استناف لپاره د دفاعي حرکت او وړاندیز په هکله د استناف د خونې پریکړه ، د ۱۹۹۵ د اکتوبر دویمه ، ۱۲۷ پاراګراف. د بې توپیره بریدونو لپاره ، د لومړي پروتوکول ۸۵ (۳)(ب) ماده (په غیر نړیواله وسله واله شخړه کې د پلي کیدو وړ ده خو د عنعنوي نړیوال قانون په حیث منل شوې) وګورئ- د سره صلیب د نړیوالې کمیټې د عنعنوي نړیوال قانون خیړنه ، ۱۴ قاعده.

۱۷۶ په دریمه عمومي ماده کې په ضمني توګه؛ د دویم اضافي پروتوکول ۴ ، ۱۳ ماده. د احتیاط لپاره ، همدارنګه د اول الحاقی پروتوکول ۵۷ ماده وګورئ (په غیر نړیواله وسله واله شخړه کې د تطبیق وړ نه ده خو د عنعنوي نړیوال قانون په حیث منل شوې)- د سره صلیب د نړیوالې کمیټې عنعنوي نړیوال بشر دوستانه قانون ۱۵-۲۲ قاعدي وګوري. همدارنګه د سره صلیب د نړیوالې کمیټې عنعنوي نړیوال بشر دوستانه قانون د څیړنې ۲۲-۲۴ قاعدې وګورئ. همدارنګه عمومي دریمه ماده ، د اضافي دویم پروتوکول ۱۳ ماده ، (په ټولیزه توګه ، د توپیر د اصولو په حواله) او همدارنګه د سره صلیب د نړیوالې کمیټې د عنعنوي نړیوال بشر دوستانه قانون د څیړنې ۹۷ قاعده چې د انساني ډال کارونه منع کوي ، وګورئ.

۱۷۷ په جنګي جرمونو کې د هغو کسانو چې په نښتو کې برخه نه اخلي ، د ژوند او شخص په تړاو د د تاوتریخوالی په شمول ، د دویم الحاقی پروتوکول د ۴ (۲) مادې په واسطه منع شوي عملونه او د ملکي کسانو او ملکي شتمنیو په وړاندې د عمدي بریدونه او عملونو ترسره کول شامل دي کوم چې د عمومي ۳ (۱) مادې په واسطه منع شوې. د نړیوالې جنایي محکمې اساسنامې۸ (۲) (سي)، ۸(۲) (اي) (آی)، د سره صلیب د نړیوالې کمیټې عنعنوي نړیوال قانون د څیړنې ۱۵۶ قاعده وګورئ. په داسې حال کې چې د نړیوالې جنایي محکمې اساسنامه په غیر نړیوالو وسله والو شخړو کې بې توپیره او غیر متناسب بریدونه په څرګند ډول په جنایي جرمونو کې نه راولي ، داسې بریدونه ممکن په ځینو حالتونو کې د ملکي کسانو په وړاندې د مستقیمو بریدونو په برخه مداخلې ته لار هواره کړي. د بیلګې په توګه ، څارنوال و. ستانیسلاو ګالیچ ، دوسیه نمبر. IT-98-29-A ، د استناف حکم ، د ۲۰۰۶ کال د نومبر ۳۰ ، ۱۳۲-۱۳۳ پاراګرافونه. د سره صلیب د نړیوالې کمیټې د عنعنوي نړیوال قانون ۱۵۶ قاعده وګورئ.

۱۷۸ د پورته مواردو او د جګړې څخه د پاته شونو توکو په هکله څیړکی وګورئ. په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په هکله د یوناما د ۲۰۱۶ کال نیم کلن راپور ۲۷ او ۴۲ پاراګرافونه ، په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په هکله د یوناما د ۲۰۱۵ کال کلني راپور ۲۵ پاراګراف هم وګورئ.

يوناما د افغانستان دولت ته په کلکه سپارښتنه کوي څو د ملکي کسانو د تلفاتو په اړه د مخنيوي او را کمولو ملي پاليسۍ تطبيقولو ته لومړيتوب ورکړي.

يوناما په دولت ضد عناصرو او افغان ملي امنيتي ځواکونو بيا غږ کوي ترڅو دا يقيني کړي  چې د غير مستقيمو او/يا چاوديدونکو توکو هر ډول کارول چې په نتيجه کې يې ملکي کسانو ته تلفات اوړي په سملاسي ډول ، بې پرې او بشپړه توګه څېړل کيږي ، د تعقيبي اجراتو د پاره  د تېر وخت تجربو نه په ګټه اخستلو سره غوره پروسيجر ، بهتر شوی پاليسي او د نښتو اصول پلی کړای شي او که اړتيا وي چې جزای او يا انضباطي اجرات تر سره شي.

## ۳. دولت ضد عناصر او داعش/د خراسان ولایت لپاره اسلامي ډله

په ۲۰۱۶ کال کې ، یوناما دولت ضد عناصرو ته ټولټال ۶۹۹۴ ملکي منسوب شوي ملکي تلفات (۲۱۳۱ مړینې او ۴۸۳۶ ټپي کیدنې) مستند کړي چې دا د ۲۰۱۵ کال په پرتله دوه سلنه زیاتوالی ښیې.[۱۷۹] په ۲۰۱۶ کال کې د دولت ضد عناصرو له خوا را منځ ته شوي ملکي تلفات د ملکي تلفاتو ۶۱ سلنه جوړوي.[۱۸۰]

| | |
|---|---|
| د طالبانو له خوا په عام ډول د ادعا شویو پیښو په پایله را منځ ته شوي ملکي تلفات | ۱۴۶۴ (۳۵۸ مړینې او ۱۱۰۶ ټپي کیدنې) |
| طالبانو ته د منسوب شویو پیښو په نتیجه کې را منځته شوي ملکي تلفات د کومو ادعا چې په څرګند ډول نه ده منل شوې.[۱۸۱] | ۳۴۸۹ (۱۲۶۰ مړینې او ۲۲۲۹ ټپي کیدنې) |
| د هغو پیښو په نتیجه کې را منځ ته شوي ملکي تلفات چې ادعا یې په څرګند ډول داعش/د خراسان ولایت لپاره اسلامي ډلې منلې. | ۷۴۷ (۱۶۶ مړینې او ۵۸۱ ټپي کیدنې) |
| د هغو پیښو په نتیجه کې را منځ ته شوې ملکي تلفات چې د داعش/د خراسان ولایت لپاره د اسلامي ډلې سره تړاو لرونکي کسانو ته منسوب شوي خو ادعا یې په څرګند ډول نه ده شوې. | ۱۵۲ (۴۳ مړینې او ۱۰۹ ټپي کیدنې) |
| نورو دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي ملکي تلفات[۱۸۲] | ۴۳ (۱۸ مړینې او ۲۵ ټپي کیدنې) |
| نا پیژاندو دولت ضد عناصرو ته منسوب شوې ملکي تلفات چېرې چې د منسوبیدلو ادعا په څرګند ډول نه ده شوې یا خاصې ډلې ته منسوبیدل ممکن نه و. | ۱۰۹۹ (۲۸۶ مړینې او ۸۱۳ ټپي کیدنې) |

### تاکتیکونه او د پیښو نمونې چې ملکي کسانو ته یې زیات زیان اړوي.

په ۲۰۱۵ کال کې دوامداره پیژندل شوې تمایلات ، دولت ضد عناصرو په ۲۰۱۶ کال کې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د کارولو له لارې زیات ملکي تلفات را منځ ته کړل چې ۳۱ سلنه یې دولت ضد عناصرو ته منسوب دي.[۱۸۳] ځانمرګې او ډله ییز بریدونه د ملکي تلفاتو دوهم ستر لامل و کوم چې دولت ضد عناصرو ته منسوب شوې چې

---

۱۷۹ په ۲۰۱۵ کال کې ، یوناما دولت ضد عناصرو ته ټولټال ۶۸۷۱ ملکي تلفات (۲۳۲۴ مړینې او ۴۵۴۷ ټپي کیدنې) منسوب کړي.

۱۸۰ په ۲۰۱۵ کال کې د دولت ضد عناصرو له خوا را منځ ته شوي ملکي تلفات د ټولو ملکي تلفاتو ۶۲ سلنه جوړوي.

۱۸۱په ۲۰۱۵ کال کې ، یوناما طالبانو ته ټولټال ۲۵۴۹ ملکي تلفات منسوب کړي د کومو ادعا چې په څرګند دول نه ده شوې او ټولټال ۲۷۳۸ ملکي تلفات نا پیژاندو دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي. په ۲۰۱۶ کال کې طالبانو ته د منسوب شویو ملکي تلفاتو په برخه کې زیاتوالی باید د نا پیژاندو دولت ضد عناصرو ته د منسوب شویو ملکي تلفاتو په برخه کې د کموالې په زمینه کې ولیدل شي.

۱۸۲ یوناما په لاندې توګه پاته ۴۵ سلنه ملکي تلفات منسوب کړي (په عامه توګه د هیڅ پیښې مسولیت نه دی منل شوی): حقاني شبکه (څلور ملکي تلفات)(یوه مړینه او درې ټپي کیدنې)، حزب اسلامي ، ۷ تنه ټپي شوي ملکیان ، لشکر طیبه ، څلور تنه ملکي کسان مړه ، طالبان تحریک پاکستان ، ۱۲ ملکي تلفات(۸ مړینې او ۴ ټپي کیدنې ، ۱۶ ملکي تلفات)(۵ مړینې او ۱۱ ټپي کیدنې ، په ګډه طالبانو او داعش/ خراسان و لایت لپاره اسلامي دله).

۱۸۳په افغانستان کې ، زیاتره ملکي تلفات د ریموټ کنترول له لارې د کنترولیدونکو ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو ، د فشار په ذریعه د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو او د مقناطیسي ځای پر ځای شویو چاودونکو تو کو د کارولو په نتیجه کې را منځ ته کیږي.

۲۸ سلنه یې دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي په کومو کې چې ملکي کسانو ته تلفات اوښتي. یوناما د ۲۰۰۹ کال کې د ملکي تلفاتو د سیستماتیکو ثبتولو د پیل راهیسې، د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو په پایله کې د ملکي تلفاتو تر ټولو ډیر لوړ ارقام مستند کړي- دا د ۲۰۱۵ کال په پرتله د دغه ډول تاکتیکونو په پایله کې ۷ سلنه زیاتوالی ښیې.

د ځمکنیو نښتو په پایله کې را منځ ته شوې ملکي تلفات چې نسبت یې یواځې دولت ضد عناصرو ته ورکول کیږي، په ۲۰۱۶ کال کې د ملکي تلفاتو دریم لوړ ارقام دي چې دولت ضد عناصرو ته منسوب کیږي چې د داسې تلفاتو ۲۱ سلنه جوړوي. د هدفي او عمدي وژنو د پیښو په پایله کې دولت ضد عناصر د ۱۶ سلنې ملکي تلفاتو لامل شوي، په داسې حال کې چې د تهدید او ګواښونو د پیښو پر مهال د تښتونو وروسته، یا د ناچاودو توکو په واسطه کوم چې د دولت ضد عناصرو له خوا په سیمه کې پریښودل کیږي یا د موازي عدلي جوړښتونو له خوا د تطبیق شویو سزاګانو د یوې پایلې په حیث ملکي کسان وژل کیږي یا ټپي کیږي د ملکي تلفاتو پاته درې سلنه جوړوي کوم چې دولت ضد عناصرو ته منسوبیږي.[۱۸٤]

د دولت پلوه ځواکونو له خوا د موازي عدلي جوړښتونو لخوا تطبیق شویو سزاګانو په حواله ملکي تلفات ۳۴ سلنه کم شوې، د هدفي او عمدي وژنو په حواله ۱۶ سلنه کم شوي او د ګواښونو، تهدیدونو او ځورونو د پیښو په زمینه کې پنځه سلنه کم شوي. په داسې حال کې چې د شخړې سره د تړلو ملکي کسانو د تښتونو د پیښو په شمیر کې څه نا څه ۳۳ سلنه کموالی راغلی، په ۲۰۱۶ کال کې د دولت ضد عناصرو له خوا د ملکي کسانو د تښتونو په شمیر کې ۱۰ سلنه زیاتوالی راغلی.[۱۸۵]

د ملکي تلفاتو شمېر کوم چې د یو لړ پیښو په نتیجه کې را منځ ته کیږي او په عامه توګه یې طالبانو مسولیت منلی- ۱۴۶۴ ملکي تلفات (۳۵۸ مړینې او ۱۱۰۶ ټپي کیدنې) دي، چې د ۲۰۱۵ کال په پرتله دوه سلنه کموالی ښیې.[۱۸٦] طالبانو د رسنیو د کارپوهانو ،ملکي دولتي کارکونکو ،قضایي کارکونکو، قومي مشرانو او د بشر پالنې د ماین پاکونکو په شمول د ملکي کسانو او ملکي شتمنیو (۸۲ پیښو) باندې د بریدونو د ترسره کولو مسولیت منلی.[۱۸۷]

د دې علاوه، په کابل کې د څلورو ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو د ترسره کیدو وروسته د دولت ضد عناصر چې د داعش/د خراسان لپاره د اسلامي دولت ډلې په نامه یادیږي د دې وړتیا لري چې خونړې بریدونه ترسره کړي چې له دې جملې په دریو بریدونو کې په ځانګړي ډول شیعه لړکې په نښه شوي.[۱۸۸]

---

۱۸٤ یوناما همدارنګه د ملکي شتمنۍ د عمدي ویجاړولو د یوې پیښې پر مهال د یو ملکي شخص ټپي کیدل مستند کړي.

۱۸۵ په ۲۰۱۶ کال کې، یوناما د ملکي کسانو د تښتولو ۳۶۰ پیښې مستندې کړې د کومو په نتیجه کې چې ۱۳۵ ملکي تلفات (۸۶ مړینې او ۴۹ ټپي کیدنې) را منځ ته شوي، د ملکي کسانو د تښتونې د ۴۱۷ پیښو په پرتله ټولټال ۱۹۰۰ ملکي کسان تښتول شوي چې په نتیجه کې یې ۱۷۲ ملکي تلفات (۱۴۵ مړینې او ۲۷ ټپي کیدنې) را منځ ته شوې او په ۲۰۱۵ کال کې ۱۷۱۳ تنه ملکي کسان تښتول شوي.

۱۸٦ په ۲۰۱۵ کال کې د ۱۴۹۰ ملکي تلفات (۴۳۷ مړینې او ۱۰۵۳ ټپي کیدنې) په پرتله، په ۲۰۱۶ کال، یوناما د پیښو یا د هغو بریدونو په پایله کې چې طالبانو یې په څرګند ډول مسولیت منلی ټولټال ۱۴۶۴ ملکي تلفات (۳۵۸ مړینې او ۱۱۰۶ ټپي کیدنې) مستند کړي.

۱۸۷ د نورو معلوماتو لپاره د طالبانو د ادعا ګانو د مسولیت او عامه بیانونو په هکله څپرکی وګورئ.

۱۸۸ د لا زیاتو معلوماتو لپاره د شیعه مذهبه لړکیو په وړاندې د عمدي فرقه ییز بریدونو؛ د ملکي کسانو او ملکي ځایونو پرضد د عمدي بریدونو؛ او د داعش خراسان ولایت په اړه څپرکي وګورئ.

**د دولت ضد عناصرو لخوا د ملکي وګړو مرګ او ژوبله**
**د جنوری - دسمبر ۲۰۰۹-۲۰۱۶**




## ځای‌پرځای‌شوي چاودېدونکي توکي

*یوه عادي ورځ وه. زه او یو بل زده کوونکی د خپلې ستاژ دورې د بشپړولو لپاره د روغتون په لور روان وو ، ماشومان د ښوونځي په لور روان وو ، او په بازار کې د خلکو ګڼه ګونه وه چې د اړتیا وړ توکي یې پیرل او پېرودل. ناڅاپه یوه چاودنه وشوه. ډېر خلک په وینو لړلي پر ځمکه لوېدلي وو. ماشومانو ژړل ، زه او زما ټولګیوال دواړه ژوبل او په ځمکه پراته وو. دا د ځای‌پرځای‌شوي چاودېدونکي توک چاودنه وه. له هغې ورځ راهیسې زما ژوند په خورا زیات بد حالت واوښت. زما پښه ټپي شوې وه او زیاتره وخت خوربږي. زه اوس نشم کولای چې په اساني سره تر پوهنتونه په‌پښو لاړ شم ، او خپلو درسونو ته حاضر شم. کله چې هغه بوږنوونکې ورځ را په یاد شي ، د ماشومانو د ژړا اورم."*[189]

-- د اکتوبر پر ۲۶ ، د پکتیا ولایت د شرنې ولسوالۍ په بازار کې له لرې واټنه د کنترول شوې ځای‌پرځای‌شویو چاودېدونکو توکو د چاودنې له یوه قرباني سره مرکه ، چې په نوموړې چاودنه کې (د دوو ماشومانو په ګډون) ۱۶ ملکي وګړي ژوبل شول.

که څه هم په ۲۰۱۶ کال کې د ځای‌پرځای‌شویو چاودېدونکو توکو له امله په تلفاتو کې لږ کمښت رامنځته شوی ، خو ځای‌پرځای‌شوي چاودېدونکي توکي په یوې داسې کچې له ملکي وګړو څخه قرباني اخیستلو ته دوام ورکړ ، چې په هېڅ ډول د منلو نه ده.[190] یوناما ۲۱۵۶ ملکي مرګ‌ژوبله(۷۰۰ مړینې او ۱۴۵۶ ژوبلې) ثبت کړې ده ، چې د ځای‌پرځای‌شویو چاودېدونکو توکو له امله رامنځته شوې ، چې دا د ۲۰۱۵ کال د ورته مودې په پرتله ، نهه سلنه کمښت ښیي ، چې عمده لامل یې هم د مقناطیسي بمونو له امله د ملکي تلفاتو کمښت دی.[191] له دې سره ، د ۱۹

۱۸۹ له قرباني سره د یوناما ټیلیفوني مرکه ، پکتیا ولایت ، ګردیز ښار ، اکتوبر ۲۶ ، ۲۰۱۶.
۱۹۰ په ۲۰۱۵ کال کې یوناما د ځای‌پرځای‌شوو چاودېدونکو توکو له امله په رامنځته شوو ملکي تلفاتو کې ۲۰ سلنه کمښت مستند کړی و (۲۳۷۵ ملکي مرګ ژوبله- ۷۱۹ مړه او ۱۶۵۶ ټپیان). د ۲۰۱۴ کال سره په پرتله (۲۲۵۵مرګ ژوبله - ۹۲۵ مړه او ۲۰۳۰ ټپیان).
۱۹۱ په ۲۰۱۵ کال کې ، ځای‌پرځای شوي چاودیدونکي توکي د ۲۳۷۵ ملکي مرګ‌ژوبلې ۷۱۹ مړه او ۶۵۶ ټپیان) لامل شوي دي.

سلنې مرګ ژوبلې د لامل په حیث ځای‌پرځای‌شوي چاودېدونکي توکي د ۲۰۱۶ کال په اوږدو کې د ټولو ملکي تلفاتو دویم مخکښ لامل پاتې شوی ، او دولت ضد عناصرو ته د منسوب شویو مرګ‌ژوبلو مخکښ لامل ګڼل کیږي.[۱۹۲]

په ۲۰۱۶ کال کې ، له ټولو هغو ملکي مرګ‌ژوبلو چې د ځای‌پرځای‌شویو چاودېدونکو توکو له امله رامنځته شوې ، فشاري ماینونه د۵۱ سلنې ، له لرې واټنه کنټرول شوي ماینونه د ۳۷ سلنې ، او مقناطیسي ماینونه د پاتې ۷ سلنې ملکي تلفاتو لامل شوي.[۱۹۳] د فشاري ماینونو له امله رامنځ‌ته شوې ملکي مرګ‌ژوبلې څلور سلنه زیاتې شوې دي.[۱۹۴]

طالبانو د ځای‌پرځای‌شوو چاودېدونکو توکو د ۴۹ پېښو مسؤلیت پرغاړه اخیستی چې په پایله کې یې ۱۴۰ ملکي کسانو ته مرګ ژوبله (۴۸ مړینې او ۹۲ ژوبلې) اووښتې ده.[۱۹۵] په ملکي میشتو سیمو کې د سړکونو او ملکي نقلیه وسیلو په ګډون ، چې خلک یې په منظم ډول کاروي ، د ځای‌پرځای‌شویو چاودېدونکو توکو دوامداره کارونه اوس هم یوه جدي اندېښنه ده. د بېلګې په توګه ، د نومبر په ۹ ، یوه ملکي نقلیه وسیله د کندهار په شاه‌ولی‌کوټ کې پر یوه فشاري ماین وختله ، چې د ماین د چاودنې په نتیجه کې د دوو ماشومانو او څلورو ښځو په ګډون ، اووه ملکي کسان ووژل شول.[۱۹۶]

---

۱۹۲ دغه څېرکي د ځای‌پرځای شوو چاودېدونکو توکو هغه تاکتیکونه څېړي چې عام هدفونه په نښه کوي ، په خلاف د هغو ځای‌پرځای شوو چاودېدونکو توکو چې د هدفي وژنې د ترسره کولو په موخه کارول کېږي. په مجموعي ډول ، یوناما د ځای‌پرځای شوو چاودېدونکو توکو د ګډو تاکتیکونو ( هغو چې عام هدفونه به نښه کوي او هغو چې د ټاکلی شخص پر ضد د عمدي وژنې په موخه کارول کېږي) له امله ۲۴۲۹ ملکي مرګ‌ژوبلې (۷۴۷ مړه او ۱۶۸۲ ټپیان) مستندې کړې دي. یوناما مستند کړې چې د هغو ځای‌پرځای شوو چاودېدونکو توکو له امله چې د هدفي وژنو په ترڅ کې کارول شوي او زیاتره یې مقناطیسي او له لرې واټنه کنټرول شوي ځای‌پرځای شوي چاودیدونکي توکي وي ، ۲۳۷ ملکي کسان مرګ‌ژوبل‌ه رامنځ‌ته شوي دي ، چې دا د ۲۰۱۵ کال په پرتله چې یوناما په‌کې ۹۲۰ ملکي مرګ‌ژوبله (۱۵۸ مړه او ۷۶۲ ټپیان) مستندې کړې ، یوه سلنه کمښت په ډاګه کوي. په ټولیزه توګه ، یوناما په ۲۰۱۶ کال کې د ځای‌پرځای شوو چاودېدونکو توکو د کارولو د ګډو تاکتیکونو له امله په رامنځ‌ته شویو ملکي مرګ‌ژوبلو کې ۱۰ سلنه کمښت مستند کړی دی. یوناما همداراز داسې ځای‌پرځای شوي چاودیدونکي توکي کارونې مستندې کړې چې د ځانمرګي او ډله‌ییزو بریدونو په ترڅ کې کارول شوي وو. په ځان پورې د تړل شویو او په موټر کې د ځای‌پرځای شوو چاودېدونکو توکو په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره ، د ځانمرګي او ډله‌ییز بریدونه څپرکی وګورئ.

۱۹۳ د یوناما له‌خوا د ثبت شویو ځای‌پرځای شوو چاودیدونکو توکو د اصطلاحاتو د تعریفونو لیست وګورئ.

۱۹۴ په ۲۰۱۶ کال کې ، یوناما د فشاري ماینونو له امله ۱۱۰۰ ملکي مرګ‌ژوبلې (۷۴۳ مړه او ۶۲۷ ټپیان) مستندې کړې دي خو بل لور ته په په ۲۰۱۵ کال یوناما ۱۰۵۸ ملکي مرګ‌ژوبلې (۴۶۵ مړه او ۵۹۳ ټپیان) مستندې کړې وې.

۱۹۵ د طالبانو ادعاوې چې په لاندې ادرسونو کې خپرې شوې وې: انګریزي (http://alemarah-english.com/) ، پښتو (http://alemara1.org) ، دري (http://alemarah-dari.com) ، او د ټویټر پر دغه ګڼون باندي: (https://twitter.com/zmujahid5). په وروستي ځل ټولو ادرسونو ته د ۲۰۱۷ د جنوري پر ۹ ورته لاسرسي وشو.

۱۹۶ د ملکي وګړو او د ملکي اهدافو د عمدي هدف نیونې په اړه څپرکی وګورئ.




یوناما پر دولت ضد عناصرو غږ کوي څو په هغو سیمو کې چې ملکي وګړي شتون لري ، د ځای‌پرځای‌شویو چاودېدونکو توکو کاروني بندې کړي. د بشرپالنې نړیوال قانون ټولې خواوې په دې مکلفوي ، چې د(هدفونو د) تفکیک او (د وسلو د کارولو د) تناسب اصولو درناوی وکړي او ټول شوني تدابیر ونیسي څو د ملکي کسانو ترمنځ اتفاقي مړینې ، ټپونه ، او د ملکي کسانو شتمنیو ته د زیان د اووښتو کچه را ټیټه شي.[۱۹۷] یوناما بیا تکراروي چې هغه ځای‌پرځای‌شوو چاودېدونکي توکي ، چې په عمدي ډول ولسي وګړي په نښه کوي ، کېدای شي جنګي جرایم وګڼل شي.[۱۹۸]

یوناما د ماینونو ، غولونکې دام ( شیطاني تلک) او نورو چاودیدونکو توکو پر بندیز چې د ۱۹۸۰یم کال د ټاکلو دودیزو وسلو په دویم الحاقي پروتوکول کې يادې شوې ، د اړوندو مکلفیتونو ته کم تر کم غاړه ایښودلو او تن ایښودنې ټینګار کوي.[۱۹۹] د نورو غوښتنو ترڅنګ ، یاد پروتوکول د ځای پرځای شویو چاودېدونکو توکو بې توپیره او

۱۹۷ په دریېمه ګڼه ماده کې په ضمني ډول ورته اشاره شوې ده ؛ دویمه الحاقیه پروتوکول ، ۴ ، ۱۳ مادې. د بې توپیرو بریدونو په اړه ، وګورئ ، لومړی الحاقیه پروتوکول ،۵۱ ماده ( په نا نړیواله وسله والو شخړو کې د تطبیق وړ نه دی ، خو د عرفي نړیوال قانون په ډول د منلو وړ دی- وګورئ: د نړیوال سره صلیب د کمېټې له‌خوا د نړیوال پر عرفي قانون څېړنه ، ۱۱ مه قاعده): *Prosecutor v. Dusko Tadić*, IT-94-1, Appeals Chamber Decision on the Defence Motion for Interlocutory Appeal on Jurisdiction, 2 October 1995, para. 127 ، د غیر متناسب بریدونو په اړه وګورئ ، لومړی الحاقیه پروتوکول ، ۸۵ (۳) (ب) مادې (په غیر نړیواله وسله والو شخړو کې د تطبیق وړ نه دی ، خو د عرفي نړیوال قانون په ډول د منلو وړ دی- وګورئ: د نړیوال سره صلیب د کمېټې له‌خوا د نړیوال پر عرفي قانون څېړنه ، له ۱۵ تر ۲۲ مې قاعدې).

۱۹۸ جنګي جرمونه هغه عملونه چې د دویمې الحاقي پروتوکول د ۴ (۲) مادې پر اساس منع شوې وي ؛ د ملکي وګړو او ملکي شیانو پرضد عمدي برید ترسره کول ؛ وګورئ: د جنګي جرمونو د نړیوالې محکمې د اساسنامې ۸ (۲) (c)، ۸ (e) (i) ؛ د نړیوال سره صلیب د کمېټې له‌خوا د نړیوال پر عرفي قانون څېړنه ، ۱۵۶ قاعده.

۱۹۹ د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر د ۲۰۱۷ د جنوري پر ۱۵ د پیوستون یو سند (Instrument of Accession) لاسلیک کړ ، څو د ۱۹۸۰یم کال د دودیزو وسلو کنوانسیون (Convention on Certain Conventional Weapons) او اړوندې لومړی او دویمه الحاقي پروتوکولونه (لکه څرنګه چې په ۱۹۹۶ کې تعدیل شوي دي) ، دریېمه ، څلورمه ، او پنځمه الحاقي پروتوکولو نه تصویب کړي - د یاد سند کاپي د یوناما په ریکارډونو کې ثبته ده. د بهرنیو چارو وزیر د جولای پر ۲۶ ، نوموړی سند د یاد کنوانسیون او د هغه اړوندو الحاقي پروتوکولونو د تصویب د طرزالعملونو سره سم ،د ملګرو ملتونو سرمنشي دفتر ته تسلیم کړ. دغه معلومات د ۲۰۱۷ کال د جنوري پر ۲۶ ، د یوه ایمیل چې د یوناما او د ماینونو د پاکولو د همغږي ریاست/ بهرنیو چارو وزارت ترمنځ د تبادله شوې ایمیلونو له لارې تر لاسه شوي دي. نو په دې اساس ، نوموړي کنوانسیون او د هغې اړوندې الحاقي پروتوکولونه د ۲۰۱۷ د جنوري پ۶ ۲۶ ، په رسمي ډول په افغانستان کې مرعي الاجرا کېږي. د ۱۹۸۹ یم کال د ټاکلو دودیزو وسلو کنوانسیون او د هغې اړوند الحاقی پروتوکولونه د "ماینونو ، تلکي ماینونو او نورو الو" د کاروني په برخه کې د تطبیق وړ دي. د پروتوکول ۲ (۵) مادې " نورې الې " داسې تعریفوي: "هر ډول ځای‌پرځای شوي چاودیدونکي توکي چې د وژلو ، ژوبلولو ، او زیانمن کولو لپاره جوړ شوي وي ، کومي چې په لاس ، د ریموټ کنټرول له لارې ، یا په اتوماتیک ډول د وخت په تیرېدو فعاله شي." ۲(۴) ماده "تلکي ماین" داسې تعریفوي: "هرې الې یا توکي چې داسې جوړ شوی ، او تغییر په‌کې راوستل

نامتناسبه کاروني او همدارنګه د دغه دولو وسلو د ملکي وګړو او ملکي شیانو پر ضد کارول منع کوي.[۲۰۰] پر دې سربېره ، یاد پروتوکول همدارنګه د ځای پرځای شویو چاودېدونکو توکو هغه کاروني هم منعې کوي ، چې ښايي له اړتیا زیات ژوبلتیا او ربړېدني رامنځته کړي ، او له ښکېلو خواوو په کلکه غوښتنه کوي چې باید ټول ممکنه تدابیر ونیسي ، څو ملکي خلک د دغو توکو له اغیزو خوندي وساتي ، چې د دغو تدابیرو په دله کې ښايي یو دا وي ، چې د نوموړیو توکو پر ځای نور بدیل توکي وکارول شي. [۲۰۱] یاد پروتوکول همدارنګه په شخړه کې ښکېلې خواوې په دې مکلفوي ، چې وار د مخه د ځای‌پرځای‌شوو توکو د کاروني په اړه چې ښايي ملکي کسانو ته زیانونه واړوي ، خلکو ته خبرتیاوې ورکړي ، خو که شرایط د دغه مکلفیت سر ته رسولو ته اجازه ور نه کړي.[۲۰۲]




---

شوي څو مرګ او ژوبله رامنځ ته کړي. ، په ظاهر دول بې ضرره ښکاري او مضر نه لیدل کیږي خو کله چې یو کس په‌کې ګوتې وهي او یا ورنږدي کېږي په ناځاپه چوي.“ په دې تعریف کې فشاري ماینونه هم شاملي دي.

۲۰۰ د ۱۹۸۰ کال د ټاکلو دودیزو وسلو پورې اړوند دویم تعدیل شوی پروتوکول (۱۹۹۶) ماده ۳ (۷)، (۸).

۲۰۱ د ۱۹۸۰ کال د ټاکلو دودیزو وسلو پورې اړوند دویم تعدیل شوی پروتوکول (۱۹۹۶) ماده ۳ (۳)، (۱۰). همدا راز وګورئ ۷مه ماده (پر کارولو بندیز). یوناما ملاحظه کړې چې دا دول محدودیتونه وار د مخه په افغانستان کې د نړیوال بشرپالنې قانون له مخې تطبیق شوي دي.

۲۰۲ د ۱۹۸۰ کال د ټاکلو دودیزو وسلو پورې اړوند دویم تعدیل شوی پروتوکول (۱۹۹۶) ماده ۳ (۱۱). یاد پروتوکول همدا رنګه په هغو سیمو کې د ورته الو کارول بندوي ، چې په‌کې د ملي وګړو ګڼه ګوڼه زیات وي مګر چې یادې الې نظامي اهدافو ته ډېر نږدې ځای پر ځای شوې وي ، یا چې له مخکې داسې تدبیرونه نیول شوې وي چې به مټ یې ملکي کسان د هغو الو له ناوړو اغېزو وژغورل شي ، په هغو تدبیرونو کې ، ملکي وګړو ته له مخکې اخطار ورکول هم شامل دی. وګورئ: د ۱۹۸۰ کال د ټاکلیو دودیزو وسلو پورې اړوند دویم تعدیل شوی پروتوکول (۱۹۹۶) ماده ۷ (۳) همدا راز ۳۳م پایلیک وګورئ.

**په جلال آباد ښار کې د نومبر پر ۲۵ ، د ځای‌پرځای شوو چاودېدونکو توکو درېيو جلا جلا چاودنو ۳۷ ملکي وګړو ته مرګ ژوبله واړوله**

د نومبر پر ۲۵ ، درې ځای‌پرځای‌شوي چاودېدونکي توکي چې موخه يې افغان ملي پوليس وه ، د ننګرهار ولايت د جلال آباد په ښار کې وچاودېد او (د يوه ماشوم په ګډون) يې پنځه ملکي کسان ووژل او (د ۱۱ ماشومانو په ګډون) يې ۳۲ نور کسان ټپيان کړل. د دغو ملکي تلفاتو سربېره نومورې چاودنې د ملي امنيت د ځواکونو يو غړی هم وواژه او درې نور يې ټپيان کړل.

له لرې واټنه کنترول شوی دوه ځای‌پرځای‌شوي چاوديدونکي توکي د جلال اباد ښار دويم زون ته څېرمه وچاودېده. لومړني ځای‌پرځای‌شوي چاوديدونکي توکي د افغان ملي امنيتي ځواکونو د يوې نقيله وسيلې په وړاندې  وچاوديد او يو ملکي سړی يې وواژه او (د دوو نجونو په ګډون) اته نور يې ټپيان کړل. څه ناڅه يو ساعت وروسته دويم ځای‌پرځای‌شوي چاوديدونکي توکي وچاوديدل ، چې موخه يې هغه افغان ملي امنيتي ځواکونه وو چې د پخوانۍ چاودنې د قربانيانو په ژغورنه بوخت وو ، د دې چاودنې په نتيجه کې دوه ملکي کسان ووژل شول او (د دوو ماشومانو په ګډون)، ۱۵ نور ټپيان شول. په همدغو شېبو شاو خوا کې ، دريم (نا پيژندل شوي) ځای‌پرځای‌شوي چاوديدونکي توکي د جلال آباد ښار د څلورم زون په سيمه کې د ملي پوليسو د يوه لوړ رتبه افسر د کور په مخ کې وچاودېدل چې يو نارينه ملکي کس يې وواژه او اته نور هلکان يې ټپيان کړل ، د نومورې چاودنې مسؤليت  د ښکېلو خواوو هېڅ يوې پرغاړه وانه‌خيست.

هغه ملکي تلفات چې په ګڼ‌ميشتو سيمو کې د ځای پرځای‌شوي  چاودېدونکو توکو د تاکتيکي کارونې لامله رامنځته کېږي د هغو تاکتيکونو په ګډون چې   ژغورونکی په کې په نښه کېږي ،کيدای  شي  جنګي جرايم وګڼل شي  چې په ملکي سيمو کې د نومورې  توکو د تاکتيکي کارونې پر ملکي کسانو  ناوړه  اغېزې  څرګندوی.[۲۰۳] د دولت ضد عناصر بايد په ملکي ګڼ‌ميشتو سيمو کې د ځای پرځای‌شوو چاوديدونکو توکو کارونې ودروي.

---

۲۰۳  جنګي جرمونه لاندې عملونو ته لاس پورې کول رانغاړي: د هغو کسانو د ژوندانه او شخصيت پر ضد چې په جګړه ييزو فعاليتونو کې ونډه نه لري د ژنيو د کنوانسيون د درېيمې مشترکې مادې ۳ (۱) له مخې منع شوې عملونه د هغوي پر ژوند او شخصيت باندې د تيرې په ګډون ؛ هغه عملونه چې د دويم  الحاقي پروتوکول ۴(۲) مادې له مخې منع شوي وي ؛ او هغه بريدونه چې په عمدي ډول ملکي وګړي يا ملکي شيان په نښه کوي. وګورئ : د نړيوالې جنايي محکمې اساسنامه ، Articles 8(2)(c), 8(2)(e)(i) ، د نړيوال سره صليب د کميټې له خوا پر نړيوال دوديز بشرپالنې قانون څېړنه ۱۵۶ قاعده. په داسې حال کې چې د نړيوال جرمونو  د محکمې اساسنامه ، په څرګند ډول ، بې توپيره او بې تناسبه بريدونه په غير نړيوالو وسله والو شخړو کې جرم نه ګڼي ، خو ورته بريدونه ښايي په ځينو شرايطو کې د داسې نتيجه ګيري سبب شي چې ګواکې دا د ولسي وګړو پرضد تر سره شوې بريدونه وو. د مثال په توګه وګورئ: Prosecutor v. Stanislav Galić, Case No. IT-98-29-A, Appeal Judgement, 30 November 2006, paras. 132, 133 ، همدا راز وګورئ: د نړيوال سره صليب د کميټې  نړيوال عرفي بشرپالنې قانون ، قاعده ۱۵۶ ؛ د نړيوالو جرمونو د محکمې اساسنامه ، ماده ۸ (2) (c) ، ۸ (2) (e) (i) ؛ *Prosecutor v. Dusko Tadić*, IT-94-1, Appeals Chamber Decision on the Defence Motion for Interlocutory Appeal on Jurisdiction, 2 October 1995, paras. 120-127.

**د ملکي وګړو مرګ ژوبله : ځاي په ځای شوي چاودیدونکي توکي په سیمه ییزه کچه**
**د جنوری - دسمبر ۲۰۰۹-۲۰۱۶**




| | مرکزی سیمه | مرکزی لوړه سیمه | ختیځ | شمال ختیځ | شمال | جنوب ختیځ | جنوب | لودیځ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2009 | 90 | 0 | 101 | 52 | 47 | 383 | 1079 | 125 |
| 2010 | 108 | 0 | 233 | 199 | 129 | 554 | 1316 | 207 |
| 2011 | 106 | 0 | 234 | 176 | 149 | 597 | 906 | 292 |
| 2012 | 179 | 0 | 181 | 151 | 230 | 653 | 876 | 261 |
| 2013 | 138 | 39 | 288 | 137 | 254 | 675 | 1109 | 253 |
| 2014 | 204 | 7 | 437 | 288 | 329 | 451 | 1018 | 221 |
| 2015 | 213 | 15 | 286 | 263 | 221 | 419 | 750 | 208 |
| 2016 | 139 | 13 | 225 | 206 | 415 | 280 | 692 | 186 |

*فشاري چاودېدونکي توکي*

*"د یوه باروړونکي موټر په واسطه مې غوریانو ولسوالي ته بوس لېږدول. د سفر په اوږدو کې د سړک یوه خراب ځای ته ورسیدم، اړ شوم چې موټر د سړک پر څنډې وچلوم، ناڅاپه د فشار سره فعالیدونکي ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي زما د باروړونکي موټر تر څنګ وچاودید. زه د څو دقیقو لپاره بې هوښه شوم، چې کله په هوښ شوم، خپل ځان مې د باروړونکي موټر تر باډي لاندې وموند. زما کینه پښه پرې شوې وه او زما د سفر ملګری - زموږ د کلي یو سپین ږیری سړی- ټپي شوی و."*[204]

-- د فشار سره فعالیدونکو ځاي پرځاي شویو چاودېدونکو توکو د چاودنې قرباني، چې د اګسټ پر ۱۵، د هرات ولایت د غوریانو په ولسوالۍ کې د دوو ملکي کسانو د ټپي کېدو لامل شوه.

په ۲۰۱۶ کال کې، یوناما د ملکي وګړو ۱۱۰۰ مرګ ژوبلې (۴۷۳ مړینې او ۶۲۷ ژوبلې) ثبت کړې دي، چې د ۵۵۵ فشاري چاودېدونکو توکو د چاودنو له امله رامنځته شوې دي، چې د ۲۰۱۵ کال په پرتله څلور سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي.[205] فشار سره چاودېدونکي توکي د ملکي تلفاتو د نهه سلنې لامل و. د فشاري چاودېدونکو توکو د بې توپیره ماهیت په پام کې نیولو سره، یوناما په دې اړه ډیره اندیښمنه ده چې یو خوا د فشار سره فعالیدونکي چاودیدونکي

---

۲۰۴ د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر پر ۱۸، په تخار ولایت کې له شاهد سره د یوناما مرکه.

۲۰۵ په ۲۰۱۵ کال کې، یوناما د فشاري ماینونو له امله ۱۰۵۸ ملکي مرګژوبلې (۴۶۵ مړینې او ۵۹۳ ژوبلې) مستندې کړې دي.

توکي د زيات شمير ملکي وګړو د مرګ‌ژوبلې لامل کيږي  او بل لور  ته د زيات شميره فشاري چاودېدونکو توکو کارونې خورا زيات ملکي تلفات رامنځته کوي.[۲۰۶]

يوناما پر دې ټينګار کوي ، چې له هغه ځايه چې فشاري چاودېدونکي توکي د قرباني په وسيله فعاله کېږي ، د فشاري چاودېدونکي توکي کارونه ښايي د بشرپالنې نړيوال قانون نقض کړي ، ځکه چې د فشاري چاودېدونکو توکو ماهيت نه تفکيک کوونکی دی.[۲۰۷] کله چې فشاري چاودېدونکي توکي ځای‌پرځای شي ، نور نو د دې وړتيا نه لري چې کوم ځانګړی هدف ته ځان سم کړي او له همدې امله د دوي خطر تل ملکي وګړو ته متوجه دی.

په ۲۰۱۶ کال کې د دولت ضد عناصرو پر هغو سړکونو چې خلکو ترې ګټه اخيسته ،د فشاري چاودېدونکو توکو د ځای‌پرځای کولو ته ادامه ورکړه. د بېلګې په توګه ، د ډسمبر په ۵ مه يوه فشاري چاودېدونکې اله (د يوه پنځه کلن هلک ، او يوې ۱۸ مياشتنۍ نجلۍ په ګډون) د يوې کورنې پنځه غړي کله چې دوي د پکتيکا ولايت د ديلا په ولسوالۍ کې جنازې ته روان وو ، ووژل.

يوناما د هغو ملکي تلفاتو په اړه سخته اندېښمنه ده ، چې د دولت ضد عناصرو له‌خوا په هغو ګڼ ميشتو سيمو کې پر سړکونو د ښځو شويو فشاري ماينونو په وسيله رامنځ ته کيږي ، چې د دوي تر کنترول لاندې دي ، يا په هغو سيمو کې چې دوي يې تر ولکې لاندې د راوستلو په هڅه کې دي ، په ځانګړي ډول په هلمند کې. د اګست له ۱ څخه د ډسمبر تر ۳۱ پورې يوناما په هلمند ولايت کې د فشاري چاودېدونکو توکو د چاودنو په پايله کې رامنځته شوې ۷۱ ملکي مرګ ژوبلې (۳۳ مړينې او ۳۸ ژوبلې) مستندې کړې دي ، چې دا د ۲۰۱۵ کال د ورته مودې په پرتله ، ۴۸ سلنه زياتوالی په ډاګه کوي. يادې پيښې په هلمند کې د طالبانو له هغو پراخو بريدونو سره هم مهالې وې چې د ټول ولايت په کچه او په ځانګړې ډول لشکرګاه ښار ته څېرمه ترسره شوي وو.[۲۰۸] د بېلګې په توګه ، د سپتمبر په ۳۰ ، د هلمند په نادعلی کې ، يوې فشاري چاودېدونکې آلې (د شپږو ماشومانو او دوه ښځو په ګډون) د يوې کورنۍ نهه غړي ، چې د لښکرګاه په لوري له جګړې نه په تېښته وو ، هغه وخت ووژل ، چې موټر يې پر يوې چاوديدونکې آلې وربرابر شو.[۲۰۹]

يوناما په ډېرو کلکو ټکو  پر دولت ضد عناصرو غږ کوي چې په سملاسي توګه ، د فشاري چاودېدونکو توکو کارونه ودروي او ټول ځای‌پرځای‌شوي توکي له خپلو ځايونو لرې ، او يا يې بې خطره کړي.

---

۲۰۶  وګورئ: په وسله واله شخړه کې د ملکي وګړو ساتنه د يوناما د ۲۰۱۵ کال کلنی راپور ، ۳۹م مخ. په ۲۰۱۵ کال کې ، د فشاري ماينونو د چاودنې ۴۷۹ پېښې مستندې کړې دي چې په ترڅ کې يې ملکي مرګ ژوبلې رامنځته شوې دي ، د ۲۰۱۶ کال سره په پرتله چې په‌کې د فشاري ماينونو د چاودنې ۵۵۵ پېښې مستندې شوې وې.

۲۰۷  د ژنيو د کنوانسيونو په دريېمه ګډه ماده کې په ضمني ډول ورته اشاره شوې ده ؛ دويمه الحاقيه پروتوکول ،۴.۱۳ ۳ مادې. د بې توپيرو بريدونو په اړه ، وګورئ ، لومړی الحاقيه پروتوکول ،۵۱ ماده ( په غير نړيوالو وسله والو شخړو کې د تطبيق وړ نه دی ، خو د عرفي نړيوال قانون په ډول منل شوې ده- وګورئ: د نړيوال سره صليب د کميټې له‌خوا د نړيوال پر عرفي قانون څېړنه ، ۱۱مه قاعده): *Prosecutor v. Dusko Tadić*, IT-94-1, Appeals Chamber Decision on the Defence Motion for Interlocutory Appeal on Jurisdiction, 2 October 1995, para. 127. د هغه مکلفيت په اړه چې بايد ټول شونې احتياطي تدبيرونه ونيول شي او داسې جنګي وسيلې او کړنلارې غوره شي چې په مټ يې ملکي کسانو ژوند ته او ملکي شيانو ته د غير عمدي زيان د اوښتو او د ملکي کسانو د ټپي کېدنې ډډه وشي ، په دې اړه وګورئ ، لومړی الحاقيه پروتوکول ، ۵۷ (۲) (a) (ii) ماده وګورئ (چې په غير نړيوالو وسله والو شخړو کې د تطبيق وړ نه ده ، خو د عرفي نړيوال قانون په ډول د منلو وړ ده- وګورئ: د نړيوال سره صليب د کميټې له‌خوا د نړيوال پر عرفي قانون څېړنه ، ۱۷ قاعده).

۲۰۸  د اګست د ۱ او د اکتوبر د۳۱ ترمنځ ، يوناما په هلمند کې د فشاري ماينونو له امله ۴۸ ولسي مرګ ژوبلې (۲۹ مړينې او ۱۹ ژوبلې) مستندې کړې دي.

۲۰۹  د اکتوبر پر ۲ ، يوناما يوه مطبوعاتي اعلاميه خپره کړه ، چې په علني ډول د دغې پېښې او د بلې پېښې چې په بادغيس ولايت کې د سپتمبر پر ۹ ، (د څلورو ماشومانو او دريو ښځو په ګډون) د يوې کورنې ۱۰ غړي ووژل) ياده اعلاميه په لاندې پته د لاسرسي وړ ده: http://unama.unmissions.org/unama-condemns-killing-19-civilians-pressure-plate-ied-incidents ، په وروستي ځل ، د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر پر ۵ ورته لاسرسی وشو.




*له لرې واټنه کنترول شوي ماینونه*

په ۲۰۱۶ کال کې، یوناما ۸۰۵ ملکي مرګ ژوبلې (۱۶۵ مړیني او ۶۴۰ ژوبلې) مستند کړي دي چې د له لرې واټنه کنترول شویو ماینونو له امله رامنځته شوي چې د ۲۰۱۵ کال په پرتله شپږ سلنه زیاتوالی ښيي.[۲۱۰]

له لرې واټنه د کنترول شویو ماینونو طرح/ډیزاین داسې دی، چې عملي کوونکي ته زمینه برابروي څو ځای‌پرځای‌شوې آله په یو مشخص وخت ،او د یوه ځانګړې هدف په وړاندې وچوي، چې دغه چاره د فشاري ځای پرځای‌شوو چاودیدونکو توکو په پرتله په هدف نیولو کې ډیر دقت رامنځته کوي. سره له دې د ۲۰۱۶ کال په اوږدو کې دولت ضد عناصرو د افغان ملي امنیتي ځواکونو د نښه کولو په لړ کې په عامه ځایونو کې د له لرې واټنه کنترول شویو ماینونو کارولو ته ادامه ورکړه، چې ډیر ځل زیاتو ملکي وګړو ته د مرګ ژوبلو د اووښتو سبب شو. د مثال په توګه، د اکتوبر په ۳، د جوزجان په درزاب ولسوالۍ په بازار کې له لرې واټنه کنترول شوي یو ماین چې د افغان محلي پولیسو د هدف نیولو په موخه ځای‌پرځای‌شوي و، وچاودید او (د خلورو ماشومانو په ګډون) اوه ملکي کسان یې ووژل او (د ۱۶ هلکانو په ګډون) ۵۳ نور یې ټپیان کړل.

یوناما له دې پلوه چې د دولت ضد عناصر د لرې واټنه کنترول شویو ماینونو په کارولو سره څېل بریدونه ملکي کسانو ته متوجه کړي، په زیاته کچه اندېښمنه ده. د ډسمبر په ۹، په دره صوف پایین کې د لرې واټنه کنترول شوي یوه آله د یوه درملتون دننه وچاودیده، چې په نتیجه کې یې درې ملکي کسان ووژل، او د یوې نجلۍ په ګډون خلور ملکي کسان ټپیان شول. د دولت ضد عناصرو هغه مهال دغه آله وچوله چې په نښه شوی یو داکټر د ناروغانو د معاینې په حال کې و.[۲۱۱]

۲۱۰ په ۲۰۱۵ کال کې، یوناما د ریموټ کنټرول ځای‌پرځای شوو چاودېدونکو توکو له امله ۷۶۳ ملکي مرګ‌ژوبلې (۱۴۴ مړیني او ۶۱۹ ژوبلې) مستندې کړې دي.
۲۱۱ د ملکي وګړو او ملکي اهدافو باندې ترسره شوي بریدونو څېرکې وګورئ.

یوناما یو ځل بیا ، په شخړه کې له ټولو ښکیلو خواوو په ټینګه غوښتنه کوي ، چې د بشرپالنې د نړیوال قانون لاندې خپلو مکلفیتونو ته ژمن واوسي ، د ملکي کسانو له مستقیم هدف نیولو څخه ډډه وکړي ، او د تفکیک او تناسب اصولو درناوی وکړي.[212] که چیرې دوي د دې مکلفیت په پوره کولو کې پاتې راشي ، ښایي دا کار په ځینو ځانګړیو مواردو کې جنګي جرم وګڼل شي.[213] په شخړه کې ښکیلې غاړې باید د جګړه ییزو فعالیتونو په ترځ کې ملکي وګړو ته د اتفاقي زیانونو د اووښتو کچه ټیټه کړي.

*مقناطیسي ځای‌پرځای‌شوي چاودیدونکي توکي*

یوناما په ۲۰۱۶ کال د مقناطیسي ځای‌پرځای‌شوو چاودیدونکو توکو د چاودنو له امله ۱۰۳ ملکي مرګ‌ژوبلې (۱۳ مړینې او ۹۰ژوبلې) مستندې کړې دي ، چې دا د ۲۰۱۵ کال په پرتله ۳۴ سلنه زیاتوالی ښیي.[214] یوناما ملاحظه کړې ، چې د دولت ضد عناصر په عام ډول مقناطیسي ځای‌پرځای‌شوي چاودیدونکي توکي د افغان ملي امنیت ځواکو په نقلیه وسایطو کې ځای‌پرځای کوي. زیاتره ملکي مرګ‌ژوبلې له همدغو چاودنو له امله رامنځته شوې ، کله چې په نقیله وسیلې پورې نخښلول شوي توکي په ملکي میشتو سیمو کې او یا چې په نقلیه وسیلې کې ملکي کسان سپاره وي ، چول کیږي. د مثال په توګه ، د نومبر په ۴ د فراه په خاک سفید کې یوه مقناطیسي چاودیدونکي آله چې د افغان ملي پولیسو په یوې واسطې پورې نښلول شوې وه د بازار په سیمه کې وچاودید چې په پایله کې یې (د دوو هلکانو په ګډون) درې ملکي کسان ووژل او لس تنه نور یې ټپیان کړل.

۲۱۲ د ژنیو د کنوانسیونو په دریېمه ګډه ماده کې په ضمني ډول ورته اشاره شوې ده ؛ دویم الحاقیه پروتوکول ، ۴.۱۳مادې. د بې توپیرو بریدونو په اړه ، وګورئ ، لومړی الحاقیه پروتوکول ،۵۱ ماده ( په غیر نړیوالو وسله والو شخړو کې د تطبیق وړ نه دی ، خو د عرفي نړیوال قانون په ډول منل شوې ده- وګورئ: د نړیوال سره صلیب د کمېټې لەخوا د نړیوال عرفي قانون څېړنه ، ۱۱مه قاعده): *Prosecutor v. Dusko Tadić*, IT-94-1, Appeals Chamber Decision on the Defence Motion for Interlocutory Appeal on Jurisdiction, 2 October 1995, para. 127. د بې تناسبه بریدونو په اړه وګورئ ، لومړی الحاقیه پروتوکول ، ۸۵ (۳) (b) مادې (په غیر نړیواله وسله والو شخړو کې د تطبیق وړ نه دی ، خو د عرفي نړیوال قانون په ډول د منلو وړ دی- وګورئ: د نړیوال سره صلیب د کمیټې لەخوا د نړیوال د عرفي قانون څېړنه ، ۱۴ قاعده). همدا راز وګورئ: داحتیاط په اړه د لومړی الحاقي پروټوکول ۵۷ ماده وګورئ ، ( چې په داخلي جګړو کې د تطبیق وړ نده ، خو د نړیوال عرفي قانون په حیث منل شوې — په دې اړه د نړیوال سره صلیب د بشرپالنې د نړیوال عرفي قانون ۱۵-۲۲ پورې اصول وګورئ). د ژنیو د ۱۹۴۹ کال د کنوانسیون لومړی الحاقي پروتوکول ، ۴۸ ۴۸.۵۲ مادې ، (په غیر نړیوالو وسله والو شخړو کې د تطبیق وړ نه دي ، خو د عرفي نړیوال قانون په ډول منل شوې دي)؛ د نړیوالو جرمونو د محکمې اساسنامه ، ۸ (۲) (c) ماده او ۸ (۲) (e) (i)؛ د نړیوال سره صلیب د کمېټې لەخوا د نړیوال پر عرفي قانون څېړنه ، ۱۷ ، ۱۵۷ قاعدې). د نړیوال سره صلیب د کمیټې لەخوا پر ۳مې مشترکې مادې بیاکتل شوې تبصرې ۲۰۱۶.

۲۱۳ جنګي جرمونه لاندې عملونو ته لاس پورې کول رانغاړي: د هغو کسانو د ژوندانه او شخصیت پر ضد چې په جګړه ییزو فعالیتونو کې ونډه نه لري د ژنیو د کنوانسیون د دریېمې مشترکې مادې ۳ (۱) له مخې منع شوې عملونه د هغوي پر ژوند او شخصیت باندې د تیري په ګډون ؛ هغه عملونه چې د ویم الحاقي پروتوکول ۴(۲) مادې له مخې منع شوي وي ؛ او هغه بریدونه چې په عمدي ډول ملکي وګړي یا ملکي شیان په نښه کوي. وګورئ : د نړیوالې جنایي محکمې اساسنامه ، Articles 8(2)(c), 8(2)(e)(i) ، د نړیوال سره صلیب د کمېټې له خوا پر نړیوال دودیز بشرپالنې قانون څېړنه ۱۵۶ قاعده. په داسې حال کې چې د نړیوال جرمونو د محکمې اساسنامه ، په څرګند ډول ، بې توپیره او بې تناسبه بریدونه په غیر نړیوالو وسله والو شخړو کې جرم نه ګڼي ، خو ورته بریدونه ښایي په ځینو شرایطو کې د داسې نتیجه ګیري سبب شي چې ګواکې دا د ولسي وګړو پرضد تر سره شوې بریدونه وو. د مثال په توګه وګورئ: *Prosecutor v. Stanislav Galić*, Case No. IT-98-29-A, Appeal Judgement, 30 November 2006, paras. 132, 133 ، همدا راز وګورئ: د نړیوال سره صلیب د کمیټې نړیوال عرفي بشرپالنې قانون ، قاعده ۱۵۶.

۲۱٤ په ۲۰۱۵ کال کې ، یوناما د مقناطیسي ماینونو له امله رامنځته شوې ۱۵۷ ولسي مرګ ژوبلې مستندې کړې دي.

## ځانمرګي او ډله ییز بریدونه[۲۱۵]

*"زه او زما نیکه له عاشورا وروسته د اربعین په نمانځغونډه کې ګډون کړی و. زیات شمېر عبادت کوونکي جومات کې راغونډ شوي وو څو د مشرانو او امامانو خبرې واوري او همدارنګه د غرمې ډوډۍ وخوري. موږ دننه په جومات کې وو او ومې‌لید چې یو بریدکوونکی جومات ته راننووت. بریدګر یو درې څلور متره را ننوت او خپل ځان یې وچاوه، وروسته له دې، ماته هیڅ نه دي په یاد، کله چې مې سترګې وغړولې ځان مې د روغتون پر بستر وموند."*[۲۱۶]

--دیارلس کلن هلک چې د داعش له‌خوا په ادعا شوي ځانمرګي برید کې سخته ټپي شوی و، نوموړی برید چې د نومبر په ۲۱، د کابل ښار د شیعه مذهبه مسلمانانو په یوه جومات کې د زیاتې ګڼې ګوڼې پر مهال تر سره شو، په برید کې ۴۰ تنه ملکي کسان مړه او ۴۷ نور یې ټپیان کړل[۲۱۷].

یوناما له هغه راهیسې چې په ۲۰۰۹ کال کې په سیستماټیک ډول د ملکي وګړو د مرګ‌ژوبلو د ثبتولو لړۍ پیل کړې، د ځانمرګو او ډله‌ییزو بریدو نو په نتیجه کې د ملکي مرګ‌ژوبلو تر ټولو زیاتې شمېر پېښې په ۲۰۱۶ کال کې ثبت کړې دي.[۲۱۸] یوناما د دغو تاکتیکونو په پایله کې رامنځته شوي، ۱۹۳۶ ملکي مرګ‌ژوبلې(۳۹۸ مړینې او ۱۵۶۵ ژوبلې) ثبت کړې، چې د ۲۰۱۵ کال په پرتله، اوه سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي.[۲۱۹] ځانمرګي او ډله‌ییز بریدونه په ۲۰۱۶ کال کې د ملکي مرګ ژوبلو دریم مخکښ لامل د ی او د هغه ملکي مرګ ژوبلې دویم مخکښ لامل دی چې دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي دي چې د ۱۷ سلنه ملکي تلفاتو لامل ګرځیدلي .

په ۲۰۱۶ کال کې، یوناما ۱۰۱۸ مرګ‌ژوبله (۱۹۰ مړینې او ۸۲۸ ژوبلې) طالبانو ته منسوب کړې چې د ځانمرګو او ډله‌ییزو بریدونو له کبله رامنځته شوې وې، خو بیا په ۲۰۱۵ کال کې د ۸۴۰ مرګ‌ژوبله (۱۵۴ مړینې او ۶۸۶ ژوبلې) طالبانو ته منسوب شوې وې. د جنوري د ۱ او د دسمبر د ۳۱مې تر منځ یوناما د ۲۶۶ ملکي وګړو مرګ‌ژوبله (۶۳ مړه او ۲۰۳ ټپیان) چې د ځانمرګو او ډله‌ییزو بریدونو له امله رامنځته شوې وې، په عمومي ډول دولت ضد عناصرو ته منسوب کړې او کوم ځانګړې ډلې ته منسوب شوي ندي.[۲۲۰]

طالبانو په ۲۰۱۶ کې، له ۴۲ مستنده شویو ځانمرګو او ډله‌ییزو بریدونو څخه د ۲۰ پېښو مسؤلیت منلی چې په نتیجه کې یې ۹۸۳ ملکي مرګ‌ژوبلې (۱۸۲ مړه او ۸۰۱ ټپیان) رامنځته شوې. داعش په ۲۰۱۶ کې د پنځو ځانمرګو او ډله‌ییزو بریدونو پېښو مسؤلیت پرغاړه واخسیت چې له امله یې ۶۶۱ ملکي مرګ ژوبلې (۱۴۳ مړه او ۵۱۸ ټپیان) رامنځته شوي.

---

۲۱۵ د (ډله‌ییز برید) په اړه د یوناما تعریف د هغه قصدي او همغږي شوي برید څخه دی چې په کې ځان‌مرګي وسله ( د مثال په ډول په بدن پورې تړل شوي ځای‌پرځای‌شوی چاودیدونکي توکي، په موټر کې ځای‌پرځای‌شوی چاودیدونکي توکي ) د یوه څخه زیات بریدګر او یوې وسیلې څخه زیاتې وسیلې (لکه په بدن پورې تړل شوي ځای‌پرځای‌شوي چاودیدونکي توکي او هاوانونه) شامل وي. دغه ټول درې واړه عناصر باید په یوه برید کې شامل وي تر څو هغه برید وګڼل شي.

۲۱۶ د ۲۰۱۶ کال د نومبر پر ۲۴، په کابل ښار کې له قرباني سره د یوناما مرکه.

۲۱۷ داعش د خپل نشراتي ارګان (اعماق خبري اژانس) له لارې د نومبر ۲۱ برید مسؤلیت پر غاړه واخیست، چې په لاندې بریښنایي پته د لاسرسي وړ دی: https://news.siteintelgroup.com/Jihadist-News/is-claims-killing-wounding-nearly-200-shi-ites-in-suicide-bombing-in-kabul-mosque.html .
نوموړې پتې ته د وروستي ځل لپاره، د ۲۰۱۷ کال د جنوري ۱۷ـ په لاسرسی وشو.

۲۱۸ یوناما په ۲۰۱۶ کال کې، له ۲۰۰۹ راهیسې لاندې ملکي مرګ‌ژوبلې ثبت کړې دي: ۲۰۱۵- ۱۸۴۰ ملکي مرګ‌ژوبلې (۳۰۸ مړه او ۱۵۳۲ ټپیان)؛ ۲۰۱۴- ۱۵۸۲ ملکي مرګ‌ژوبلې (۳۷۱ مړه او ۱۲۱۱ ټپیان؛ ۲۰۱۳- ۱۲۳۶ ملکي مرګ‌ژوبلې (۲۵۵ مړه او ۹۸۱ ټپیان)؛ ۲۰۱۲- ۱۵۱۰ ملکي مرګ‌ژوبلې (۳۲۸ مړه او ۱۱۸۳ ټپیان)؛ ۲۰۱۱-۱۶۵۶ مرګ‌ژوبلې (۴۸۸ مړه او ۱۱۶۸ ټپیان)؛ ۲۰۱۰ — ۹۸۷ مرګ‌ژوبلې (۲۳۸ مړه او ۷۴۹ ټپیان)؛ ۲۰۰۹- ۱۱۷۹ مرګ‌ژوبلې (۲۸۳ مړه او ۸۹۶ ټپیان).

۲۱۹ په ۲۰۱۵ کې یوناما د ځانمرګو او ډله‌ییزو بریدونو په نتیجه کې رامنځته شوي، ۱۸۴۰ ملکي مرګ‌ژوبلې (۳۰۸ مړه او ۱۵۳۲ ټپیان) مستندې کړې دي

۲۲۰ په ۲۰۱۵ کې یوناما ۹۹۶ مرګ‌ژوبلې (۱۵۰ مړه او ۸۴۲ ټپیان) چې د ځانمرګو او ډله‌ییزو بریدونو له امله رامنځته شوي وو، او تر شایې مسووله ډله نه وه پیژندل شوې په عمومي ډول دولت ضد عناصرو ته منسوب کړ.

دولت ضد عناصرو په ګڼ میشتو سیمو کې د ملکي او غیر ملکي هدفونو پر ضد ، خپلو ځانمرګو او ډله‌ییزو بریدونو ته دوام ورکړ.[۲۲۱] د مثال په توګه ، له هغو ملکي مرګ‌ژوبلو چې د ځانمرګو او ډله‌ییزو بریدونو په نتیجه کې رامنځ‌ته شوې ، ۷۰ سلنه یې په کابل ښار کې پېښې شوې دي: ۱۴ پېښې چې د ۱۳۸۱ ملکي مرګ‌ژوبلو (۲۶۲ مړینې او ۱۱۱۹ ژوبلې) سبب وګرځېدې ، د ۲۰۱۵ کال په پرتله ۶۸ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي.[۲۲۲]

د دغو بریدونو په نتیجه کې د اووښتو زیانونو کچه په ځانګړې ډول د هغه برید کې څرګندیږي چې طالبانو د اپریل په ۹ ، د پل محمودخان په سیمه کې د ملي امنیت ریاست د لوړ پوړو چارواکو د ساتنې مدیریت پر ضد یې ترسره کړ ،چې د نوموړي برید په نتیجه کې ۳۹۳ ملکي مرګ‌ژوبله (۵۶ مړینې او ۳۳۷ ژوبلې) رامنځ‌ته شوې. او همدارنګه د جولای په ۲۳ مه په د دهمزنګ څلورلارې کې په سوله ییز لاریون باندې د داعش لخوا برید چې په نتیجه کې یې ۴۹۸ ملکي وګړو مرګ‌ژوبله (۸۵ مړینې او ۴۱۳ ژوبلې) رامنځ‌ته شوې.[۲۲۳] په کابل ښار کې دپام وړ بریدونو د جملې څخه یو برید هغه و چې طالبانو د جون د میاشتې په ۳۰ ، د ملي پولیسو محصلین او فارغ شوي شویو سرتېرو پر یوه بس تر سر کړه چې د کابل په لور روان وو چهاو په نتیجه کې یې ۱۱۲ ملکي وګړو ته مرګ‌ژوبله (۳۴ مړینې او ۷۸ ژوبلې) واوخته .[۲۲٤] د اګست په ۲۴ د افغانستان پر امریکایي پوهنتون ډله‌ییز برید ، د ۶۱ ملکي مرګ‌ژوبلو (۱۳ مړینې او ۴۸ ژوبلې) لامل وګرځید.[۲۲٥] او د نومبر په ۲۱ ، د داعش له‌خوا د باقرالعلوم پر جومات ادعا شوی برید ، چې په پایله کې یې ۱۱۴ ملکي مرګ‌ژوبلې (۴۰ مړینې او ۷۴ ژوبلې) رامنځ‌ته شوې.[۲۲٦]

د کابل ښار وروسته دویم ځای چې تر ټولو زیات د ځانمرګو او ډله‌ییزو بریدونو له امله اغېزمن شوی دی ، ننګرهار ولایت دی ، چې په ۲۰۱۶ کال کې ټولې نهه پېښې او د ۱۲۶ ملکي وګړو مرګ‌ژوبله (۳۷ مړینې او ۸۹ ژوبلې) ثبت کړې ده . په ۲۰۱۶ کې بل د پام وړ هغه برید و ، چې د نومبر په ۱۰ ، په مزار شریف کې د طالبانو له‌خوا د جرمني پر

---

۲۲۱ له ۴۴ ځانمرګي او ډله‌ییز بریدونو د جملې نه ۱۹ یې په عمدي ډول ملکي وګړي او یا ملکي اهداف په نښه کړي وو ، نهه یې په عمدي ډول افغان ملي پولیس په نښه کړې ، او ۱۵ نور یې غیرملکي هدفونه په نښه کړې و او یوه یې یو ناپیژاند هدف په نښه کړ.

۲۲۲ په ۲۰۱۵ کال کې ، یوناما په کابل کې د ځانمرګو او ډله‌ییزو بریدونو ۲۱ پېښې مستندې کړې چې د ۸۲۰ ملکي مرګ‌ژوبلو (۹۲ مړه او ۷۲۸ ټپیان) سبب وګرځید.

۲۲۳ د جولای په ۲۳ د دهمزنګ په څلور لاره کې د ترسره شوي ځانمرګي برید داعش/ISKP د خپل نشراتي ارګان ، اعماق خبري اژانس له لارې مسؤلیتمسؤلیت په غاړه واخیست ، د دې مسؤلیتمسؤلیت ادعا همدارنګه د ټویټر ټولنیز ځال د ترهګرې څار (Terror Monitor) پر ګڼون باندې د لاسرسي وړ ده: https://twitter.com/Terror_Monitor/status/756895238975664128 ، نوموړې پټې ته د وروستي ځل لپاره ، د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر په ۵ لاسرسی وشوه. طالبانو د اپریل پر ۹ د ملي امنیت ریاست ، لوړ پوړو چارواکو پر مدیریت د برید مسؤلیتمسؤلیت پر انګریزي ژبې خپلې ویبپاڼې ادعا وکړه چې پخوا په لاندې پته د لاسرسي وړ و: (http://shahamat-english.com/kabul-martyr-attack-final-report/) ، او همدا راز په خپل ټویټر حساب باندې دا ادعا کړې وه چې پخوا به دغه پته د لاسرسي وړ و: (twitter.com/zmujahid2). کاپي له یوناما سره په ریکارډ کې موجوده ده. د ملکیانو او ملکي شیانو په عمدي ډول په نښه کول څېړکې وګورئ. د جولای د ۲۳ د برید په اړه د زیاتو معلوماتو لپاره ، په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه د یوناما د ۲۰۱۶ نیم کلن راپور ۵۵ مخ وګورئ.

۲۲٤ طالبانو د یادې پېښې مسؤلیتمسؤلیت د خپلې انګریزي ژبې ویبپاڼې له لارې ادعا کړې ، چې په لاندې پته د لاسرسي وړ ده: http://alemarah-english.com/?p=887 ، په وروستي ځل ، د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر پر ۵ ورته لاسرسی وشو ، او همدا راز د لاندې ټویټر حساب له لارې: http://twitter.com/Zabihulla13 ، کاپي له یوناما سره په ریکارډ کې موجوده ده. د هغو بریدونو په اړه چې ملکي وګړي په نښه کوي ، د زیاتو معلوماتو لپاره ، د ملکي وګړو او ملکي شیانو په عمدي ډول په نښه کول څېرکی وګورئ.

۲۲٥ د ۲۰۱۶ کال د اګست پر ۲۴ ، د افغانستان پر امریکایي پوهنتون د برید مسؤلیتمسؤلیت په شخړه کې له ښکیلو خواوو هیڅ یوه یې ادعا و نه کړه.

۲۲٦ د یاد برید مسؤلیت داعش/ISKP د خپلې نشراتي ارګان ، اعماق خبري اژانس له لارې ادعا وکړه: https://news.siteintelgroup.com/Jihadist-News/is-claims-killing-wounding-nearly-200-shi-ites-in-suicide-bombing-in-kabul-mosque.html ، په وروستي ځل ، د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر پر ۱ ورته لاسرسی وشو. د زیاتې شننې لپاره وګورئ: د شیعه مسلمانانو مذهبي لړکیو پر ضد فرقه ییز بریدونو څپرکی وګورئ.

قنسولګرۍ ترسره شو، چې د ۱۳۵ ملکي وګړو د مرګ‌ژوبلې (۴ مړينې او ۳۱ ژوبلې) سبب وګرځېد، چې په قربانيانو کې ۲۹ ماشومان او ۱۹ ښځې شامل وو.[۲۲۷]

يوناما له دې امله چې د ځانمرګو او ډله‌ييزو بريدونو په نتيجه کې د ملکي وګړو مرګ‌ژوبلې کچه مخ په لوړېدو ده، سخته اندېښمنه ده. پر ملکي خلکو او په پراخ ډول پر عامو خلکو د يادو بريدونو اغيزې په ځانګړې ډول ويجاړوونکې دي. دغه ډول بريدونه معمولاً په ښاري او ګڼ ميشتو سيمو کې تر سره کېږي، دغه بريدونه - چې کله د بشرپالنې د نړيوال قانون له اصولو سره په ټکر کې، نېغ په نيغه ملکي وګړي په نښه نه کړي- زياتره د ماهيت په لحاظ بې توپيره او په عام ډول د زيات شمير ملکي تلفاتو لامل ګرځي، پر دې سربيره دغه بريدونه د وګړو ترمنځ له ويرې او انديښنې ډک چاپيريال په رامنځ ته کولو کې مرسته کوي..

يوناما يو ځل بيا ټينګار کوي چې هغه بريدونه چې نېغ په نېغه ملکي وګړې په نښه کوي، او همدارنګه د ځای‌پرځای‌شوو چاوديدونکو توکو د بې تفکيکه کارولو تاکتيکونه د بشرپالنې د نړيوال قانون څخه جدي سرغړونه ده، چې ښايي د جنګي جرايمو تر کچې لوړه شي.[۲۲۸] يوناما يو ځل بيا د دولت ضد عناصرو، او په ځانګړې ډول د طالبانو پام دې ته راګرځوي، چې د بشرپالنې نړيوال قانون د هغو بريدونو مخنيوی کوي، چې د ملکي مرګ ژوبلو او ټپي کېدنو لامل کېږي او يا ملکي اهدافو ته زيان اړوي، او يا دواړه هم مرګ ژوبله او هم زيان اړوي، کيدای شي له هغو مشخصو او نظامي برياوو په پرتله زيات وي، چې تمه يې کيدای شي.[۲۲۹]

---

۲۲۷ په داسې حال کې چې په بلخ ولايت کې د ځانمرګو او ډله‌ييزو بريدونو له امله په ټوليزه توګه تر ټولو لوړه شميره ملکي مرګ‌ژوبلې ثبت ي شوي، خو ننګرهار ولايت د ډېرو ورته پېښو د رامنځ‌ته کېدو، او له امله يې د ډېرې مړينې د رامنځ‌ته کېدو له کبله خورا زيات اغيزمن شوی دی. طالبانو په مزار شريف کې د جرمني پر قونسلګرۍ د بريد مسؤليت د خپلې انګريزۍ ژبې ويبپاڼې الاماره او د ټويټر له لارې اعلان وکړ، او ويلې وو چې دا بريد يې د ناټو د ځواکونو له‌خوا د کندز په شمال کې د نومبر په سرکې د هوايي بريد په ځواب تر سره کړی دی. په لاندې پتې د لاسرسي وړ ده.
http://alemarah-english.com/?p=701، او https://twitter.com/zmujahid5. په وروستي ځل، د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر پر ۵ دواړو ته لاسرسی وشو.

۲۲۸ په جنګي جرمونو کې لاندې عملونه شامليږي چې د دريمې مشترکې مادې له خوا منع شوي دي: د ژوند او شخص پر ضد چې په جګړه ييزو فعاليتونو کې ونډه نه لري، عملونه؛ هغه عملونه چې د دويم الحاقي پروتوکول د ۴(۲) مادې له مخې منع شوي وي؛ او هغه بريدونه چې په عمدي ډول ملکي وګړي يا ملکي شيان په نښه کوي. وګورئ: د نړيوالې جنايي محکمې اساسنامه، 8(2)(e)(i)، 8(2)(c) مادې، د نړيوال سره صليب د کميټې له خوا پر نړيوال عرفي قانون څېړنه ۱۵۶ قاعده. په داسې حال کې چې د نړيوال جرمونو د محکمې اساسنامه، په څرګند ډول بې توپيره او بې تناسبه بريدونه په غير نړيوالو وسله والو شخړو کې جرم نه ګڼي، خو ورته بريدونه ښايي په ځينو شرايطو کې د دې لامل وګرزي چې ملکي وګړي په مستقيم ډول تر هدف لاندې ونيول شي. د مثال په توګه وګورئ: د څارنوال وی. دوسکو تاديچ قضيه، IT-98-29-A شمېره، د مرافعې فيصله ۳۰ نومبر ۲۰۰۶، ۱۳۲ او ۱۳۳ فقرې. همداراز وګورئ د سره صليب د کميټې د بشرپالنې نړيوال عرفي قانون، ۱۵۶ قاعده.

۲۲۹ د ژنيو د کنوانسيونو په دريمه ګډه ماده کې په ضمني ډول ورته اشاره شوې ده؛ دويم الحاقيه پروتوکول ۴.۱۳ مادې. د بې توپيرو بريدونو په اړه، وګورئ، لومړی الحاقيه پروتوکول، ۵۱ ماده (په نا نړيواله وسله والو شخړو کې د تطبيق وړ نه دی، خو د عرفي نړيوال قانون په ډول د منلو وړ دی-: د نړيوال سره صليب د کميټې له‌خوا د نړيوال پر عرفي قانون څېړنه وګورئ، ۱۱ مه قاعده): *Prosecutor v. Dusko Tadić*, IT-94-1, Appeals Chamber Decision on the Defence Motion for Interlocutory Appeal on Jurisdiction, 2 October 1995, para. 127، د بې تناسبه بريدونو په اړه لومړی الحاقيه پروتوکول، ۸۵ (۳) (b) مادې وګورئ (په غير (داخلي) نړيواله وسله والو شخړو کې د تطبيق وړ نه دی، خو د عرفي نړيوال قانون په ډول د منلو وړ دی: د نړيوال سره صليب د کميټې له‌خوا د نړيوال پر عرفي قانون څېړنه، ۱، ۱۴، ۱۵، ۱۵۴ مې قاعدې) وګورئ.

**په مزار شریف ښار کې د جرمني پر قو نسلگرۍ د طالبانو ځانمرگي برید څلور ملکي وگړي ووژل او ۱۳۱ نور يې ټپيان کړل.**

د نومبر په ۱۰ د شپې له‌خوا طالبانو د بلخ په مزار شریف کې یو موټر بم د جرمني قو نسلگري ن ته ځيرمه وچولو. د چاودنې زور دومره زیات و چې څلور ملکي افغانان يې ووژل او ۱۳۱ نور يې ټپي کړل، چې دوي ټول د چاودنې موقعيت ته نږدې وو. که څه هم چاودنه د شپې پر ۱۱ بجو تر سره شوه، چې زياتره ځايي خلک په خپلو کورونو کې ويده وو. نوموړې چاودنې همدارنگه د ملکي کسانو شتمنيو ته، چې د چاودنې موقعيت ته د يو کيلومتري په واټن پرتې وې، او دغه راز د جرمني قوسلگري ته په زياته اندازه زيانونه اړولی و او همدارنگه چاودنې تر سلو زيات ملکي کورونه، دکانونه، دوه ښوونځي او ګڼ شمير جوماتونه زيانمن کړي وو.

یو ځايي کس چې جرمني قنسولگري ته څېرمه هستوګن و د چاودنې وروسته حالات په داسې ډول انځور کړ: *"زه له کوټې ووتم چې د خپل مور احوال واخلم، خو ما هېڅ څه ليدلای نشو ځکه چې کور له دوړو او لوګي ډک و، دروازې او کړکۍ ټولې ماتې وې، څرنګه چې زه د خپلې مور په لټه کې وم، د ګاونډيانو د ماشومانو د ژړا غږ مې واورېد، سورې نارې يې وهلې، چې "زموږ پلار مړ شو". هغه مهال، هلته نږدې هيڅوک نه و چې له هغوی سره مرسته وکړي. د هغوی پلار ډير سخت ټپي شوی و او د همدغو ټپونو له امله ومړ."*

طالبانو د ياد بريد مسؤليت پر غاړه واخيست او په ډاګه يې کړه، چې: "دغه استشهادي برید د امريکايي يرغلګرو د هغو پراخو هوايي بمباريو په ځواب کې تر سره شو چې د کندز په شمالي سيمو کې د رواني مياشتې څو ورځې وړاندې ترسره شوي وو او زيات شمير ملکي کسان يې وژلي وو" د هغوي اشاره هغو بريدونو ته وه چې نړيوالو نظامي ځواکونو د نومبر دويمه او درېيمه شپه د کندز ښار د بز قندهاري پر کلي د افغان امنيتي ځواکونو سره په ګډه ترسره کړي وو او په پايله کې يې (د ۲۰ ماشومانو په ګډون) ۳۲ تنه ملکي کسان وژل شوي او (د ۱۴ ماشومانو په ګډون) ۳۶ نور ټپيان شوي وو.[۲۳۰] د طالبانو بيانيې دغه راز زياته کړې، چې "جرمنانو هم د کندز په وروستيو بمباريو کې ونډه دردلوده چې له ۵۰ تنو زيات بې ګناه او بې دفاع ملکيان يې په نښه کړي وو".[۲۳۱]

يوناما يو ځل بيا ټينګار کوي چې د بشرپالنې نړيوال قانون له مخې، ډيپلوماټيک دفترونه او قونسلګريانې ملکي اهداف بلل کېږي او له تعرض څخه خوندي دي.[۲۳۲] برسيره پر دې، پر ملکي اهدافو ترسره شوي بريدونه د بشرپالنې له نړيوال قانون څخه جدي سرغړونې دي، چې ښايې جنګي جرايم وګڼل شي.[۲۳۳]

---

۲۳۰ "د افغانستان په شمال کې د جرمني پر قو نسلگری فدايي حمله وشوه"، په دغه پته د لاسرسي وړ ده: http://alemarah-english.com/?p=7013، د طالبانو انګريزي ويبپاڼه د ۲۰۱۶ نومبر ۱۱. په وروستي ځل، د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر پر ۴ ورته لاسرسی وشو. د کندز د هوايي برید د په اړه د زياتو معلوماتو لپاره، د هوايي عملياتو څپرکی وګورئ.

۲۳۱ "د افغانستان په شمال کې د جرمني پر قونسلګرۍ ی فدايي حمله وشوه"، په دغه پته د لاسرسي وړ ده: http://alemarah-english.com/?p=7013، د طالبانو انګريزي ويبپاڼه د ۲۰۱۶ نومبر ۱۱. په وروستي ځل، د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر پر ۴ ورته لاسرسی وشو.

۲۳۲ درېيمه مشترکه ماده؛ دويم الحاقي پروتوکول ۴، ۱۳ مادې؛ د نړيوال سره صليب د کميټې له خوا پر نړيوال دوديز بشرپال قانون څېړنه ۷ - ۹ مې قاعدې.

۲۳۳ جنګي جرمونه لاندې عملونو ته لاس پورې کول رانغاړي: د هغو کسانو د ژوندانه او شخصيت پر ضد چې په جګړه ييزو فعاليتونو کې ونډه نه لري د ژنيو د کنوانسيون د درېيمې مشترکې مادې ۳ (۱) له مخې منع شوې عملونه د هغوي پر ژوند او شخصيت باندې د تيري په ګډون؛ هغه عملونه چې د ويمې الحاقي پروتوکول ۴(۲) مادې له مخې منع شوي وي؛ او هغه بريدونه چې په عمدي ډول ملکي وګړي يا ملکي شيان په نښه کوي. وګورئ: د نړيوالې جنايي محکمې اساسنامه، Articles 8(2)(c), 8(2)(e)(i)، د نړيوال سره صليب د کميټې له خوا پر نړيوال دوديز بشرپال قانون څېړنه ۱۵۶ قاعده.

**په کابل ښار کې د افغانستان پر امریکایي پوهنتون ډله‌ییز برید**

د اګست پر ۲۴ ، د ماښام په ۷ بجې ، دولت ضد عناصرو د افغانستان پر امریکایي پوهنتون یو ډله‌ییز برید تر سره کړ ، چې په پایله کې یې ۱۳ ملکي کسان ووژل او ۴۸ نور ټپیان شول چې زیاتره یې زده‌کړیالان وو. یاد برید د یوه موټربم له چاودنې سره پیل شو چې د پوهنتون دیوال ته نږدې وچاودول شو ، او وروسته دوه بریدګر پوهنتون ته ورننوتل او په بې توپیره ډول یې پر زده‌کړیالانو په ډزو او د لاسي بمونو په غورځولو پیل وکړ. د برید په شېبو کې له ۷۰۰ زیات زده‌کړیالان او کارکوونکي په پوهنتون کې حاضر وو. یوه عیني شاهد یوناما ته راپور ورکړ ، چې بریدګر په هغو زده‌کړیالانو پسې وو او پر هغوی یې ډزې کول ، چې د دویم او درېیم پوړ د کړکیګانو له لارې او یا د پوهنتون له انګړ څخه د تېښتې په هڅه کې وو. دغه ډله‌ییز برید د سبا ورځې د سهار تر څلورو بجو پورې دوام وموند. هېڅ یوې ډلې د نوموړي برید مسؤلیت پر غاړه وانه‌خیست.

یو زده‌کړیال ، چې له نورو همصنفیانو سره یې ځان په لوست‌خونه کې پټ کړی و ، نوموړی برید داسې انځوروي:
*"موږ میزونه د خپلې لوست‌خونې د دروازې تر شا ایښې وو. شاو خوا لس دقیقې وروسته ما د ډزو اوازونه واورېدل او برید کوونکو زموږ لوست‌خونې ته یو لاسي بم وغورځاوه ، د لاسي بم د چاودنې په نتیجه کې زه پر ورون ټپي شوم ، خو لا د ګرځېدو توان مې درلود ، موږ د پردو ټوټې یو بل سره وتړلې او په مرسته یې د کړکۍ له لارې ځمکې ته کښته شوو. یوه نجلۍ کښته ولوېده او پښه یې ماته شوه. ما هڅه وکړه ، چې په تېښته کې له هغې سره مرسته وکړم ، چې ناڅاپه په پښو ولګېدم او زما له پښې زیاته وینه بهېدله ، او په دې هڅه کې شوم څو خپل کمیس پر پښې را تاو کړم."* [۲۳۴]

پر ملکي مرګ ژوبلې سربېره ، لومړنۍ چاودنې د پوهنتون تر څنګ پروت د ړندو ښوونځي ته په پراخه کچه مادي زیانونه اړولي وو ، چې له جملې د بریل د چاپ ماشین ( د نابینا د پاره چاپ ماشین چې حروف یې په لاس لمس کیدای شي)، او د ښوونځي نوی جوړ شوی کلینک ، ویجاړیدل یادولای شو.

یوناما بیا ټینګار کوي ، چې پر ملکي ځایونو - د هغو ښوونیزو ودانیو په ګډون ، چې د برید پر مهال ورڅخه نظامي ګټه نه اخیستل کیده په هغو باندې بریدونه تر سره کول د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه جدي سرغړونې دي او ښایي جنګي جرایم وګڼل شي.[۲۳۵] یوناما یو ځل بیا ټول د دولت ضد عناصر دې ته هڅوي چې په ملکي اهدافو ځانمرګي او ډله‌ییز بریدونه ودروي ، او پر ولسي وګړو باندې د ورته بریدونو د ناوړو اغیزو د مخنیوي لپاره له ډېر احتیاط څخه کار واخلي.[۲۳۶]

---

۲۳۴ د ۲۰۱۶ د اګست پر ۲۹ په کابل ښار کې له قرباني سره د یوناما مرکه.

۲۳۵ جنګي جرمونه لاندې عملونو ته لاس پورې کول رانغاړي: د هغو کسانو د ژوندانه او شخصیت پر ضد چې په جګړه ییزو فعالیتونو کې ونډه نه لري د ژنیو د کنوانسیون د درېیمې مشترکې مادې ۳ (۱) له مخې منع شوې عملونه د هغوی پر ژوند او شخصیت باندې د تیري په ګډون ؛ هغه عملونه چې د ویم الحاقي پروتوکول ۴(۲) مادې له مخې منع شوي وي ؛ او هغه بریدونه چې په عمدي ډول ملکي وګړي یا ملکي شیان په نښه کوي. وګورئ : د نړیوالې جنایي محکمې اساسنامه ، Articles 8(2)(c), 8(2)(e)(i) ، د نړیوال سره صلیب د کمیټې له خوا پر نړیوال دودیز بشرپال قانون څېړنه ۱۵۶ قاعده.

۲۳۶ یوناما د یوې مطبوعاتي اعلامیې له لارې چې د ۲۰۱۶ د اګست د میاشتې په ۲۵ خپره شو ، یاده پېښه په علني ډول وغندله. په لاندې پته د لاسرسي وړ ده: http://unama.unmissions.org/unama-condemns-attack-american-university-kabul ، په وروستي ځل ، د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر پر ۲ ورته لاسرسی وشو.

### د دولت ضد عناصرو لهخوا هدفي او عمدي وژنې

*"[دولت ضد عناصرو زما ۱۳ کلن ورور زموږ کلي له نږدې ځنګل څخه چې هلته یې د ځنګل ساتنې د ګزمې دندې تر سره کولې ، وتښتاوو. دوې هغه زموږ کلي ته راووست ، زما مور او ګاونډیان ټولو ورته زارۍ کولې چې هلک خوشي کړي ، خو دوی زموږ زاریو ته هېڅ پام و نه کړ او زما ورور یې په موټر کې له ځانه سره یووړ. پر سبا یې موږ ته ټیلیفون وکړ چې راشئ خپل مړی مو یوسئ. موږ هغې سیمې ته لاړو او د هغه مړی مو ولید چې د ګولیو پرهارونه پهکې ترسترګو کېدل او په جسد پورې یې یو لیک نښلول شوی و ، چې پهکې لیکل شوی و ، چې دا کس حکومت ته د جاسوسۍ په جرم وژل شوی دی. زما ۱۳ کلن ورور یو ماشوم او بې ګناه او تر دې زیات کم عمره و ، چې د جاسوسۍ تور ورباندې ولګول شي. زما مور هره ورځ زما د کوچني ورور په یاد ویر کوي."* [۲۳۷]

-- د هغه ماشوم د کورنۍ غړی ، چې په پکتیا ولایت[د ولسوالي نوم له یادولو ډډه شوې] کې د سپټمبر پر ۱۶ ، حکومت ته د جاسوسۍ په تور ووژل شو.

په ۲۰۱۶ کال کې ، یوناما ۱۲۲۴ ملکي مرګژوبلې (۶۵۵ مړینې او ۴۶۹ ژوبلې) ثبت کړي دي ، چې د هدفي وژنو په پایله کې رامنځته شوې دي.[۲۳۸] یوناما له هدفي وژنو رامنځته شویو ملکي مرګژوبلو ۷۹ سلنه دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي —د ۱۱۱۸ ملکي مرګژوبلې (۵۷۴ مړینې او ۵۴۴ ژوبلې) ، چې د ۲۰۱۵ کال په پرتله ۱۶ سلنه کمښت په ډاګه کوي.[۲۳۹] د دولت ضد عناصرو لهخوا ترسره شوې هدفي وژنې په ۲۰۱۶ کال کې ، له ټولو رامنځته شویو ملکي مرګژوبلو ۱۰ سلنه او د دولت ضد عناصرو لهخوا ،د رامنځته شویو ملکي مرګژوبلو ۱۶ سلنه جوړوي.

طالبانو د ۱۴۹ ملکي مرګژوبلو (۷۳ مړینې او ۷۶ ژوبلې) مسؤلیت ، چې د هدفي او عمدي وژنو په نتیجه کې رامنځته شوي ، پر غاړه اخیستی. داعش د ۸۲ ملکي مرګژوبلو (۲۱ مړینې او ۶۱ ژوبلې) مسؤلیت چې له همدغه تاکتیک په کارولو سره وژل شوي ، مسولیت منلی.

یوناما له دې پلوه اندېښمنه ده چې له هدفي او عمدي وژنو له امله رامنځته شوې ملکي مرګژوبلې زیاتره له هغو بریدونو څخه منشاء اخیستې ، چې په مستقیم او قصدي ډول یې ملکي کسان په نښه کول. له ۱۱۱۸ ملکي مرګژوبلو ، چې دولت ضد عناصرو د هدفي او عمدي وژنو په نتیجه کې په ۲۰۱۶ کال کې رامنځته شوي ، ډیری یې د هغو بریدونو په پایله کې رامنځ ته شوي ، چې د ملکي کسانو د وژلو په موخه ترسره شوي وو او په دې کې لاندې هدفونه شامل وو: قومي مشران ، قضائي مأمورین ، د دولت ملکي مأمورین ، او هغه ملکي کسان چې د دولت د *"جاسوسانو"* تور ورباندې و.[۲٤۰] د مثال په توګه ، د جون پر ۱۵ ، طالبانو د بامیانو ولایت د سیغان ولسوال په ډزو

---

۲۳۷ د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر پر ۲ په پکتیا ولایت کې [د ځای د نوم له یادولو ډډه وشوه] د قرباني له خپلون سره د یوناما مرکه.

۲۳۸ یوناما هغه ملکي مرګژوبلې مستندې کوې چې د هدفي او عمدي وژنو د پېښو له امله رامنځته کېږي او همداراز هغه پېښې مستندې کوي چې په غیر مستقیم ډول د هغو هدفي وژنو پېښو له امله رامنځته شوې وې چې غیر ملکي هدفونه یې په نښه کړې وې. د هغو ملکي مرګژوبلو غوڅ اکثریت یې د هغو تاکتیکونو له امله رامنځته شوې چې په عمدي ډول ملکي وګړي په نښه کول.

۲۳۹ په ۲۰۱۶ کال کې ، یوناما د دولت پلوه عناصرو لهخوا د ترسره شویو د عمدي هدفي وژنو له امله ۱۰۶ ملکي مرګژوبلې (۸۱ مړینې او ۲۵ ژوبلې) مستندې کړې دي. د افغان ملي امنیتي ځواکونو لهخوا نورې وژنې څېړکی وګورئ. په ۲۰۱۵ کال کې ، یوناما د هدفي وژنو له امله ۱۴۲۵ ملکي مرګژوبلې (۸۵۳ مړینې او ۵۷۲ ژوبلې) مستندې کړې وې ، چې د هغو له جملې څخه دولتضد عناصرو د ۹۴ سلنې مسؤل وو: ۱۳۳۷ ملکي مرګژوبلې (۷۹۲ مړینې او ۵۴۵ ژوبلې).

۲٤۰ د یادو احصائیو له جملې څخه ۱۳۷ ملکي مرګژوبلې (۷۶ مړینې او ۶۱ ژوبلې) د هغو هدفي وژنو له امله رامنځته شوي چې یې افغان ملي پولیس غړي په نښه کړي وو. یوناما دا شمېرې د هغو پیښو د تعداد په معلوماتو کې نه وې شاملې کړې چې په عمدي ډول ولسي وګړي په نښه کړي وو.

وویشت او مړ یې کړ.[۲۴۱] دولت ضد عناصرو همدارنګه هغه ولسي وګړي په دې خاطر وژل چې د دوي له لاروښوونو یې سرغړوی کاوه. د مثال په توګه د اګست پر ۲۸ ، دولت ضد عناصرو د نورستان په کامدیش کې ، پر هغه موټر ډزې وکړې ، چې په یوه پاټک کې د درېدو امر ورته شوي و ، او موټر چلوونکی د دوي امر و نه مانه او د بېرته ګرځېدو هڅه یې وکړه. د دغو ډزو په نتیجه کې شپږ ملکي کسان (د یوې ۳۲ کلنې ښځې او درېیو ماشومانو -د ښځې خورزې- په ګډون) ووژل او یوه ښځه ټپي شوه.

یوناما همدارنګه په کندهار ښار کې د اعدام ډوله وژنو له امله اندېښمنه ده . په ۲۰۱۶ کال کې ، یوناما په کندهار ښار کې د هغو ۲۹ ملکي کسانو ، د وژلو هڅه یا وژنې تایید کړې ، چې له ځایي چارواکو یا له امنیتي ځواکونو سره یې کار ترسره کاوو ، یا یې له هغوي سره د اړیکو درلودلو شک پرې کیده ، چې له امله یې ۱۸ مړینې او ۱۱ ژوبلې رامنځ ته شوې. دغه وژنې په زیاته کچه داسې تر سره شوي چې مرتکبین یې معافیت نه برخمن دي .

یوناما همدارنګه ۱۳۴ ملکي مرګژوبلې (۸۶ مړینې او ۴۸ ژوبلې) [۲۴۲]چې د جګړه ییزو عملیاتونو په ترڅ کې ، چې د غیر ملکي خلکو پر ضد په لار اچول شوي وو ، د جانبي تلفاتو په ډول مستندې کړې دي. په دې زمینه کې ، ملکي تلفات په اساسي ډول د افغان ملي امنیتي ځواکونو د کارمندانو پر کورونو او نقلیه وسایطو د ډزو او ځایپرځای‌شوو چاودیدونکو توکو د کارولو په پایله کې رامنځ‌ته شوي.[۲۴۳] د مثال په ډول د جولای پر ۱۳ د پکتیکا په سرحوزه کې ، طالبانو د ملي اردو د یوه پخواني غړي د واده پر مراسمو ډزې وکړې ، چې په پایله کې یې نوموړی او دوه نور ملکي میلمانه ووژل شول ، او یو بل نارینه ملکي کس ټپي شو. طالبانو د نوموړي برید مسؤلیت  پرغاړه واخیست او په ډاګه یې کړه ، چې په مراسمو کې د ملي اردو ګډونوال غړي د ډزو اصلي هدف و.[۲۴۴]

یوناما یو ځل بیا ټینګار کوي چې د ملکي کسانو عمدي وژنه له د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه جدي سرغړونه ده او ښایي  جنګي جرایمو کې وشمېرل  شي.[۲۴۵] یوناما تاکید کوي چې د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې دولت ضد عناصر مکلف دي څو له بې توپیره بریدونو[۲۴۶] ډډه وکړي او دا چې نوموړی بریدونه کېدای شي جنګي جرمونه وګڼل شي.[۲۴۷]

---

۲۴۱ طالبانو د دغې پېښې مسؤلیت د ټویټر له لارې اعلان وکړ ، چې پخوا په لاندې پته د لاسرسي وړ و: https://twitter.com/Zabihulla13/status/743341450482507781 ، کاپي له یوناما سره په ریکارډ کې موجوده ده.

۲۴۲ دغه شمیره هغه هدفي وژنې نه رانغاړي چې افغان ملي اردو  یا نور ناپیژاند هدفونه په نښه کړي وو.

۲۴۳ د ځایپرځای شوو چاودېدونکو توکو د نورو تاکتیکونو په اړه: ځایپرځای شوي چاودیدونکي توکي څپرکی  وګورئ.

۲۴۴ طالبانو د دغې پېښې مسؤلیت د خپلې پښتو ویبپاڼې له لارې اعلان وکړ چې په لاندې پته د لاسرسي وړ دی: http://alemara1.org/?p=56435، په وروستي ځل ، د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر  پر ۲  ورته لاسرسی وشو.

۲۴۵ د ژنیو د کنوانسیو د ۳ (۱) مشترکې مادې له مخې منع شوې کړنې ، کومې چې د هغو کسانو پرضد ترسره کېږي چې په جګړه ییزو فعالیتونو کې مستقیمه ونډه نه لري د هغه تاوتریخوالی په ګدون چې د هغو د ژوند او شخصیت پر ضد تر سره کېږي ؛ همدارنګه  هغه کړنې چې دویم  الحاقي پروتوکول د ۴ (۲) مادې له مخې منع شوې ؛ او هغه بریدونه چې په عمدي ډول د ولسي وګړو او ولسي اهدافو  پر ضد تر سره کېږي ، جنګي جرمونه دي. د نړیوالو جرمونو د محکمې اساسنامه ، ۸ ماده (۲) (C) (i) ، ۸ ماده (۲) (C) (iii). د نړیوال سره صلیب د کمیټې لهخوا د نړیوال پر عرفي قانون څېړنه ، ۱۵۶ مه قاعده وګورئ.

۲۴۶ د مثال په توګه ، د وسله والو ځواکونو د یو غړی پر ضد د برید د ترسره کولو لپاره په ولسي میشتو سیمو کې ځایپرځای شوي چاودیدونکي توکي کارول. د لومړي الحاقي پروتوکول ، ۵۱ ماده وګورئ (د غیر نړیوالو وسله والو شخړو په برخه کې د تطبیق وړ نه ده ، خو د عرفي نړیوال قانون په ډول منل شوی دی. همدار راز وګورئ: د نړیوال سره صلیب د کمیټې لهخوا د نړیوال پر عرفي بشرپالنی قانون څېړنه ، ۱۱ قاعده)؛ *Prosecutor v. Dusko Tadić*, IT-94-1, Appeals Chamber Decision on the Defence Motion for Interlocutory Appeal on Jurisdiction, 2 October 1995, para. 127.

۲۴۷ په داسې حال کې چې د نړیوال جرمونو  د محکمې اساسنامه ، په څرګند ډول ، بې توپیره او بې تناسبه بریدونه په غیر نړیوالو وسله والو شخړو کې جرم نه ګڼي ، خو ورته بریدونه ښايي په ځینو شرایطو کې د داسې نتیجه ګیري سبب شي چې ګواکې دا د ولسي وګړو پرضد تر سره شوې بریدونه وو. د مثال په توګه وګورئ: Prosecutor v. Stanislav Galić, Case No. IT-98-29-A, Appeal Judgement, 30 November 2006, paras. 132, 133 ، همدا راز وګورئ: د نړیوال سره صلیب د کمیټې




**د غور په چغچران کې د اکتوبر پر ۲۵ ، د ۲۶ ملکي کسانو اعدامول**

*"شاو خوا د ماخوستن ۹ بجې وې چې خلور موټرسایکلونه موږ ته رانږدې شول او ناخاپه یې پر موږ د کلاشنیکوفونو او پیکاګانو ډزې پیل کړې. له ۲۸ کسانو چې ډزې پرې وشوې ، ۲۵ مړه ، دوه ټپیان شول او یوه بل سړي ته هېڅ کوم زیان و نه رسید. زه نه پوهېږم چې څومره وخت را باندې تیر شو څو زه وتوانېدم پاځېږم ، خو دومره مې یادېږي چې دا یو ډاروونکی حالت و او همدا راز یادېږي مې چې وسله وال کسان به جسدونو ته را نږدې کېدل ، او پر کوم یوه یې چې د ژوندي شک کاوه ، ډزې کولې او وروسته یې هغه ځای پرېښود. ما ټول هغه جسدونه چې پر ما لویدلي وو ،هاخوا ته کړل او ځان مې تري وایست ، او له هغه ځایه یوه نامعلوم لوري ته روان شوم. ما نه زیاته وینه بهېدله خو تر سبا سهاره  مې تګ ته ادامه ورکړه - کله چې به سترې کېدم دمه به مې کوله- کله چې مې پر موټرسایکل سپور شخص ولید ،ورځخه مې وغوښتل چې ما د کسي تر کلي پورې ورسوي.  د هغې مرمۍ د ایستلو لپاره چې زما ورون ته ننوتې او تر معدې پورې رسېدلې وه او ش د سینې دوې پوښتۍ یې زیانمنې کړې وې په روغتون کې د پنځو ورځو لپاره بستر او عملیات شوم ."*[٢٤٨]

د غور ولایت د چغچران ولسوالۍ د مرغاب په دره کې د دولت ضد عناصرو یوې ډلې ۳۵ ملکي وګړي وتښتول - سړي او هلکان چې شپانه او یا د سونګ لرګي ټولوونکي- او پر هغوی یې عمدي ډزې وکړې او ۲۶ (۲۱ سړي ، او ۵ هلکان) یې ووژل. دغه وژنې ښایي د هغوی د هغه قوماندان د غچ اخیستنې په موخه ترسره شوې وې ، چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو سره په جګړه کې ووژل شو. یو هلک او پنځه ملکي سړي له دغې ټولوژنې له ژورو ټپونو ژوندي ووتل. دولت ضد عناصرو پاتې تښتول شوي کسان پرته له کوم زیان خوشي کړ.

---

نړیوال عرفي بشرپال قانون ، قاعده ۱۵۶ ؛ د نړیوالو جرمونو د محکمې اساسنامه ، ماده ۸ (2) (c)، ۸ (2) (e) (i)؛ *Prosecutor v. Dusko Tadić*, IT-94-1, Appeals Chamber Decision on the Defence Motion for Interlocutory Appeal on Jurisdiction, 2 October 1995, paras. 120-127.

٢٤٨ د ۲۰۱۶ د نومبر پر ۷ ، په هرات ښار کې د یوناما لهخوا ټیلفوني مرکه.

د دغې پېښې په ځواب کې د دولت پلوه وسله والې ډلې غړو د هغې قبیلې ۱۰ ولسي وګړي وتښتول له کومې سره چې وسله والو تړاو درلود اوو وروسته یې خوشي کړل.

نوموړی وسلهواله ډله، چې د ملکي کسانو د وژلو مسووله ده، د داعش په نامه پېژندل کیږي ، او د چغچران ولسوالی د مرغاب درې په سیمه کې فعالیت کوي. سرچینې یوناما ته راپور ورکړی، چې نوموړې ډله تر دې وړاندې له طالبانو سره تړلې وه خو په ۲۰۱۴ زېږدیز کال کې ور څخه جلا شوې. خو بیا هم د نوموړې ډلې او د داعش له اصلي قرارګاوو سره د افغانستان په ننګرهار او یا په سوریې کې کومې نښې او رسمي اړیکې نه ترسترګو کېږي. طالبانو په دغه پېښه کې هر ډول لاس لرل رد کړی دی.[249]

یوناما بیا ټینګار کوي، چې دولت ضد عناصر په دې مکلف دي، چې د بشرپالنې نړیوال قانون ته درناوی وکړي. د ملکي وګړو عمدي وژنې او د هغوی یرغمل نیول دواړه د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه جدي سرغړونې دي، او کېدای شي جنګي جرایم او د داخلي جزائي قوانینو لاندې هم جرم و ګڼلې شي.[250] یوناما پر افغان دولت غږ کوي څو د دغو وژنو په اړه یوه بشپړه او بې طرفه څېړنه تر سره کړي، او مرتکبین یې په بشپړ ډول ځواب ورکونې ته حاضر کړي.

**له شخړې سره د ملکي وګړو تړلې تښتونې**

*"د فراه د ښار له مرکز څخه یوازې د ۱۳ دقیقو مزل په واټن د اوردو ربړورو وسلهوالو یوې ډلې سړک بند کړ او د بس له چلوونکي څخه یې کلیاني واخیستې. له بس څخه یې په بیړه ۱۳ زده کړیالان غوره کړل او مخکې تر دې چې یې یوه نامعلوم ځای ته بوځي له هغوی یې د څو دقیقو لپاره پوښتنې او ګرویږنې وکړې. له نیکه مرغه دوي زه ونهنیولم. زه له زیات ډار او ویرې سره د دغو پوړېنوونکو شېبو شاهد وم. کله چې دولت ضد عناصرو ۱۳ زدهکړیالان له ځآن سره بیول، افغان ملي امنیتي ځواکونو هیڅ ډول اقدام ونهکړ.[251]*

-- د فراه په بالابلوک کې د هرات - فراه پر لویې لار د سپتمبر پر ۷، د ۱۳ زده کړیالانو د تښتونې شاهد. دولت ضد عناصرو تښتول شوي کسان د سپتمبر په ۱۰ د قومي مشرانو په منځګړیتوب وروسته له دې خوشي کړل، چې ورته جوته شوه چې زده کړیالان له حکومت سره هېڅ ډول اړیکې نه لري.

یوناما د دولت ضد عناصرو لهخوا د ملکي کسانو د تښتونې له دوامدارې لړۍ څخه اندېښمنه ده.[252] د جنوري له ۱ او ډسمبر ۳۱ تر منځ یوناما ۳۶۰ ورته پېښې چې ۱۹۰۰ ملکي کسان پهکې تښتول شوي وو، د ۱۳۵ ملکي تلفاتو (۸۶

۲۴۹ طالبانو د خپل ویاند د ټویټر د حساب له لارې یوه څرګندونه خپره کړه چې پخوا په لاندې پته د لاسرسي وړ وو: https://twitter.com/Zabihulla13، کاپي له یوناما سره په ریکارډ کې موجوده ده. د هغو ولسي مرګژوبلو په اړه چې د داعش/ISKP په نامه ډلو لهخوا رامنځته شوی، د زیاتو معلوماتو لپاره، داعش اسلامي دولت ،خراسان ولایت څپرکی وګورئ.

۲۵۰ جنګي جرمونه د هغو عملونو د ارتکاب په مانا ده چې د ژنیو د کنوانسیو د ۳ (۱) مشترکې مادې له مخې منع شوي وي، کومو چې د هغو کسانو پرضد ترسره کېږي چې په جګړه یېزو فعالیتونو مستقیمه ونډه نه لري په ګډون د هغه تاوتریخوالی چې د هغو د ژوند او شخصیت پر ضد تر سره کېږي؛ همدارنګه د هغو عملونو د ارتکاب په مانا ده چې دویمې الحاقي پروتوکول د ۴ (۲) مادې له مخې منع شوي وي؛ او هغه بریدونه چې په عمدي ډول د ولسي وګړو او ولسي شیانو پر ضد تر سره کېږي.

۲۵۱ جنګي جرمونه د هغو عملونو د ارتکاب په مانا ده چې د ژنیو د کنوانسیو د ۳ (۱) مشترکې مادې له مخې منع شوي وي، کومو چې د هغو کسانو پرضد ترسره کېږي چې په جګړه یېزو فعالیتونو مستقیمه ونډه نه لري په ګډون د هغه تاوتریخوالی چې د هغو د ژوند او شخصیت پر ضد تر سره کېږي؛ همدارنګه د هغو عملونو د ارتکاب په مانا ده چې دویمې الحاقي پروتوکول د ۴ (۲) مادې له مخې منع شوي وي؛ او هغه بریدونه چې په عمدي ډول د ولسي وګړو او ولسي شیانو پر ضد تر سره کېږي.

۲۵۲ د ماشومانو د تښتونې په اړه، ماشومانو او وسله واله شخړه څپرکی وګورئ.

مړينې او ۴۹ ژوبلې) لامل وګرځېدې. که څه هم دا شمېرې د ۲۰۱۵ کال په پرتله د تښتونې د پېښو په شمېرو کې کموالی په ډاګه کوي، خو د هغو ملکي کسانو شمېر چې په دغو پېښو کې تښتول شوي، ۱۱ سلنه زيات شوی[۲۵۳]

له ټولو ۳۶۰ پېښو څخه يوناما ۳۵۰ پېښې دولت ضد عناصرو ته منسوبې کړې چې د ۱۸۵۸ ملکي کسانو د تښتولو او ۱۳۰ ملکي مرګژوبلو (۸۴ مړينې ۴۶ژوبلې) لامل شوې.[۲۵۴] طالبانو د ۱۴ پېښو مسؤليت پر غاړه اخيستی، چې د ۲۵۷ ملکي کسانو د تښتولو او د څلورو ملکي کسانو د وژلو لامل شوې.

يوناما ملاحظه کړې چې دولت ضد عناصرو په مکرر ډول ملکي کسان په دې تور تښتولي، چې له حکومت سره اړيکې لري يا ورسره کار کوي، د دولت د ملکي کارکوونکو او د ملي پوليسو د هغو غړو د هدفي تښتونو او اختطاف سربيره، چې په رخصتي باندې وو. دولت ضد عناصر همدارنګه د مالي ګټو د تر لاسه کولو لپاره هم ملکي وګړي تښتولي او د زياتو پيسو له تر لاسه کولو وروسته بېرته خوشي شوي.

دولت ضد عناصرو زياتره تښتول شوي کسان د پيسو په بدل يا د ځايي مشرانو تر منځګړيتوب وروسته پرته له کوم زيان خوشي کړي دي. له دې سره سره، دولت ضد عناصرو زياتره تښتول شوي د افغان ملي امنيتي ځواکونو رخصتي غړي، د هغوي د کورنۍ غړي او دولتي ملکي کارمندان او دغه راز هغه کسان وژلي، چې د دوی په ګومان د حکومت جاسوسان وو. دولت ضد عناصر د تښتونې پر مهال تښتول شوي ملکي کسان يې زياتره د وهلو ټکولو او شکنجې له امله ټپيان کړي، او يا هم د تښتولو پرمهال د ډزو کولو له لارې هغوي ټپيان کوي.

يوناما د ډله‌ييزو تښتونو پنځه پېښې مستندې کړې دي چې دولت ضد عناصرو زيات شمير ملکي کسان چې شمير يې د ۴۵ تر ۲۰۰ تنو ته رسېدو، تښتولي وو، څو د هغوی له منځه د افغان ملي امنيتي ځواکونه يا هغه کسان په ګوته کړي، چې له طالبانو سره اړيکي لري.[۲۵۵] د مثال په توګه د فبروري پر ۶، دولت ضد عناصرو د فارياب په ميمنه کې دوه شخصي موټرونه ودرول او ۱۱۰ نارينه مسافرين يې و تښتول چې وروسته ۱۰۴ مسافرين چې ملکي تذکرې يې درلودې، خوشي کړل. دولت ضد عناصرو پاتي شپږ مسافران د هغوي د پيژندنو او له افغان امنيتي ځواکونو سره د اړيکو په اړه د څېړنو له ترسره کولو وروسته خوشي کړل.

يوناما له دې امله چې دولت ضد عناصر پر افغان دولت د فشار راوړلو په موخه ملکي کسان تښتوي، انديښمنه ده. د مثال په توګه، د مارچ پر ۲۱، د بدخشان په وردوج کې، دولت ضد عناصرو د خپل لوړ پوړي غړي د کورنۍ د دريو غړو د نيونې په غبرګون کې ۲۰۰ نارينه ملکي کسان، د لږترلږه څلورو ماشومانو په ګډون، له دې امله ونيول، چې د افغان ملي امنيتي ځواکونو د کورنيو غړي وو. ټول نيول شوي کسان وروسته له هغې خوشي شول، چې د

۲۵۳ په ۲۰۱۵ کال کې، يوناما د ولسي وګړو د تښتونې ۴۱۷ پېښې مستندې کړې دي چې له امله يې ۱۷۲ ولسي مرګ ژوبلې (۱۴۵ مړينې او ۲۷ ژوبلې) او د ۱۷۱۳ ولسي وګړو تښتونې رامنځته شوي دي. د ماشومانو د تښتونې په اړه، ماشومانو او وسله واله شخړه څېرکی وګورئ.

۲۵۴ د پاتې ۱۰ پېښې، يوناما يوه پېښه افغان سيمه ييزو پوليسو ته، اته يې دولت پلوه وسله والو ډلو ته> او يوه پېښه هم په ګډه افغان سيمه ييز پوليسو او دولت پلوه وسله والو ډلو ته منسوب کړل.

۲۵۵ د ولسي وګړيو د ډله‌ييزې تښتونې د دوو پېښو په اړه د می د مياشتې پر ۳۱/۳۰ شپې چې په کندز ولايت کې د طالبانو له‌خوا تر سره شوې وې (کله چې د بس څخه ۱۸۵ مسافرين ښکته او توقيف شول چې وروسته بيا له هغو مسافرانو ۱۵۷ کسان خوشي شول)، او و د فبروري پر ۶، په هلمند ولايت کې (له يوه بس څخه ۴۵ مسافران د طالبانو له‌خوا ونيول شول، او پس له يو لړ ګرويږنې چې ايا دوي له افغان ملي امنيتي ځواکونو سره کومې اړيکې لري يا نه، خوشي شول)، د يوناما د ۲۰۱۶ کال، په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو ساتنه نيم کلن راپور، ۶۴، ۶۵ مخونه وګورئ. طالبانو په يوه علني څرکندونه کې د دواړو پېښو مسؤليت ادعا وکړه. د هغو کسانو له‌خوا چې ځانونه داعش جنګيالي معرفي کوي، د اکتوبر پر ۱۹، د ۶۱ ولسي وګړو د تښتولو په اړه د زياتو معلوماتو لپاره، داعش/ISKP اسلامي دولت، خراسان ولايت څېرکی وګورئ.

دوی د قوماندان نیول شوي خپلوان د دولت له بنده څخه ازاد شول. همدارنګه د بدخشان په راغستان کې د اکتوبر پر ۵، دولت ضد عناصرو د سلو نه زیات کسان چې درواز له سیمې د راغستان په لور رووان وو، د حکومت د هغې پریکړې په غبرګون کې وتښتول، چې پر هغوی یې د تېلو د لیږد بندیز لږولی و، څو د طالبانو له‌خوا د سره‌زرو له معادنو د ناقانونه استخراج مخنیوی وکړي. دولت ضد عناصرو تښتول شوی کسان د اکتوبر پر ۱۶ ورسته له هغې خوشي کړل، چې دولت پر هغوي د تېلو د لیږد بندیز لرې کړ.

یوناما په ۲۰۱۶ کال کې، د هزاره ملکي کسانو په تښتونې کې کموالی مستند کړی ، د ۱۶ پېښو ثبتونه د ۸۵ هزاره ملکیانو تښتونې رانغاړي، د ۲۰۱۵ کال د ۲۶ پېښو په پرتله، چې په پایله کې یې دولت ضد عناصرو ۲۲۴ هزاره ملکیان تښتولي وو. په ۲۰۱۶ کال کې، یوناما په بغلان، اورزګان، سرپل، دایکندي، میدان‌وردک او غور ولایتونو کې د هزاره و ملکیانو تښتونې مستندې کړې دي. دولت ضد عناصرو زیاتره تښتول شوي هزاره ملکیان پرته له کوم زیان خوشي کړي دي، په داسې حال کې چې پنځه ملکیان، درې په سرپل، یو په غور، او یو بل په بغلان کې وژل شوي. د ۲۰۱۵ کال په خلاف، یوناما په ۲۰۱۶ کال کې، د غزني په ولایت کې د هزاره ملکیانو د تښتونې هیڅ ډول پېښه نه ده ثبته کړې، او سرچینې وایي چې ښایي د افغان ملي امنیتي ځواکونو له‌خوا په پخوانیو اغیزمنو شویو کې د امنیتي پوستو جوړونې د تښتوونو مخه نیولې وي.[۲۵۶]

د هزاره د تښتولو د پېښو په شمیر کې د عمومي کموالي سره سره، یوناما د هزاره ملکیانو دتښتونې ۷ پېښې ثبتې کړي چې په‌کې ۳۴ هزاره ملکیان د میدان وردک په ولایت کې تښتول شوي وو، د ۲۰۱۵ کال د ۲ پېښو په پرتله، او هغه هم د کوچیانو او هزارګانو ترمنځ د ځمکو پرسر له شخړو سره تړاو درلود. یوناما همدارنګه د غور په ولایت کې د هزاره ملکیانو د تښتونې په پېښو کې زیاتوالی مستند کړی دی، او درې پیښې یې ثبتې کړې، چې په‌کې دولت ضد عناصرو نهه هزاره ملکیان تښتولي وو، حال دا چې په ۲۰۱۵ کې هیڅ ډول تښتونې نه وې ثبتې شوې.[۲۵۷] د غور او میدان وردکو په ولایتونو کې د هزاره توکم غړي د تاجیکانو یا پښتنو ملکیانو په متقابلې تښتونې لاس پورې کړ، څو وتوانېږي خپلي تښتول شوي هزاره ملکیان وژغوري.

یوناما ټینګار کوي، چې د بشرپالنې نړیوال قانون، یرغمل نیونه منع کوي، او دا چې دا کار کېدای د جنګي جرایمو تر کچې ورسېږي.[۲۵۸] یوناما په شخړه کې له ټولو ښکېلو خواوو غواړي، چې د ملکیانو یرغمل نیول پرته له دې چې تر شا یې کوم هدف وي، پای ته ورسوي. یوناما همدارنګه له دولت څخه په کلکه غواړي، چې په خپل قلمرو کې ټولو

---

۲۵۶ په ۲۰۱۵ کال کې، یوناما په غزني ولایت کې د تښتونې ۱۰ پېښې مستندې کړې دي چې هزاره توکم ولسي وګړي په نښه کړې وو، (کوم چې په ترځ کې یې۶۳ هزاره ولسي وګړي تښتول شوي، ۱۶ نور مړه او یوه هزار ولسي وګړي ټپي شوی و).

۲۵۷ له هغو دریو پېښو چې په غور ولایت کې هزاره توکم ولسي وګړي په نښه کړي وو یوناما دوې پیښې هغه دولت‌ضد عناصرو ته منسوب کړې چې ځانونه داعش/ISKP معرفي کوي، کومو چې د ننګرهار له داعش/ISKP سره (پرته له دې چې د دوي په نامه خپل کسان جګړې ته استوي)، او یا په شام کې د اسلامي دولت تنظیم سره، کوم ظاهري تړاو نه لري. د دې موضوع په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره، داعش/ISKP اسلامي دولت، خراسان ولایت څپرکی وګورئ. دریېمه تښتونې پیښه چې په غور ولایت کې هزاره توکم په نښه کړې وه، کومه چې په ترځ کې یې درې ولسي وګړي تښتول شوي وو، طالبانو ته منسوب شوي وو.

۲۵۸ د ژنیو د کنوانسیونو دریېمه مشترکه ماده؛ دویمه الحاقي پروتوکول، ماده ۴(۲)(C)؛ د نړیوالو جرمونو د محکمې اساسنامه، ماده ۸ (۲) (C) (iii)؛ د نړیوال سره صلیب د کمیټې له‌خوا د نړیوال پر عرفي قانون څېړنه، ۹۶، ۱۵۶ قاعدې.

اشخاصو ته د آزادی ، ژوند ، جسمی روغتیا او د خوځښت ازادي حقونه خوندي کړي ، هغه څه چې له دولت څخه يې د هغه د بشري حقونو نړيوال مکلفيتونه غوښتنه کوي.[۲۵۹]

### د موازي عدلي جوړښتونو له خوا پلې شوې سزاګانې

"*پنځه دولت ضد عناصرو د هغوی د تش په نامه ولسوال په ګډون ، په يوه تور موټر کې چې ښينښې يې هم توري وې يوه ښځه زموږ کور ته نږدې راووسته او له موټره ښکته کړه او د دريو مرميو په ويشتلو سره يې وواژله. د ښځې ليوره له دولت ضد عناصرو څخه د هغې وژلو لپاره مننه وکړه او هغوی ته يې د چاي څښلو بلنه ورکړه ، خو هغوی ونه منله او له هغه ځايه لاړل. د ښځې قبر د هغې تر وژلو مخکې تيار شوی و ، ځکه د دولت ضد عناصرو له خوا يې ځايي خلکو ته د کيندلو ويل شوي و. د ښځې وينه هيڅ نه دريده. د هغې مړی د يو نيم ساعت لپاره تر ونې لاندې پرېښودل شو او وروسته ښخ کړای شو. ښځه د کورني تاوتريخوالي له امله د خسر د ناسمو تورونو په خاطر ووژله شوه. له هغې يوه درې کلنه لور او د اوه مياشتنی زوی پاتې شول.*" [۲۶۰]

-- د يوه موازي جوړښت لهخوا پر يوې ښځې چې د زنا په فعل تورنه شوې وه د اجرا شوی اعدام شاهد ، چې د دولت ضد عناصرو لهخوا د جوزجان ولايت په [نا اعلان شوی] ولسوالۍ کې د ۲۰۱۶ کال په مارچ کې تر سره شو.

په ۲۰۱۶ کال کې ، يوناما د سزاګانو د جاري کولو ۴۱ پېښې[۲۶۱] مستندې کړې چې پر ملکي کسانو باندې د موازي عدلي جوړښتونو لهخوا وضع شوې وې او په نتيجه کې يې ۵۰ ملکي ملکي مرګژوبلې (۳۸ مړينې او ۱۲ژوبلې) رامنځته شوې.[۲۶۲] په داسې حال کې چې يادې پېښې د ۲۰۱۵ کال [۲۶۳]په پرتله د موازي عدلي جړښتونو لهخوا په وضع شويو سزاګانو کې ۳۴ سلنه کمښت په ډاګه کوي ، خو دا احتمال شته ، چې د دولت ضد عناصرو تر ولکې لاندې سيمو کې د محدود لاسرسي له امله ، ورته پېښې په بشپړه توګه نه وي راپور شوي.

يوناما داسې صحرايي اعدامونه مستند کړي ، چې د طالبانو په ګډون د دولت ضد عناصرو لهخوا ، د سر د غوڅولو ، د مرمي په ويشتلو ، د دار په ځړولو ، د دورې وهلو ، ټکولو ، د بدن د غړو په غوڅولو او د تحقير او سپکاوي د کولو له لارې تر سره شوي دي. دا ډول سزاګانې ډېری وخت د هغو عملونو په مقابل تر سره شوي ، چې د دولت ضد عناصرو

---

۲۵۹ د مدني او سياسي حقونو په اړه نړيوال تړون ، ۶ ، ۷ ، ۹ ، ۱۰ ، ۱۰ مې مادې.

۲۶۰ د ۲۰۱۶ د مارچ پر ۲۸ ، د بلخ ولايت په مزار شريف کې له شاهد سره د يوناما ټيلفوني مرکه.

۲۶۱ د يوناما لهخوا د "موازي عدلي جوړښتونو" د اصطلاح کاروني بايد داسې و نه انګېرلې شي چې ګوندې يوناما مقصد به دا وي چې د طالبانو/دولتضد عناصرو لهخوا پلې شوي حقوقي نظام مشروعيت لري ، او يا چې د "عدلي" اصطلاح د کاروني څخه دا برداشت وشي چې ګوندې يوناما په دې باور دی چې ورته ميکانيزمونه په يو نه بل ډول ، "عادلانه" دي ، او يا د کوم (د يو شان احکامو خاوند) يا منظم حقوقي نظام برخې دي. د "موازي عدلي جوړښتونو سزاګانې" په دې معنا ده چې دولتضد عناصرو لهخوا ، د مجازات په ډول ، د هغو عملونو د ارتکاب په تور چې د طالبانو او يا دولتضد عناصرو لهخوا جرم بلل کېږي ،له دولت سره د " همکاري " او هغې ته جاسوسي د جرمونو په ګډون ، يو شخص په عمدي ډول ووژل او يا ټپي شي ، کله چې دا وژنې او ټپي کېدنې د طالبانو يا نورو دولت ضد عناصرو لهخوا د محاکمه کولو ، محکومولو او اعدامولو په نتيجه کې رامنځته شي.

۲۶۲ د موازي عدلي جوړښتنو د جاري شويو سزاګانو له امله د ولسي مرګ ژوبلې پېښې چې د يوناما لهخوا ثبتې شوې دي ، ټول د دولت ضد عناصرو لهخوا تر سره شوې دي. يوناما د دغو جوړښتونو لهخوا د رامنځته شوې مړينې او ژوبلې پېښې ثبتې کړې ، په دې کې هغه پېښې هم شاملې دې چې په مستقيم ډول له شخړې سره تړاو لري (د مثال په توګه د افغان ملي اردو د يوه سرتيري د پلار اعدامول) او يا هغې پېښې چې د دولتضد عناصرو له خوا د يوې ولسي وګړي پرضد پرته له دې چې له شخړې سره کوم تړاو ولري ترسره شي ، لکه د زنا په تور په عامه محضر کې د دورو وهل. يوناما د دولتضد عناصرو لهخوا د تښتول شويو ولسي وګړو وهل ټکول او وژنې د "د شخړې سره په تړاو د ملکي وګړو تښتونې او عمدي وژنې " په څېرکي او يا د "دولت ضد عناصرو لهخوا هدفي وژنې چې ولسي مرګ ژوبلې رامنځته کوي" په څېرکي مستندې کوي. کله چې يوناما داسې معلومات ترلاسه کوي چې ولسي وګړي د يوې موازي عدلي جوړښت د رسيدګي د پروسې وروسته ، ټکول ، شکنجه يا اعدام شوي ، او يا په کوم بل ډول ، ناوړه سلوک ورسره شوی دی ، نو ورته تر لاسه شوي معلومات په دغه څېرکي کې مستندوي.

۲۶۳ په ۲۰۱۵ کال کې ، يوناما د موازي عدلي جوړښتونو لهخوا د جاري شويو سزاګانو له امله ۷۶ ولسي مرګ ژوبلې (۶۰ مړينې او ۱۶ ژوبلې) مستندې کړې.

لەخوا جنايي او *"غير اخلاقی"* کړنې بلل کېږي ، چې ګواکې د نارينه وو او ښځو لەخوا تر سره شوي وو ، له کوره د ښځو د تېښتو په ګډون .[٢٦٤] د مثال په توګه د هلمند په نادعلي کې دولت ضد عناصرو د اګست پر ۶ ، د ځمکنيو نښتو په نتيجه کې د بې‌ځايه شوو ملکيانو له کورونو څخه چې بې صاحبه پاتې شوي وو ، د غلا د کولو په تور ، په عام محضر کې د يوه سړي لاس غوڅ کړ. د جون پر ۳ ، طالبانو د زابل په شاه‌جوي کې د يوه سړي سر ، چې د يوه هېيوال د وژنې په جرم ، پرې کړ. د همدغه مراسمو په ترځ کې طالبانو يوه ښځه د زنا په تور ، د ۸۰ دورو په وهلو محکومه او حکم ورباندې جاري کړه.

يوناما همدارنګه مستنده کړې چې موازي عدلي جوړښتونه پر هغو ملکي کسانو باندې سزاګانې وضع کړې دي ، چې د دوی په نظر هغوي يا د هغوي خپلوانو له دولت او يا له افغان ملي امنيتي ځواکونو سره کار کوي او يا له هغوی سره اړيکې لري.[٢٦٥] د مثال په توګه ، د ډسمبر پر ۲ ، طالبانو د ميدان وردګو د چک په ولسوالۍ کې ، يو زده‌کړيال په دې تور په دار وځړاوه چې ګواکې دوه طالب قوماندان يې وژلي وو. طالبان ادعا کوي چې تر وژنې مخکې يې خيړنې او پوښتنې ګرويږنې ترسره کړي.[٢٦٦]

د موازي عدلي جوړښتونو لەخوا تر سره شوي اعدامونه ، د بدن د غړو غوڅونې ، وهل او د زيان د رسولو نور ډولونه د افغانستان د اساسي قانون سره په ټکر کې دي ، او د افغانستان د نورو قوانينو له مخې جرمي عملونه بلل کېږي ، چې کيدای شي له بشري حقوقونو تيری وګڼل شي ، او بله دا چې دا عملونه د بشرپالنې له نړيوال قانون څخه جدي سرغړونې بلل کېږي ، چې ښايي د جنګي جرمونو تر کچې لوړ شي.[٢٦٧] د دغو کارونو په ناقانونې سربيره کېږي ، د حکومت لەخوا قربانيانو ته د بشري حقونو له دغو تيريو څخه چې د موازي عدلي جوړښتونو لەخوا تر سره کېږي او دولت ضد عناصرو يې تطبيقوي ، د جبران کولو د ميکانيزمونو نه شتون دی. د دغو تيريو په مخه نيولو ، او د مرتکبينو د قانون منګولو ته په سپارلو کې د دولت ناکامي کېدای شي په‌خپله پر بشري حقونو تيری وبلل شي ، ځکه دولت د اړتيا وړ هڅو د کولو (due diligence) له معيار سره سم ، د خپلو مسؤليت ونو په سر ته‌رسولو کې پاتې راغلی.[٢٦٨]

يوناما دولت‌ضد عناصر هڅوي ، چې بې له ځنډه ناقانونه عدلي جوړښتونه بند کړي ، او پر ملکي افغانانو باندې د سزاګانو له وضع کولو څخه ډډه وکړي ، او ژر تر ژره ټول هغه ملکي کسان چې د دوي په بند کې دي ، خوشي کړي.

---

٢٦٤ لکه څرنګه چې دا ډول ميکانيزمونه په خپل ماهيت کې ناقانونه دي ، يوناما د دغو جوړښتونو موجوديت او د هغو له مخې رامنځته شويو سزاګانو ته له بشري حقونو څخه د سرغړاوي په سترګه ګوري. نو ځکه د يوناما تحليل د نړيوالو بشري حقونو د تاييد شويو معيارونو په رڼا کې ، چې يوه بيلګه يې د عادلانه محاکمې حق دی ، د ټولنو لەخوا د راپور ورکړ شويو اجراآتو عناصر نه ارزوي.

٢٦٥ يوناما د هغو ولسي وګړو په عمدي ډول وژنې او تښتونې (کله چې يادو ولسي وګړې د وژل کېدو په خاطر تښتول کېدل) ثبتې کړې دي چې د حکومت په ګټه د جاسوسي ګومان پرې کېده.

٢٦٦ طالبانو د دغې پېښې مسؤليت د ډسمبر پر ۴ ، په خپله درې ويبپاڼه کې ادعا کړې. وګورئ: http://alemarah-dari.com/?p=44395، په وروستي ځل ، د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر پر ۲۷ ورته لاسرسی وشو.

٢٦٧ دريېمه مشترکه ماده په واضح ډول د قتل ، تاوتريخوالي ، د عادلانه محاکمو د معيارونو له مراعاتولو پرته اعدامونه ، شکنجه ، د اندامونو پرې کول او دخشونت نور ډولونه منع کوي. دغه ډول اعمال هر وخت او په هر ځاي او هرډول حالاتو کې ممنوع دي. په افغانستان کې د دريېمې مشترکې مادې د تطبيق د زياتو تفصيلاتو په اړه ، د دې راپور حقوقي برخې ته مراجعه وکړئ.

٢٦٨ د لازم احتياطي تدبيرونو معيار (Due Diligence Standard) دا وايي: "که څه هم يوه ناقانونه عمل چې له بشري حقونه سرغړوي ، او کوم چې په لومړي سر کې يوه دولت ته د پورې کولو وړ نه وي ،(د مثال په توګه ، ځکه چې دا د يو شخص عمل وي ، او يا چې مسؤل کس نه دی په ګوته شوی) بيا هم کيدای شي په نړيواله کچه د اړوند دولت مسؤليت وګڼل شي ، نه يوازې پخپله د عمل په خاطر ، بلکې د لازمو احتياطي تدبيرونو د نه شتون له امله چې له مخه يې د دغې سرغړونې مخنيوی وشي يا د دولت لەخوا ورته سم غبرګون وښودل شي " وګورئ: Inter-American Court of Human Rights, 1988 judgment in the Velasquez-Rodriquez case (يو لړ ورکيدنې چې د نادولتي فعالينو لەخوا تر سره شوې وې).

یوناما بیا تکراروي ، چې په افغانستان کې د اساسي بشري حقونو د خوندي کولو بشپړ مسؤلیت  د دولت پر غاړه دی ، او دولت باید د ټولو ورته کړنلارو مخنیوی خپل لومړیتوب وګرځوي.

**د موازي عدلي جوړښتونو لهخوا پر ښځو د *"اخلاقي جرمونو"* په نامه وضع شوې سزاګانې**

په ۲۰۱۶ کال کې ، د دولت ضد عناصرو د موازي عدلي جوړښتونو له لارې د *"اخلاقي جرمونو"* په نامه وضع شویو سزاګانو لړۍ دوام وموند. په ۲۰۱۶ کال د جنوري ۱ او ډسمبر د ۳۱ مې ترمنځ ، یوناما ۱۰ داسې پېښې مستندې کړې دي ، چې په پایله کې یې پنځه ښځې مړې او پنځه نورې ټپیانې شوې.

یوناما د پنځو ښځو او دوو سړیو اعدام چې د مرمیو د ویشتلو له لارې ترسره شوی و ، مستند کړی ، چې د دولت ضد عناصرو د موازي عدلي جوړښتونو له خوا د زنا *"غیر اخلاقي کارونو"* ، او له کوره د تښتېدو په خاطر ترسره شوي و. د مثال په توګه ، د جولای پر ۱۶ ، دولتضد عناصرو د سمنګانو له حضرت سلطان ولسوالۍ څخه یوه ۱۸ کلنه میرمن له خپل کور څخه یوړه او د غونډۍ سر ته یې کش کړه چیرې چې یې د *"غیر اخلاقي جرم"* په تور ، په ډزو ووژله. د اګست پر ۱ ، د سر پل په کوهستاناتو کې دولتضد عناصرو یوه ۱۹ کلنه ښځه له کور څخه د تښتیدو په جرم ووژله ، نوموړې ښځې د کورنې تاوتریخوالی له امله پولیسو ته پناه وړې وه.

یوناما همدارنګه د دولتضد عناصرو له خوا په عام محضر کې د پنځو ښځو او دوو نارینه وو په دورو وهل مستند کړي دي. دغه دورې وهنې د زابل په شاهجوی او د سمنګانو په درهصوفِ پایین کې د زناه په تور ، د غور په چارسده کې له کوره د تښتېدو په جرم ، په پشتونکوټ کې له پردي نارینه و سره د ملګرتیا په تور ، او د سرِپل په کوهستاناتو کې پر موټرسایکل باندې په ناوړه طریقه د سپریدو په جرم تر سره شوي دي.

د موازي عدلي جوړښتونو لهخوا د پورته یادو شویو سزاګانو د پېښو سربېره ، یوناما د فاریاب په پشتونکوټ کې د خپل خسر لهخوا په ډزو د یوې ۲۰ کلنې ښځې وژنه مستنده کړې ، چې د بداخلاقۍ د سزا په خیر ، وروسته له هغې چې هغه له بل نامحرم سړي سره په ټیلیفون په خبرو کولو او له کوره په تېښته تورنه شوې وه ، د دولت پلوه وسله والې ډلې د یوه قوماندان لهخوا د هغې د وژنې امر شوی .

یوناما یادونه کوي ، چې پر ښځو او نارینه وو د دا ډول سزاګانو جاري کول ، د هغوی د ژوندانه پر حق ، او پر نورو بنسټیزو بشري حقونو تیری بلل کېږي. دا ډول سزاګانې بې رحمه ، غیر انساني ، او د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال کنوانسیون د ۷ مادې له حکمونو سره ، او د ملګرو ملتونو د شکنجې پرضد او همدارنګه د جنیوا د کنوانسیونونو د ۳ ګډې مادې له حکمونو سره په ټکر کې دي. دا ډول سزاګانې همدارنګه د ازادۍ او امنیت او د قانو په وړاندې د برابرۍ پر حقونو تیری دی.

یوناما بیا ټینګار کوي ، چې د طالبانو په ګډون ، دولتضد عناصر باید بې له ځنډه ، ټول شته موازي عدلي جوړښتونه منحل کړي او د هغو پر بنسټ ، وضع شوې سزاګانې ، چې ګواکې د شریعت له قانون څخه د ادعا شوو سرغړونو په مقابل جاري کېږي ، ودروي. ورته ممنوعیت پر دولت پلوو وسله والو عناصرو هم د پلي کیدو وړ دي.

## د ملکیانو او ملکي اهدافو په عمدي توګه په نښه کول

*"زه د لمانځه پر دویم رکعت ولاړ وم چې ناڅاپه د جومات له ښځینې څانګې د فیرونو اواز پورته شول. زه په تښتېدو بریالي نشوم. ما یو سړی ولید چې د عامه نظم پولیسو یونیفورم یې اغوستی و، او کلاشنیکوف یې په لاس کې و، او ورسره نور اضافي شاجورې، لاسي بمونه او یوه تومانچه هم وه. هغه پر خلکو په بې تفکیکه ډول په ډزو پیل وکړ. هغه زما پر ورور هم ډزې وکړې. دبرید په ترڅ کې له لاسي بمونو هم کار واخیستل شو. ما کوښښ وکړ، چې ځان ته یو خوندي ځای پیدا کړم، خو ونتوانېدم. په اخر کې مې یوه کوټه ومونده چې د امام لهخوا کارول کېده، هلته مې له دوو نورو سره ځانونه پټ کړل، تر ۴۵ دقیقو وروسته ډزې ودرېدې. ما د جومات په دننه ډېر وژل شوي نارینه ولیدل او دروازې ته نږدې یوه ژوبله شوې ښځه مې هم ترسترګو شوه. په هغې شپه تر نارینهوو زیات ښځو په جومات کې شتون درلود.*[269]

-- د اکتوبر پر ۱۱، د کارته سخي پر جومات د داعش لهخوا د ادعا شوي ډلهییز برید شاهد، چې ۱۹ ملکي کسان پهکې ووژل او ۶۰ نور ټپیان شول.[270]

د ۲۰۱۶ کال په اوږدو کې دولتضد عناصرو د ملکي کسانو او ملکي شیانو په عمدي ډول په نښه کولو ته دوام ورکړ.[271] له ټولو هغو ملکي تلفاتو چې د یوناما لهخوا مستند شوي دي، ۲۴ سلنه یې د هغو بریدونو په پایله کې رامنځته شوي چې په عمدي ډول د ملکي کسانو ملکي شیانو پر ضد ترسره شوي وو، او د ۲۰۱۵ کال د ملکي تلفاتو سره په سمون کې دي.[272] یوناما بیا ټینګار کوي، له هغو بریدونو چې په مستقیم ډول د قضایي چارواکو، څارنوالانو، او نورو دولتي ملکي کارکوونکو په ګډون ملکي کسان او ملکي اهداف(په یوه ولسوالۍ کې د ولسوالۍ ودانۍ) لکه سفارتونه، قنسولګرياني، رسنیز مسلکیان، ماین پاکان، د نادولتي سازمانونو کارکوونکی او مذهبي لړکي په نښه کوي، د نړیوال قانون څخه جدي سرغړونه ده او کېدای شي جنګي جرمونه وبللي شي.[273] په ځینو ځانګړیو حالاتو کې، که چېرته دا ډول بریدونه په پراخه او سیستماتیک ډول د ځانګړو ملکي خلکو پر ضد ترسره شي، کیدای شي د بشریت ضد جرمونه وګڼل شي.[274]

---

۲۶۹ له قرباني سره د یوناما مرکه، کابل ښار، ۲ ډسمبر ۲۰۱۶.

۲۷۰ داعش/ISKP د اکتوبر پر ۱۱ د برید مسؤلیت د خپل نشراتي ارګان اعماق خبري اژانس له لارې اعلان کړ، چې وروسته بیات د ترهګري د څار د ټویټر حساب له لارې بیا خپور شو، چې په لاندې پته د لاسرسي وړ دی. https://twitter.com/Terror_Monitor/status/786176073163694080، په وروستي ځل، د ۲۰۱۷ کال د جنوري پر ۱۶ ورته لاسرسی وشو.

۲۷۱ دغه څپرکی د هغو بریدونو په اړه بحث کوي چې د هغو مختلفو تاکتیکونو په استفادې سره، چې په تیر څپرکي کې تر بحث لاندې ونیول شول، په عمدي توکه ملکي وګړي یا ملکي اهداف په نښه کوي ،کومو چې له هماغو یادو شویو تاکتیکونو څخه منشا اخیستي دي او نوي تاکتیکونه نه جوړوي. لومړی الحاقیه پروتوکول ۴۹ (۱) مادې "برید" داسې تعریفوي: "د دښمن پر ضد د تاوتریخوالی عمل که د یرغل په بڼه وي او که د دفاع په بڼه" (یاد تعریف د نړیوال دودیز بشرپال قانون کې هم په عمومي ډول منل شوی دی). یوناما د بریدونو سربېره، د ملکي کسانو پر ضد د تاوتریخوالي هغه عملونه هم پهکې ځایوي چې یو شخړیز اړخ ولري او همدارنګه نورې کړنې لکه ګواښنه، تهدید، څورونه، له پوهنیزو او روغتیایي ودانیو څخه نظامي کار اخیستنه هم شاملوي.

۲۷۲ په ۲۰۱۵ کال کې، د ملکي وګړو او ملکي شیانو په نښه کوونکو بریدونو له امله ۲۴۷۴ ملکي مرګژوبلې رامنځته شوې دي، چې د ټولو ملکي مرګژوبلو ۲۲ سلنه جوړوي. یوناما د افغان ملي پولیسو پر ضد ترسره شوي بریدونه په هغو محاسبو کې نه راولي چې د حقایقو په نظر کې نیولو سره ښایي د هغو کسانو پر ضد بریدونه وي چې په مستقیم ډول په جګړه ییزو فعالیتونو کې ونډه اخلي.

۲۷۳ جنګي جرمونه لاندې عملونو ته لاس پورې کول رانغاړي: د هغو کسانو د ژوندانه او شخصیت پر ضد چې په جګړه ییزو فعالیتونو کې ونډه نه لري د ژنیو د کنوانسیون د دریيمې مشترکې مادې ۳ (۱) له مخې منع شوې عملونه د هغوي پر ژوند او شخصیت باندې د تیري په ګډون ؛ هغه عملونه چې د ویمې الحاقي پروتوکول ۴(۲) مادې له مخې منع شوي وي ؛ او هغه بریدونه چې په عمدي ډول ملکي وګړي یا ملکي اهداف په نښه کوي. وګورئ: د نړیوالې جنایي محکمې اساسنامه، Articles 8(2)(c), 8(2)(e)(i)، د نړیوال سره صلیب د کمیټې له خوا پر نړیوال دودیز بشرپال قانون څېړنه ۱۵۶ قاعده.

۲۷۴ د لا زیاتو معلوماتو لپاره، "د شیعه مذهب لړکي پر ضد عمدي فرقه یي بریدونه" څپرکی وګورئ.

سربیره پر دې ، چې یوناما (لکه څرنګه چې په تیر څپرکي کې وڅیړل شو) ملکي تلفات د کارول شویو تاکتکونو د ډولونو پر اساس مستندي کړي دي. یوناما همدارنګه د ملکي تلفاتو پېښې د په نښه شویو هدفونو له مخې ثبتوي. یوناما ملکي هدفونه د نړیوال قانو پر بنسټ تعریفوي ، چې په دې کټګورۍ کې هغه بریدونه نه دي شامل ، چې د افغان ملي امنیتی ځواکونو ، دولت پلوو وسله والو ډلو ، دولت ضد عناصرو ، نړیوالو نظامي ځواکونو او یا د هغو ملکي کسانو پرضد ترسره شوي وي ، چې په نېغ ډول په جګړهییزو فعالیتونو کې ونډه اخلي او د هغو ملکي ځایونو پر ضد تر سره شوي دي ، چې د نظامي هدفونو د رسېدو په موخه ترې کار اخیستل کېږي.[275] د دې کار په کولو سره ، یوناما کولای شي هغه ملکي تلفات ، چې د ځمکنیو نښتو او یا بریدونو په نتیجه کې رامنځته شوي چې د نظامي هدفونو په ضد ترسره کېږي ، له هغو تلفاتو جلا کړي چې په عمدي ډول په جګړه کې د ښکیلو غاړو له طرفه په نښه شوي دي - چې جنګي جنایت بلل کېږي.[276]

په ۲۰۱۶ کال کې ، طالبانو د ۸۲ بریدونو مسؤلیت پر غاړه اخیستی ، چې په مستقیم ډول د ملکي کسانو او ملکي شیانو پر ضد تر سره شوي وو ، او په نتیجه کې یې ۴۶۴ ملکي مرګژوبلې (۱۱۹ مړینې او ۳۴۵ ژوبلې) رامنځته شوې وې. په ځینو مواردو کې طالبانو د ملکیانو پر ضد خپل بریدونه توجیه کړي لکه هغه بریدونه ، چې د رسنیزو کارکوونکو او قضایي کارکوونکو پر ضد ترسره شوي وو ، یعني هغوي د خپلو معیارو پر اساس هغه هدفونه ، چې د نړیوال قانون له مخې ملکي بلل کېږي د نظامي هدفونو په شان تعریف کړي وو.[277] د طالبانو لهخوا د ملکي تلفاتو مسؤلیت پر غاړه اخیستل بل مثال هغه دی چې د جون په ۲۰ ، په کابل ښار کې پر یوه بس موټر ځانمرګی برید و چې د کاناډا سفارت نیپالي ګارډان پهکې سپاره وو. نوموړي برید ۱۵ ملکي کسان ووژل او اووه نور یې ټپیان کړل.[278]

په ۲۰۱۶ کال کې ، داعش د نهو بریدو مسولیت پر غاړه اخیستی چې ملکي کسان یا ملکي اهداف په کې په نښه شوي وو ، او په نتیجه کې یې ۷۴۳ ملکي مرګژوبلې (۱۶۴ مړینې ا ۵۷۹ ژوبلې) رامنځته شوې. په یادو بریدونو کې

۲۷۵ یوناما هغه بریدونه چې د افغان ملي پولیس پر ضد تر سره کېږي ، د هغو بریدونو په احصائیو کې نه ځایوي کومې چې د ملکي وګړو او ملکي شیانو پر ضد بریدونه بلل کېږي ، ځکه چې افغان ملي پولیسو ته د ملکي وګړو د ساتنې امتیاز ، هغوي ته دا امتیاز ورکول ، د هرې پېښې د جلا جلا شننې پر اساس ، او د برید په وخت کې هغوي ته د ځانګړیو ورسپارل شویو دندو او فعالیتونو پورې تړلې دی.

۲۷۶ جنګي جرمونه لاندې عملونو ته لاس پورې کول رانغاړي: د هغو کسانو د ژوندانه او شخصیت پر ضد چې په جګړه ییزو فعالیتونو کې ونډه نه لري د ژنیو د کنوانسیون د دریېمې مشترکې مادې ۳ (۱) له مخې منع شوي عملونه د هغوي پر ژوند او شخصیت باندې د تیري په ګډون ؛ هغه عملونه چې د ویمې الحاقي پروتوکول ۴(۲) مادې له مخې منع شوي وي ؛ او هغه بریدونه چې په عمدي ډول ملکي وګړي یا ملکي اهدافپه نښه کوي. وګورئ : د نړیوالې جنایي محکمې اساسنامه ، Articles 8(2)(c), 8(2)(e)(i) ، د نړیوال سره صلیب د کمیټې له خوا پر نړیوال دودیز بشرپال قانون څېړنه ۱۵۶ قاعده. دا د دې شونتیا نه استثنا کوي ، چې هغه ملکي مرګژوبلې چې په غیر مستقیم ډول د نظامي هدفونو پر ضد د ترسره شویو بریدونو له امله رامنځته کېږي ، ښایي له نړیوال بشرپال قانونه جدي سرغړونه وګڼل شي او د جنګي جرمونو تر کچې ورسېږي ، چې په هغو کې بې توپیره او بې تناسبه بریدونه هم شامل دي. د مثال په توګه وګورئ: Prosecutor v. *Stanislav Galić*, Case No. IT-98-29-A, Appeal Judgement, 30 November 2006, paras. 132, 133. ، همدا راز وګورئ: د نړیوال سره صلیب د کمیټې له خوا پر نړیوال دودیز بشرپال قانون څېړنه ۱۵۶ قاعده.

۲۷۷ د مثال په توګه ، د یوې اعلامیې په ترځ کې چې د اپریل پر ۲۹ او وروسته له دې خپره شو چې د حکومت لهخوا د شپږو تنو په اعدام محکوم شویو طالبانو باندې د اعدام د حکم شو ، طالبانو و یلی "د دښمن تش په نامه قضائي ارګانونه د خپلو جرمونو درانه تاوان به ورکړي [...] د دوی هغه کارکوونکي چې د دې اعدامونو په ترسره کولو کې ونډې درلودې له یو مخې به زموږ مشروع نظامي هدفونه وي". وګورئ: "د غني د ادارې لهخوا د اسیرانو د اعدامولو د تصمیم په اړه د اسلامي امارت اعلامیې" پخوا په لاندې پته د لاسرسي وړ و: http://shahamat-english.com/statement-of-islamic-emirate-regarding-intent-of-executing-prisoners-by-the-ghani-administration/ ، کاپي له یوناما سره په ریکارډ کې موجوده ده. همدا راز د طالبانو لهخوا د مسؤلیت ادعاوې او اعلامیې څېړکی وګورئ.

۲۷۸ طالبانو د پېښې د مسؤلیت ادعا پر خپله انګریزي ویبپاڼه کړې وه چې پخوا په لاندې پته د لاسرسي وړ و: http://shahamat-english.com/?p=487 ، کاپي له یوناما سره په ریکارډ کې موجوده ده. داعش/ISKP هم د یادې پېښې مسؤلیت په غاړه اخیستې و ، خو یوناما رامنځته شوې مرګ ژوبلې د طالبانو لهخوا د رامنځته شویو مرګژوبلو تر کټګورۍ لاندې راوستې دي. د داعش/ISKP لهخوا د پېښې مسؤلیت اعلان په لاندې پته د لاسرسي وړ دی: https://news.siteintelgroup.com/Jihadist-News/is-khorasan-province-claims-killing-16-nepalese-security-guards-in-suicide-bombing-in-kabul3.html ، په وروستي ځل د ۲۰۱۶ د فبرورې په ۲ ورته لاسرسي وشو.

درې هغه بريدونه شامل  دي چې د کابل په ښار کې شيعه مذهبه لږکي او يو بل يې چې د دولت ملکي کارکوونکي يې په نښه کړی وو ، او ټولټال ۷۱۲ ملکي مرګژوبلې (۱۵۲ مړينې او ۵۶۰ ژوبلې) رامنځته کړې وې.[۲۷۹] داعش همدارنګه په ننګراهار کې ملکيان په نښه کړي وو. د مثال په توګه ، د جون پر ۲۱ ، د ننګرهار په بهسودو کې ، داعش د ځايي پوليسو د يوه قوماندان زوی چې د موټرو د ترميم ورکشاپ يې درلود پر نقليه وسيله د سپرو کسانو په مټ وويشته ، او په دغه بريد کې يو بل ۱۶ کلن هلک هم ټپي شو.[۲۸۰]

په ټوليز ډول ، يوناما د ۲۰۱۶ کال په ترڅ کې په هغو بريدونو کې چې د ماين پاکانو ،[۲۸۱] قومي مشرانو ،[۲۸۲] او ديني ودانيو پرضد  تر سره شوي ، زياتوالی ملاحظه کړی.[۲۸۳] ياد بريدونه لاندې پېښې رانغاړي: دفبرورۍ پر ۲۷ ، د دولت ضد عناصرو لهخوا د کونړ په اسعداباد کې د قومي مشرانو د يوې غونډې پر ضد بريد چې د ۱۴ ملکيانو د مړينې او د ۳۷ نورو ملکيانو د ژوبلې لامل شو. د ۲۰۱۵ کال په پرتله ، په هغو ملکي تلفاتو کې ، چې د دولتضد عناصرو له خوا د دولت د ملکي کارکوونکو پر ضد ( دقاضيانو ، څارنوالانو ، او قضايي کارمندانو په ګډون) ترسره کېږي کموالی راغلی دي.[۲۸٤] له دې سره سره ، يوناما د طالبانو لهخوا د قاضيانو او قضايي کارکوونکو د اعلان شوي هدف نيونې له امله ، وروسته له دې چې قاضيانو د مې په مياشتې ، د هغوي له بنديانو شپږو ته د اعدام حکم ورکړ ، او هم د دولت د ملکي کارکوونکو پرضد د هغوي د نه درېدونکو بريدونو له امله اندېښمنه ده. د مثال په توګه د اکتوبر په ۵ ، يوه ځانمرګي دولتضد عنصر ، خپل چاودېدونکي توکي د کابل ښار د دارالامان پر سړک باندې د کانونو او پټروليم وزارت د کارکوونکو په وړاندې وچول چې په نتيجه کې يې ۲۰ ملکي کسان ټپيان شول.

يوناما همدارنګه په ۲۰۱۶ کال کې څلور نور بريدنه مستند کړي ، چې سفارتونه او قنسولګريانې يې په نښه کړې وې ، او د ۱۷۷ ملکي مرګژوبلو (۱۳ مړينې او ۱۶۴ ژوبلې) سبب شوي. دولتضد عناصرو د ننګرهار په جلالآباد ، او د بلخ په مزار کې د هندوستان پر قنسولګريو بريدونه وکړل ، په داسې حال کې چې داعشو د جلال آباد په ښار کې د پاکستان پر قنسولګري د بريد مسؤليت  او طالبانو په مزارشريف کې د آلمان پر قنسولګري د بريد مسؤليت  پر غاړه واخيست.[۲۸۵]

---

۲۷۹ د بشپړ جزئياتو لپاره ، داعش/ISKP د اسلامي دولت ، خراسان ولايت څپرکی وګورئ.

۲۸۰ داعش/ISKP د پېښې مسؤليت  د جون پ۲۱ ادعا وکړه "خلافت غږ راډيو" سټيشن.

۲۸۱ په ۲۰۱۶ کال کې ، يوناما د دولتضد عناصرو لهخوا پر بشرپال ماين پاکانو د بريدونو په ترڅ کې رامنځته شوې ۱۹ ملکي مرګژوبلې (نهه مړينې او ۱۰ ژوبلې) او د ۱۱۰ ملکيانو تښتونې مستندې کړې دي. په پرتله د ۲۰۱۵ ، چې په کې ۱۰ ملکي مرګژوبلې (دوې مړينې او اته ژوبلې) او د ۴۷ ملکيانو تښتونې مستندې شوې وې.

۲۸۲ يوناما په ۲۰۱۶ کال کې ، د قومي مشرانو پر ضد په ترسره شويو بريدونو کې کمښت ثبت کړی دی ، خو د هغو ملکي مرګژوبلو په شمير چې د ورته بريدونو له امله رامنځته شوي وو ، ۵۵ زياتوالی ثبت کړي. په ۲۰۱۶ کال کې ، يوناما ۶۹ بريدونه مستند کړي دي چې قومي مشران په نښه کړي وو او له امله يې ۱۸۵ ملکي مرګژوبلې (۹۴ مړينې او ۹۱ ژوبلې) د ۲۰۱۵ کال په پرتله چې پهکې د ۹۲ پېښو له امله ۱۱۹ ملکي مرګژوبلې (۷۱ مړينې او ۴۸ ژوبلې) رامنځته شوې.

۲۸۳ يوناما په ۲۰۱۶ کال کې ، ۱۵ داسې پېښې ثبتې کړې چې مذهبي ودانې او مذهبي کارکووني په نښه کړي وو او له امله يې ۳۷۷ ملکي مرګژوبلې(۸۶ مړينې او ۲۹۱ ژوبلې) رامنځته شوې ، د ۲۰۱۵ کال په پرتله ، چې پهکې ۴۰ پېښې ثبتې شوې وې چې له امله يې ۵۳ ملکي مرګژوبلې (۳۹ مړينې او ۱۴ ژوبلې) رامنځته شوې وې.

۲۸٤ يوناما په ۲۰۱۶ کال کې ، ۱۴۸ پېښې مستندې کړې دي چې پهکې (د قاضيانو ، څارنوالانو او قضائي کارکوونکو پرته) د دولت ملکي کارمندان په نښه شوي وو ، کومې چې ۴۰۹ ملکي مرګ ژوبلې (۶۲ مړينې او ۳۴۷ ژوبلې) رامنځته کړې د ۲۰۱۵ کال په پرتله چې پهکې ۱۸۲ پېښې ثبتې شوې وي ، کومې چې ۹۴۷ ملکي مرګژوبلې (۱۵۴ مړينې او ۷۹۳ ژوبلې) رامنځته کړې. يوناما په ۲۰۱۶ کال کې ، په هغو بريدونو کې چې پهکې قاضيان ، څارنوالان او قضائي کارکوونکي په نښه کېږي ، ۴۰ سلنه کموالی ثبت کړی (۳۳۳ بريدونه - ۱۱۲ ملکي مرګژوبلې (۴۱ مړينې او ۷۱ ژوبلې) د ۲۰۱۵ کال په پرتله (۳۷ پېښې - ۱۸۸ ملکي مرګژوبلې (۴۶ مړينې او ۱۴۲ ژوبلې).

۲۸۵ د لا زياتو معلوماتو لپاره ، د ځانمرګي او ډلهييز بريدونه څپرکی وګورئ.

**په کابل ښار کې د جولای پر ۲۳ ، د داعش لهخوا پر سوله ییز لاریون برید ۸۵ ملکیان ووژل او ۴۱۳ نور یې ټپیان کړل**

*"مشرانو د دهمزنګ په څلورلارې کې یو مطبوعاتي کنفرانس برابر کړی و ، او د اعتراضونو په اړه یې ویناوې کولې او پر دې غربدل چې راتلونکي ګامونه به څه وي. ما واریدل چې ځینې لاریون کوونکي غواړي صحنه پرېږدي ، خو زه له یوې ډلې بلې ډلې ته تلم او کوښښ مې کاوه چې هغوی پاتې کېدو ته وهڅوم. شا او خوا د ماسپښین ۲ بجې او ۱۵ دقیقې وې ، چې د یوه باروړونکي موټر شاته چاودنه وشوه. مورږ ټول پر ځمکه پرېوتو. ما هڅه وکړه چې پورته شم خو ونتوانېدم. زما له پښې وینې بهېدې. ومې لیدل چې زما یو ملګری زما چپې خوا ته او بل ملګری مې ښۍ خوا ته مړه شوي وو. په داسې حال کې چې زه پر ځمکه پرېوتی وم ، ناڅاپه یوه بله چاودنه وشوه. دغې دویمې چاودنې د خلکو په منځ کې زیاته ویره خپره کړه- خلک سخت ډارېدلي او ترهیدلي وو او هر لور ته یې منډې وهلې."* [۲۸٦]

د جولای پر ۲۳ ، دوو ځانمرګو برید کوونکو په ځان پورې تړلې چاودیدونکي توکي د کابل ښار په دهمزنګ څلورلارې کې د یوه سوله‌ییز لاریون په منځ کې وچول ، چې له امله یې ۴۹۸ ملکي مرګ‌ژوبلې (۸۵ مړینې او ۴۱۳ژوبلې) رامنځته شوې. تر ټولو مرګونې پېښه ، چې د ۲۰۰۱ کال راهیسې د یوناما له‌خوا ثبته شوې ده ، ( د شرایطو په اړه د اړوندې مباحثې لپاره د شیعه مذهبه لړکیو پرضد د فرقه‌یې بریدونو څپرکي ته مراجعه وکړئ).

د مدني ټولنو فعالینو د حکومت د پریکړې پر خلاف چې په سیمه کې یې د بریښنا د غځولو لین د بامیان ولایت څخه لېرې په بل مسیر کې جوړه کړه مظاهره وکړه. د دغې مظاهرې زیاتره ګډونکوونکي او د برید قربانیان د هزاره قوم او له شیعه مسلمان لړکیو څخه وو.

داعش د خپل نشراتي ارګان اعماق خبري اژانس له لارې د دغې پېښې مسؤلیت  پرغاړه واخیست. د داعش په ادعا کې راغلي وو ، چې: د اسلامي دولت تنظیم د *"مرتدینو او مشرکینو"* یوه دله په نښه کړې ده. د دې پېښې قربانیانو ته یې د مشرکانو خطاب کړی ، او ویلي و ، چې دوي [داعش] دغه برید د هغوی له‌خوا په سوریه کې د سُنّي مسلمانانو پرضد له نُصَیریانو (شیعه‌ګانو) سره د همکارۍ په غبرګون کې ، ترسره کړی دی. او دوي[داعش] دا کار په دې موخه کړی ، څو د خراسان سیمه او ټول اسلامي ملکونه د هغوی دشرک له ککړتیا پاک کړي[۲۸۷] داعش همدارنګه د هغې پېښې وروسته د دوو نورو بریدونو مسؤلیت  چې د اکتوبر پر ۱۱ او ۲۱ ترسره شوي وو ، او شیعه مذهب لړکي یې په نښه کړي وو ، پر غاړه واخیست.[۲۸۸]

یوناما «پر سوله‌ییز لاریون برید ، کابل ، ۲۳ جولای ۲۰۱۶» تر عنوان لاندې د نوموړې پېښې په اړه یو ځانګړی راپور خپور کړ او د دغې پېښې حقوق‌بشري پایلې یې په ګوته کړې او افغان دولت ته یې هم سپارښتنې کړې دي.[۲۸۹] په ځانګړې توګه یوناما دې پایلې ته رسیدلې وه چې یاد برید: (۱) په عمدي توګه ملکي وګړي په دې موخه په نښه کړي

---

۲۸٦ په کابل کې له قرباني سره د یوناما مرکه. وګورئ ، د یوناما د بشري حقونو څانګې او په وسله واله شخړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه ځانګړی راپور "پر سوله‌ییز لاریون برید ، کابل ۲۳ جولای ۲۰۱۶"، چې په لاندې پته د لاسرسي وړ دی:
https://unama.unmissions.org/sites/default/files/23_july_suicide_attack_against_peaceful_demonstration_-_18_oct_2016.pdf .
په وروستي ځل د ۲۰۱۶ د ډسمبر پر ۲۸ لاسرسي ورته وشو.

۲۸۷ داعش/ISKP د جولای پر ۲۳ د دهمزنګ پر څلورلارې د برید د مسؤلیت  ادعا د خپل نشراتي ارګان ، اعماق خبري اژانس له لارې خپره کړه ، چې د ترهګرۍ د څار (Terror Monitor) د ټویټر په حساب باندې د لاسرسي وړ ده: https://twitter.com/Terror_Monitor/status/756895238975664128.

۲۸۸ د لا زیاتو معلوماتو لپاره ، د داعش اسلامي دولت ، خراسان ولایت/ISKP په اړه څپرکی وګورئ.

۲۸۹ په لاندې پته د لاسرسي وړ دی:
https://unama.unmissions.org/sites/default/files/23_july_suicide_attack_against_peaceful_demonstration_-_18_oct_2016.pdf .
په وروستي ځل د ۲۰۱۶ ، د ډسمبر پر ۲۸ ورت لاسرسي وشو.

وو ، چې د ملکي خلکو په منځ کې ویره خپاره کړي. دا کار د بشرپالې له نړیوال قانون څخه جدي سرغړونه ده او ښايي جنګي جنايت وګڼل شي. (۲) ښکارېده چې دغه برید په عمدي ډول هغه کسان په نښه کړي وو ، چې په یوې ځانګړې توکمیزې او مذهبي ټولنې پورې تړاو درلود ، او همدارنګ د پېښې د مسؤلیت ادعا داسې یوه ډله کړې وه ، چې مذهبي او فرقه‌یي کرکې ترویجولو او تاوتریخوالو ته يې نور هڅول. او (۳)، د لاریون کوونکو د نظر د څرګندونې او دبیان د ازادیو اوپه سوله ییزو غونډو کې د برخې اخیستنې پر حقونو جدي ناوړه اغیزه کړې وه.[۲۹۰]

یوناما نتیجه کښلې ، چې د لاریون په جریان کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو پلان جوړول ، او د ځواکونو او نقلیه وسایطو خپرول ، او د برید په وړاندې د دوي غبرګون ، د هغو سرچینو او وړتیاوو او معلوماتو سره تناسب درلود چې د برید په شیبو کې هغوی ته د لاسرسي وړ وو. خود د برید په اړه د سیستماتیکې څېړنې د ترسره کولو په برخه کې د دوي وړتیاوې محدودې وې ، چې دا په‌خپل وار په بالقوه ډول ، د دې سبب کېږي چې قربانیان رښتیا ته د رسېدو له حق څخه بې برخې شي ، او همدارنګ د زیانونو د جبران کولو برنامو ته لاسرسي و نه مومي.[۲۹۱] یوناما همدارنګه ملاحظه کړې ، سره له دې چې حکومت د حقیقت موندنې او څېړنیزې کمېټې له جوړولو خبر ورکړی و ، خو د برید په اړه تر اوسه پورې ډېر لږ معلومات له خلکو سره شریک شوي او د وروستی راپور د خپرولو احتمالي نېټه هم نه‌ده اعلان شوې.[۲۹۲]

یوناما دولت ته خو سپارښتنې کړې دي ، چې یوه يې دا ده ، کله چې دولت د لاریونونو د مدیریت په اړه پرېکړه کوي ، باید د خلکو د بیان ازادي ، او د سوله‌ییزو غونډو د جوړولو حقونه په پام کې ونیسي ؛ بل دا ، چې باید د ډله‌ییزو مرګ ژوبلو پېښو در رامنځته کېدو حالاتو ته د رسیدګي په برخه کې خپلې وړتیاوې غښتلې کړي ، څو وکولای شي د خلکو روغتیایي ، د ټپونو او مړینې لاملونه او د هرې مرګ ژوبلې هویت ثبت کړي ؛ او د ټولو توکمیزو او مذهبي ټولنو د خوندي کولو په موخه خپلې هڅې لا پیاوړې کړي او د توکمیزو ، قومي او فرقه‌يي ترېنګلتیاوو کچه راټیټه کړي.[۲۹۳]

تر اوسه پورې ، دولت اویا هغو کورنیو ته چې د هغوي څخه کسان وژل شوي وو ، د ۱۰۰،۰۰۰ افغانیو ، او ۵۰ هغو کورنیو ته چې د هغوي کسان ژوبل شوي وو ، د ۵۰،۰۰۰ افغانیو تاوان ورکړی. د دولت له‌خوا ټاکلې شوې کمېټې چې د پېښې د څېړنې لپاره جوړه شوې وه ، لا تر اوسه پورې خپلې موندنې نه‌دي خپرې کړې ، او هېڅ ډول عدلي تعقیب نه دی پیل شوی.

یوناما په ډېرو کلکو الفاظو ، له داعش او دولت‌ضد ټولو عناصرو څخه غواړي ، چې بې له ځنډه هغه بریدونه ودروي چې په مستقیم ډول ملکي کسان په نښه کوي ، پر دې سربیره ، یوناما پر دولت غږ کوي څو د یوناما په ځانګړی راپور کې وړاندیز شوي سپارښتنې پلي کړي ، او د ټولو هغو بریدونو مرتکبین ،چې په مستقیم ډول ملکي کسان په نښه کوي او ټول هغه کسان چې په ګڼ‌میشتو سیمو کې ځانمرګي بریدونه ترسره کوي ،حساب ورکولو ته راکش کړي.

---

۲۹۰ وګورئ ، د یوناما د بشري حقونو څانګې او په وسله واله شخړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه ځانګړی راپور "پر سوله‌ییز لاریون برید ، کابل ۲۳ جولای ۲۰۱۶"، ۳۹ پاراګراف.

۲۹۱ د یوناما د بشري حقونو څانګې او په وسله واله شخړه کې د ملکي وګړو ساتنه ځانګړی راپور ۴۶ او ۵۲ پاراګرافونه. دولتونه باید د هغو پېښو قربانیانو ته د زیانونو د جبران او مرستې لپاره ، چېرته چې هغوي ته د زیانونو د اړلو مسوولې خواوې نشي کولای ، او یا نه غواړي د هغوي په وړاندې خپل مکلفیتونه سر ته ورسوي ، د ملي پروګرامونو په جوړولو کې هڅه وکړي. همدا راز وګورئ ، د نړیوال بشري حقونو قانون ، او د نړیوال بشرپال قانون د جدي سرغړونو قربانیانو ته د اوښتو زیانونو د جبران کولو او تاوان ورکولو د حق په اړه ، بنسټیز اصول او لارښوونې (۲۰۰۵ ، ډسمبر ۱۶)، ۱۶ ماده.

۲۹۲ وګورئ ، د یوناما د بشري حقونو څانګې او په وسله واله شخړه کې د ملکي وګړو ساتنه ځانګړی راپور ۵۳ پاراګراف.

۲۹۳ حکومت او د مظاهري سنبالوونکو ته د یوناما د سپارښتنې د بشپړ لړلیک او تفصیلاتو لپاره ، د یوناما د بشري حقونو څانګې او په وسله واله شخړه کې د ملکي وګړو ساتنه ځانګړی راپور ۵۴-۶۲ پاراګرافونه وګورئ.

## د طالبانو لهخوا د مسؤلیت ادعاوې او عامه څرګندونې

*دهغو بریدونو مسؤلیت منل ، چې ملکي وګړي زیانمن کوي*

په ۲۰۱۶ کال کې ، طالبانو د ۲۲۵ پېښو مسؤلیت منلی ، چې له امله یې ۱۴۶۴ مرګژوبلې (۳۵۸ مړینې او ۱۱۰۶ ژوبلې) رامنځته شوې ، په دغو پېښو کې د ۲۶۰ ملکي کسانو تښتول هم شامل و. د ۱۴۶۴ ملکي مرګژوبلې یوازې د هغو ملکي مرګژوبلو ښکارندوي دي ، چې په رسمي ډول یې د طالبانو لهخوا په ویبپاڼې او تویټر کې ادعا شوې وي.[۲۹۴] دغه شمیره په ۲۰۱۵ کال کې د طالبانو لهخوا د ادعا شویو پېښو په پرتله ، د هغو پېښو په شمیر کې چې ملکي مرګژوبلې رامنځته کړې ، ۳۶ سلنه کموالی په ډاګه کوي ، خو د ملکي مرګژوبلو هغه شمیر چې د طالبانو لهخوا د ادعا شویو پېښو په ترڅ کې رامنځته شوی و ، له هغو پېښو سره د پرتلې وړ دي چې په ۲۰۱۵ کې مستندې شوې دي.[۲۹۵]

له ۲۲۵ پېښو څخه چې طالبانو یې مسؤلیت منلی دی ، ۸۲ یې (د دولت ملکي کارکوونکو ، او قضایي کارمندانو ، قومي مشرانو ، او بشرپال ماین پاکوونکو په ګډون) ملکي کسان او یا ملکي اهدافپه نښه کړي وو ؛ ۷۷ یې افغان ملي امنیتي ځواکونه ، نړیوال نظامي ځواکونه او دولت پلوه وسله والې ډلې په نښه کړې وې ؛ او ۶۶ یې افغان ملي پولیس او یا افغان سرحدي پولیس په نښه کړي وو. *د هغو بریدونو چې مسؤلیت یې منل شوی دی ، د هدفونو د ډولونو پر اساس د تفصیلي ویش لپاره ، ۱ ضمیمه وګورئ.*

په ۲۰۱۶ کال کې ، د طالبانو لهخوا د ادعا شویو پېښو له امله رامنځته شوې ملکي مرګژوبلې زیاتره د هغو ځانمرګو او ډلهییزو بریدونو له امله پېښې شوې چې ملکي وګړي او یا ملکي ګڼمیشتي سیمې یې په نښه کړې وې. د ځانمرګو او ډلهییزو بریدونو ۲۰ پېښې چې طالبانو یې مسؤلیت منلی ، د ۹۸۳ ملکي مرګژوبلو (۱۸۲ مړینې او ۸۰۱ ژوبلې) لامل شوې دي - چې د طالبانو لهخوا د ادعا شویو بریدونو له امله د ټولو رامنځته شویو ملکي مرګژوبلو ۶۷ سلنه جوړوي. یوناما طالبانو ته یو ځل بیا یادونه کوي ، هر برید چې په عمدي توګه ملکیان په نښه کړي ، د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې نامشروع او ښایي جنګي جنایت وګڼل شي.

د طالبانو لهخوا په ادعا شویو بریدونو کې لاندې بریدونه ، لکه د ملکي کسانو او ملکي شیانو (د تښتونې په ګډون) په عمدي توګه هدف نیول ، د ځایپرځای شوو چاودېدونکو توکو بېتوپیره بریدونه ، او د افغان ملي امنیتي ځواکونو په نښه کول ، کوم چې ملکي کسان وژلي او ټپیان کړي ، هم شامل دي.

*د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د طالبانو بیانیې*

طالبانو د ۲۰۱۶ کال کې ۳۴ بیانیې خپرې کړې دي ، چې په مستقیم یا ضمني ډول د ملکي وګړو او د ملکي شتمنیو د ساتنې په اړه وې. له دغو بیانیو سره سره ، یوناما د طالبانو لهخوا د ترسره شویو بریدونو ، چې دوي په عامه ځایونو

---

۲۹۴ د خپرولو په وخت کې لاندیني ترڼې طالبانو دیجټل رسنیو ته لاسرسي برابروله: http://alemarah-english.com (انګریزي) ، http://alemara1.org (پښتو) ، او http://alemarah-dari.com (درې). د طالبانو ویاند هم لاندې ټویټر ګڼون کارولو: https://twitter.com/zmujahid5 .

۲۹۵ په ۲۰۱۵ کې ، یوناما مستند کړی دی چې طالبانو د ۳۵۲ پېښو مسؤلیت منلی و ، چې له امله یې ۱۴۹۰ ملکي مرګژوبلې (۴۳۷ مړه او ۱۰۵۳ ټپیان) رامنځته شوي وو.

کې په بې‌توپیره توګه تر سره کول او له امله یې ملکیان زیانمنېدل ، یا نور هغه بریدونه چې په مستقیم ډول یې ملکیان په نښه کول ، مستند کولو ته دوام ورکړی.[۲۹۶]

طالبانو په ۲۰۱۶ کال کې ، څلور راپورونه خپاره کړي چې په‌کې د ملکي مرګ‌ژوبلو شمېري په تفصیل سره ذکر شوي ، چې دا د هغوي له‌خوا د ملکي مرګ‌ژوبلو د رامنځته کېدو د تایید نښه ده.[۲۹۷] د طالبانو د بیانیو له مخې ، کومې شمیرې او ارقام چې دوي په خپلو راپورونو کې وړاندې کړي ، د دوي په دې وروستیو کې پرانیستل شوي *"دافغانستان اسلامي امارت د ملکي تلفاتو د مخنیوي او د سمع شکایات خپلواکه اداري"* له لارې لاسته راوړل شوي دي - چې طالبان یې عموماً د ملکي تلفاتو د مخنیوي او سمع شکایاتو د اداري په نامه یادوي ، کومې ته چې په شخړه کې د ټولو ښکیلو غاړو له‌خوا د رامنځ‌ته شویو تلفاتو د ثبتولو دنده سپارلې شوې ده.[۲۹۸]

طالبانو په‌خپل ۲۰۱۶ کلني راپور کې ادعا کړې چې د جنوري او ډسمبر د میاشتو ترمنځ یې ۵۲۳۲ ملکي مرګ‌ژوبلې مستندې کړې دي چې د هغو له جملې څخه ۷۱ سلنه[۲۹۹] یې(ټولټال ۳۸۳۶ مرګ ژوبلې- ۱۵۰۴ مړینې او ۲۳۳۲ ژوبلې) د *"امریکایانو او د هغو لاس پوڅي اداري"* له‌خوا ؛ ۱۷ سلنه[۳۰۰] یې (۱۱۲۷ ملکي مرګ‌ژوبلې- ۳۸۰ مړینې او ۷۴۷ ژوبلې) د داعش ، ناپېژندو وسله‌والو ، په خپلمنځي جګړو کې د ځایي خلکو له‌خوا ؛ او ۱۲ سلنه[۳۰۱] یې- ۲۶۹ ملکي مرګ‌ژوبلې(۱۲۰ مړینې او ۱۴۹ ژوبلې) د طالبانو له‌خوا رامنځ‌ته شوې دي.[۳۰۲] د طالبانو راپور په پرتله ، یوناما په ۲۰۱۶ کال کې ، ۱۱۴۱۸ ملکي مرګ‌ژوبلې (۳۴۹۸ مړینې او ۷۹۲۰ ژوبلې) مستندې کړې دي ، چې ۶۱ سلنه یې (۶۹۹۴ ملکي مرګ‌ژوبلې -۲۱۳۱ مړینې او ۴۸۶۳ ژوبلې) دولت‌ضد عناصرو ته منسوب کړې ، او ۲۴ سلنه یې (۲۷۲۸ ملکي مرګ‌ژوبلې - ۹۰۳ مړینې او ۱۸۲۵ ژوبلې) دولت پلوو عناصرو ته منسوبې کړې دي. یادې شمېرې هغه۱۴۶۴ ملکي مرګ‌ژوبلې(۳۵۸ مړینې او ۱۱۰۶ ژوبلې) هم رانغاړي ، چې د هغو پېښو له امله رامنځ‌ته شوې د کومو چې طالبانو په ښکاره ډول مسؤلیت منلی.

---

۲۹۶ یوناما همدارنګه د طالبانو له‌خوا عامه څرګندوني مستندې کړې ، چې په‌کې د هغو رسنیو نیوکې شوي چې د طالبانو په اند د حکومت تبلیغات خپروي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره د **بیان پر ازادي د وسله والې شخړې اغیزه** څپرکی وګورئ.

۲۹۷ "یرغلګرو او د کابل رژیم د ملکي مرګ‌ژوبلو د ۷۸ سلنې مسؤل دي " د ۲۰۱۶ کال د مۍ ۹ ، په لاندې پته د لاسرسي وړ دی: http://alemarah-english.com/?p=240، "د ملکي تلفاتو د مخنیوي د اداري له‌خوا ، دویم درې میاشتني راپور" ۲۸ اګست ، ۲۰۱۶ ، چې په لاندې پته د لاسرسي وړ دی: http://alemarah-english.com/?p=3430 ، دریم؛ د اسلامي امارت د ملکي تلفاتو د مخنیوي او د سمع شکایاتو خپلواکه اداري له‌خوا برابر شوی ، درې میاشتنی راپور (د اګست ، سپتمبر او اکتوبر میاشتې) ۲۰۱۶ ، نومبر ۱۸ ، په لاندې پته د لاسرسي وړ دي: http://alemarah-english.com/?p=7290، "د ملکي تلفاتو راپور ۲۰۱۶" ۶ جنورۍ ۲۰۱۷.

۲۹۸ وګورئ "یرغلګرو او د کابل رژیم د ملکي مرګ‌ژوبلو د ۷۸ سلنې مسؤل دي " د ۲۰۱۶ کال د مۍ ۹ ، په لاندې پته د لاسرسي وړ دی: http://alemarah-english.com/?p=240 ، په وروستي ځل د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر پر ۱۸ ورته لاسرسي وشو: "د اسلامي امارت د مشرتابه له‌خوا یوه جلا او خپلواکه اداره جوړه شوې ده ، چې د سروې او څېړنو د ترسره کولو په چارو کې په بشپړ ډول مستقله ده. دغه اداره د ټولو غاړو له‌خوا د رامنځته شویو ملکي زیانونو او مرګ‌ژوبلو پېښې څېړي د هغو په اړه تحقیات کوي او شمیره یې ثبتوي. د دغوڅېړنو پر بنسټ برابره شوی راپور د اسلامي امارت اجراییوي ارګانونو ته راجع کېږي او د را پور کاپي ګانې په منظم ډول رسنیو ته هم ورکول کېږي". یاد راپور زیاتوي: "د دغې اداري د چارو د پرمخ بیولو لپاره یو ځانګړی طرزالعمل برابر شوی دی چې د دې اداري فعالیتونه تنظیموي. " د لا زیاتو معلوماتو لپاره ، وګورئ: په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه د ۲۰۱۶ کال نیم کلن راپور۶۹ او ۷۰ مخونه. هم وګورئ "د ملکي مرګ‌ژوبلو راپور جنوري ۶ ، ۲۰۱۷ " په لاندې پته د لاسرسي وړ دی: http://alemarah-english.com/?p=9372، په وروستي ځل د ۲۰۱۷ د جنوري په ۹ ، ورته لاسرسي وشو.

۲۹۹ په دغه راپور کې طالبانو ۷۱ سلنې ذکر کړي ، خو واقعي شمیر ۷۳ سلنې دي.

۳۰۰ په دغه راپور کې طالبانو ۱۷ سلنې ذکر کړي ، خو واقعي شمیر ۲۲ سلنې دي.

۳۰۱ په دغه راپور کې طالبانو ۱۲ سلنې ذکر کړي ، خو واقعي شمیر پنځه سلنې دي.

۳۰۲ وګورئ "د ۲۰۱۶ کال د ملکي مرګ‌ژوبلو راپور" ، چې په لاندې پته د لاسرسي وړ دی: http://alemarah-english.com/?p=9372، په وروستي ځل د ۲۰۱۷ کال د جنوري پر ۹ ، ورته لاسرسي وشو.

په دغه راپور کې طالبانو ویلي چې د دوي د ملکي تلفاتو د مخنیوي او سمع شکایت اداري ، د ملکي مرګژوبلو د ټولو هغو پېښو په اړه ، چې *"د اسلامي امارت د مجاهدینو"* لهخوا رامنځته شوې وي ، هراړخیزه څېړنه ترسره کړې ده او قضیې د فیصلې کولو لپاره *"نظامي محکمو"* ته راجع شوې دي او هغو کسانو ته یې چې ګرم ثابت شوی و ، د شریعت په رڼا کې د هغه له احکامو سرهسم سزا ګانې ورکړې دي. طالبانو زیاته کړې ، چې دوی د قربانیانو له کورنیو سره د روغې جوړې او پخلاینې په موخه لیدنې تر سره کوي.

یوناما یادونه کوي ، چې طالبان لا تر اوسه نه دي توانیدلي کومې مشخصې بېلګې وړاندې کړي ، چې د ملکي تلفاتو په وړاندې د هغوی د غبرګونونو جزئیات څرګند ، او د هغوی لهخوا د شویو دا ډول ادعاوو ملاتړ وکړي.[303]

طالبانو یوه عمومي اعلامیه خپره کړې او د یوناما په وسله واله شخړه کې د ملکي وګړو د ساتنې شپږمیاشتنی راپور او د یوناما اړونده مطبوعاتي اعلامیه یې رد کړي ، چې د ۲۰۱۶ کال د جنوري او سپټمبر میاشتو ترمنځ موده کې د رامنځته شویو ملکي مرګژوبلو په اړه احصائیې وړاندې کوي.[304] طالبانو په خپلو ټولو اعلامیو کې د یوناما له موندنو سره په تناقض ، استدلال کړی ، چې د امریکایانو لهخوا تر سره شوي هوایي بریدونه او د افغان ملي امنیتي ځواکونو لهخوا د درنو وسلو کارول د ملکي مرګژوبلو مخکښ لاملونه دي ، نه د دولتضد عناصر فعالیتونه.[305] د طالبانو اعلامیې همدارنګه پر یوناما د هغې د راپوروړکولو په چارو کې د طرفداري او ناپییلتوب تورونه پورې کړې دي.

په ګڼمیشتو سیمو کې د ملکیانو پرضد د بریدونو ترسره کولو سره سره ، طالبانو هڅه کړې د خپلو ځینو هڅو په اړه سپیناوي وکړي ، چې دوي په خپلو یو شمېر بریدونو کې د ملکیانو د ساتنې په خاطر تر لاس لاندې نیولې وي ، او همدارنګه په نورو عامه څرګندونو کې د ملکي مرګژوبلو د ساتنې په اړه د خپلو مکلفیتونو په برخه کې پوهاوي په ډاګه کړی.[306] د مثال په توګه د ۲۰۱۶ عمري کمپاین د پرانیستلو په اړه د دوي په خپره شوې اعلامیې کې راغلي و: "د

---

۳۰۳ په دغه اعلامیه کې ، طالبانو همدا راز ویلي ، چې دوي "د شکایتونو د اورېدو کمیسیون" هم د ملکي تلفاتو د مخنیوي له اداري سره مدغم کړي. دغه کمیسیون وظیفه لري د ټولو "مجاهدینو" پر ضد شویو شکایتونه د رتبې او مقام په نظر کې نیولو پرته ، "زر تر زره د شریعت په رڼا کې" تر غور لاندې ونیسي. اعلامیه همدارنګه ویلي "ان تر دې چې که د اسلامي امارت د کوم لوړرتبه غړی پر ضد شکایت ثبت شي او وروسته هغه غړی مجرم ثابت شي ، هغه سره به د یو عادي وګړي په ډول چلند وشي." وګورئ "د ۲۰۱۶ کال د ملکي مرګژوبلو راپور" ، چې په لاندې پته د لاسرسي وړ دی: http://alemarah-english.com/?p=9372 ، په وروستي ځل د ۲۰۱۷ کال د جنوري پر ۹ ، ورته لاسرسي وشو.

۳۰۴ په ۲۰۱۶ کال کې ، د دې راپور سربېره ، یوناما لاندې راپورونه او مطبوعاتي اعلامیې هم خپرې کړې دي: (۱) د اپریل په میاشت کې یوه مطبوعاتي اعلامیه ، چې د جنوري له ۱ ، د مارچ تر ۳۱ پورې د ملکي ملکي مرګژوبلو احصائیې رانغاړي ؛ (۲) د جولای په میاشت کې ، یو نیمکلن راپور ، چې د جنوري له ۱ د جون تر ۳۰ پورې د ملکي مرګژوبلو احصائیې رانغاړي ؛ (۳) یوه درې میاشتنی مطبوعاتي اعلامیه چې د جنوري ۱ څخه د سپټمبر تر ۳۰ پورې د ملکي مرګژوبلو احصائیې رانغاړي. ټول راپورونه او مطبوعاتي اعلامیې په لاندې پته د لاسرسي وړ دي: http://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports ، او په وروستي ځل ، د سپټمبر پر ۱۸ لاسرسي ورته وشو.

۳۰۵ په داسې حال کې چې ځمکنۍ نښتې په ۲۰۱۶ کال کې ، تر ټولو زیات ملکي مرګژوبلې رامنځته کړې ، او د هوایي عملیاتو له امله ملکي مرګژوبلې په جدي ډول مخ پر زیاتېدو دي ، یوناما د ۲۰۱۶ کال په اوږدو کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه په خپلو ټولو راپورونو او مطبوعاتي بیانیو کې په ډاګه کړې چې دولتضد عناصرو تر ټولو زیات ملکي مرګژوبلې رامنځته کړې.

۳۰٦ د مثال په توګه ، د اپریل پر ۱۹ نیټې د ملي امنیت ریاست د وتلو شخصیتونو د څانګې پر ضد د ترسره شوی ډلهییز برید په اړه (چې تایید کړې چې د ۵۶ ملکي مړینې او ۳۳۷ ملکي ټپي کېدنې لامل شوی و) طالبانو ویلي و: " دا هر چاته معلومه د ملي امنیت لسم ریاست ودانۍ ته خیرمه ملکي کسان په هیڅ ډول نه شي ورتلای او دا یوه ملکي سیمه نه ده. خو د چاودنې د شدت له امله د ځینو لرې پراته ودانیو ښیښې ماتې شوې دي چې ځینو خلکو ته واړه ټپونه وراړولي دي ، د هیڅ کوم جدي ټپونو راپور نه دی ورکړل شوی." وګورئ: د کابل فدایي حملې وروستی راپور ، ۲۰۱۶ کال ، د اپریل ۱۹. پخوا په لاندې پته د لاسري وړ و: http://shahamat-english.com/kabul-martyr-attack-final-report ، له یوناما سره یې کاپي موجوده ده. د نړیوال بخښنې د سازمان د انتقاد په ځواب کې چې د سپټمبر پر ۵ نیټې په کابل ښار کې د طالبانو لهخوا د ترسره شوي پر ډلهییز برید باندې شوې و ، او د بخښنې نړیوال سازمان باور لري چې دغه برید د پاملرنه نادولتي نړیوال سازمان ( NGO Care International) په نښه کړی و ، طالبانو ویلي و ، چې د نوموړی برید نښه د ملي امنیت ریاست یوه دفتر و. او دا څرګندونه یې کړې وه: "موږ د پسرلنی کمپاین په سر کې دا اعلان کړی و چې ملکي خلک او ملکي دفترونه باید د یرغلګرو او د هغو ګوډاګیانو له نظامي او استخباراتي مرکزونو څخه واټن وساتي ، څو د بریدونو په وخت کې دوي ته کوم زیان و نه اوړي. نو په دې اساس ، دا زموږ مسؤلیت نه دی چې دا ډول سازمانونه زموږ خبرتیاوو ته پام نه وراړوي." همدا راز وګورئ " د بخښنې د نړیوال سازمان د ناعادلانه غندنې په اړه ، د اسلامي امارت د ویاند څرګندونې " سپټمبر ۷ ، ۲۰۱۶. په لاندې پته د لاسرسي وړ و. http://alemarah-english.com/?p=3988.

پلان جوړونې په وخت کې مجاهدینو ته په ډېر صراحت سره لارښوونې شوې څو عملیات په داسې طریقه تر سره کړي ، چې ملکي کسان او ملکي زیربناوې خوندې وساتل شي." [۳۰۷] د طالبانو مشر ملا هبة الله د لوی اختر په مناسبت په خپل پیغام کې ویلې و: "مجاهدین پوهېږي چې څرنګه له خلکو سره ښه چلند وکړي ، او د ملکي تلفاتو مخنیوي وکړي". [۳۰۸] طالبانو همدارنګه په خپلې خپرې شوې بیانیې کې د هر ډول ملکي تلفاتو د رامنځته کول رد کړی ، او پر ملکیانو هر ډول بریدونه د هغه برید په ګډون وغندل شو ، چې په کابل ښار کې پر شیعه مذهبه مسلمانانو شوی او داعش یې مسؤلیت منلی و. [۳۰۹]

یوناما په شخړه کې د ټولو ښکېلو خواو د عامه راپورونو څارنې ته ادامه ورکړې او په دې لړ کې ، د طالبانو لهخوا د *"خپلواک کمیسیون"* جوړیدل یادوي ، چې د ملکي مرګژوبلو د څېړنې صلاحیت لري او د دوي هغه عامه بیانیې یادوي ، چې له مخې یې د ملکي مرګژوبلو د کچې د راټیټولو ژمنې په کې راغلي. په دې اړه یوناما بیا تاکید کوي چې دغه دفتر ، طالبانو ته په ۲۰۱۶ کال کې ۴۹۵۳ مرګژوبلې (۱۶۱۸ مړینې او ۳۳۳۵ ژوبلې) منسوبې کړې دي ، چې له هغو یې ۱۴۶۴ (۳۵۸ مړینې او ۱۱۰۶ ژوبلې) ملکیان وو ، چې په هغو پېښو کې رامنځته شوې وې ، د کومو چې د طالبانو لهخوا هم په علنی ډول مسؤلیت منل شوی و.

یوناما له طالبانو غواړي چې د ملکي تلفاتو په کمولو کې د تنظیم له اعلان شوېو ژمنو سره سم ،خپلې هڅې لا پیاوړې کړي. دغه دفتر همدا راز پر طالبانو غږ کوي ، څو د خپلو عملیاتو په ترڅ کې د ملکي تلفاتو د راکمولو لپاره کوټلي ګامونه پورته کړي ، او همداراز له طالبانو غواړي څو د *"ملکي"* کلمې لپاره یو داسې تعریف وړاندې کړې چې د بشرپالنې د نړیوال قانون له تعریف سره په سمون کې وي ، او کوم چې د افغانستان په روانه شخړه کې د طالبانو په ګډون ، پر ټولو ښکیلو خواوو په یو ډول د تطبیق وړ وي. [۳۱۰] یوناما بیا ټینګار کوي ، چې د طالبانو عامه بیانیې باید زیاتره د ډلې دننه هغو غړو ته چې د جګړې په ډګر کې دي او هغه کسانو ته متوجه وي ، چې د دوي تر کنترول لاندې سیمو کې ژوند کوي ، نه چې له دې بیانیو څخه صرف د عامه اړیکو د هڅو په ډول کار واخیستل شي.

**د داعش اسلامی دولت/خراسان ولایت**

په ۲۰۱۶ کال کې ، یوناما په ملکي مرګژوبلو کې یو ناڅاپي زیاتوالی مستند کړی ، چې د هغو ډلو لهخوا ، چې د اسلامي دولت/خراسان ولایت ، کومې چې په عراق او سوریه کې د دولت اسلامي یوه څانګه بلل کېږي او په

---

۳۰۷ " د عمري عملیاتو د پسرلني کمپاین د پرانیستې په اړه د اسلامي امارت د رهبري شورا بیانیه " د ۲۰۱۶ کال د اپریل پر ۱۲. پخوا په لاندې پته د لاسرسي وړ وه: http://shahamat-english.com/statement-by-leadership-council-of-islamic-emirate-regarding-inauguration-of-spring-offensive-entitled-operation-omari ، له یوناما سره یې کاپي موجوده ده.

۳۰۸ " د عالیقدر امیر المومنین ، شیخ الحدیث هبة الله اخند زاده دلوی اختر په مناسبت د تبریکي پیغام" د ۲۰۱۶ د سپتمبر د میاشتې ۹: http://alemarah-english.com/?p=4131، په وروستي ځل د ۲۰۱۶ د ډسمبر پر ۱۸ ورته لاسرسي وشوه.

۳۰۹ د مثال په توګه ، وګورئ " فرقهیي وژنې ؛ د دښمن یوه خطرناکه توطیه "، د ۲۰۱۶ کال ، اکتوبر ۱۵: " دغه بریدونه ، توپیر نه کوي چې د چا لهخوا تر سره شوي دي ، لومړی موخه یې دا ده چې افغانت ولس زیانمنه کړي." په لاندې پته د لاسرسي وړ دی: http://alemarah-english.com/?p=5782، په وروستي ځل د ۲۰۱۶ ډسمبر پر ۱۸ لاسرسي ورته وشوه.

۳۱۰ د مثال په توګه ، په یوه عامه بیانیې چې د ۲۰۱۶ کال د مۍ پر ۲۱ خپره شوې وه ، طالبانو " د کابل اداري او د یرغلګرو کارکوونکو " ته " بلنه ورکړه " چې د اعلان شوې عفوې نه ګټه پورته کړي ، او " خپل ځانونه او خپل کورنې په دې دنیا کې له شرم او زیانه وساتي [...] او خپل ژوند او شتمني خوندي کړي " . یوناما ټینګار کوي ، چې هغه کسان له افغان دولت سره ، ناټو سره ، سفارتونو سره ، یا نړیوالو سازمانونو سره کار کوي ، ملکي کسان دي ، مګر دا چې د وسلو ځواکونو غړي وي ، او یا په مستقیم ډول په جګړه ییزو فعالیتونو کې برخه واخلي. د هغوي د ساتنې لپاره هیڅ ډول " عفوې " ته اړتیا نشته ، څکه دوي ته د نړیوال بشرپال قانون له مخې مصونیت او خوندیتوب تضمین شوي دي. دویمه الحاقیه پروتوکول ، ۳ مه ګڼه ماده وګورئ. همدارنګه د بیان د ازادي پر حق: د وسله والې شخړې ناوړه اغیزه ، څېرکي وګورئ.

افغانستان کې د عربي اختصار داعش په نامه معروفه ده ، په نوموړي تنظيم پورې اړه لري او يا د دې ادعا کوي چې ګويا له دغه تنظيم سره يې بيعت کړی دی ،اساساً ، په کابل ښار کې د دوی له خوا په لويه کچه د پراخو بريدونو له امله رامنځته شوي دي.[۳۱۱]

يوناما د ۲۰۱۵ کال پر خلاف چې داعشو ته په کې ۸۲ ملکي مرګ‌ژوبلې (۳۹ مړينې او ۴۳ ژوبلې) منسوبې کړې وې ، په ۲۰۱۶ کال کې دغې ډلې ته ۸۹۹ ملکي مرګ‌ژوبلې (۲۰۹ مړينې او ۶۹۰ ژوبلې) منسوبې کړې. داعش په عامه ډول د ۱۱ جلا پېښو مسؤليت په غاړه اخيستی ، چې د ۷۴۷ ملکي مرګ‌ژوبلو (۱۱۶ مړينې او ۵۸۱ ژوبلو) لامل شوې دي. د نومړو ملکي مرګ‌ژوبلو سربېره ، يوناما همدارنګه ۱۰۷ اضافي مرګ ژوبلې(۴۵ مړينې او ۶۲ ژوبلې) او د ۱۲ ملکيانو تښتونې ثبتې کړې دي ، چې د هغو کسانو له‌خوا رامنځ‌ته شوې چې ځانونه يې د غور ، جوزجان او سر پل په ولايتونو کې د داعش په نامه ورپېژندل.[۳۱۲]

يوناما د ۲۰۱۶ کال په اوږدو کې په افغانستان کې د داعش د پراختيا او د دغې ډلې له خوا د کابل په ښار کې د پراخو او سترو بريدونو ترسره کول چې د ۲۰۱۶ کال د جولای راهيسې په يو بهير بدل شوي او تر دې وړاندې د دې ډلې ټولې مرګ ژوبلې يوازې په ننګرهار ولايت کې رامنځ‌ته کېدې ، د مخ پر زياتېدونکو وړتياوو له وجهې سخته انديښمنه ده. په ۲۰۱۶ کال کې ، داعش په کابل ښار کې د ملکيانو پر ضد څلور عمده بريدونه تر سره کړي ، چې درې يې شيعه مذهبه لړکي په نښه کړي وه ، چې د ۶۹۱ ملکي مرګ‌ژوبلو (۱۴۴ مړينې او ۵۴۷ ژوبلې) لامل شوي.[۳۱۳] داعش د نومبر پر ۱۶ د کابل په پلِ محمود خان سيمه کې د يوه ځانمرګي بريد مسؤليت پر غاړه واخيست ، چيرته چې په داعشو پورې اړوند ځانمرګي د ولسمشر د حفاظتي خدماتو په کارکوونکو پورې اړوند د يوه ميني بس په وړاندې پر ځان پورې تړلي چاودېدونکي توکي وچول چې په نتيجه کې يې ۸ ملکي کسان مړه او ۱۳ نور ټپيان شول.[۳۱٤]

په ۲۰۱۶ کال کې ، داعشو ته منسوب شوې ملکي مرګ‌ژوبلې په ننګرهار ولايت که دوه برابره شوې دي.[۳۱۵] يوناما د ۲۰۱۵ کال په پرتله چې ۸۰ ملکي مرګ‌ژوبلې(۳۷ مړينې او ۴۳ ژوبلې) ثبتې کړې وې ، په ۲۰۱۶ کال کې ۱۸۷ ملکي مرګ‌ژوبلې (۵۷ مړينې او ۱۳۰ ژوبلې) ثبتې کړې دي. يوناما مستنده کړې ، چې داعش له هغو بريدونو د اوو مسؤليت

---

۳۱۱ د لا زياتو معلوماتو لپاره ، ”د شيعه مذهب لړکي پر ضد فرقه يي بريدونه “ څپرکی وګورئ

۳۱۲ چېرته چې دولت‌ضد عناصرو ځانونه داعش معرفي کوي ، او کوم واقعی حقايق شتون و نه لري چې د هغوي او ننګرهار او يا په عراق او شام کې د شته داعشيانو(Islamic State in the Levant in Iraq and Syria) سره رسمي اړيکې ثابتې کړي ، يوناما ورته دا اصطلاح ”هغه کسان چې ځانونه داعش/ISKP جنګيالي معرفي کوي“ کاروي. ورته ډلې د جوزجان ، سر پل ، او غور په ولايتونو کې ملکي مرګ‌ژوبلې رامنځ‌ته کړې. هغه ملکي مرګ‌ژوبلې د يادو ډلو د بريدونو په نتيجه کې رامنځ‌ته شوې ، داعش/ISKP ته منسوب شويو ملکي مرګ‌ژوبلو کې نه دی نغښتل شوي. يوناما هغه ملکي مړينې او ټپي کېدنې چې د يادو ډلو د بريدونو له امله رامنځ‌ته کېږي ، په عام ډول دولت‌ضد عناصرو ته منسوبوي. د غور ولايت په اړه د لا زياتو معلوماتو لپاره دغه څپرکی وګورئ: د ”د دولت ضد عناصرو له‌خوا د ترسره شويو هدفي وژنو له امله رامنځ‌ته شوې ملکي ملکي مرګ‌ژوبلې“.

۳۱۳ د لا زياتو معلوماتو لپاره ، ”د شيعه مذهبي لړکي پر ضد عمدي فرقه يي بريدونه “ او ”ځانمرګي او ډله‌ييز بريدونه“ څپرکي وګورئ.

۳۱٤ د ياد بريد مسؤليت داعش/ISKP د نومبر پر ۱۷ منلی وو، چې په لاندې بريښنايي پته د لاسرسي وړ دي: http://www.didpress.com/index.php/fa/2016-10-10-07-21-08/8-2016-03-24-15-08-52/1033-2016-11-17-05-42-46 ، دغه پتې ته په وروستي ځل ، د جنوري پر ۱۷ لاسرسي وشو.

۳۱۵ دغه احصائيې د بريدونو دواړه ډولونه رانغاړي چې دهغو کسانو له‌خوا يې د مسؤليت ادعا شوې چې ځانوه داعش/ISKP غړي معرفی کوي او همدارنګه هغه بريدونه رانغاړي چې يادو کسانو يې مسؤليت رد کړي کومو چې يوناما د لږ تر لږه درو خپلواکو سرچينو پر بنسټ داعش/ISKP ته منسوب کړي وو.

منلی چې په نتیجه کې یې ۳۵ ملکي مرګ‌ژوبلې (۱۴ مړینې او ۲۱ ژوبلې) رامنځته شوې دي.[۳۱۶] په ننګرهار کې داعشو ته منسوبې هدفي وژنې د ملکي مرګ‌ژوبلو تر ټولو ستر لامل و (۵۹ سلنه)[۳۱۷]، په تعقیب یې ځانمرګي او ډله ییز بریدونه (۲۳ سلنه) او ځمکنۍ نښتې (۱۰ سلنه) عمده لاملونه ګڼل کیږي. یوناما په ننګرهار کې داعشو ته ۱۲ پېښې منسوبې کړې دي، چې په ترڅ کې یې ۱۱۶ کسان تښتول شوي او ۱۰ نور وژل شوي دي.

یوناما د اندېښنې په څرګندولو سره ملاحظه کړې چې داعش جنګیالیو په ۲۰۱۶ کې، د قومي مشرانو، مذهبي، تعلیمي او روغتیایي ودانیو په ګډون، په مکرر ډول ملکي کسان او ملکي اهدافپه نښه کړي دي.[۳۱۸] د مثال په توګه د جون پر ۲۴، داعش جنګیالو د ننګرهار په کوټ کې یو شمېر کلیو ته ننوتل او په عمدي توګه یې افغان سیمه ییز پولیس، او د ځایي پاڅون (د ټولني ځایي غړي چې د دولت‌ضد عناصرو سره د مبارزې په موخه ځانونه مسلح کړي وو) غړي په نښه کړل. سرچینې راپور ورکړی چې داعش جنګیالي د دغو کسانو او د نورو هغو کورونو ته ننوتي وو، چې د دوي په نظر د دولت پلویان بلل کېدل، او د کور دننه کسان یې ګواښلي او ځورولي وو. کورونو ته د ننوتلو په وخت کې، داعش جنګیالیو یو پنځه کلن هلک په ډزو مړ کړ، او دوه نور کسان یې ټپیان کړل، په داسې حال کې چې یوه سپین سرې ښځه د برید په مهال د زړه د حملې له امله ساه ورکړه.

د دغه برید په ترڅ کې داعش جنګیالودشپږو ښځو او دوو ماشومانو په ګډون، ۱۵ ملکي کسان او پنځه سیمه‌ییز پولیس او د ځایي پاڅون کوونکو د ډلې غړي وتښتول. د دولت ضد دغو عناصرو وروسته، د اووه تښتول شویو نارینه بالغانو له جملې ښځه کسان په ډزو، او د سرونو په غوڅولو مړه کړل، (او دوه نور چې ژوندي پاتې وو، خوشي کړل)، او له افغان سیمه ییز پولیسو او د ځایي پاڅون کوونکو له پنځو کسانو سرونه غوڅ کړل. د سپتمبر پر ۶، داعش جنګیالیو د دوو داعش ښځینه غړیو دازادي په مقابل کې، چې د دولت په بند کې وې، پاتې شپږ ښځېنه او دوه ماشومان خوشي کړل. پر دې سربیره، د داعش جنګیالیو ۲۴ ملکي کورونه چور تالان او ۵۰ نورو ته یې اور ورته کړ، چې له امله یې ۹۵ کورنۍ اغیزمنې شوې او د یو نامعلوم شمېر ملکي کسانو د بې ځایه کېدنې لامل شوي دي.[۳۱۹]

یوناما د اکتوبر پر ۱۹، د ننګرهار په پچیر اګام ولسوالۍ کې د داعش د جنګیالیو لخوا د ۶۱ کسانو ډله‌ییزه تښتونه مستنده کړې ده. د راپور د خپرولو په وخت کې تښتول شوي کسان د اچین ولسوالۍ د شډل په سیمه کې په بند کې ساتل کېدل او تر هغه وروسته، چې د جنوري پر ۲۰ د تښتول شویو کسانو پنځه تنه خوشي شوي وو، د هغو د ازادولو په اړه خبرې اترې رواني وې.[۳۲۰]

---

۳۱۶ د اوو پېښو له جملې شخه داعش/ISKP د ځلورو پېښو د مسؤلیت ادعا د خپل" خلافت غږ راډیو " له لارې اعلان کړې، اود دوو نورو مسؤلیت د یوې لیکلې بیانیې له لارې کړې، (چې په لاندې پتې د لاسرسي وړ دی: https://news.siteintelgroup.com/Jihadist-News/is-claims-killing-wounding-40-in-jalalabad-suicide-operation.html؛ او https://news.siteintelgroup.com/Jihadist-News/is-khorasan-province-claims-suicide-raid-on-pakistani-consulate-in-jalalabad.html. دواړه پتو په وروستي ځل د ۲۰۱۷ د جنوري پر ۱۵ لاسرسي وشو. او د بله یوه پېښې په اړه مسؤلیت د یو لیک لارې یې اعلان وکړ چې ځایي خلکو استول شوی و.

۳۱۷ په دغه احصائیې کې له لرې واټن نه کنترول شوي چاودیدونکي توکي هم شامل دي د ۲۰۱۶ د جون پر ۱۰ د حصارک حامي د جومات ملا امام په نښه کړي و، کوم چې له امله یې (د یو هلک په ګډون) درې ملکي وګړي ووژل او (د ۳۱ هلکانو په ګډون) ۵۸ نور ملکي وګړي ټپیان شول.

۳۱۸ په ۲۰۱۶ کال کې، یوناما په ننګرهار کې له ۵۰ پېښو له جملې شخه ۳۴ یې داعش/ISKP ته منسوبې کړې چې ملکي وګړي یا ملکي اهدافیې په نښه کړي وو.

۳۱۹ داعش/ISKP د دغې پېښې مسؤلیت د خپلې د خلافت غږ د راډیو سټیشن له لارې اعلان وکړ.

۳۲۰ داعش/ISKP د دغې پېښې مسؤلیت په غاړه نه دی اخیستي. هغوي ته دا پېښه منسوبول د یوناما د شننې پر بنسټ شوی دی.

**هغو جنګیالیو ته منسوب شوي ملکي مرګ ژوبلې ، چې ځانونه داعش معرفي کوي**

یوناما د لومړي ځل لپاره ملکي مرګژوبلې هغو جنګیالیو ته منسوبې کړي ، چې ځانونه داعش معرفي کوي ، څوک چې د ننګرهار او یا د سوریې او عراق له داعشیانو سره په ښکاره هیڅ ډول اړیکه نه لري. یوناما یادو جنګیالیو ته منسوب ، ټولټال ۱۰۷ ملکي مرګژوبلې (۴۵ مړینې او ۶۲ ژوبلې) ثبتې کړې دي. په جوزجان ولایت کې یوناما ۷۱ ملکي مرګژوبلې (۱۶ مړینې او ۵۵ ژوبلې) ثبتې کړې دي ، چې د اتو پیښو په نتیجه کې رامنځته شوې دي ، چې څلورو یې افغان سیمه ییز پولیس په نښه کړي وو ، له لرې واټنه کنټرول شوې چاودیدونکې آلې د چاودنې په ګډون ، چې د درزآب د ولسوالۍ په بازار چاودول شوې وه ، چې له امله یې (د څلورو ماشومانو په ګډون)، اووه ملکیان ووژل او ۵۳ نور ټپیان شول. یوناما همدارز د یوه ملکي سړي د سر غوڅول ، چې ګومان کیده افغان سیمه ییز پولیسو ته یې خواړه برابر کړي وه ، له افغان سیمه ییز پولیسو سره د خپلوي په تور د دوو سپین ږیرو په ډزو ویشتل ، او همدارز د یوه ملا په ډزو ویشتل ثبت کړي دي ، چې تاوتریخجن افراطیت یې غانده. د سرپل په ولایت کې (د جوزجان ولایت ګاونډ) ، د جنګیالیو یوې ډلې ، چې ځان داعش بولي ، د سبتمبر پر ۲۴ ، درې هزاره نارینه ملکیان (چې شیعه مذهبه لږکیو پورې یې تړاو درلود)، تښتولي او وژلي.

د غور په چغچران کې یوناما د اکتوبر پر ۲۵ ، د دولت ضد د هغو عناصرو لهخوا چې ځان داعش معرفي کوي د ۲۶ ملکیانو تښتونه او وژنه ، او د شپږو نورو ټپي کېدنه ،[321] او د نومبر پر ۴ ، د شپږو نارینه ملکیانو تښتونه ثبت کړې دي. دولتضد عناصرو د نومبر پر ۲۶ شپږ تښتول شوي کسان د ځایي مشرانو د خبرو اترو وروسته بیرته خوشي کړل. د غور په دولتیار کې دولتضد عناصرو ، چې ځانونه داعش معرفي کوي ، د جولای پر ۲۷ ، د سولې شورا د یوه غړي دهدفي وژنې په هڅه کې دوه ملکي کسان ووژل او یو بل یې ټپي کړ. د اګست پر ۲۳ ، په همدغې ولسوالۍ کې د یوې ډلې جنګیالي چې ځانونه په داعش پورې تړلي بولي ، پنځه هزاره زدهکړیالان وتښتول او د هغو له ډلې یې د یوه هغه سر پرې کړ ، چې کورنۍ یې د خلاصون لپاره د پیسو په ورکولو کې پاتې راغله. دولتضد عناصرو پاتې څلور زدهکړیالان د اکتوبر پر شاوخوا ۲۵ ، د ځایي خلکو د لاریونونو او د ملي امنیت له اقداماتو وروسته خوشي کړل.[322]

۳۲۱ د تفصیلي معلوماتو لپاره ، لاندې څېرکی وګورئ : د دولت ضد عناصرو لهخوا د ترسره شویو هدفي وژنو له امله رامنځته شوې ملکي ملکي مرګژوبلې.

۳۲۲ د یادې تښتونې په ځواب کې ، ځایي هزار توکم ملکیانو ، اووه تاجیک توکم ملکیان له یوه تیریدونکي موټر څخه وتښتول ، او د سپټمبر پر ۵ ، تاجیک توکم ملکیانو د فیروزکوه په ښار کې ۱۴ هزاره توکم ملکیان له یوه تیریدونکي موټر ښکته کړل او ویې تښتول. دواړو ډلو له قومي خبرو اترو وروسته ، د اکتوبر پر ۱۱ تښتول شوي ملکیان خوشي کړل. د هزاره توکم ملکیانو د تښتولو په اړه د لا زیات جزئیاتو لپاره ، "*شخړې سره د ملکي وګړو تړلې تښتونې*" څپرکی وګورئ ، یوناما په دې راپور کې دغې پېښې د شخړې سره د ملکي وګړو تړلې تښتونې په ارقامو کې ځکه نه دي نغاړلي چې پهکې د شخړې اړخ نه ترسترګو کېده.

## ۴. دولت پلوه ځواکونه

### هغه تاکتیکونه او پېښې چې ملکیانو ته تر ټولو زیات زیان اړوي

یوناما په ۲۰۱۶ کال کې دولت پلوه ځواکونو ته ۲۷۲۸ ملکي مرګژوبلې( ۹۰۳ مړینې او ۱۸۲۵ ژوبلې) منسوبې کړې دي - چې د ۲۰۱۵ کال په پرتله ۴۶ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي - او د ټولو ملکي مرګژوبلو ۲۴ سلنه جوړوي.[۳۲۳] یوناما د ټولو ملکي مرګژوبلو ۲۰ سلنه افغان ملي امنیتي ځواکونو ، ۲۲۸۱ ملکي مرګژوبلې(۷۰۶ مړینې او ۱۵۷۵ ژوبلې)؛ دوه سلنه دولت پلوه نړیوالو نظامي ځواکونو ، ۶۲۶ ملکي مرګژوبلې (۱۴۵ مړینې او ۱۱۷ ژوبلې) او دوه سلنه دولت پلوه وسله والو ډلو ، ۱۸۵ملکي مرګژوبلې (۵۲ مړینې او ۱۳۳ ژوبلې) ته منسوب کړې.




یوناما له نیمایي زیاته- ۵۳ سلنه - ملکي مرګ ژوبله چې د دولت پلوه ځواکونو – په تیره د افغان ملي امنیتي ځواکونو- لهخوا رامنځته شوې وه ، د ځمکنیو نښتو په ترځ د غیر مستقیم او انفجاري وسلو لکه هاوان ، توپ او نورو د کارونې له امله رامنځته شوې ، په ځانګړې ډول د هاوان او توپونو له امله ، چې د ۱۴۴۹ ملکي مرګژوبلو (۳۷۹ مړینې او ۱۰۷۰ ژوبلې) لامل ګرځېدلې. یوناما یادونه کوي چې په ۲۰۱۶ کال کې ، دولت پلوه ځواکونو د ځمکنیو نښتو په دوران کې له ټولو ملکي مرګژوبلو د لږ تر لږه ۴۱ سلنه لامل شوي وو.[۳۲٤]

۳۲۳ په ۲۰۱۵ کال کې ، یوناما دولت پلوه ځواکونو ته ۱۸۶۶ ملکي مرګژوبلې (۶۲۸ مړه او ۱۲۳۸ ټپیان) منسوبې کړې دي. نړیوال نظامي خواکونه په دې کې نه دي نغښتي. - د لا زیات جزئیاتو لپاره ، د نړیوال نظامي خواکونه ، او د هوايي عملیاتو څېرکي وګورئ.
۳۲٤ د ځمکنۍ نښتې څېرکي: ډزو په تبادله کې راګیر ملکي وګړي ، وګورئ

هوايي عمليات په ۲۰۱۶ کال کې ، د دولت پلوه ځواکونو له‌خوا د ملکي تلفاتو دويم مخکښ لامل پاتې شوي دي ، چې د ټولو ملکي مرګ‌ژوبلو چې دغه سکتور ته منسوبې شوي ، ۲۲ سلنې جوړوي. يوناما ټينګار کوي ، چې په هغو ملکي مرګ‌ژوبلو کې چې د دولت پلوه ځواکونو - له نړيوالو نظامي ځواکونو پرته - له‌خوا ترسره شوې ، د ۲۰۱۵ کال په پرتله ، ۱۱۱ سلنه زياتوالی راغلی دی ، په داسې حال کې چې دهوايي عملياتو له امله په ټولټال ملکي مرګ‌ژوبلو کې ۸۹ زياتوالی رامنځ ته شوی.[۳۲۵]

دولت پلوه ځواکونو [۳۲۶] همدارنګه د هدفي او عمدي وژنو د پيښو په ترڅ کې د ۱۰۶ ملکي مرګ‌ژوبلو( ۸۱ مړينې او ۲۵ ژوبلې) لامل شوي ، په داسې حال کې چې د ګواښ ، ډارونې او ځورونې پيښې د ۶۷ ملکي مرګ‌ژوبلو (۳ مړينې او ۶۴ ژوبلې) لامل شوې دي. يوناما پر دې تاکيد کوي چې دولت بايد ټول هغه دولت پلوه ځواکونه حساب ورکونې ته حاضر کړي ، چې ددغو پيښو لامل شوي.

د ۲۰۱۵ کال په پرتله ، د دولت پلوه ځواکونو د پلټنې د عملياتو په نتيجه کې په رامنځ‌ته شويو ملکي مرګ‌ژوبلو کې ، ۶۳ سلنه زياتوالی راغلی. يوناما ۳۴ پيښې مستندې کړې دي ، چې له امله يې ۸۸ ملکي مرګ‌ژوبلې (۴۹ مړينې او ۳۹ ژوبلې) رامنځ‌ته شوې دي ، د ۲۰۱۵ کال د ۲۹ پيښو په پرتله چې له امله يې ۵۴ ملکي مرګ‌ژوبلې (۳۵ مړينې او ۱۹ ژوبلې) رامنځ‌ته شوې وې. ۲۰۱۵ کال په پرتله ، په هغو ملکي ملکي مرګ‌ژوبلو کې چې نظامي اخطارونو ته د نه پاملرنې له امله رامنځ‌ته شوې ، ۲۷ سلنه زيات والی راغلی. يوناما په ۲۰۱۶ کال کې ، ۴۷ دغه ډول ملکي مرګ‌ژوبلې (۱۹ مړينې او ۲۸ ژوبلې) ثبتې کړې دي ، چې ډيری يې د ملي امنيت رياست ، او د ملي اردو د پرسونلو له‌خوا رامنځ‌ته شوې دي.

## هوايي عمليات

*"زه او زما مېره په خپله ځمکه کې په کار بوخت وو ، چې يوه الوتکه راښکاره شوه. يوازې مې د يوه جګ شور اوريدل په ياد دي ، نور څه نه. کله چې راوېښه شوم ، پوه شوم چې د الوتکې له خوا په ګذار شوي راکټ ژوبله شوې يم . راکټونو زما د کاکا هغه پنځه کلن زوی وواژه ، چې زموږ کره راغلی و. زه د هغه مور او پلار لپاره سخت خواشينې يم ، هغوی د هغه دوه ټوټې شوی جسد ،چې سر يې له تن څخه جلا شوی و ، وليد."* [۳۲۷]

-- د فارياب ولايت په دولت‌اباد ولسوالی کې ، د جون پر ۲۶ د افغان ملي اردو د هوايي بريد قرباني ، چې د قرباني د کاکا پنځه کلن زوي يې وواژه او د يوې نجلۍ او څلورو ښځو په ګډون ، اووه نور يې ټپيان کړل.

يوناما په ۲۰۱۶ کې د هوايي عملياتو له امله په رامنځ ته شوېو ملکي مرګ‌ژوبلو کې چټک زياتوالی مستند کړي دی. د جنوري د۱ او د ډسمبر د ۳۱ تر منځ ، يوناما ۱۲۱ هوايي بريدونه ثبت کړي ، چې په نتيجه کې يې ۵۹۱ ملکي مرګ‌ژوبلې (۲۵۰ مړينې او ۳۴۰ ژوبلې) رامنځ‌ته شوې چې د ۲۰۱۵ کال په پرتله ۹۹ سلنه زياتولای په ډاګه کوي.[۳۲۸]

---

۳۲۵ د هوايي عملياتو څېړکي وګورئ.

۳۲٦ د هدفي وژنو ، ګواښنو ، تهديد ، او ځورنې په نتيجه کې رامنځ‌ته شوي ملکي مرګ‌ژوبلې لاندې دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوې دي: افغان ملي اردو ، افغان ملي پوليس ، افغان سيمه ييز پوليس ، افغان سرحدي پوليس ، افغان ځانګړی ځواکونه او دولت پلوه وسله والې ډلې.

۳۲۷ د ۲۰۱۶ د جون پر ۲۹ ، د جوزجان په ولايتي روغتون کې له قرباني سره د يوناما مرکه.

۳۲۸ په ۲۰۱۵ کال کې ، يوناما په افغانستان کې د ۶۳ هوايي عملياتو له امله ، ۲۹۶ ملکي مرګ‌ژوبلې (۱۴۹ مړه او ۱۴۷ ټپيان) مستندې کړې دي.

دا د ۲۰۰۹ کال راهیسې د هوايي عملیاتو په پایله کې د رامنځ ته شوې ملکي مرګ ژوبلې تر ټولو لوړ شمیر دی ، کله چې یوناما په ۷۴ جلا جلا پېښو کې ۶۲۲ ملکي مرګژوبلې (۳۸۸ مړیني او ۲۳۴ ژوبلې ) مستندې کړې.[۳۲۹]

د افغان هوايي ځواکونو لهخوا ترسره شوې هوايي عملیات ، د هوايي عملیاتو په نتیجه کې د رامنځته شویو ملکي مرګژوبلو د ۴۳ سلنې -۲۵۲ ملکي مرګژوبلې (۸۵ مړیني او ۱۶۷ ژوبلې)؛ نړیوال نظامي ځواکونه د ۴۰ سلنې - ۲۳۵ ملکي مرګژوبلې (۱۲۷مړیني او ۱۰۸ ژوبلې) او ناپیژنده دولت پلوه ځواکونه (چېرې چې هوايي بریدونه تر سره شوي ، خو یوناما و نهکولای شو په مشخص دول په ډاګه کړي چې ایا ترسره کوونکي افغان هوايي ځواکونه وو ، یا نړیوال پوځي ځواکونه) د پاتې ۱۷ سلنې لامل وو ، ۱۰۳ ملکي مرګژوبلې (۳۸ مړیني او ۶۵ ژوبلې).

ننګرهار ، کندز او هلمند ، هغه ولایتونه دي ، چې د هوايي بریدونو له امله په کې تر ټولو زیاته ملکي مرګژوبله رامنځ ته شوې ، د دغو ولایتونو مرګ ژوبله په ګډه د هغو ملکي مرګژوبلو له نیمايي زیاته برخه جوړوي ، چې په ۲۰۱۶ کې د هوايي بریدونو له امله رامنځته شوي دي[۳۳۰]




*د افغان هوايي ځواکونو هوايي عملیات*

په ۲۰۱۶ کال کې ، یوناما د افغان هوايي ځواکونو لهخوا د ترسره شویو بریدونو له امله ۲۵۲ ملکي مرګژوبلې (۸۵ مړیني او ۱۶۷ ژوبلې) ثبتې کړې دي ، چې نږدې د هغو ملکي مرګژوبلو دوه برابره کېږي چې په ۲۰۱۵ کې ثبت

۳۲۹ یوناما د ۲۰۰۹ کال راهیسې ، د هوايي عملیاتو په نتیجه کې رامنځته شوي لاندې ملکي مرګژوبلې مستندې کړې دي: ۲۰۱۵ - ۲۹۶ ملکي مرګژوبلې (۱۴۹ مړه او ۱۴۷ ټپیان)، ۲۰۱۴ - ۱۶۲ ملکي مرګژوبلې (۱۰۴ مړه او ۵۸ ټپیان)، ۲۰۱۳ - ۱۸۶ ملکي مرګژوبلې (۱۲۲ مړه او ۶۴ ټپیان)، ۲۰۱۲ - ۲۰۲ ملکي مرګژوبلې (۱۲۵ مړه او ۷۷ ټپیان)، ۲۰۱۱ - ۴۱۵ ملکي مرګژوبلې (۲۶۲ مړه او ۱۵۳ ټپیان)، ۲۰۱۰ - ۳۰۶ ملکي مرګژوبلې (۱۷۱ مړه او ۱۳۵ ټپیان)، ۲۰۰۹ - ۶۲۲ ملکي مرګژوبلې (۳۸۸ مړه او ۲۳۴ ټپیان).

۳۳۰ په ۲۰۱۶ کال کې ، یوناما د هوايي عملیاتو په نتیجه کې رامنځته شوي ، په کندز ولایت کې ۱۶۰ ملکي مرګژوبلې (۵۳ مړه او ۱۰۸ ټپیان)، په ننګرهار ولایت کې ۹۷ ملکي مرګژوبلې (۳۸ مړه او ۵۹ ټپیان)، او په هلمند کې ۵۷ ملکي مرګژوبلې (۳۱ مړه او ۲۶ ټپیان) مستندې کړې دي.

شوې وې.[۳۳۱] د اندیښنې وړ موضوع دا ده ، یوناما ملاحظه کوي چې ښځې او ماشومان د افغان هوایي ځواکونو له خوا د هوایي بریدونو په پایله د رامنځ تهشویو تلفاتو ۳۰ سلنه جوړوي ، او یوناما پر ښځو او ماشومانو د هوایي بریدونو منفي اغیزې او په ګڼمیشتو سیمو کې د هوایي بریدونو د ترسره کولو جدي پایلې په ګوته کوي.[۳۳۲]

د ۲۰۱۶ کال د نومبر له ۳۱ راهیسې ، افغان هوایي ځواکونو د اتو ټینګوزرو جنګي الوتکو ؛ د ۱۳ Mi-۱۷ چې تغییرات په‌کې راوستل شوي او ماشینداري پرې نصب شوي (۷ يې د راکټ توغولو وړتیا لري) ؛ او ۲۷ ام ډي-۵۳۰ چورلکو په ګډون له ۴۸ الوتکو کار اخیستی.[۳۳۳] د اتو A-29 سپکو یرغلیزو جنګي الوتکو او د نورو MD-530 چورلکو له تر لاسه کولو وروسته ، دا د ۲۰۱۵ کال په پرتله چې د هوایي یرغلیزو عملیاتو وړتیا لري زیاتوالی منعکسوي.[۳۳٤] د ۲۰۱۶ کال په ترڅ کې د هوایي عملیاتو له امله رامنځته شویو افغان هوایي ځواکونو ته منسوب ملکي تلفاتو زیاته برخه -۹۰ سلنه- د چورلکو بریدونو له امل وو - ۲۲۴ ملکي مرګژوبلې (۷۰ مړینې او ۱۵۴ ژوبلې). دې سره په پرتله ،د ټینګوزرو الوتکو په مټ تر سره شویو هوایي بریدونو ۲۱ ملکي مرګژوبلې (۱۰ مړینې او ۱۱ ژوبلې) رامنځته کړې دي.[۳۳۵]

لاندې د افغان هوایي ځواکونو د هوایي عملیاتو په پایله کې د رامنځته شوې ملکي مرګژوبلو بیلګې دي:

- د اګست پر ۹ ، د هلمند د ناوه بارکزي ولسوالۍ په عینک سیمه کې د افغان هوایي ځواکونو یوه هوایي برید ، یوه ښځه او درې ماشومان ووژل او یوه نجلۍ یې ټپي کړه. له الوتکې توغول شوي مهمات وروسته له هغې د قربانیانو پر کور ولګېدل ، چې طالبانو د تېښتې په وخت د هغوي کور ته پناه وړې وه او خوځښتونه یې د افغان هوایي ځواکونو لهخوا تر څار لاندې وو.
- د سپټمبر پر ،۲۲ ، د بدخشان و لایت د جرم ولسوالۍ په سوچ بلا په سیمه کې د افغان هوایي ځواکونو Mi-35 چورلکې یو هوایي برید چې هدف یې طالبان وه ، ترسره کړ ، په برید کې یو اته کلن هلک ووژل شو او د دهمدغې کورنۍ د یوې ښځې او څلورو ماشومانو په ګډون ، شپږ نور غړي ټپیان شول.

د دې په یادولو سره چې د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې ، ټولې ښکېلې خواوې په دې مکلفې دي چې ټول ممکنه تدابیر ونیسي چې د عملیاتو پر مهال د ملکیانو ژوند ته د ضمني زیان اړولو ، د هغو ژوبلولو ، او ملکي شیانو ته د زیان د اړولو مخنیوی وکړي او یا هم لږ تر لږه هغه حد اقل ته راټیټ کړي ،[۳۳٦] یوناما یو وار بیا په کلکه غواړي چې په ملکي ګڼمیشتو سیمو کې دې هوایي بریدونه په سملاسي توګه ودرول شي ، او همدارنګه غوښتنه کوي چې د هوایي بریدونو په ترسره کولو کې په ځانګړې توګه په هغه ځایونو کې چې ښایي ملکیان شتون ولري ، باید له ډېر

---

۳۳۱ په ۲۰۱۵ کال کې ، یوناما په افغانستان کې د افغان هوایي ځواکونو د عملیاتو په نتیجه کې رامنځته شوي ۱۳۰ ملکي مرګژوبلې (۵۰ مړه او ۸۰ ټپیان) مستندې کړې دي. درې ملکي مرګژوبلې (دوه مړه او یوه ټپي) په مشخص ډول یا نړیوال نظامي ځواکونو یا افغان هوایي ځواکونه ته منسوبول ممکن نه و. د افغان هوایي ځواکونو د عملیاتو په نتیجه کې رامنځته شویو ملکي مرګژوبلو کې ۱۸۰ سلنه زیاتوالی راغلی.

۳۳۲ په ۲۰۱۶ کال کې ، یوناما ۶۵ ښځینه ملکي مرګ ژوبلې (۱۹ مړه او ۴۶ ټپیان)، او ۱۱۰ ماشومانو مرګ ژوبلې (۳۶ مړه او ۷۴ ټپیان) مستندې کړې دي ، چې د افغان هوایي ځواکونو د هوایي عملیاتو په نتیجه کې رامنځته شوي.

۳۳۳ د متحده ایالتونو د دفاع وزارت لهخوا خپور شوی ، "په افغانستان کې د امنیت او ثبات د پیاوړی کولو په اړه راپور" ډسمبر ۲۰۱۶ ، ۵۴ تر ۵۹ مخونه وګورئ.

۳۳٤ د متحده ایالتونو د دفاع وزارت لهخوا خپور شوی ، "په افغانستان کې د امنیت او ثبات د پیاوړی کولو په اړه راپور" ډسمبر ۲۰۱۶ ، ۶۲ مخ وګورئ.

۳۳۵ دواړو ته منسوب شوي ګډ هوایي عملیات ، چې د اتو ملکي مرګژوبلو (اوه مړه او یوه ټپي) سبب شو ، کوم چې په ځانګړی ډول کومې ځانګړې جنګي الوتکه یا چورلکې ته یې منسوبول شونی نه و.

۳۳٦ دویمه الحاقیه پروتوکول ، ۱۳ مادې ؛ د نړیوال سره صلیب د کمیټې نړیوال دودیز بشرپال قانون څېړنه ، ۱۵ ، ۲۲قاعده.

احتیاط څخه کار واخیستل شي. په دې اړه، یوناما د ۱۳۰ افغان تاکتیکي هوایي همغږی کوونکو ( Afghan Tactical Air Coordinators = ATACs) د فارغېدو هرکلي کوي، چې د ناټو د غوڅ ملاتړ د سلامشورې او همکاري قوماندانۍ د پروګرامونو په مټ، ترسره شوې چې ښکاره موخه یې "د هوا او ځمکې د همغږۍ د کچې لوړول، او د ملکي تلفاتو را کمول" دي، د هغو تمرینونو په ګډون، چې فارغانو ته د انداخت په میدانونو کې له هوا څخه ځمکې ته د نښو په ویشتلو کې عملي تجربې ورزده کوي.[۳۳۷]

***د نړیوال نظامي ځواکونو لهخوا ترسره شوي هوایي عملیات***

د جنوري د ۱ او د ډسمبر د ۳۱ ترمنځ یوناما د هغو هوایي عملیاتو په نتیجه کې چې د نړیوالو نظامي ځواکونو له ترسره شوې وو، ۲۳۵ ملکي مرګژوبلې (۱۲۷ مړینې او ۱۰۸ ژوبلې)[۳۳۸] ثبتې کړې دي - چې دا د ۲۰۱۵ کال په پرتله، ۴۴ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي.[۳۳۹] دا زیاتوالی تر ډېره بریده هغه هوایي برید ته د منسوبولو وړ دی، چې د نومبر پر ۲ او ۳ شپه تر سره شوی (*د پېښې تفصیل لاندې لوستلای شئ*).

یوناما ملاحظه کړې چې په ننګرهار ولایت کې د نړیوالو نظامي ځواکونو لهخوا په ترسره شویو هوایي بریدونو کې رامنځته شویو ملکي مرګژوبلو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی. یوناما د ۲۰۱۶ کال په اوږدو کې په ننګرهار ولایت کې د هوایي بریدونو په نتیجه رامنځته شوي، ۸۹ ملکي مرګژوبلې (۳۷مړینې او ۵۲ ژوبلې) ثبتې کړې دي. د ۲۰۱۵ کال په پرتله چې پهکې د ۱۰ هوایي بریدونو په نتیجه کې، ۱۸ ملکي مرګژوبلې (۱۱ مړینې او اووه ژوبلې) رامنځته شوې وې.[۳۴۰] د مثال په توګه یوناما د سپټمبر پر ۲۸ د ننګرهار ولایت په اچین ولسوالۍ کې د نړیوالو نظامي ځواکونو لهخوا یو ترسره شوی هوایي برید مستند کړی، د یوناما د موندنو سره سم، برید د یوه قومي مشر پر کور ترسره شوي و، چې په دې وروستیو کې له حج څخه راستون شوی و. یاد برید ۱۵ ملکي نارینه ووژل او د دوو ماشومانو په ګډون چې له حج څخه د بېرته راستنېدو د نمانځنې په موخه د هغه کورته ورغلی وو، ۱۳ نور ټپیان کړل.[۳۴۱]

زیاتره نورې ملکي مرګژوبلې چې د نړیوالو نظامي ځواکونو (د ګډو عملیاتو په ګډون) د هوایي عملیاتو په نتیجه کې رامنځته شوې وې، په کندز کې رامنځته شوې دي (شپږ پېښې - ۸۲ ملکي مرګژوبلې (۳۷ مړینې او ۴۵ ژوبلې).

په داسې حال کې چې یوناما د هوایي عملیاتو له امله د ملکي تلفاتو د راکمولو په اړه د نظامي ځواکونو لهخوا روانې هڅې په پام کې لري ،بیا هم پر ټولو نظامي ځواکونو غږ کوي، چې خپلو اوسنیو تدابیرو ته بیاکتنه وکړي څو ملکیانو ته د زیان اوښتو مخه ونیسي. په داسې حال کې یوناما د افغان هوایي ځواکونو له خوا د ملکي تلفاتو په اړه شفافې خبرې اترې ارزښتناکه بولي، خو یوناما له دغو ځواکونو په کلکه غواړي چې په منظم ډول له یوناما سره د هغو هوایي

---

۳۳۷ د متحده ایالتونو د دفاع وزارت لهخوا خپور شوی، "په افغانستان کې د امنیت او ثبات د پیاوړی کولو په اړه راپور" ډسمبر ۲۰۱۶، ۶۰ مخ وګورئ.

۳۳۸ په ۲۰۱۶ کال کې، نړیوال نظامي ځواکونه ۷۶ ملکي مرګ ژوبلې ثبتې کړې دي چې د هغوي د هوایي عملیاتو په نتیجه کې رامنځته شوي. د یوناما او غوڅ ملاتړ (Reselute Support) ترمنځ تبادله شوي ایمیلونه ، ۲۴ د جنوري، ۲۰۱۷.

۳۳۹ په ۲۰۱۵ کال کې، یوناما په افغانستان کې د نړیوال نظامي ځواکونو د هوایي عملیاتو په نتیجه ک ۱۶۳ ملکي مرګژوبلې (۹۷ مړه او ۶۶ ټپیان) مستندې کړې دي.

۳۴۰ د ننګرهار په ولایت کې نړیوال نظامي ځواکونو ته منسوب شوې ملکي مرګژوبلو کې د ۲۰۱۵ کال په پرتله، ۳۹۴ سلنه زیاتوالی راغلی. په ۲۰۱۶ کال کې، هوایي عملیاتو په ننګرهار کې ټولټال د ۹۷ ملکي مرګژوبلو (۳۸ مړه او ۵۹ ټپیان) لامل شوي وو. افغان هوایي ځواکونو په ۲۰۱۶ کال کې، په ننګرهار کې د دوو هوایي بریدونو په ترڅ کې اته ملکي مرګژوبلې (یو مړ او اووه ټپیان) رامنځته کړ.

۳۴۱ غوڅ ملاتړ (Reselute Support) د پېښې په اړه د خپلې داخلي څېړنې موندنې د یوناما له استازو سره شریکې کړې، د هغو له مخې د عملیاتو په نتیجه کې کومې ملکي مرګژوبلې نه وو رامنځته شوي. د یادو عملیاتو په نتیجه کې د وژل شویو کسانو د وضعیت په اړه، او د ټپي شویو کسانو د وضعیت او شمېر په اړه، د یوناما موندنې د غوڅ ملاتړ (Reselute Support) له موندنو سره توپیر لري.

عملیاتو په اړه چې ملکي مرګژوبلې رامنځته کوي خبرو اترو ته دوام ورکړي ، هغه هڅه/تمرین چې د یوناما او غوڅ ملاتړ/ایساف په ښه ډول رامنځ ته شوی. یوناما همدارنګه د هغو ملکي کسانو لپاره چې له هوایي عملیاتو زیانمن شوي دي ، د پر وخت او په کافي اندازې تاوانونو د جبرانولو پر اړتیا ټینګار کوي.

*د ۲۰۱۶ کال د نومبر پر ۲-۳ ، د کندز ولایت د بُزکندهارې پر کلي هوایي برید*

> *"د چاودنې یو ډېر خطرناک اواز مې تر غوږو شو. د هغې خونې په چت کې چې موږ پکې ویده وو ، یو سوری جوړ شوی و او د پاسه څخه اور راپریوت. د اینګور چیغې مې واوریدې چې ټپی شوې وه. کله چې ور نږدې شوم ، ومې لیدل چې وینې ترې روانې وې او لږ وروسته یې ساه ورکړه. د هغې دوه کلنې لور دواړه پښې له لاسه ورکړې."* [۳۴۲]
>
> -- د ۲۰۱۶ کال د نومبر پر ۲-۳، د کندز ولایت د بُزِ کندهارې پر کلي د هوایي برید شاهد چې د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا ترسره شوی و.

د نومبر پر ۲ او ۳ شپه نړیوالو نظامي ځواکونو د کندز ولایت د بز کندهاري پر کلي یو لړ هوایي بریدونه تر سره کړل. دغو هوایي بریدونو ۲۳ ملکي کسان ووژل او ۳۶ نور ، چې زیاتره یې ښځې او ماشومان وو ، ټپیان کړل.

د غوڅ ملاتړ د خپرې شوې بیانیې له مخې ، یاد بریدونه په دفاعي ډول د افغان ځواکونو سره په ملګرتیا ترسره شوي وو ، چې موخه یې هغه طالب مشران وو ، چې د راپورونو له مخې په بز کندهاري کلي کې موجود وو. نړیوال او افغان ځانګړي ځواکونه چې په ځمکنیو نښتو کې ښکیل وو ، د دولت‌ضد عناصرو کلک مقاومت وروسته د هوایي ملاتړ غوښتنه وکړه ، چې له امله یې درې افغان کوماندویان او دوه امریکایي سرتیري وژل شوي او ۱۱ افغان کوماندویان ، او څلور امریکایي سرتیري ټپیان شوي وو.[۳۴۳]

یوناما د دغو بریدونو له امله د ۲۰ ماشومانو او شپږو ښځو د مړینې او د ۱۴ ماشومانو او نهو ښځو د ژوبلې په ګډون ، ۶۸ ملکي مرګژوبلې (۳۲ مړینې او ۳۶ ژوبلې) مستندې کړې دي. د مرګژوبلو زیاتره برخه په دوو ګاونډیو هستوګنځآیونو کې رامنځ ته شوې ، چې زیات شمیر کورنۍ په کې میشتې دي. له ۶۸ ملکي مرګژوبلو ، (د ۱۱ کلونو څخه د کم عمر ۱۳ ماشومانو په ګډون) ۲۵ یې د هغه طالب قوماند د کورنۍ غړي وو ، چې د راپورونو له مخې د دغو هوایي بریدونو اصلي هدف و ، په داسې حال کې چې (د اتو کلونو د کم عمر د څلورو ماشومانو په ګډون) ۱۵ نورې ملکي مرګ ژوبلې په ګاونډیو کورنیو پورې تړاو درلود.

ځایي سرچینو په یوه غږ ویلي ، چې هوایي بریدونه د شپې تر ناوخته پورې دوام درلود ، چې له امله یې ټپي ولسي وګړي خپلو کورونو کې بند پاتې وو او نه یې پرېښودل چې طبي درملنې ته لاسرسي ومومي. د یوناما له خوا کتل شوي

---

۳۴۲ له شاهد سره د یوناما مرکه ، کندز ولایتي روغتون ، ۶ نومبر ، ۲۰۱۶.

۳۴۳ د ملکي مرګژوبلو په اړه تازه معلومات ، د ۲۰۱۶ کال د نومبر ۵ ، http://www.rs.nato.int/article/press-releases/update-on-civilian-casualties-near-kunduz-nov.-5-2016.html ؛ " د کندز ولایت په بز کندهاري سیمه کې د ملکي مرګژوبلو په اړه معلومات تایید شو "، جنورۍ ۱۳ ، ۲۰۱۷. په لاندې پته د لاسرسي وړ دی: http://www.rs.nato.int/article/press-releases/civilian-casualties-confirmed-in-boz-village-kunduz.html، دواړه په وروستي ځل د ۲۰۱۷ د جنوري پر ۱۳ د لاسرسی وړ وو.

د سپوږمکۍ اخیستل شوي د کلي انځورونه دا په ډاګه کوي ، چې زیان د کلي په دوو عمده سیمو کې رامنځ ته شوي او داسې ښکارېده چې دا زیان د راکټونو د توغولو له امله رامنځته شوی.[٣٤٤]

تر ننه پورې ، د ناټو په مشرۍ د غوڅ ملاتړ ماموریت او افغان ملي اردو (د افغان هوايي ځواکونو په ګډون) په مطبوعاتي اعلامیو کې پر خپرو شویو موندنو سربیره د اضافي معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د یوناما غوښتنو ته ځواب نه دی ویلی.[٣٤٥]

*نړیوال پوځي ځواکونه او د افغان حکومت غبرګونونه*

د ۲۰۱۶ د نومبر په ۳ نیټه ولسمشر اشرف غني دیوې اعلامیې د خپرولو په ترڅ کې وویل چې د یادې پېښې د تفصیلاتو د څېړلو په موخه یې یو پلاوی ګومارلی.[٣٤٦] حکومتي او ځایي سرچینو یوناما ته راپور ورکړی چې حکومت له پېښې څخه درې ورځې وروسته هغو کورنیو ته چې غړي یې وژل شوي- ۱۰۰۰۰۰- افغانۍ او هغو نورو کورنیو ته چې غړي یې ژوبل شوي دی — ۵۰۰۰۰ — افغانۍ د جبران په توګه ورکړې دي. تر دې مهاله ، د اغېزمنو کورنیو ملکیتونو او شارویوته د اوښتي زیان د اعادې دویم پړاو نه دی پلی شوی.

د ۲۰۱۶ د نوومبر په ۵ ، نړیوالو پوځي ځواکونو یوه خبر پاڼه خپره کړه او د ملکي وګړو وژل کېدل یې تایید کړي او د بې ګنا خلکو په وژل کېدويې ژوره خواشیني څرګنده کړه. په خبر پاڼه کې راغلي چې نړیوال پوځي ځواکونه د پېښې د حقایقو د موندلو په موخه له افغان سیالانو او د مرستې په برابرولو کې له افغان دولت سره په ګډه د کارکولو ژمنه کوي.[٣٤٧]

د ۲۰۱۷ د جنوري تر ۱۳ ، نړیوالو پوځي ځواکونو د یوې خبر پاڼې په خپرولو سره د خپلو موندنو تفصیلات خپاره کړل. د دغو موندنو پر بنسټ ، د امریکايي او افغان ځواکونو د ګډو عملیاتو په ترڅ کې ، چې د هغو طالب مشرانو د نیولو لپاره تر سره شول څوک چې په کندز کې په تېر تاوتریخوالي تورن ول ، ۴۴ تنه ملکي وګړو ژوند له لاسه ورکړ او

---

٣٤٤ د پرتلیزې شنني لپاره د اکتوبر ۲۷ ، او نومبر ۱۷ نیټې د افغانستان د کندز د بز کندهاري کلي سپوږمکیز انځورونه کارول شوي وو. د ۲۰۱۶ د نومبر ۱۵د نیټې د سپوږمکۍ څخه ترلاسه شوي ډیټا: Pleiades, resolution 50cm, copyright CNES 2015 – Distribution Astrium Services, source Airbus Defence and Space. ، او د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر ۲۷ نیټې د سپوږمکۍ څخه ترلاسه شوي ډیټا: Worldview-1, resolution 50cm, copyright Digitalglobe, Inc., source EUSA. Satellite Imagery and Damage Assessments courtesy of UNOSAT.

٣٤٥ د نومبر پر ۳ ، په افغانستان کې امریکایي ځواکونه یوه مطبوعاتي بیانیه خپره کړه ، چې په‌کې د دوو امریکایي سرتیرو له مړینې او د دوو نورو له ټپي کېدنې خبر ورکړی و ، د یاده بیانیې له مخې دا تلفات هغه پېښ شول چې دوي"د له افغان سرتیرو سره د یوه روزنیز ، مشورتي او ملاتړ ماموریت په ترڅ کې چې موخه یې په کندز کې د طالبانو د سنګرونو تصفیه کول او د هغوی فعالیتونه شنډ کول و ، د طالبانو تر برید لاندې راغلي وو " . په یوه بله بیانیه کې چې د نومبر پر ۵ خپره شوه ، په افغانستان کې امریکایي ځواکونه وویل " د نومبر پر ۳ ، هغه افغان ځواکونه چې د امریکایانو له‌خوا سلامشورې ورته ورکول کېده د کند د ولسوالي د بز په کلي کې یوه ماموریت ترسره کړ ، چې هدف یې هغه طالب قوماندانان و چې پلان درلود د کندز په ښار کې نور عملیات ترسره کړي. د عملیاتو په ترڅ کې ملګری ځواکونه د طالبانو له ډېر کلک مقاومت سره مخامخ شول او له څو اړخونو وربانديې ډزې کېدلې او دې ته اړ شول چې د خپل دفاع په خاطر له ځمکنیو او هوایي بریدونو کار واخلي" د کندز د تلفاتو په اړه بیانیه په لاندې پته وګورئ: http://www.rs.nato.int/article/press-releases/kunduz-casualty-release-nov.-3-2016.html ؛ د ملکي مرګ‌ژوبلو د اضافي معلوماتو په اړه د نومبر پر ۵ ، په لاندې پته کتلای شئ: http://www.rs.nato.int/article/press-releases/update-on-civilian-casualties-near-kunduz-nov.-5-2016.html ؛ دواړه ادرسونه په وروستي ځل د ۲۰۱۷ د جنوري پر ۷ ، د لاسرسي وړ و.

٣٤٦ پر دغه ویبپاڼه د لاسرسي وړ دی: http://president. gov. af/en/news/188180 وروستی ځل لیدل شوی ، د ۲۰۱۷ د جنوری ۲۵

٣٤٧د کندز په بز کلی کې تایید شوي ملکي تلفات ، د ۲۰۱۷ د جنوری ۱۳پر دغه ویپاڼه وګورئ: http://www. rs. nato. int/article/press-releases/civilian-casualties-confirmed-in-boz-village-kunduz. html,

وروستی ځل لیدل شوی: د ۲۰۱۷ د جنوری ۱۳

۲۸ تنه نور ټپیان شول. خبر پاڼه زیاتوي ، چې د عملیاتو په ترڅ کې له ځواک څخه کار اخیستلو دفاعي موخه درلوده چې د وسله واله نښتو له قانون ( یا د بشر پالنې نړیوال قانون) سره په سمون کې و.[۳۴۸]

دې پایلې ته د رسېدو اړوند عوامل دا وو: طالبانو د ملکیانو له کورونو څخه دزې کولې او د ملکي کسانو د تلفاتو زیاته برخه په دې کورونو کې رامنځ ته شوې ، امریکایی او افغان ځواکونه "مجبوره" شول چې د ځاني دفاع په موخه د هوایي مرستې غوښتنه وکړي ، امریکایي جنګي الوتکو له " حداقل لازمي قوې څخه کار واخیست څو ښېلا ښېل تهدیدونه شنډ کړي" او د دوو امریکایي او دریو افغان سر تېرو وژل کېدل او د ۱۱ نورو کوماندو ځواکونو ټپي کېدل د نښتې شدت څرګندوي.[۳۴۹]

*تحلیل*

یوناما په دې اعتراف کوي چې د غوڅ ملاتړ ماموریت د عملیاتو په ترڅ کې له معیاري عملیاتی طرزلعمل څخه کار اخلي چې د بشر پالنې د نړیوال قانون سره په سمون کې حالت ته په کتو سره له قوې څخه کار اخلي څو د ملکي تلفاتو اندازه حداقل ته را ټیټه کړي. د نوومبر په ۲ او۳ په کندز کې د هوایي عملیاتو په اړه ، یوناما مشاهده کړې چې د ۲۰۱۷ د جنوري د ۱۳خبر پاڼه چې د نړیوالو پوځي ځواکونو د څېړنو موندنې یې خپرې کړې په دې اړه کافی معلومات نه ورکوي څو د بشر پالنې له نړیوال قانون سره د عملیاتو د سمون ادعا ثابته کړي او نه داسې کافي معلومات لري چې له مخې یې د څېړنو بې پرې والی ښکاره شي.

د جګړې ښکېلې خواوې مکلفیت لري داسې جنګي میتودونه او وسیلې وکاروي چې په پوځي او ملکي هدفونو کې توپیر وپېژني.[۳۵۰] له دې امله چې چاودېدونکی وسلې په احتمالي توګه بې توپیره اغېزې لري ، د استوګنې په سیمو کې په هغو پوځي هدفونو برید چیري چې ملکي وګړي او ملکي هدفون شتون لري ، ددې ډول وسلو دوامداره کارونه کېدای شي له دې شرط څخه سرغړونه وګڼل شي. یوناما په یاد لري چې د یوه طالب قوماندان په کور په هوایي برید کې دهغه د کورنۍ ۲۵ تنو (له ۱۱ کلنې څخه د کم عمر د ۱۳ ماشومانو په ګډون) تلفات درلودل او ۱۵ نور ملکي کسان په ګاونډي کور کې ددې برید په ترڅ کې متاثره شول.

سر بېره پر دې ، د جګړې په سیمو کې که ښکېلې خواوې پوځي هدفونه په نښه کوي او د ځاني دفاع لپاره هم وي ، د بشر پالنې نړیوال قانون بې تناسبه بریدونه منع کوي ، یاني هغه بریدونه چې کېدای شي په تصادفی ډول د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې لامل وګرزي ، هغوی ټپیان کړي ، یا ملکي شیانوته زیان ورسوي چې د وړاندوېینې وړ ، مشخصو او

---

۳۴۸ د ملکي تلفاتو په اړه تازه معلومات ، د ۲۰۱۶ د نومبر۵ ، پر دغه ویبپاڼه وګورئ:
http://www. rs. nato. int/article/press-releases/civilian-casualties-confirmed-in-boz-village-kunduz. html, وروستی ځل لیدل شوی ، د ۲۰۱۷ د جنوری ۸

۳۴۹د ۲۰۱۷ د جنورۍ میاشت د دیارلسمې مطبوعاتي خبرپاڼه څرګندوي چې په ګډو عملیاتو کې د دریو طالب قوماندانانو په ګډون ۲۶ طالبان وژل شوي او ۲۶ نور ټپیان دي. د کندز په بز کلی کې تایید شوي ملکي تلفات ، د ۲۰۱۷ د جنوری ۱۳ پر دغه ویبپاڼه وګورئ:
http://www. rs. nato. int/article/press-releases/civilian-casualties-confirmed-in-boz-village-kunduz. html, وروستی ځل لیدل شوی: د ۲۰۱۷ د جنوری ۱۳

۳۵۰دربمه ګډ ماده ؛ دویم اضافي پروتوکول ، ۱۳ ماده ؛ وګورئ: د بشرپالنې د نړیوال عرفي قانون په اړه د سره صلیب د نړیوالې کمیټې څېړنه ، ۱۱قاعده ، اضافي پروتوکول ۱ ، ۵۱ ماده هم وګورئ (پر غیر نړیوالو وسله والو جګړو د تطبیق وړ نه دی خو د نړیوال عرفي قانون په توګه منل شوي دی — وګورئ: د بشرپالنې د نړیوال عرفي قانون په اړه د سره صلیب د نړیوالې کمیټې څېړنه ، ۱۱ قاعده)؛ څارنوال د دسکو تادیچ په وړاندې ، آی تي ۹۴-۱ ، د استیناف دیوان پریکړه ، د دفاع د وړاندیز د موقتي استیناف د واک په اړه ، د ۱۹۹۵ د اکتوبر ۲ ، عبارت ۱۲۷

مستقیمو نظامي برياوو په پرتله زيات وي. [۳۵۱] په دې رابطه ، د شپې په مهال په ګڼ مېشته کلي هوایي برید چې ۶۸ ملکي تلفات يې واړول او ۲۶ تنه ماشومان او ښځې يې ووژلې او ۲۳ نوريې ټپيان کړل ، ژوره اندېښنه را پیدا کړې.

یوناما یادونه کوي ، چې د نړیوالو پوځي ځواکونو له خوا په خپره شوې اعلامیه کې د تناسب اصل ته اشاره نه ده شوې او د ګډو عملیاتو په ترڅ کې د وړاندوینې وړ د نظامي برياوو په اړه تفصیلات نشته. په دې برسېره ، اعلامیه هغه خطرونه نه یادوي چې په ګڼ مېشتو هغو سیمو کې له ځمکنيو عملياتو سره تړلي دي ، چیرې چې د راپورونو له مخې د دولت ضد عناصر ، د دوی کورنۍ او نور ملکي کسان استوګن دي ، اعلامیه د اټکلي ملکي تلفاتو تحليل نه کوي او هیڅ ډول داسي هڅې نه یادوي چې د ځمکنيو عملياتو په دوران کې او له هغه مخکې د ملکي تلفاتو اندازه حداقل ته را کمولای شي. [۳۵۲]

مطبوعاتي اعلامیه ځرګندوي ، چې طالبانو د ملکي کسانو په منځ کې د پټېدو لار غوره کړې ، د قوې کارونه د ځاني دفاع لپاره وه او نړیوالو هوایي نظامي ځواکونو د حداقل هغې لازمي قوې څخه کار اخیستی دی چې له ملکي ځایونو څخه دوی ته د خطرونو د رفع کولو لپاره ضروري وه څو د دوستو ځواکونو حمایه وکړي. یوناما یادونه کوي چې په یوه ساحه کې چې د وسله والې ډلې له خوا کارول کیږي اوسېدونکي ولسي وګړي تر هغو د ملکي کسانو موقف لري چې په نېغه توګه په دښمنیو کې ښکېل نه وي. یوناما د دې یادونه هم کوي ، چې بریدونه که یرغلیز خصلت ولري او یا دفاعي تدبیرونه وي څو دوست ځواکونه حمایه کړي ، د تناسب اصل په هر حالت کې د تطبیق وړ دی. د یوناما څېړنې ځرګندوي چې د نړیوال قانون غوښتنه چې د تناسب د اصل په رعایت ټینګار کوي ، که د ځاني دفاع په حالت کې وي هم ، ښایي په پوره ډول نه وي مراعات شوي.

په پای کې ، د بشر پالنې نړیوال قانون په جګړو کې له ټولو ښکېلو خواوو څخه غوښتنه کوي چې هر ممکن تدبیر ونیسي څو له داسي بریدونو څخه مخنیوی وکړي یا هغه وځنډوي کله چې ښکاره شي د برید هدف نظامي هدف نه دی او یا کېدای شي چې برید ملکي وګړوته د بې تناسبه زیان لامل وګر ځي. [۳۵۳] همدارنګه د بشرپالنې نړیوال عرفی قانون تصریح کوي چې باید ټول هغه ممکنه تدابیر تر لاسه لاندې ونیول شي چې په هره پیښه کې د ملکي وګړو ته د مرګ ژوبلې او ملکي شیانو ته تلفات لږ تر لږه شي. [۳۵۴] د نړیوالو پوځي ځواکونو له خوا په خپرې شوې خبر پاڼې کې د

---

۳۵۱دربېمه ګډه ماده ؛ دويم اضافي پروتوکول ، : د سره صلیب د بشرپالنې د نړیوال عرفي قانون څېړنه ، ۱۴ قاعده ، اضافي پروتوکول ۱ ، ۸۵ (۳) (ب) ماده هم وګورئ (پر غیر نړیوالو وسله والو جګړو د تطبیق وړ نه دی خو د نړیوال عرفي قانون په توګه منل شوي دی – وګورئ: د بشرپالنې د نړیوال عرفي قانون په اړه د سره صلیب د نړیوالې کمټې څېړنه ، ۱۴ قاعده).

۳۵۲یوناما دا مشاهده کړې چې په افغانستان کې امریکایي ځواکونه دا ادعا کوي چې د جګړې په لړ کې ملکي وګړي نه لیدل شوي او نه پېژندل شوي دي خو دوي دا نه وايي چې په کلي کې د ګډو عملیاتو په اړه استخباراتي هڅې تر سره شوې وې او که نه. وګورئ: د کندز په بز کلی کې تاييد شوي ملکي تلفات ، د ۲۰۱۶ د جولای ۱۷ پر دغه سايټ کې: http://www. rs. nato. int/article/press-releases/civilian-casualties-confirmed-in-boz-village-kunduz. html,
وروستی ځل لیدل شوی: د ۲۰۱۷ د جنوری ۱۳

۳۵۳وګورئ: ۵. ۳۲ تر ۵. ۳۳. ۵ برخې ، د جګړې تر سره کول ، په برید کې احتیاطونه ، د وسله والې جګړې د قانون لارښود. د بریتانیا د دفاع وزارت ، د اکسفورډ د پوهنتون مطبعه ، اکسفورډ ، ۲۰۰۴. دا هم وګورئ: بوتبای ، ویلیام. "څلورمه برخه – د عصري هدف نیونې عملي اړخونه" ، ۲۰. ۱۰ تر ۲۰. ۱۰. ۴ برخې" د هدف نیونې قانون کې. د اکسفورډ د پوهنتون مطبعه ، د ۲۰۱۲ فبروري میاشت.

۳۵٤

داسي تدبیرونو په اړه څه معلومات نشته چې له جګړې څخه د مخه یا د جګړې په جریان کې نیول شوي وي څو د ملکي وګړو د زیان مخنیوی وشي.

په داسي حال کې چې یوناما د نړیوالو پوځي ځواکونو له خوا د نوومبر د ۲ او ۳ پېښنو په اړه د څېړنو ستاینه کوي او مني چې ملکي وګړي زیانمن شوي دي ، یوناما د څېړنو د بشپړو جزیاتو په خپرولو ټینګار کوي. د پېښې شدت ته په کتو سره ، چې د ۶۸ ملکي تلفاتو لامل ګرزیدلي چې په عمده ډول ماشومان او ښځې دي ، لېږ تر لېږه باید په شفاف ، ښکاره او بې پلوه ډول د دې پوښتنې ځواب وویل شي چې نړیوال پوځي ځواکونه څنګه دې پایلې ته ورسېدل چې په عملیاتو کې هیڅ کومه تېروتنه نه ده شوې.

**د تلاشي شریک عملیات**

یوناما د افغان ملي ځواکونو او نړیوالو پوځي ځواکونو د تلاشۍ د عملیاتو په ترڅ کې پینځه داسي پېښې ثبتي کړي چې په پایله کې یې ۷ ملکي وګړي (۵ وژل شوي او ۲ نور ټپیان شوی) تلف شوي. د مثال په ډول ، د اکتوبر په ۵ د ننګرهار ولایت په کامه ولسوالي کې د تلاشۍ ګډ عملیات په ډزو پیل شول ، چې د ۴ ملکي نارینه وو د وژل کېدو لامل شول. [۳۵۵] سره له دې چې ځایي خلکو د پېښې په اړه د تحقیقاتو غوښتنه وکړه ، د تحقیقاتو موندنې له دوی سره نه دي شریکې شوي. [۳۵۶] دغه راز ، یوناما په اندېښنې سره یادونه کوي چې د ۲۰۱۶ د فبروري په ۱۸ د میدان وردګ ولایت د دایمیرداد په ولسوالي کې د ګډو عملیاتو په اړه د پلټنو پایلې په عام ډول نه دي په ډاګه شوې. [۳۵۷] د اکتوبر په ۲۰ افغان او نړیوالو پوځي ځواکونو د ننګرهار ولایت د چپرهار په ولسوالي کې د تلاشۍ ګډ عملیات تر سره کړل چې په ترڅ کې یې له حکومت ضد عناصرو سره د ډزو په تبادله کې دوه تنه ماشومان ژوبل شول.

پوځي اخطارونو ته د پام نه کولو په پېښنو کې او دغه راز د ځمکنیو نښتو په ترڅ کې د نړیوال پوځي ځواکونو له خوا ملکي وګړوته مرګ ژوبله اووښتې چې د ۲۰۱۵ کال له کچې سره برابره وه. [۳۵۸] یوناما پوځي اخطارونو ته د پام نه کولو درې پېښې ثبتي کړې چې په پایله کې یې ۴ تنه ملکي وګړي وژل شوي او مسؤلیت یې نړیوال پوځي ځواکونو ته منسوبیږي. دغه راز ، یوناما د ځمکنیو نښتو دوه پېښې ثبتې کړې چې په ننګرهار ولایت کې یې د ۷ تنو ملکي کسانو د مرګ لامل ګرځېدلې. د مثال په توګه ، د اګست په ۷ ، نړیوالو پوځي ځواکونو د ننګرهار ولایت د اچین په ولسوالي کې څو د توپ ډزې وکړې چې ۶ تنه ملکي وګړي یې ووژل. [۳۵۹] سرچینو راپور ورکړی چې دغه سړي په دې وخت کې

۳۵۵دویم اضافي پروتوکول ، ۱۳(۱) ماده ؛ د بشرپالنې د نړیوال عرفي قانون په اړه د سره صلیب د نړیوالې کمېټې څېړنه ، ۱۴م تر ۲۱ قاعدي. همدا راز ، د جګړې ښکیلې غاړې مکلفې دي چې تر خپلې ولکې لاندې سیمو کې د بریدونو له اغیزې څخه د ملکي وګړو او ملکي اهدافو د ساتنې ټول د اجرا وړ اقدامات تر سره کړي او پوځي اهداف له ملکي میشتو سیمو څخه بهر ځای پر ځای کړي. وګورئ: د بشرپالنې د نړیوال عرفي قانون په اړه د سره صلیب د نړیوالې کمېټې څېړنه ، ۲۲-۲۴ قاعدي).

۳۵۶د یادې پېښې د بیا کتنې وروسته ، د غوڅ ملاتړ ماموریت د ملکي تلفاتو ټولې ادعاوې نا ثابت شوې بولي. د ۲۰۱۷ د جنورۍ د میاشتې پر ۳مه په کابل کې د یوناما او غوڅ ملاتړ ماموریت غونډه.

۳۵۷د پېښې په غبرګون ، د کامه ولسوالۍ د سیمې مشران ، د ولسوال سره په کتنه کې د پېښې د رسمي پلټنې غوښتنه وکړه.

۳۵۸د میدان وردک ولایت د دایمیرداد په ولسوالۍ کې د فبروري پر اتلسمه د ګډو عملیاتو په اړه د معلوماتو لپاره چې د دوو ټپي طالبانو او یوه پنځلس کلن ځوان د مرګ لامل شول ، وروسته له هغه چې له یوه روغتیایي کلینک څخه وشړل شول ، وګورئ: د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۵ شپږمیاشتنی راپور ، ۲۴م او ۸۱م پاڼه.

۳۵۹په ۲۰۱۵ کې یوناما د پینځو ملکي وګړو مرګ ژوبله ثبتي کړې دهي ( دوه مړي او درې ټپیان ) چې د نړیوال پوځي ځواکونو د عکس العمل ښودلو پیښو کې او شپږ نور (درې مړي او درې ټپیان) د نړیوال پوځي ځواکونو د ځمکنیو عملیاتو په ترڅ کې رامنځ ته شوې دي.

ببرته د خپلو ملکیتونو د ساتنې لپاره راګرځېدلي وو چې د حکومت ضد عناصرو په ولکه کې نیولي وو او بیایې هغه پرې ایښي وو.

نورې پېښې چې ملکي وګړوته د نړیوال پوځي ځواکونو له خوا تلفات اووښتي ، د ځای په ځای شویو چاودېدونکو توکو چاودنې وې ، چې د دغو ځواکونو له خوا د زابل ولایت د شاجوی په ولسوالي کې په پوځي اډه کې پرېښودل شوي وو او یو هلک یې وواژه او پینځه نوریې ټپیان کړل ، دغه راز ، د کندهار ولایت د دامان په ولسوالي کې وروسته له هغه چې هلکانو د نړیوال پوځي ځواکونو په موټرونو تیږې وغورځولې د دې ځواکونو له خوا هوایي ډزې وشوې او په پایله کې یې یو هلک ټپي شو. [360] او یو هلک او یوه ښځه د کندز ولایت د کندز په ولسوالي کې په هغه وخت کې د سپکو وسلوپه ډزو ټپي شول چې نړیوالو ځواکونو د تمرینونو په وخت کې د دوی د کورونو په لورې ډزې وکړې.

یوناما نړیوالو پوځي ځواکونو ته خپلې سپارښتنې بیا یادوي چې خپلې هڅې دوه برابره کړي څود ټولو ممکنه تدابیرو څخه ډاډ تر لاسه شي او ملکي وګړو ته په ځانګړي ډول له افغان ملي امنیتي ځواکونو سره په ګډو عملیاتو کې زیان ونه رسیږي.

**د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا د ملکي وګړو وژل:**

په ۲۰۱۶ کې ، یوناما د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو له خوا د ځمکنیو نښتو یاد نورو ټاکلو عملیاتو له چوکاټ څخه بهر د ملکي وګړو په وژنه کې زیاتوالي ثبت کړی (په دغو وژنو کې افغان سیمه ییز پولیس او حکومت پلوه وسله والې ډلې نه دي شاملي). [361] یوناما ۳۷ داسې پېښې ثبتي کړې چې ۴۳ تنو (۳۵ مړینې او ۸ ژوبلې) ته تلفات اووښتي. په ۲۰۱۵ کې دغه شمېر ۲۰ تنه ثبت شوي او د مړګ ژوبلې شمېر ۲۸ تنه (۲۱ مړه او ۷ ټپیان)وو. په دغو پېښو کې ډېری داسې پېښې وې چې افغان ملي امنیتي ځواکونو پر ولسي وګړو د حکومت ضد عناصرو ګومان کړی ، ډزې یې پرې کړې وژلي او یا یې ټپیان کړي دي. خو یوناما داسې پېښې هم ثبتي کړي چې په کې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو له محاکمې پرته او یا له خپلې دندې په ناوړه ګټې اخیستې سره ملکي وګړي وژلي دي. ډېری داسې پېښې د ۲۰۱۶ په لومړۍ نیمایي کې رامنځ ته شوي دي. [362]

په دې برخه کې ، یوناما د ۲۰ ملکي وګړو مړګ ژوبله (۱۴ مړه او شپږ ټپیان) د افغانستان ملي پوځ ته منسوب کړی ، د ۱۳ تنو تلفات ( ۱۱ مړه او دوه ټپیان) د افغانستان ملي پولیسو او د دریېو ملکي وګړو وژنه د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو سره تړاو لري چې د عامل پیژندګلوي نه ده شوې ، یو ملکي وګړی د سرحدي ځواکونو له خوا وژل شوی ، دوه کسان د ملي امنیت ریاست د منسوبینو له خوا ، یو ملکي وګړې په ګډه د افغانستان د ملي پوځ او سیمه اېیز

---

۳۶۰د یادې پېښې د بیا کتنې وروسته ، د غوځ ملاتړ ماموریت د ملکي تلفاتو ټول ادعاوې ناثابت شوې بولي. د ۲۰۱۷ د جنورۍ میاشت پر ۳ په کابل کې د یوناما او غوځ ملاتړ ماموریت غونډه.

۳۶۱ یوناما هغې ټولې پېښې په کومو کې چې ولسي وګړي د جګړې د ښکیلو غاړو له خوا ، د جګړې په ترخ کې او یا د نورو لاملونو پر بنسټ وژل شوي او یا ټپیان شوي دي ، ثبتوي ؛ چیرې چې دولتي چارواکو او یا د حکومت مخالف عناصرو ، د برید لپاره له واک څخه ناوړه ګټه اخیستلې وي. د یوناما له قوله ، د ژنیو کنوانسیون دریېمه ګډه ماده داسې وایي: [. . . ] د هغو کسانو په اړه چې په خصومت کې فعاله ونډه نلري ، دغې لاندینۍ کړنې په هر وخت ، په هر ځای کې منع دی او منع به پاتې شي [. . . ] ژوند او انسان په وړاندې تاوتریخوالی ، په ځانګړې توګه هر راز وژنه [. . . ] د منظمې قانوني محکمې د مخکینۍ پریکړې پرته په قید او یا اعدام محکومول. "

۳۶۲ څرنګه چې په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۶ په شپږمیاشتنی راپور ، کې څرګند شوی دی ۸۲ مخ.

پولیس له خوا وژل شوی ، دوه کسان د افغانستان د ملي پولیس او سیمه ایزو پولیسو له خوا په ګډه او یو تن د افغانستان د ملي پوځ ، ملي پولیس او د حکومت پلوه وسله والو ډلو له خوا وژل شوی دی.

د یوناما له خوا څلور نورې داسې پېښې ثبتي شوي دي ، چې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو ملکي وګړي په ناڅرګنده حالاتو کې وژلي دي او یوه پېښه د کندهار ولایت په زیړي ولسوالي کې رامنځ ته شوه چې د افغان ملي پولیس د یوه تن له خوا د ګزمې پر مهال په تېروتنه کې ډزې وشوې او د یوه ملکي وګړي د مرګ لامل شوه. له دغو ۳۷ پېښو ، په ۱۷ پېښو کې د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو ، پر ملکي وګړو د دولت مخالف عناصرو ګومان کړی او په ډزو یې وژلي دي. د مثال په توګه ، د اګست د میاشتې پر ۲۱ نیټې د کندز ولایت په چهار دره ولسوالۍ کې ، چې ډیر طالبان په کې شتون لري. د افغانستان د ملي پوځ منسوبینو په یوه هلک او یوې انجلۍ چې پر څمکه یې واښه ټولول ، د دولت مخالف عناصرو ګومان کړی و ، هلک یې په ډزو وواژه او انجلۍ یې ټپي کړه ، پر دغه مهال په سیمه کې کومه جګړه هم نه وه روانه. په ځواب کې د افغانستان د ملي پوځ منسوبینو د قربانیانو له کورنیو څخه بخښنه وغوښتله خو د پېښې د رسمي څیړنو په اړه هیڅ کوم معلومات ورنه کړل شول او وویل شو چې د افغان ملي پوځ یو منسوب د دولت مخالف ډلو څخه یو تن په ډزو وواژه. د قربانیانو یوه خپل د چهار درې له ولسوال سره خپل شکایت ثبت کړ.

له محاکمې پرته د ملکي وګړو د وژنې ۷ پېښې داسې دي چې د افغانستان په ملي امنیتي ځواکونو د مخکنیو بریدونو د غچ اخیستلو په تړاو تر سره شوي دي. د مثال په توګه ، د اکتوبر په ۲۷ د غزني ولایت د قره باغ په ولسوالي کې افغان ملي پولیس د سیمه ییز پولیس سره یو ځای له هغه وروسته یوه کورته ننوتل چې د دوی په ګډې پوستې د حکومت ضد عناصرو له خوا برید وشو او په پایله کې یو ۱۸ کلن زده کوونکی ووژل شو او یو بل هلک یې ونیو چې جسد یې وروسته د ولسوالي په بازار کې وموندل شو. په غزني کې افغان ملي پولیس ادعا کړې چې د حادثې په اړه یې پلټنې کړې دي او موندلې یې ده چې له حکومت ضد عناصرو سره د ډزو په تبادله کې ملکي کسان وژل شوي دي.

یوناما همدارنګه اته پېښې مستندې کړې دي ، په کومو کې چې افغان ملي امنیتي ځواکونو د خپلو موقفونو څخه ناوړه ګټه پورته کړې ، په کومو کې چې ملکي کسان وژل شوي. د بیلګې په توګه ، د مي په ۴ افغان ملي اردو یو ملکي کس د تریاکو کورندې څیرمه په ډزو وویشت او وواژه. سرچینو راپور ورکړی چې محلي حکومت او افغان ملي اردو په مکرر ډول د تریاکو په کروندو د سپکو وسلو او او غیر مستقیمو وسلو ډزې کړې. کله چې د تریاکو د کروندې څښتن د مالیاتو په ورکولو کې پاته راغی. افغان ملي اردو ادعا کوي چې د پېښې په اړه یې څیړنه تر سره کړې او دې نتیجې ته رسیدلې د افغان ملي اردو کوم سرتیرې کوم ملکي شخص نه دی وژلی. د ډسمبر په ۳۰ ، د افغان ملي اروړ سرتیرو د هلمند ولایت د لښکرګاه ښار په عمومي سړک کې پر یوې نقلیې وسیلې هغه وخت ډزې وکړې ، چې کله چلوونکی په عمومي سړک د لښکرګاه ښار په لور د افغان ملي اردو د حکمونو څخه د سرغړونې هڅه وکړه او د ډزو په نیتجه مړینه رامنځته شوه.

يوناما څلور پېښې ثبتې کړې ، د کومو به نتيجه کې چې افغان ملي امنيتي ځواکونو په ناڅرګندو حالتونو کې ملکي کسان وژلي. او د يوه ملکي شخص تصادفي وژنه د يوې منحرف شوې مرمۍ چې په تصادفي توګه د افغان ملي پوليسو له خوا د کندهار ولايت په ژيړی ولسولي کې د ګزمې پر مهال وويشتل شو.

د يوناما له خوا د ثبت شويو دغو ۳۷ پېښو په اړه معلومات چې د ولايتي چارواکو له خوا ورکول شوي ، د نهو پېښو عاملين نيول شوي چې ترې پلټنې شوې او يا تر عدلي تعقيب لاندې دي ، د شپږو پېښو د عاملينو قضيې د قضايي بهير له بيلا بيلو پړاوونوڅخه تيريږي.[٣٦٣] د وژنې د دوو قضيو عاملين چې د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو منسوبين دي ، کړم پيژندل شوي او سزا ورکول شوې ده. يوې ابتدايه محکمې ، د افغان سرحدي پوليس يوه منسوب په درې نيم کاله بند محکوم کړی دی چې نوموړي د فبروری د مياشتې پر ۱۵ نيټې ، د نيمروز ولايت په زرنج ولسوالۍ کې يو دريور چې پرې يې د ځانمرګي بريد کوونکي ګومان کړی وو ، په ډزو وژلی وو. د افغان ملي پوځ ابتدايه محکمې ، يو سرتيرې محکوم کړی دی. پر دغه سرتيري تور لګيدلی وو چې د مې د مياشتې پر ۲۴ نيټې يې د خوست ولايت په سبري ولسوالۍ کې يو ملکي وګړی چې سړک يې تر ميماوه ، او پرې د حکومت مخالفو عناصرو ګومان يې کړی وو ، په ډزو وژلی وو. د دې پېښې عامل خپل د بند موده تيروي.

د پاتې پېښو په تړاو ، د دوو پېښو قضيې په مينځګړتوب سره حل شوې. د څلورو نورو پېښو په اړه پلټنې وشوې چې په کې هيڅ څوک ګرم ونه پيژندل شو. د اندېښنې وړ ، يوولس قضيې دې چې په اړه يې هيڅ کومه پلټنه نه ده شوې. د دوو پېښو په اړه ، چارواکي وايي چې هيڅ پلټنه نه ده شوې ځکه د قربانيانو د کورنيو غړو عريضه نه ده کړې ، چې دغه کار د امنيتي ځواکونو د پلټنې د مکلفيت خلاف عمل بلل کيږي.

يوناما ټينګار کوي چې د جګړې د ښکيلو غا ړو له خوا ، په هر وخت او په هر ځای کې ، له محاکمې پرته وژنې د درېمې ګډې مادې پر بنسټ په څرګنده توګه منع دي. دغه ماده دا هم وايي چې ، د بشري حقونو د نړيوال قانون پر بنسټ دولتونه دي د خپلو منسوبينو له خوا ، په ځانګړې توګه د قانون نافذولو پر مهال او همدا راز په وسله والو جګړو کې ، د خطرناکو وسلو کارول وڅيړي.[٣٦٤] حکومت دا مسوليت لري چې د اعتبار وړ ترونو څخه د خبريدو وروسته ، پلټنې پيل کړي. داسې ادعاوې چې قربانيان او د هغوی د کورنيو غړي ، په هر پړاو کې چې وي لوموړي بايد ليکلی عريضه وکړي ، بيا به چارواکي پلټنې پيل کوي ، د بشري حقونو د نړيوال قانون او د افغانستان د قانون خلاف عمل دی.[٣٦٥]

---

٣٦٣ يوناما د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې هغې پېښې چې په کې د افغانستان ملي امنيتي ځواکونه ښکيل دي ، د دفاع وزارت ، ملي پوځ ، د کورنيو چارو وزارت (د افغانستان ملي پوليس ، د ملي امنيت رياست ، د افغان ملي عامه نظم پوليس او د افغان ملي سرحدي پوليس) سره شريکوي. د دغه راپور د خپرولو تر دمه ، يوناما په ملي کچه د ځواب ورکونې د هڅو په اړه کوم معلومات نه دي تر لاسه کړي. بې له کومو معلوماتو او توضيح ورکولو ، دغې پېښې ، په دې ويلو سره رد شوې چې د افغانستان ملي امنيتي ځواکونه د يادو پېښو عاملين نه دي.

٣٦٤ وګورئ: نهم ، لسم او اوولسم عبارت ، د غير قانوني ، خپل سري او بې له بشپړې محاکمې د اعدامونو د اغيزمنې مخنيوي او پلټنې په اړه د ملګرو ملتونو سازمان اصول چې په د ۱۹۸۹ د مې د مياشت پر ۲۴مه د اقتصادي او ټولنيزې شورا د ۶۵/۱۹۸۹ پريکړه ليک له خوا تصويب شول. دا هم وګورئ: د غير نړيوالو وسله والو جګړو په اړه د ملګرو ملتونو سازمان د امنيت شورا او عمومي اسامبلې پريکړه ليکونه چې پر ښکيلو غاړو غږ کوي چې د بشرپالنې نړيوال قانون ته درناوی وکړي.

٣٦٥ د افغانستان د جزا قانون ۵۷ (۱) ماده ، "د جرم له خبريدو وروسته د ښاريانو او چارواکو فرايض" وايي: "د کوم جرم د ليدو او يا د خبريدو وروسته ښاريان ، د دغه قانون نورو احکامو په رعايتولو سره بايد په شفاهي ، تحريري او يا بريښنايي وسيلو پوليسو ، قضايي او عدلي چارواکو ته خبر ورکړي." د افغانستان د جزا قانون ۵۸ ماده ، "د

يوناما له دولت څخه غواړي چې د ټولو پېښو په اړه هر اړخيزې او رښې پلټنې پيل کړي او د بشر پالنې د نړيوال قانون او د بشري حقونو د نړيوال قانون څخه د سرغړونکو حساب ورکونه ډاډمنه کړي.

**حکومت پلوه وسله والې ډلې:**

*زه د خپلې کورنۍ د غړو سره په کور کې وم چې د حکومت پلوو ډلو دوو قوماندانانو او د هغوی د کسانو تر منځ جګړه پيل شوه. د دواړو خواوو له خوا توغندي توغول کېدل. يوتوغندی زما پر کور ولګېده چې زه او زما د کورنۍ اته غړي چې په کې شلور هلکان او دوې انجونې دي ټپيان شول. دغه ډلې په سيمه کې د سياسي نفوذ تر لاسه کولو لپاره سره جنګيدلې. زموږ په کلي کې داسې جګړې عامې دي چې له کبله يې ملکي وګړي اغيزمن کيږي او د بيرې او نا امنۍ فضا رامنځ ته کوي. دغې جګړې پنځه ساعته دوام درلود چې په دغه مهال زه او زما د کور غړي ټپيان په کور کې، بې له کومې طبي معالجې پراته وو. موږ د دې بيرې له امله چې د دغو ډلو تر منځ د جګړې په منځ کې ونه وژل شو. له کوره نشوای وتلی.*[٣٦٦]

--د هغه قرباني خبرې دي چې د ۲۰۱۶ د سپټمبر د مياشتې پر ۲۴ نيټې د فارياب ولايت پښتونکوټ ولسوالۍ کې د سيالو سياسي ګوندونو د دوو ډلو تر منځ د جګړې پر مهال يې پر کور توغندي ولګېدل چې د کورنۍ د اتو غړو سره ټپي شو.

په ۲۰۱۶ کې، يوناما د حکومت پلوو وسله والو ډلو له خوا[٣٦٧] د ۱۸۵ ملکي وګړو مرګ ژوبله (۵۲ مړي او ۱۳۳ ټپيان) ثبت کړې وه چې د ۲۰۱۵ د همدې مودې په پرتله ۴۲ سلنه زياتوالی ښيي.[٣٦٨] دا د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړ را منځ ته شوي ارقام دي له هغه راهيسې چې يوناما په ۲۰۰۹ کال کې د ملکي تلفاتو په ثبتولو پيل وکړ. د ملکي تلفاتو اکثريت- ۷۳ سلنه ، ۱۳۵ ملکي تلفات (۳۱مړينې او ۱۰۴ ټپي کيدنې) د هيواد په شمالي سيمه کې د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا چې د سيالو سياسي ګوندونو سره خواخوږې لري را منځ ته شوي. د دولت د وسله والې ډلې د عملونو په ترڅ کې د فارياب ولايت په خاص ډول متاثره شوی، په ياد ولايت کې ۱۰۲ ملکي تلفات (۲۴ مړينې او ۷۸ ټپي کيدنې) مستند شوي، چې دا په ۲۰۱۶ کال کې د ټولو دولت پلوه منسوب شوېو ملکي تلفاتو ۵۵ سلنه ده.[٣٦٩]

---

خبرول شويو بنسټونو مکلفيتونه" وايي، "خبرول شوی بنسټ بايد د جنايت په اړه شکايت او يا خبرتيا تر لاسه کړي، په اړه يې ژر تر ژره پريکړه وکړي او يا د پريکړې لپاره اړوندو بنسټو ته وليږي او خبرورکوونکی ته د خپل هويت او دندې سره د پريکړې د وخت او نيتې په اړه معلومات ورکړي." د افغانستان د جزا قانون ۶۳ (۱) ماده، "د جنايي قضيې له پيل څخه مخنيوی" که چيري د جنايت په کومه قضيه کې، جنايت کوونکي او له جنايت اغيزمن کس سره خپلوان وي، د جنايت قرباني بايد په تحريري توګه خپل شکايت ثبت کړي." د افغانستان اسلامي جمهوريت رسمي جريده (رسمي جريده / ۱۱۷) د ۲۰۱۳ د اکتوبر اوومه، د يوناما غير رسمي ژباړه.

٣٦٦ د پېښې د قرباني سره مرکه، د فارياب ولايت ميمنه ښار، د ۲۰۱۶ دسپټمبر ۲۵.

٣٦٧د حکومت پلوو وسله والو ډلو اصطلاح هغو غير دولتي او منظمو وسله والو ته کارول کيږي چې له دولتي ځواکونو، ياغيانو او جنايي ډلو څخه توپير ولري. افغان سيمه ايز پوليس چې د کورنيو چارو وزارت تر کنترول او قوماندې لاندې دی، په دغو وسله والو ډلو کې نه شميرل کيږي. د افغانستان د قوانينو پر بنسټ، دغه ډلې کوم قانوني حيثيت نلري. دغه ډلې توان لري چې د سياسي، نظرياتي او اقتصادي مقاصدو تر لاسه کولو لپاره له وسلې څخه کار واخلي. دغې ډلې د دولتي پوځ، د دولت متحدينو او يا د دولتي ادارو په کچه تر رسمي جوړښت لاندې او نه هم د حکومت تر کنترول لاندې دي. په ځينو مواردو کې دغې ډلې د خپل هيواد يا نورو هيوادونو څخه په مستقيمه او يا غيرمستقيمه توګه مرسته ترلاسه کوي. لاندينۍ ډلې د حکومت پلوو ځواکونو تر تعريف لاندې راځي خو يواځې تر دغو ډلو محدوده نه دی: د ملي پاڅون خوځښتونه، ځايي مليشا (قومي، قبيلوي او يا نور) او د ولسي دفاع ځواکونه او مليشه ډلې (کله چې دغې ډلې په څرګنده توګه د دولت تر ولکې لاندې نه وي).

٣٦٨ په ۲۰۱۵ کال کې، يوناما د دولت پلوه وسله والو ډلو د فعالينونو په نتيجه کې ټولټال ۱۳۰ ملکي تلفات (۴۸ مړينې ۸۲ ټپي کېدنې) مستند کړي.

٣٦٩ په ۲۰۱۶ کې يوناما، د هيواد په شمالي سيمه کې د حکومت پلوو وسله والو ډلو له خوا د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې ۶۷ پيښې ثبتې کړې دي؛ په فارياب ولايت کې ۴۰ پيښې، په جوزجان ولايت کې ۵، په سمنګان کې ۴، په بلخ کې ۴، او په سرپل کې دوې پيښې. په فارياب ولايت کې د حکومت پلوو وسله والو ډلو په اړوند د وضعيت په اړه وګورئ؛ په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د يوناما د ۲۰۱۶ شپږ مياشتنی راپور، ۸۷، ۸۸ مخ.

**د دولت پلوه وسله والو ډلو په لاس د ملکي خلکو مرګ او ژوبله جنوری - دسمبر ۲۰۰۹ -۲۰۱۶**




د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا زیاتره را منځ ته شوې ملکي تلفات د ځمکنیو نښتو پر مهال د دولت پلوه وسله والو ډلو تر منځ یا د دولت ضد عناصرو او د دولت پلوه وسله والو ډلو تر منځ د عملیاتو پر مهال د دولت ضد عناصرو په وړاندې واقع شوې. په ۲۰۱۶ کال کې ، یوناما د ځمکنیو نښتو پر مهال په کومو کې چې دولت پلوه وسله والې ډلې ښکیلې وې ، ټولټال ۴۱ پیښې د کومو په نتیجه کې چې ۱۰۳ ملکي تلفات (۱۸ مړینې او ۸۵ ټپي کیدنې) را منځ ته شوې ، مستندې کړي ، چې دا د ۲۰۱۵ کال د ورته مودې په پرتله ۲۷ سلنه زیاتوالی ښیې.[۳۷۰] د ځمکنیو نښتو د دغو ۴۱ پیښو له جملې څخه ، ۲۴ پیښې د دولت پلوه وسله والو ډلو او د سیالو سیاسي ګوندونو خواخوږو ډلو تر منځ چې د ځمکنیو نښتو سره تړاو لري د کومو په نتیجه کې چې ۷۳ ملکي تلفات (۱۴ مړینې او ۵۹ ټپي کیدنې) را منځ ته شوې ، منسوبې دي. ټولې ۲۳ پیښې د فاریاب په ولایت کې واقع شوې. یوناما راپورونه تر لاسه کړي چې دولت پلوه وسله والې ډلې د خپل سیاسي نفوذ د زیاتولو په خاطر په جګړو کې ښکیلې دي. د قدرت د ځایي دلالانو سره د اړیکو په خاطر ، داسې ډلې د دې ډول نښتو پر مهال ملکیانو ته د هر ډول زیان د پیښېدو په خاطر مسولیت نه مني. ولایتي امنیتي چارواکو په مکرر ډول یوناما ته خبر ورکړی چې دوی نه شي کولای دا ډلې کنترول کړي او د سرغړونو په خاطر یې د قانون میز ته راکښ کړي.

په ۲۱۰۶ کال کې ، دولت پلوه وسله والو ډلو د افغان دولت او امنیتي ځواکونو تر څنګ یا د هغوی په ګډون د دولت ضد عناصرو په وړاندې د ځمکنیو عملیاتو ترسره کولو ته دوام ورکړی ، چې په نتیجه کې یې ۲۷ ملکي تلفات (۲ مړینې او ۲۵ ټپي کیدنې) را منځ ته شوې. د بیلګې په توګه ، د سپتمبر په ۹ ، د ډایکونډي ولایت د ګیزاب په ولسوالي کې د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا یو توغول شوی هاوان چې موخه یې د دولت ضد عناصرو په نښه کول و په یوه ملکي کور را پریوت چې په نتیجه کې یې درې ماشومان او یوه ښځه په جدي توګه ټپي شوه. په داسې

---

۳۷۰ په ۲۰۱۵ کې یوناما د دولت پلوه وسله والو ډلو له‌خوا د ځمکنیو نښتو په پایله کې ټولټال ۸۱ ملکي تلفات (۱۹ مړي او ۶۲ ټپیان) ثبت کړي ده.

عملیاتو کې د نا روزل شویو او غیر منظمو دولت پلوه وسله والو ډلو څخه د کار اخیستلو موضوع ، او کله نا کله د افغان امنیتي ځواکونو د کارکونکو د نه شتون لپاره د جبران په خاطر ، د داسي عملیاتو د ترسره کولو او د عملیاتو څخه وروسته مودې پر مهال د ملکیانو لپاره د ساتنې په برخه کې جدي اندیښنې را پاروي. دولت پلوه وسله والې ډلې هغه روزنې ، انظباطي تدبیرونه او حساب ورکونه چې د قوماندې د رسمي جوړښت په واسطه اعمال شوې او د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا ورته برابري شوې ، نه لري.

یوناما په ۲۰۱۶ کال کې ، د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا د هدفي او عمدي وژنو ۲۵ پیښې مستندې کړی د کومو په نتیجه کې چې ټولټال ۳۸ ملکي تلفات (۲۹ مړینې او ۹ ټپي کیدنې) را منځ ته شوې چې دا د ۲۰۱۵ کال په پرتله ۵۲ سلنه زیاتوالی ښیي.[۳۷۱] د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا د ملکي تلفاتو زیاتره را منځ ته شوې هدفي او عمدي وژنې د هیواد په شمالي سیمه کې واقع شوې (۱۵ ملکي تلفات-۱۱ مړینې او ۴ ټپي کیدنې). د بیلګې په توګه ، د ډسمبر په ۲۳ ، د فاریاب ولایت د قیسار په ولسوالي کې د دولت پلوه ځواکونو د یوه قومندان مرستیال او د نوموړي د ډلې دریو غړو د دولت ضد عناصرو د یوه تن غړي په وړاندې د غچ اخیستلو په غبرګون کې یو ۱۲ کلن هلک وتښتاوه ، هغه یې په چاړه وواهه او بیا یې د دولت پلوه وسله والو ډلو په پوسته کې په ډزو وویشت او وواژه. یوناما راپورونه تر لاسه کړې چې د ډسمبر په ۲۳ ځایي چارواکو د ځایي ټولنې له خوا د د عدالت لپاره د غوښتنو په تعقیب درې تنه مرتکبین ونیول. د دولت پلوه وسله والو ډلو د قومندان د نفوذ له امله دوسیه لا هم څارنوال ته د څیړنو په موخه نه ده استول شوې.[۳۷۲]

د دولت پلوه وسله والو ډلو له  خوا د هدفي او عمدي وژنو عملونه اکثرا په معافیت سره ترسره کیږي ، دا د قربانیانو او د هغوي د کورنیو د کړاو د زیاتیدو لامل کیږي. په ۲۰۱۶ کال کې ، یوناما د بشري حقونو د سرغړونو په وړاندې د ملکي ټولنو د ساتنې په موخه د چاروکو له خوا دوامداره بې وسي مشاهده کړي. د بیلګې په توګه ، د اکتوبر په ۲۸ ، دولت پلوه وسله والې ډلې د دولت ضد عناصرو د یوې وسله والې ډلې د کورنۍ د غړو په وړاندې د غچ اخیستنې په یوه برید کې د بغلان ولایت په بوکه ولسوالي کې ټولټال ۷ تنه ملکي کسان (۵ مړینې او ۲ ټپي کیدنې) ووژل. د قربانیانو خپلوانو د ولسوالۍ د چارواکو سره شکایت ثبت کړ. د پیښې په تړاو تر اوسه مر تکیبین نه دي نیول شوي.

یوناما د دولت د وسله والو ډلو له خوا د تهدید ، بیرونو او ځورونو د ټولټال ۱۷ پیښو په نتیجه کې ۳۳ (دوه مړینې او ۳۱ ټپي کیدنې) ملکي تلفات مستند کړي. د بیلګې په توګه ، د سپتمبر په ۱۲ ، د فاریاب ولایت د بل چراغ په ولسوالي کې د دولت پلوه وسله والې ډلې یوه قومندان په ناقانونه توګه ۶ تنه ملکیان ونیول او په خپل شخصي محبس کې یې وساتل چیرې چې هغه د دریو تنو زندانیانو سره ناوړه چلند وکړ چې په نتیجه کې یې یو تن د شدیدو وهلو وروسته ووژل شو او دوه نور یې د درملنې تر بریده سخت ټپیان کړل. یوناما معلومات تر لاسه کړي چې ځایي چارواکو د پیښې په تړاو څوک نه دي نیولي.

---

۳۷۱ د ۲۰۱۵ د جنورۍ میاشت له لومړۍ نیټې څخه د ډسمبر تر ۳۱مې نیټې پورې ، یوناما ، د حکومت پلوو وسله والو ډلو د قصدي وژنو په پیښو کې ، د ۲۵ ملکي وګړو مرګ ژوبله (۲۲ مړي او ۳ ټپیان) ثبت کړې ده.

۳۷۲ یوناما داسې راپورونه تر لاسه کړي چې د ملکي وګړو په تلفاتو تورن درې عاملین ، د ۲۰۱۷ د جنورۍ پر لسمه د ولسوالی د پولیسو له توقیف څخه تښتیدلي دي.

په ۲۰۱۶ کال کې، یوناما همدارنګه ۸ پېښې مستندې کړي د کومو په نتیجه کې چې د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا ۳۶ تنه ملکي کسان تښتول شوي، زیاتره تلفات (۱۸ تنه ملکي کسان تښتول شوي) په فاریاب ولایت کې را منځ ته شوي. دولت پلوه وسله والو ډلو په کندز ولایت کې دوه تنه ملکي کسان تښتولي او په تخار ولایت کې یو تن ملکي شخص تښتولی. د مي په ۲۴، د دولت پلوه وسله والې ډلې یوه تن قومندان چې د یوې سیاسي ډلې سره یې تړاو درلود د سیالې دولت پلوه وسله والې ډلې د یوه قومندان په وړاندې د غچ اخیستې د یوه عمل په حیث د فاریاب ولایت په پښتون کوټ ولسوالي کې اته تنه ملکي کسانو وتښتول. د ځایې مشرانو د منځګړیتوب وروسته د دولت پلوې وسله والې ډلې قومندان ټول تښتول شوې کسان پرته له زیانه خوشې کړل.

یوناما د دولتي چارواکو د نا خوښې یا په داسي ډلو د هغوی د اتکا له امله چې موخه یې د دولت پلوه وسله والو ډلو د نا قانونه کړنو د نه کنترول په برخه کې نا تواني او د دولت ضد عناصرو په وړاندې مبارزه او د قدرت لرونکو سیاسي اشخاصو له خوا ځینو ډلو ته د ساتنې برابرول دي، دوامداره راپورونه تر لاسه کړې. د غیر منظمو دولتي وسله والو ډلو کارول چې د قوماندې د ښو تعریف شویو حلقو څخه د باندې عمل کوي داسي خطرونه را منځ ته کوي چیرې چې وسله والې ډلې د ژر ماتیدونکو امنیتي حالتونو څخه ناوړه ګټه پورته کړي، دا د ساتنې خطرونه او د بشري حقونو د سرغړونو امکان چې د ملکي کسانو له خوا متحمل کیږی دوه برابره کوي. یوناما د دولت څخه یو وار بیا د دولت پلوه وسله والو ډلو د منحل کیدو او د داسي ډلو د سیاسي ملاتړ د له منځه وړلو غوښتنه کوي.

یوناما په خاص ډول د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا د بشري حقونو د سرغړونو د ادعاوو د څېړلو او د تورنو مرتکبینو د عدلي تعقیب په هکله د دولت د بې وسیې په اړه اندیښمنه ده. په ۲۰۱۶ کال کې د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا د بشري حقونو د سرغړونو د ترسره کولو په برخه کې د مستند شوې زیاتوالې په نظر کې نیولو سره، یوناما د دغو سرغړونو د څېړلو په موخه په دولت یو وار بیا تاکید کوي او همدارنګه یقیني کړي چې د دولت له خوا د تاسیس شویو هییتونو د څېړنو پایلې په څرګند ډول خپرې کړي او د مرتکبینو د مسول ګڼلو په برخه کې د هغوی وړاندیزونه په بشپړه توګه عملي شي.

**افغان سیمه ییز پولیس**

*"د جمعې ۱۱ بجې وې، زما د ۱۹ کلن زوی په ګډون یو شمیر هلکانو زموږ په کلي کې په یوه میدان کې د کریکټ لوبه کوله. د افغان سیمه ییزو پولیسو د نږدې پوستې څخه د هغو ماشومانو په لور د کلاشنیکوف زیاتې ډزې وشوې. ټولو هلکانو د تښتې هڅه وکړه خو زما زوی د خپلو کالیو د لټولو په موخه په میدان کې پاته شو. هغه په سینه کې په مرمۍ ولګید او ځای پر ځای مړ شو. ما د افغان سیمه ییزو پولسیو د یو تن کارکونکي سره خبري وکړي او را ته یې و ویل چې برید د ناسمو اطلاعاتو پر بنسټ ترسره شوی. زه د افغان سیمه ییزو پولیسو څخه غوښتنه کوم څو د برید د ترسره کولو د مخه خپل هدف تعیین او د ملکیانو په وړاندې د زیان اړولو څخه مخنیوی وکړي."* [۳۷۳]

-- د جنوري په ۲۲، د لغمان ولایت په الیشنګ ولسوالي کې د قرباني پلار د چا زوی چې د افغان سیمه ییزو پولیسو په ډزو ووژل شو.

---

۳۷۳ د ۲۰۱۶ د جنوری پر ۲۵مه، په جلال آباد ښار کې د یوه قربانی له کورنی سره د یوناما تلیفوني مرکه.

یوناما په ۲۰۱۶ کال کې د افغان سیمه ییزو پولیسو له خوا د نړیوال بشر دوستانه قانون او د بشري حقونو د سرغړونو په هکله دوامداره راپورونه مستند کړي.[۳۷٤] د جنوري د ۱ نه د ډسمبر تر ۳۱ هغې پورې ، یوناما افغان سیمه ییزو پولیسو ته ټولټال ۶۵ ملکي تلفات (۲۵ مړینې او ۴۰ ټپي کیدنې) منسوب کړي چې دا د ۲۰۱۵ کال په پرتله ۵۲ سلنه کموالی ښیي.[۳۷۵] د دغه کموالی سربیره ، یوناما یادونه کوي چې افغان سیمه ییزو پولیسو د ۵۲ مستند شویو پیښو له جملې څخه په ۲۳هغو کې ملکي کسان هدف نیولي په کومو کې چې دوي د شخصي لاملونو پر بنسټ ملکي تلفات را منځ ته کړي ، یا یې په دولت ضد عناصرو د ملکي کسانو او یا یې د دولت ضد عناصرو د خپلوانو ګمان کړی. په ۲۰۱۶ کال کې د افغان سیمه ییزو پولیسو له خوا ډیری را منځ ته شوي ملکي تلفات د ځمکنیو نښتو ، هدفي او عمدي وژنو په پایله کې را منځ ته شوي. افغان سیمه ییزو پولیسو ته ډیری منسوب شوې ملکي تلفات د هیواد په شرقي سیمه کې را منځ ته شوي چې ۲۶ ملکي تلفات (۴ مړینې او ۲۲ ټپي کیدنې) یې مستند کړي.

افغان سیمه ییز پولیس د هدفي او عمدي وژنو د ۱۵ پیښو مرتکیب شوي چې په نتیجه کې یې ۲۰ ملکي تلفات (۱۵ مړینې او ۵ ټپي کیدنې) را منځ ته شوي ، دا بریدونو د هغو ملکي کسانو په وړاندې په چا چې د دولت ضد عناصرو د ښکیتیا او یا د هغوي د خواخوږو ګمان کیده ، ترسره شوي. د بیلګې په توګه ، د فبروري په ۱۴ ، د افغان پولیسو یوه افسر د فراه ولایت د خاک سفید په ولسوالي کې یو تن ملکي شخص د دولت ضد عناصرو د ډلې د غړي په تور ونیو او وواژه. د سپټمبر په ۱۳ ، افغان سیمه ییزو پولیسو د جوزجان ولایت د قوش ټپې په ولسوالي کې یو ۱۷ کلن هلک د طالب جنګیالې په تور په ډزو وویشت او وواژه.

د ځمکنیو نښتو پر مهال افغان سیمه ییزو پولیسو ته منسوب شوي ملکي تلفات د ۲۰۱۵ کال په څیر په خپل حال پاته شوې. یوناما د ځمکنیو نښتو د ۱۶ پیښو په نتیجه کې ټولټال ۳۵ ملکي تلفات (۸ مړینې او ۲۷ ټپي کیدنې) مستند کړي.[۳۷٦] د بیلګې په توګه ، د اپریل په ۲۶ ، د بلخ ولایت د چمتال په ولسوالي کې د یوې وسله والې نښتې پر مهال ، افغان سیمه ییزو پولیسو د دولت ضد عناصرو په وړاندې د راکیټ یوه مرمۍ وتوغوله چې په یوه عامه سړک یې اصابت وکړ او په نتیجه کې یې یو ملکي شخص ټپي شو. د جولای په ۱۰ ، افغان سیمه ییزو پولیسو د دولت ضد عناصرو د یوه برید په غبرګون کې چې موخه یې د لغمان ولایت په مهترلام ښار کې د تلاشۍ د یوې پوستې په ښبه کول و ډزې وکړي چې په نتیجه کې یې یو تن ووژل شو او بل ټپي شو.

---

۳۷٤ د ۲۰۱۶ د دسمبر میاشت تر څلورمې نیټې ، د افغان سیمه ایز پولیسو شمیر ۲۸ ، ۳۶۷ تنو ته رسیده چې د هیواد د ۳۰ ولایتونو ۱۹۰ ولسوالۍ یې تر پوښښ لاندې نیولې دي. دغه معلومات په کابل کې د ۲۰۱۶ د ډسمبر د میاشت پر څلورمه د افغان سیمه ایز پولیس ریاست سره په غونډه کې تر لاسه شول.

۳۷۵ په ۲۰۱۵ کې یوناما ، د ۱۳۶ ملکي وګړو مرګ ژوبله (۳۸ مړي او ۹۸ ټپیان) افغان سیمه ایز پولیسو ته منسوب کړې او د ۳۲ ملکي وګړو مرګ ژوبله (۱۷ مړي او ۱۵ ټپیان) د افغان سیمه اییزو پولیسو په هدفي وژنو کې ثبت شوې ده. یوناما د ۳۷ نورو مرګ ژوبله (۱۹ مړي او ۱۸ ټپیان) د افغان سیمه ایز پولیس ، د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو او حکومت پلوو وسله والو ډلو په ګډو ځمکنیو عملیاتو کې ثبت کړې ده. د هدفي او قصدي وژنو دوې داسې پیښې دي چې په کې درې ملکي وګړي ، او د تلاشۍ په یوه عملیات کې درې نور ملکي وګړي وژل شوي دي.

۳۷٦ په ۲۰۱۵ کې یوناما ، د ۳۸ ملکي وګړو مرګ ژوبله (۱۲ مړي او ۲۶ ټپیان) د افغان سیمه ایز پولیسو ځمکنیو عملیاتو ته منسوب کړې ده. په دغو ارقامو کې د هغو ملکي وګړو مرګ ژوبله نه ده شامله کوم چې د افغان سیمه ایز پولیسو او حکومت مخالفو عناصرو تر منځ د نښتو په ترڅ کې رامنځ ته شوې ده او یا هغه عملیات چې د افغان سیمه ایز پولیسو او د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه په ګډه تر سره کړي دي ؛ چیرې چې د اصلي عاملینو پیژندګلوی نه ده شوی. یوناما ، د افغان سیمه ایز پولیسو د ځمکنیو عملیاتو له امله د ۱۳۵ ملکي وګړو مرګ ژوبله (۲۳ مړي او ۱۱۲ ټپیان) ثبت کړې ده.

يوناما د افغان سيمه ييزو پوليسو له خوا د شديدو ټکولو ، شکونو ، غلا ، ګواښونو او د جنسي ناوړه چلند د دوو پيښو په شمول او د جنسي خشونت د يوې پيښې په شمول په کومه کې چې يو ماشوم ښکيل دی ، د ګواښ ، تهديد او ځورونې ۱۰ پيښې مستندې کړي.[۳۷۷] د بيلګې په توګه ، د سپټمبر په ۲۴ ، د افغان سيمه ييزو پوليسو اتو تنو کارکونکو چې په څلورو موټر سايکلو سپاره وو يو ملکي موټر ودراوه او هغه وسيله يې د زابل ولايت د شاه جوي په ولسوالۍ کې ضبطه کړه. د ډسمبر په ۴ ، د لغمان ولايت په تګاب ولسوالي کې د افغان سيمه ييزو پوليسو يوه قوماندان يو تن ملکي شخص د دولت ضد عناصرو د يوه تن غړي د خپلوان په ګمان د خلکو په مخ کې سخت وواهه.

يوناما تاکيد کوي هغه بريدونه چې په عمدي توګه ملکيان په نښه کوي د نړيوال بشر دوستانه قانون څخه جدي سرغړونه ده ، د جنګي جرم به شمول ، ممکن په جنګي جرمونو کې وشميرل شي.[۳۷۸]

په ۲۰۱۶ کال کې ، يوناما د دريو مياشتو پر بنسټ او په ملي او ولايتي کچو او د حسابورکونې د اتخاذ شويو تدبيرونو د نظارت په موخه د افغان سيمه ييزو پوليسو د رياست سره د افغان سيمه ييزو پوليسو د کارکونکو په وړاندې د ادعاوو شريکولو ته دوام ورکړی. يوناما د احتساب په برخه کې د افغان سيمه ييزو پوليسو د رياست د مخ پر زياتيدونکو هڅو مشاهده کړې ، په دې هڅو سره ممکن د افغان سيمه ييزو پوليسو د منسوب شويو ملکي تلفاتو په برخه کې کموالی راغلی وي.[۳۷۹] په ۲۰۱۶ کال کې ، د افغان سيمه ييزو پوليسو رياست د افغان سيمه ييزو پوليسو ټولټال ۱۰۸ تنه کارکونکي د صلاحيت څخه د ناوړه ګټې اخيستنې په تور د لوی څارنوال دفتر ته معرفي کړي.[۳۸۰] د بيلګې په توګه ، د مي په ۲۵ ، د افغان ملي پوليسو د عدلي تعقيب رياست د لوګر ولايت په پل علم ولسوالي کې د افغان سيمه ييزو پوليسو يو تن کارکونکی له هغه وروسته ونيو چې کله هغه د يوه ملکي شخص څخه ټولټال ۱۵۰۰۰۰ افغانۍ وتښتولې ، په ډزو وويشت او واژه.

يوناما يادونه کوي چې د ۲۰۱۶ کال په جون مياشت کې ، د افغان سيمه ييزو پوليسو رياست خپلو ساحوي قوماندانانو ته يو لارښود صادر کړ څو د افغان سيمه ييزو پوليسو د نقش ، مسوليتونو ، د ښکيلتيا د اصولو ، د نړيوالو بشري حقونو او بشر دوستانه قانون په تړاو د ټولو قوماندانانو لپاره روزنې چمتو کړي. .[۳۸۱] د ډسمبر تر څلورمې نيټې پورې ، د افغان سيمه ييزو پوليسو د حقوقي چارو څانګې په اتو ولايتونو کې د افغان سيمه ييزو پوليسو د ساحوي کارکونکو لپاره داسې روزنې بشپړې کړي.[۳۸۲]

---

۳۷۷د ماشومانو او جنسي تاوتريخوالی په اړه د ډيرو معلوماتو لپاره وګورئ ؛ د وسلې والې جګړې او ماشومانو په اړه مبحث.

۳۷۸ جنګي جنايات داسې کړنې دي چې د بشرپالنې نړيوال قانون د ۳ (۱) ګډي مادې پر بنسټ د هغو وګړو په وړاندې چې په جګړييزو فعاليتونو کې ونډه نه لري تر سره شي. د ژوند او انسان په وړاندې تاوتريخوالی ، د ۴(۲) مادې د دوه يم اضافي پروتوکول له مخې منع شوې کړنې او د ملکيانو او ملکي اهدافو په وړاندې قصدي بريدونه ، جنګي جنايت بلل کيږي. وګورئ: د نړيوالې جنايي محکمې قانون ، ۸(۲)(پ) ، ۸ (۲)(ټ)(۱) مادې ، د بشرپالنې د نړيوال عرفي قانون په اړه د سره صليب نړيواله کميټې څېړنه ، ۱ ، ۶ ، ۱۵۶ قاعدې.

۳۷۹ يوناما دا خبره نوټ کړې چې د ۲۰۱۵ په پرتله په ۲۰۱۶ کې د افغان سيمه ايېز پوليس شمير د پام وړ بدلون نه دی موندلی.

۳۸۰ په کابل کې د ۲۰۱۶ د ډسمبر مياشت پر څلورمه د افغان سيمه ايېز پوليس رياست سره د يوناما غونډه

۳۸۱ په کابل کې د ۲۰۱۶ د ډسمبر مياشت پر څلورمه د افغان سيمه ايېز پوليس رياست سره د يوناما غونډه

۳۸۲ د ډسمبر په څلورمه د افغان سيمه ييزو پوليسو رياست يوناما ته خبر ورکړی ، چې د هيواد په شرقي او جنوبشرقي سيمو په ټولو ولايتونو کې روزنې سر ته رسيدلې ده.

په داسي حال کې چې ، یوناما د دولت په خاص ډول ، د افغان سیمه ییزو پولیسو د ریاست د نوښتونو هرکلی کوي ، بیا هم د افغان سیمه ییزو پولیسو له خوا د ترسره شویو بشري حقونو د سرغړونو لپاره د حسابورکونې د نه شتون په هکله اندیښمنه ده. یوناما چارواکي هڅوي څو د افغان سیمه ییزو پولیسو د کارکونکو له اړخه د بشر پالنې د نړیوال او بشري حقونو د قوانینو ټولې ادعا شوې سرغړونې په ښه نیت او بې پرې توګه وڅیړي او هغو هڅو چې موخه یې د ریښتنې حسابورکونې ترویج دی ، دوام ورکړي.

## د ملکي تلفاتو د کمولو لپاره د دولت پالیسي ګانې او میکانیزمونه

یوناما د افغان دولت لهخوا  د ملکي تلفاتو د کمولو لپاره د تر لاس لاندې نیولې شوې هڅې هرکلی کوي او افغان ملي امنیتي ځواکونه دې ته هڅوي چې اضافي تدابیر ونیسي څو د عملیاتو په ترڅ د ملکي تلفاتو کچه راټیټه شي. لکه څرنګه چې په دې راپور کې مستنده شوې ده ، د افغان ملي امنیتي ځواکونو د عملیاتو په پایله کې د رامنځته شویو تلفاتو په کچه کې د پرله پسې زیاتېدنې ، د دې اړتیا لا پیاوړې کوي چې دولت باید د ملکیانو د لا زیاتې ساتنې په موخه د پالیسیو په رامنځته کولو او پلي کولو ته ادامه ورکړي ، او کوټلي ګامونه پورته کړي ، څو د دغو پالسیو چټک تطبیق ډاډمن کړي. د دولت ژمنې چې ملکي وګړو ته د زیانونو د اوښتلو د کمولو په اړه دي ، باید په عملیاتي او تاکتیکي کچه له نورو تدبیرو سره یوځای وي لکه د ملکي وژل شوي او ژوبل شوي کسانو د شمیر دقیقه ازموینه ، او د دې تلفاتو لاملونه او ځای.

*د ملکي وګړو د تلفاتو د مخنیوي او کمولو د ملي پالیسي طرحه*

په ۲۰۱۵ کې یوناما په وسله واله جګړه ګې د ملکي وګړو د ساتنې په کلني راپور کې سپارښتنه کړې چې دولت باید د ملکي وګړو د تلفاتو د مخنیوي او کمولو ملي پالسي نهایي کړي ، او د عمل یو پلان برابر کړي ، چې د دښمنیو په ترڅ کې د ملکي وګړو د تلفاتو د مخنیوي لپاره مشخص هدفونه پهکې شامل وي. او د دولت په دننه کې یوه ژمنه اداره تاسیس کړي ، څو په جګړو کې ملکي وګړو د زیان په اړه څیړنې تر سره کړي.

د سپارښتنو پر بنسټ ، دولت راپور ورکړی ، چې د ملکي وګړو د تلفاتو د مخنیوي او کمولو ملي پالیسي یې نهایي کړې ، او هغه یې د معینانو په سطحه ، مخکې له هغه منظوره کړې چې د جولای په ۸ او ۹ ، د ناټو غونډه په وارسا کې دایره شي.[۳۸۳] تر دې نیټې پورې ، د ملي امنیت شورا دغه پالیسي نه ده توشیح کړې.

یوناما د دولت ټولې هغه هڅې ستایي چې په دښمنیو کې د ملکي وګړو د ساتنې پالیسي تقویه کوي. یوناما دولت ته هغه غوښتنې بیا تکراروي ، چې د دې پالیسي پلي کولو ته لومړیتوب ورکړي او د عمل پلان بشپړ کړي ، او له نړیوالې ټولنې څخه غواړي چې د دې پروسې له بشپړولو سره اړینې مرستې وکړي. یوناما دولت یادوي ، چې پالیسي یوازې یو لومړنی ګام دی او باید د عمل د پلان په ذریعه تقویه شي ، چې د تطبیق لپاره د پیمایش وړ هدفونه ولري ، لکه د اجابت یقیني کولو لپاره څارنه پهکې شامله وي. یوناما تیاره ده چې په دې برخه کې له حکومت سره تخنیکي مرستې وکړي.

---

۳۸۳  د افغان دولت تر مشري لاندې له  کاري ډلې سره  د یوناما لیدنه ، کابل ښار ۱۳ نومبر ۲۰۱۶.

*د افغان هوايي ځواکونو لپاره تاکتيکي لارښودنې*

په ۲۰۱۶ کې ، افغان هوايي ځواکونو د "هوايي بريدونو" په اړه تاکتيکي لارښودنې طرحه کړې ، چې د دې ځواکونو د قوماندان لهخوا منظورې شوې او د تطبيق لپاره ټولو ساحوي قوماندانانو ته وستول شوې. [۳۸٤] په دې تاکتيکي لارښودنو کې د هوايي بريد د پلان کولو لپاره شرايط شامل دي ، چې په هدف نيولو کې دقت او د هوايي بريدونو د پيل لپاره د منظورۍ ميکانيزمونه رانغاړي.

په دغو لارښودنو کې داسې تاکتيکي لارښودنې او کموونکي تدابير هم شامل دي ، چې ددې مخه نيسي څو ملکي وګړي او ملکي اهداف د بريدونو هدف وګرځي. [۳۸٥]

په ۲۰۱۶ کې افغان هوايي ځواکونو خپل حقوقي مشاورين وګومارل چې په ساحه کې د افغان هوايي ځواکونو پرسونل ته روزنه ورکړي او د جګړو په قواعدو او هغو قانوني مسؤليت ونو باندې زور واچوي ، چې د اساسي قانون او د بشرپالنې نړيوال قانون ، په خاص ډول له هغو احکامو سره سمون لري چې په هوايي بريدونو کې ملکي وګړې او ملکي اهداف له په نښه کولو څخه مخنيوی کوي. [۳۸٦]

*د ملکي کسانو د تلفاتو د مخنيوي او کمولو بورډ*

لکه څنګه چې يادونه يې په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په هکله د يوناما د ۲۰۱۵ کال په کلني راپور کې شوې ، د ناتو د غوڅ ملاتړ ماموريت [۳۸۷] او افغان دولت د ملکي کسانو د مخنيوي او را کمولو بورډ د ناتو څخه افغان دولت ته انتقال کړ ، چې پرانيستې غونډه يې د ۲۰۱۶ کال د جنوري د مياشتې په ۲۶ نېټه ترسره شوه. هييت په هرو دريو مياشتو کې يو وار غونډه کوي. [۳۸۸] يوناما د افغانستان دولت هڅوي څو يقيني کړي چې د افغانانو تر رهبرې لاندې د CAMB څخه د يوه تمرکز شوې او عملياتي ميکانيزم په حيث کار واخلي او هغه ساحې چيرې چې د ملکي تلفاتو د کمولو په هڅو کې ښه والي ته اړتيا ليدله کيږي ، مشخصې کړي او د دغه ميکانيزم د پياوړتيا په برخه کې د نړيوالې ټولنې د هڅو د ملاتړ ستاينه وکړي.

په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د يوناما د ۲۰۱۶ کال په نيم کلن راپور کې يوناما د دولت څخه بيا غوښتنه کړې څو د ملکي تلفاتو د مخنيوي او را کمولو په هکله د ملي پاليسې د تطبيق لپاره د عمل د پلان بشپړيدو ته لومړيتوب ورکړي. [۳۸۹] يوناما د CAMB له خوا د کارې ډلې د جوړولو چې موخه يې د ملکي تلفاتو د مخنيوي په اړه د ملي پاليسې د پلې کولو لپاره د عمل د پلان جوړول او د ملکي تلفاتو د راکمولو په برخه کې د دولتي ځواکونو له خوا د ممکنه مخه نيونکو تدبيرونو نيول دي ، ستاينه کوي. يوناما ملاحظه کړې چې د ملي تلفاتو د مخنيوي او کمولو د بورډ (CAMB) کاري ډله خپله کلنۍ پرانيستې غونډه د ۲۰۱۶ د اکتوبر پر ۲ ، او دويمه غونډه

---

۳۸٤ د افغان هوايي ځواکونو له قوماندان سره د يوناما ليدنه ، کابل ښار ۲۸ نومبر ۲۰۱۶ .

۳۸٥ د افغان هوايي ځواکونو له قوماندان سره د يوناما ليدنه ، کابل ښار ۲۸ نومبر ۲۰۱۶ ، د روزنې د ترسره کولو په اړه لارښوونې د ۲۰۱۶ د اګسټ پر ۳ ، وويشلې شوې

۳۸٦

۳۸۷ په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د يوناما د ۲۰۱۵ کال د کلنۍ راپور ۱۱ ، ۱۲ ، ۷۹ مخونه وګورئ.

۳۸۸ يوناما په دواړو ناستو د څارونکې په حيث برخه اخيستې.

۳۸۹ په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د يوناما د ۲۰۱۵ کال د کلنۍ راپور ۹۱مخ وګورئ.

يې د ۲۰۱۶ د نومبر پر ۱۳ دايرې کړې. ياد بورډ چې د ملي امنيت د شورا د دفتر ستراتيژيکې پلان جوړونې څانګې د رئيس تر مشرۍ لاندې دايرېږي د دفاع او داخله وزارتونو او د ملي امنيت رياست ، د سيمه ييزو ارګانونو خپلوکې ادارې او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون له استازو سره هره مياشت راغونډيږي. يوناما هم د دغې کارې ډلې غړې ده او ورته د نړيوال قانون د تجربو په اړه نظريات وړاندې کوي.

*د ساتنې په برخه کې د لوړ پوړې کاري ډلې پرانيسته*

د جون د مياشتې په ۳۰ ، د افغانستان اجرائيه رئيس د ساتنې لوړپوړې کاري دلې لومړې غونډه پرانيستله چې موخه يې دا ده چې د پاليسيو په رڼا کې د هغو موضوعاتو په اړه چې د ملکي وګړو ساتنې پورې اړه لري ، تر سره شويو خبرو اترو ته اسانتياوې برابرې کړي ، او د ښه شويو تجربو د پلي کولو ملاتړ وکړي څو د ملکي تلفاتو کچه راټيټه شي. دغه کاري ډلې د افغانستان د اجرائيه رئيس تر مشرۍ څکه دايرېږي څو د افغانانو تر مشرۍ لاندې په لاره اچول شويو نورو اقداماتو د صِرف امنيتي ارګانونو لهخوا رهبري شوي پلاوې چې په دې فصل کې يې شرحه شوې ده د باندې ، د حکومت د لوړپورو چارواکو د ښکېلولو [390] له لارې لا پياوړي شي. يوناما په لوړه کچې ياده کاري ډلې ته به لوړه کچه تخنيکي ملاتړ او همکاري برابروي. يوناما حکومت هڅوي چې له دغې غونډې څخه ګټه پورته کړې ، څو د ملکيانو تر مشرۍ لاندې د افغان ملي امنيتي ځواکونو د څارنې په برخه کې ونډه واخلي او د ملکي وګړو لا زيات خونديتوب ، او د بشري حقونو زياتره درناوی باوري کړي.

۳۹۰ يوناما په دواړو ناستو کې د غړي په حيث ګډون کړی.

## ۵. حقوقي چوکاټ

د دغه راپور لپاره کارول شوی حقوقي چوکاټ د بشري حقونو نړیوال قانون، دبشر پالنې نړیوال قانون، نړیوال جنايي قانون او د افغانستان په هکله د ملګرو ملتونو د امنیت شورا لازم الاجراء پرېکړه لیکونه رانغاړي.[۳۹۱] په ټولو سندونو کې په افغانستان کې د وسله والې شخړې پر مهال د ملکي وګړو د ساتنې په اړوند ژمنې شاملې دي چې په لاندې برخه کې تشریح شوې دي.

### د ملکي (ملکي کسانو) تعریف

د شخړې سره په تړاو د هر یوه مرګ ژوبلې د وضعیت د تشخیصولو لپاره، یوناما د ملکي کسانو لپاره د بشرپالنې د نړیوال قانون تعریف کاروي چې د هغې له مخې، ملکي هغه کس دی چې د وسله والو ځواکونو او یا د منظمې وسله والې ډلې غړی نه وي.[۳۹۲] یوناما هغه ملکي مرګ ژوبلې نه مستندې کوې، چېرته چې هغه ملکي کس (ملکي کسان) د مړینې یا ټپي کېدنې په وخت کې په مستقیم ډول په دښمنیو کې برخه اخلي، او همدارنګه د هغو وګړو مړینې او ټپي کېدنې نه مستندې کوي چې له بریدونو خوندي وي او یا چې د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې ملکي کسان نه ګڼل کېږي، لکه هغه کسان چې نور د جګړې توان نه لري (*hors de combat*)، یا د وسلوالو ځواکونو روغتیایي او مذهبي کارکوونکي.[۳۹۳]

نو په دې اساس، دغه راپور د خلکو د هغو کټګوریو پر ضد بریدونه مستند کوي، چې د هغوی ورځني فعالیتونه، په دښمنیو کې په مستقیم ډول د برخې اخیستنې کچې ته نه رسیږي، چې په هغو کې د عامه خدماتو کارکوونکي، او د دولت کارکوونکي، ښوونکي، د روغتیایي کلینیکونو کارکوونکي، د ټولټاکنو کارکوونکي، او نور هغه کسان شاملېږي چې د عامه خدماتو په وړاندې کولو بوخت وي، لکه سیاسي څېرې، دفتر لرونکي، او د نادولتي سازمانونو کارکوونکي، او همداراز ملکي پولیسو چې په مستقیم ډول په دښمنیو کې برخه نه اخلي او د دولت مخالفینو پر ضد په جګړو کې ښکېل نه دي.

---

۳۹۱ په ګډونوالو کې د ټولو امنیتي وزارتونو، او نورو اړوندو وزارتونو معینانو، د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون (AIHRC)، د غوڅ ملاتړ (Reselute Support)، د ملګرو ملتونو او نړیوالو سازمانونو استازیو د څارونکو په ډول شامل وو.

۳۹۲ دربیمه عمومي ماده؛ د نړیوال سره صلیب د کمیټې له‌خوا د نړیوال پر عرفي قانون څېړنه ۵ قاعده. همدارنګه پر دریمه عمومي ماده د سره صلیب تبصره (۲۰۱۶ پاراګراف ۵۲۳). په غیر نړیواله وسله واله شخړه کې، غیر دولتي خواوې د رامنځته شویو داخلي قوانینو له مخې پوځي ځواکونه نه شي درلودای، خو د غیر نړیوالې وسله والې شخړې موجودیت دا ایجابوي چې د شخړې د غیر دولتي خواوو په استازیتوب جګړه ییز ځواکونه په جنګ کې ښکیل وي او د دې توان لري چې وسله وال تاوتریخوالی ته ادامه ورکړي، چې د تنظیمولو یو تاکلې کچې ته اړتیا لري. دغه ډول منظمې وسله والې ډلې د غیر دولتي خوا (وسله ځواکونه جوړې چې د دریمې مشترکې ماده له مفهوم سره سمون لري.) په لاندې پته د لاسرسي وړه ده:https://ihl-databases.icrc.org/ihl/full/GCi-commentary ، په وروستي ځل، د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر په ۲۳ ورته لاسرسی شوی.

د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۲۲۷۴(۲۰۱۶) پرېکړه لیک په افغانستان کې په وسله واله شخړه کې د ټولو ډلو ژمنې څرګندوی څو د نړیوال قانون په شمول د نړیوال بشر دوستانه قانون او د بشري حقونو د قانون سره د ملکي ساتنې څخه د ډاډ حاصلولو په خاطر د ټولو مناسبو تدبیرونو د ترسره کولو لپاره اجابت وکړي.

۳۹۳ د بشرپالنې د نړیوال قانون لاندې په دښمنیو کې د مستقیمې برخې اخیستنې په هکله د نړیوال سره صلیب د کمیټې توضیحي لارښود هم وګورئ ژنیو ۲۰۰۹.

یوناما ملاحظه کړې چې په افغانستان کې په شخړه کې ښکېلې نورې خواوې ، لکه څرنګه چې په دې راپور کې تشریح شوې ، د یادې اصطلاح په اړه خپل تعریفونه پلې کو ي.[۳۹۴]

**د وسله والې شخړې د ښکیلو خواوو حقوقي مسؤلیت ونه**

د یوناما د دریځ له مخې په افغانستان کې وسله واله شخړه یوه غیر نړیواله وسله واله شخړه ده چې د افغانستان د حکومت او د حکومت د پوځي ځواکونو (افغان ملي امنیتي ځواکونه چې ملاتړ یې د نړیوالو ځواکونو لخوا کیږي) او پدې راپور او افغانستان کې د" دولت پلوه ځواکونو " په نوم یادیږي ، او د غیر دولتي مخالفو وسله والو ډلو تر منځ ده چې (په دې راپور او افغانستان کې" د دولت ضد عناصرو " په نوم یادیږي. *د دولت پلوه او دولت ضد عناصرو د تعریف لپاره د اصطلاحاتو برخه وګورئ.*

د وسله والې شخړې ټولې ښکیلې خواوې- افغان وسله وال ځواکونه ، نړیوال پوځي ځواکونه او غیر دولتي وسله والې ډلې- د نړیوال قانون لاندې د ملکي کسانو د ساتنې په موخه روښانه مکلفیتونه لري.

په ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) پریکړه لیک کې ، د امنیت شورا څرګنده کړې چې دا د ټولو هیوادونو لپاره مهمه ده څو په ښځو او نجونو د نړیوال بشر دوستانه او بشري حقونو د قانون اړوند نورمونه په بشپړ ډول تطبیق کړي ، او د پوځي شخړې پر مهال د جنډر پر اساس د خشونت څخه د هغوي د ساتلو په موخه ځانګړي اقدامات ترسره کړي.[۳۹۵]

**(۱) د بشر پالنې د نړیوال قانون لاندې مکلفیتونه**

افغانستان د ۱۹۴۹ کال د ژنیو د ۴ کنوانسیونونو او د ۱۹۷۷ [۳۹۶] دوهم الحاقي پروتوکول کوم چې په غیر نړیواله وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو ساتنې ته ځواب وایي غړی دی او د ملکي کسانو او هغو شیانو په وړاندې کوم چې د ملکي وګړو د ژغورنې لپاره حتمي وي د بریدونو مخنیوي کوي.

د ۱۹۴۹ کال د ژنیو د ۴ کنوانسیونونو ګډه ۳ ماده د دولتي او غیر دولتي فعالینو په شمول د شخړې د ښکیلو خواوو لپاره حداقل معیارونه را منځ ته کړي ، چې په غیر نړیواله وسله واله شخړه کې مراعات شي. ګډه ۳ ماده په ښکاره

۳۹۴

۳۹۵ .R/RES/1325(2000) , SEE ALSO S/RES/1820(2008),S/1888(2009)S/RES/1889 (2009) AND S/RES/1960(2010) ۳۹۵

۳۹۶ افغانستان د ۲۰۰۹ کال د نومبر په ۱۰ ، د ۱۹۷۷ کال دویم الحاقیه پروتوکول لاسلیک کړی. دا پروتوکول د ۲۰۰۹ کال د ډسمبر په ۲۴ نافذ شو.

توکه په هر وخت او هر ځای کې قتل ،[۳۹۷] د اندامونو پرېکول ، ظالمانه چلند ، غیر قانونی اعدامونه ، شکنجه ، او د شخص پر کرامت باندې تیری[۳۹۸] منع کوي.

د ۱۹۴۹ کال د ژنیو د ۴ کنوانسینونو او یو شمیر نورو قوانینو محتویات د هغو سره ورته دي چې د هغوي په الحاقي پرتوکولونو کې موندل شوي ، په زیاته پیمانه د عرفي نړیوال قانون برخه جوړوي.[۳۹۹] د ټولو اړوندو اصولو د جملې څخه چې د افغانستان د غیر نړیوالې وسله والې شخړې د ټولو ښکیلو خواوو په سلوک د پلي کیدو وړ دي ، په لاندې ډول دي:

**تفکیک:** ملکي وګړي او همدارنکه انفرادي ملکي کسان نه باید د برید هدف وي.[۴۰۰]

**تناسب:** "هر هغه برید منع دی ، چې ښایي د ملکي وګړو د مړینې ، ټپي کېدنې ، د ملکي شیانو د ضمني زیان یا د دغو دواړو د داسې تصادفي زیان لامل شي ، چې له هغې حقیقي او مخامخ نظامي بریا څخه یې اندازه زیاته وي ، د کومې چې تمه کیدای شي.[۴۰۱]

**په بریدونو کې احتیاط:** "... ملکي کسان باید د پوځي عملیاتو څخه د را ولاړو شویو خطرونو په وړاندې د ټولیزې ساتنې څخه برخمن وي." [۴۰۲] د ملکي عملیاتو د ترسره کولو په برخه کې ، باید د ملکي وګړو ، ملکیانو او ملکي شیانو د ژغورلو په موخه پرله پسې پاملرنه وشي"او باید ټول اړین احتیاطي تدبیرونه چې موخه یې په هر ډول پیښه کې د ملکي کسانو د ژوند ، د ملکي کسانو د ټپي کیدو او د ملکي کسانو او د ملکي شیانو د ضمني زیان څخه مخنیوي او کمول وي ، ونیول شي.[۴۰۳]

---

۳۹۷ یوناما د ملکي وګړیو مړینې او ژوبلې د رواني وسله والې جګړې له بیلابیلو تاکتیکونو سره په تړاو کې ثبتوي ، دبیلګې په توګه ، هدفي وژنې ځانمرګي او ډله ییزه بریدونه ، ځای پرځای شوي چاودیدونکي توکي او نور. په دې ډول ، یوناما هم تورونه ثبتوي ، چې د روم د اساسنامې له مخې جنګي جرمونه پیژندل شوي او/یا د نړیوال عرفي قانون له مخې د غه ډول جرمونه دي لکه د قتل جنګي جرم د روم د اساسنامې د ۸ (C) (i) او د ملکي کسانو مړینې چې د جنګونو په جریان کې پېښېږي ، چې شاید قانوني بڼه ولري. یوناما په جګړه پورې تړل ملکي مړینې او ژوبلې له هغو څخه بیلوي چې د داخلي جنایي حملو څخه راپیدا کېږي ، لکه د یو شخص لهخوا د قتل او یا حملې تر سره کول ، چې د وسله والې جګړې له شرایطو څخه بهر وي. هغه پېښې چې دغه اړین اړخ ونه لري ، په دې راپور کې نه دي شاملې.

۳۹۸ د ۱۹۴۹ کال د اګست د ۱۲ می د ژنیو د کنوانسیونونو دریېمه عمومي ماده د غیر نړیوال ماهیت د شخړو پر مهال د تطبیق وړ دی. د پوځي شخړې په صورت کې چې نړیوال خصوصیات و نه لري او د کنوانسیونونو د لوړ پوړو ډلو په قلمرو کې واقع کیږي ، د شخړې هر طرف باید د لاندې مقرراتو په پلي کولو مکلف وي(۱) هغه کسان ، د وسله والو ځواکونو په شمول چې وسلې یې په ځمکه ایښیي او یا هغه کسان چې ناروغ ، ټپي او توقیف شوي وي ، د هر ډول نورو شرایطو په پام کې نیولو پرته لکه نژاد ، رنګ ، مذهب ، عقیدې ، جنسیت ، زیږون یا شتمنې چې په شخړو کې فعاله ونډه نه اخلی د هغوي سره په ټولو حالتونو کې انساني چلند وشي. په دې معنی ، ټول عملونه منع دي او د پورته یادو شویو کسانو په حواله هر وخت او هر ځای ممنوع دی: (الف) د ژوند او شخص په وړاندې خشونت ، په ځانګړی توګه د ټولو ډولونو قتل لکه د اندامونو پرېکول ، بی رحمه سلوک او شکنجه ، (ب) یرغمل ، (ج) په شخصي وقار باندې تیری ، په ځانګړې توګه تحقیرونکی او ناوړه سلوک ، (د) ، د حکمونو صادرول او د منظمې تشکیل شوي محکمې لخوا د مخکنې قضاوت د حکم پرته د اعدامونو ترسره کول ، د ټولو قضایي ضمانتونو د عهدې نه وتل کوم چې د متمدینو خلکو لخوا د لازم الاجرا په حیث پیژندل شوي.

۳۹۹ د نړیوال سره صلیب د کمیټې لهخوا د نړیوال پر عرفي قانون څیړنه.

۴۰۰ الحاقي دویم پروتوکول ، ۱۳(۲) ماده د نړیوال سره صلیب د کمیټې لهخوا د نړیوال پر عرفي قانون څیړنه ۱ قاعده. همدا راز وګورئ د نړیوال سره صلیب د کمیټې لهخوا د نړیوال پر عرفي قانون څیړنه ۱ - ۲۴ قاعدې

۴۰۱ د نړیوال سره صلیب د کمیټې لهخوا د نړیوال پر عرفي قانون څیړنه ۱۴ قاعده.

۴۰۲ دویم الحاقي پروتوکول ، ۱۳(۱) ماده

۴۰۳ د بشري حقونو د نړیوال عرفي قانون (۲۰۰۵) په هکله د آی آر سي څیړنه ، ۱۵ - ۲۱ قاعدې.

په افغانستان کې نړیوالو پوځي ځواکونو ته د سرتیرو ورکونکي ټول هیوادونه د ۱۹۴۹ کال د ژنیو د ۴ کنوانسیونونو لاسلیک کونکي دي.

که څه هم چې د سرتیرو ورکونکي ټول هیوادونه د ۱۹۷۷ کال د دوهمې الحاقي پرتوکول لاسلیک کونکي نه دی ، خو دا هیوادونه د بشر پالنې د نړیوال عرفي قانون د اړوندو مقرراتو په اساس چې د غیر نړیوالې وسله والې شخړې باندې د پلي کېدو وړ دي په رعایت کولو لا هم مکلف دي. افغانستان ۱۹۸۰ کال کې تصویب شوي د ټاکلیو دودیزو وسلو ترون او د هغې پنځو الحاقي پروتوکولونو ته د غړیتوب غوښتنلیک د ۲۰۱۶ د جولای پر ۱ د ملګرو ملتونو د سرمنشي ته وسپاره او تمه کېږی چې دغه غړیتوب به د ۲۰۱۷ د فبروري پر ۱ نافذ شي.[٤٠٤] نوموړی ترون د ټاکلیو وسلو کارول بندوي یا محدودیت پرې وضع کوي ، کومو چې فکر کېږي چې په بې توپیره توګه ملکي وګړي اغیزمن کوي او کومو چې جنګیالیو ته غیر ضروري او نه توجیه کېدونکي ځوروني رامنځته کوي. د ماینونو او تلکي ماینونو او نورو الو اړوند ، دوهم الحاقي پروتوکول ، او د جګړو د پاتې شونو چاودېدونکو اړوند پنځم الحاقي پروتوکول په ځانګړي ډول افغانستان پورې اړه نیسي.[٤٠٥]

**(۲) د بشري حقونو تر نړیوال قانون لاندې مکلفیتونه**

د بشري حقونو نړیوال قانون په سوله او د وسله والې شخړې پر مهال ، د بشر پالنې د نړیوال قانون سره یو ځای په متمم ډول د پلي کیدو وړ دي.

افغانستان د بشري حقونو[٤٠٦] ، د مدني او سیاسي حقونو په هکله د نړیوال میثاق په شمول یو لړ نړیوالې معاهدې لاسلیک کړي دي ، دا میثاق حکومت اړ باسي څو د خپل قلمرو په دننه او یا د هیواد د واکمنۍ لاندې سیمو په دننه کې د ټولو کسانو لپاره د بنسټیز بشري حقونه خوندي کړي.

---

٤٠٤ د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر د ۲۰۱۷ د جنوري پر ۱۵ د پیوستون یو سند (Instrument of Accession) لاسلیک کړ ، څو د ۱۹۸۰یم کال د دودیزو وسلو کنوانسیون (Convention on Certain Conventional Weapons) او اړوندې لومړۍ او دویمه الحاقي پروتوکولونه (لکه څرنګه چې په ۱۹۹۶ کې تعدیل شوي دي) ، دریېمه ، څلورمه ، او پنځمه الحاقي پروتوکولو نه تصویب کړي - د یاد سند کاپي د یوناما په ریکارډونو کې ثبته ده. د بهرنیو چارو وزیر د جولای پر ۲۶ ، نوموړی سند د یاد کنوانسیون او د هغه اړوندو الحاقي پروتوکولونو د تصویب د طرزالعملونو سره سم ، د ملګرو ملتونو سرمنشي دفتر ته تسلیم کړ. دغه معلومات د ۲۰۱۷ کال د جنوري پر ۲۶ ، د یوه ایمیل چې د یوناما او د ماینونو د پاکولو د همغږي ریاست/ بهرنیو چارو وزارت ترمنځ د تبادله شوې ایمیلونو له لارې تر لاسه شوي دي. نو په دې اساس ، نوموړي کنوانسیون او د هغې اړوندې الحاقي پروتوکولونه د ۲۰۱۷ د جنوري پر ۲۶ ، په رسمي ډول په افغانستان کې مرعي الاجرا کېږي.

٤٠٥ د ماینونو او تلکي ماینونو او نورو الو پورې اړوند تعدیل شوی الحاقي پروتوکول ( د ۱۹۸۰ کال د ټاکلیو دودیزو وسلو ترون ته ضمیمه دویم تعدیل شوی پروتوکول)، ۲۸ نومبر ۲۰۱۳. د دې په باره کې چې په دې دوو پروتوکولونو کې نغښتي مکلفیتونه څرنګه افغانستان پورې اړه نیسي ، د ځای‌پرځای شوو چاودېدونکو توکو څېرکی او د جګړو پاتې شوني چاودیدونکي توکي څپرکی وګورئ.

٤٠٦ افغانستان د بشري حقونو لاندني میثاقونه او کنوانسیونونه لاسلیک کړی دي: د مدني او سیاسي حقونو په هکله نړیوال میثاق چې د ۱۹۸۳ کال د اپریل په ۲۴ مه تصویب شو ، د اقتصادي ، ټولنېزو او کلتوري حقونو په هکله نړیوال میثاق چې د ۱۹۸۳ کال د اپریل په ۲۴ مه تصویب شو ، د نژادي تبعیض د ټولو بڼو د مخنیوي په هکله نړیوال میثاق چې د ۱۹۸۳ کال د اګست په ۵ مه تصویب شو ، د ښځو په وړاندې د توپیر د ټولو بڼو د مخنیوي په هکله میثاق چې د ۱۹۸۳ کال د مارچ په ۵ مه تصویب شو ، د شکنجې او نورو بی رحمانه ، غیر انساني ، ناوړه سلوک او سزا په وړاندې کنوانسیون چې د ۱۹۸۷ کال د جون په ۲۶ مه تصویب شو ، د ماشوم د حقونو په هکله کنوانسیون چې د ۱۹۹۴ د اپریل په ۲۷ مه تصویب شو ، د ماشومانو د سوداګری ، د ماشومانو فاحشه ګری او د ماشومانو د هزره نګاری په هکله د ماشومانو د حقونو د کنوانسیون اختیاري پروتوکول چې د ۲۰۰۲ کال د اکتوبر په ۱۹ تصویب شو ، په وسله واله شخړه کې د ماشومانو د ښکیلتیا په هکله د ماشوم حقونو په اړه د کنوانسیون اختیاري پروتوکول چې د ۲۰۰۳ کال د سپټمبر په ۲۴تصویب شو او د معیوبو کسانو د حقونو په هکله کنوانسیون ، د ۲۰۱۲ کال د سپټمبر

که څه هم غیر دولتي فعالین د وسله‌والو ډلو په ګډون د بشري حقونو د نړیوالو تړونونو غړي کېدای نه شي ، خو د نړیوال عرفي قانون له مخې دوی له دې نه دي مستثنی چې د بشري حقونو مکلفیتونو ته پابنده واوسي. نادولتي فعالین په زیاته پیمانه فکر کېږي چې د ځینو ټاکلیو نړیوالو بشري حقونو په درناوي کولو مکلف وي ، خصوصا د طالبانو په څېر هغه ډلې چې په عملي ډول ځینې سیمې تر خپلې ولکې لاندې لري.[٤٠٧]

د بشري حقونو د نړیوال قانون له مخې ، هیوادونه باید د خپلو منسوبینو[٤٠٨] له خوا په خاص ډول د هغو ارګانونو له خوا چې د قانون په انفاذ کې بوخت دي د وژونکي ځواک کارول وڅېړي . دا دنده د احتمالي نه رعایتولو د مسؤلیت سره یو ځای د ژوند د حق د ساتنې[٤٠٩] د مکلفیت څخه سرچینه اخلي . د دې لپاره چې د هیواد څېړنې اغیزمنه وي ، څېړنې باید تر ممکنه حده چټکې ، بشپړه ، بی طرفه ، خپلواکې[٤١٠] وي او د عامه پلټنې لپاره پرانیستې وي.[٤١١] د څېړنو په موخه د دولت مکلفیت د قانون د اجراء په ټولو زمینو کې د هغو زمینو په ګډون چې د وسله والو شخړو پر مهال را ولاړیږي ، د تطبیق وړ دي.[٤١٢]

### (۳) د نړیوال جنايي قانون لاندې مسؤلیت ونه

افغانستان د خپل قلمرو په دننه کې د نړیوالو جرمونو لکه د جنګي جنایتونو ، د بشریت په وړاندې د جرمونه او عام وژنې د څېړلو او تعقیب په هکله ډېر دروند مسولیت لري.[٤١٣] څنګه چې په ۲۰۰۳ کال کې افغانستان د نړیوالي

---

په ۱۸ د لاسرسي وړ ، مراجعه وکړي. http://www. aihrc. org. af/English/Eng_pages/X_pages/conventions_af_z_party. html. به وروستي ځل د ۲۰۱۷ کال د جنوري په ۱۵ نیته ورته لاسرسی شوی

٤٠٧ د ملګرو ملتونو د عمومي منشي راپور ته مراجعه وکړئ ، په سریلانکا کې د حساب ورکونې په هکله د عمومي منشي د کارپوهانو د هیئت راپور ، د ۲۰۱۱ کال د مارچ ۳۱ ، ۱۸۸ پاراګراف. همدارنګه د لیبیا په عربی جمهوریت کې د نړیوال بشري حقونو د ټولو ادعا شویو سرغړونو د څېړنې د تحقیقاتو د نړیوال کمیسیون راپور ته مراجعه وکړئ- A/HRC/17/44, 1 June 2011؛ د سوریی په عربی جمهوریت کې د بشري حقونو د وضعیت په اړه د تحقیقاتو د نړیوال کمیسیون راپور- A/HRC/19/69, para. 106؛ د جنوبي سودان په جمهوریت کې د ملګرو ملتونو ماموریت ، په جنوبي سودان کې شخړه: د بشري حقونو راپور ، ۲۰۱۴ کال د می ۸ ، ۱۸ پاراګراف.

٤٠٨ د غیر قانوني ، په خپل سر او نا قانونه اعدامونو د څېړنې او موثره مخنیوي په هکله د ملګرو ملتونو د اصولو ۹ ، ۱۰ او ۱۷ پاراګرافونو ته مراجعه وکړئ چې د اقتصادي او ټولنېزې شورا د ۶۵/۱۹۸۹پریکړه لیک په واسطه د ۱۹۸۹ کال د می په ۲۴ تصویب شو ، د غیری نړیوالې وسله والې شخړې په هکله د ملګرو ملتونو د امنیت شورا او د عمومي اسامبلې پرېکړه لیکونو ته هم مراجعه وکړئ چې د ټولو خواوو څخه د بشري حقونو د نړیوال قانون د درناوي غوښتنه کوي.

٤٠٩ د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کمیشنری ، عمومي تبصره ۳۱(۲۰۰۴)، § ۱۵ ، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کمیشنری ، عمومي تبصره ۶(۱۹۸۲)§ ۴ ; ECtHR, Kaya case, § 86; ECtHR, Ergi v. Turkey, Application No. 23818/94, Judgment of 28 July 1998, §§ 82, ECtHR, McCann case, § 169; 86; ECtHR, Isayeva v. Russia, Application No. 57950/00, Judgment of 24 February 2005, §§ 208-9, 224-5; IACiHR, Abella (La Tablada) case, § 244; IACiHR, Alejandre case, § 47; ACiHPR, Civil Liberties case, § 22.

٤١٠ IACiHR, Abella (La Tablada) case, § 412; ECtHR, Özkan case, § 184; ECtHR, Orhan v. Turkey, Application No. 25656/94, Judgment of 18 June 2002, § 335; ECtHR, Isayeva et al. case, § 210-11; ECtHR, McCann case.

٤١١ ECtHR, Hugh Jordan v. the United Kingdom, Application No. 24746/94, Judgment of 4 May 2001, § 109; ECtHR, Özkan case, § 187; ECtHR, Isayeva et al. case § 213; ECtHR, Isayeva case, § 214: د نړیوالو بشري حقونو د جدي سرغړونو او د نړیوال بشر دوستانه قانون د جدي سرغړونو د قربانیانو لپاره د جبران او تاوان د حق په اړه اساسي اصولو او لارښودونو ته مراجعه وکړئ.

٤١٢ سی دروګ ته مراجعه وکړئ ، د دښمنیو د ترسره کولو څخه د قانون د انفاذ توپیر ۵۷-۶۳ مخونه د کارپوهانو غونډه ، د کیمیاوي اجنټانو بی واکه کول ، د قانون انفاذ ، بشري حقونه او د پالیسی لرلیدونه- Montreux, Switzerland 24-26 April 2012 at http://www. icrc. org/eng/assets/files/publications/icrc-002-4121. pdf; Nils Melzer, د دښمنیو د ترسره کولو او د قانون د انفاذ تر منځ تداخل او مفکوره یې توپیر ، د پوځي عملیاتو د نړیوال قانون کتاب ګوتی(اکسفورډ: د اکسفورډ د پوهنتون مطبعه ، ۲۰۱۰)، pp. 43-44. Nils Milzer, په جګړه کې د بی پیلوټه روباټونو او ډرونونو د کارولو د بشري حقونو دلالت ، د اتحادیی د بهرنیو پالیسي ګانو لپاره عمومي رییس ، د پالیسی ریاست ، (۲۰۱۳)at

٤١٣ د نړیوال جنايي محکمې اساسنامه ، سریزه ، ۱ ، ۱۷ مادې ، همدا راز وګورئ: د نړیوال سره صلیب د کمیټې له‌خوا د نړیوال پر عرفي قانون څېړنه ۱۵۸ قاعده.

جنايې محکمې د روم د اساسنامې غړيتوب تر لاسه کړ ، په دې مانا که چيرې افغانستان نه شي کولای او يا نه غواړی خپل صلاحيت وکاروي ، نړيواله جنايي محمکه کولای شي پر افغانستان خپل صلاحيت وکاروي.[٤١٤] د افغانستان وضعيت همدغه مهال د نړيوال جنايي محکمې د څارنوال د دفتر له‌خوا تر لومړنۍ ازموينې لاندې دی ، څو دا جوته شي ، چې ايا دلته کوم موجه دلايل شته چې د محکمې له‌خوا او د هغې د قضايي واکونو د قلمرو دننه د هغو جنايي جرمونو په اړه چې په کافي اندازه دروندوالی لري ، دهغو جرمونو په ګډون ، چې د"افغان چارواکو" ، او يا د" دولت د مخالفو ډلو " له‌خوا تر سره شوي ، کومې چې رواني غير نړيوالې وسله والې شخړې پورې اړوندې دي ، د څېړنې د پيلولو د تجويز لپاره د محاکمې وړاندې ديوان د ايجادولو غوښتنه وشي.[٤١٥]

هغه هيوادونه چې پوځي ځواکونه يې د نړيوالو پوځي ځواکونو په ډله کې دي او په افغانستان کې د شخړې اړخ دي هم د ادعا شويو جرمونو د څېړنې او تعقيب مسؤليت لري او بنايي دا جرمونه په افغانستان کې د هغوي د اتباعو لخوا ترسره شوي وي.[٤١٦] د مثال په توګه دغه هيوادونه مکلفيت لري چې د نړيوالې جنايي محکمې د اساسنامې د ٨ (٢)(e)(i) مادې د سرغړونې څېړنه او تعقيب کړي. دا ماده تصريح کوي چې(په عمدي ډول د ملکي وګړو پر ضد ، يا د هغو انفرادي ملکي کسانو پر ضد چې په دښمنيو کې په مستقيم ډول برخه نه اخلی بريدونه کول)، په غير نړيواله وسله واله شخړه کې جنګي جنايت تشکيلوي. د دغه راپور د برابرولو پر مهال ، نړيواله جنايي محکمه په ګوته کړې وه چې په افغانستان کې د شخړې پورې اړوندو بنديانو د ګرويږنو په ترڅ کې د نړيوالو نظامي ځواکونو کړنې ، د غير نړيواله وسله والې شخړې په زمينه کې په بالقوه ډول د محکمې د منلو وړ نړيوالې جنايي پېښې جوړوي چې بنايي د اجازې د ورکولو په صورت کې د وضعيت د څېړلو له مخې راولاړې شي.[٤١٧]

٤١٤ د نړيوال جنايي محکمې اساسنامه ١ ، ١٢ -١٧ مادې.

٤١٥ د ٢٠١٦ کال د لومړني ازموينې د فعاليتونو به اړه د نړيوال جنايي محکمې راپور ، ٤٣-٥١ مخونه وګورئ. (١۴ نومبر ٢٠١۶).

٤١٦ پرته له دې چې هيوادونه د ای سی سی د موضوعه قانون غړيتوب ولري ، هغوي تړول د عنعنوي قانون لاندې مکلف دي تر څو د بشري حقونو او نړيوال بشر دوستانه قانون جدي سرغړونې کله چې دوي د افغانستان په قلمرو کې عمليات ترسره کوي ، وڅيړي.

٤١٧ د ٢٠١٦ کال د لومړني ازموينې د فعاليتونو به اړه د نړيوال جنايي محکمې راپور ، ۴۴ ، ۴٧-۵٠ مخونه وګورئ. (١۴ نومبر ٢٠١۶).

## ۶. اصطلاح ګانې[۴۱۸]

**AAF:** افغان هوايي ځواک.

**هوايي برید یا هوايي ګوزار:** له الوتکې څخه ویشتونکي مهمات چې په هغو کې نږدې هوايي ملاتړ (د الوتکې له خوا برید) او نږدې جنګي برید چې د چورلکې په مرسته ترسره کیږي ، همدارنګه په هوايي بریدونو کې هغه هوايي بریدونه هم شامل دي چې بې پیلوټه جنګي الوتکه یا ډرون یې تر سره کوي.

**ANBP :**افغان سرحدي پولیس ، همدارنګه (د افغان ملي سرحدي پولیس) په نوم هم یادیږي.

**اختطاف:** یوناما تښتونې د یوې پیښې په حیث تعریفوي چیرې چې د شخړې یو طرف په زور او جبر یو ملکي شخص یا ملکیان د هغوې د ارادې پرته و نیسي او یا یې وساتي ، د دې لپاره چې دریېم اړخ یا توقیف شوی شخص یا اشخاص د یوه کار په اجرا او یا د هغه پریښودو ته اړ کړي چې د کوم شخص یا اشخاصو د خوشي کولو لپاره یو ښکاره یا ضمني شرط وګڼل شي. په یو شمیر زیاتو مواردو کې ، په دغو کې همدارنګه هغه تښتونې چې موخه یې د شخص یا اشخاصو وژل وي شاملې دي. دا اصطلاح همدارنګه هغه جنايي تښتونې رانغاړي چې د شخړې د ښکیلې ډلې یا په دښمنیو کې د ښکیل شخص لخوا ترسره کیږي.

**ALP:** افغان سیمه ییز پولیس

ANA :افغان ملي پوځ

**ANP :** افغان ملي پولیس

ANCOP: افغان نظم عامه ملي پولیس

**ANSF :** افغان ملي امنیتي ځواکونه ، یوه ټولیزه اصطلاح ده ، چې افغان سرحدي پولیس ، ملي پوځ ، ملي پولیس او د ملي امنیت اداره په کې شاملیږي.

**دولت ضد عناصر :** په دې ډله کې ټول هغه اشخاص او ډلې راځي چې اوس مهال د افغانستان د دولت او نړیوالو پوځي ځواکونو پر ضد په وسله واله جګړه کې ښکیل دي. هغه وګړي چې د طالبانو په نامه پیژندل شوي او هغه اشخاص او بیلا بیلې ډلې چې په جګړه کې فعاله برخه اخلي ، او تر مختلفو نومونو لاندې لکه د حقاني شبکه ، حزب اسلامي ، د ازبکستان اسلامي حرکت ، د اسلامي جهاد اتحاد ، لشکر طیبه او جیش محمد او هغه نورې ډلې چې ځانونه د داعش او نورو ملیشو او وسله والو ډلو چې سیاسي ، ایدیالوژیکي او اقتصادي اهداف تعقیبوي یا نورې جرایم پیشه ډلې چې په جګړه کې د یوې ښکېلې ډلې خوا په استازیتوب مستقیم ګډون کوي ، په دغو عناصرو کې راځي .

**وسله والې ډلې :** نا دولتي تنظیم شوي وسله والې ډلې چې په شخړو کې ښکېلې وي او په ځرګند ډول د دولت څخه بېلې وي چې د جوړښت پر اساس د ملیشو څخه واخله تر یاغي جنايي مجریمو ډلو پورې رسیږي. دغه وسله والې ډلې د افغانستان د قانونینو لاندې حقوقي بنسټ نه لري. وسله والې ډلې د هیوادونو ، د هیوادونو د ایتلافونو یا د دولتونو تر منځ د سازمانونو د رسمي پوځي چوکاټونو په دننه کې نه دي او د هیواد(هیوادونو) تر کنټرول لاندې په

۴۱۸ په دې اصطلاح ګانو کې ځاې شوي تعریفونه یوازې د دې راپور د موخو لپاره دي.

کومو کې چې دوي فعالیت کوي ،نه دي. وسله واله ډلې کیداي شي د دولت د رسمي ولکې او کنترول د سیمې نه د باندې وي خو کیداي شي چې د کوربه یا نورو هیوادونو مستقیم یا غیر مستقیم ملاتړ ولري. دغه تعریف عبارت له لاندې ډلو څخه دي خو یوازي تر دوي پورې محدودې نه دي: مخالفې یاغي ډلې ، سیمه ییزې ملیشي (چې په کی توکمیزې ، قومي یا په بل اساس)، یاغیان ، ترهګر ، ګوریلا او نور مدني دفاعي ځواکونه او نیمه پوځي ډلې (چې په څرګند ډول د دولت په ولکه کې نه وي).[419] ځینې وسله والې ډلې په داسې یوه طریقه باندې چې د حکومت سره په عمومې توګه همغاړې دي ، که څه هم چې د هغوي تر کنټرول لاندې نه او موږ ته د دولت پلوه وسله والو ډلو په حیث راجع کیږي ، فعالیت کوي.

یوناما "دولت ضد عناصرو" ته چې په دې راپور کې تشریح شوی د نا دولتې وسله والو ډلو په حیث ګوري ، خو د دولت په وړاندې د هغوي د وسله وال مخالفت پر اساس د هغوي توپیر کیږي.

**AXO :** پریښودل شوي چاودیدونکي توکي ، هغو چاودیدونکو توکو ته ویل کیږي چې د وسله والو جګړو په جریان کې کارول شوي نه وي او د یوي ښکیلې ډلې له خوا په ساحه کې پرېښودل شوي وي په داسې حال کې چې دغه توکي د دې ډلې له کنټرول څخه بهر وي. دغه پرېښودل شوي چاودیدونکي توکي کیدای شي فعال فیوز ولري او د چاودلو لپاره اماده وي. (د مشخصو او متعارفو وسلو په اړه کنوانسیون ، ۵م پروتوکول).

**د ملکې کسانو تلفات:** وژل شوي او ټپي شوي ملکي کسان

یوناما هغه ملکي تلفات کوم چې د شخړې سره د تړلې خشونت په نتیجه کې را منځ ته کیږي مستندوي: د ملکې کسانو مرګ ژوبله چې په مستقیم ډول د وسله والې شخړې له امله را منځ ته کیږي- د هغو مرګ ژوبلو په شمول کوم چې د افغان امنیتي ځواکونو اویا نړیوالو پوځي ځواکونو د پوځي عملیاتو په نتیجه کې را منځ ته کیږي ، د بیلګې په توګه ، د ځواک د ساتنې پیښې ،هوایي بریدونه ، د تالاشي او ضبطولو عملیات ، د یاغیتوب په وړاندې د مبارزې هڅې یا د ترهګرې په وړاندې عملیاتونه. په دې کې غه تلفات شامل دي چې د نا دولتې وسله والو ډلو د فعالیتونو په نتیجه کې را منځ ته کیږي ، د بیلګې په توګه ، هدفي وژنې(ترور)،عمدي وژنې ، تعبیه شوی چاودیدونکي توکې یا د دولت پلوه ځواکونو سره په دښمنیو کې مستقیمه ښکیلتیا. په دې کې همدارنګه د ملکي کسانو هغه وژنې او ژوبلې کومې چې د شخړې سره د تړلې خشونت له امله را منځ ته کیږی ، د بیلګې په توګه ، د جګړې څخه پاته شونې چاودیدونکو توکو ، د څرګندو پیښیدونکو طبي حالتونو څخه را منځ ته شوي وژنې کومې چې د پوځې عملیاتو پر مهال را منځ ته شوی یا د طبي پاملرنې د نه شتون او ردونې له امله را منځ ته شوي ،شاملي دي.

**ماشومان:** د ماشوم د حقونو د کنوانسیون له مخې ماشوم د داسې یوه شخص په حیث تعریف شوي چې عمر یې له ۱۸ کلونو څخه کم وي (۱۷ کلن ماشوم). د دې تر څنګ د روم د نړیوالې جزایي محکمې اساسنامې له مخې چې د افغانستان دولت هم په ۲۰۰۳ کې تصویب کړې ، د ۱۵ کلونو څخه کم عمر ماشومان په دولتې عسکري لیکو کې او یا غیر دولتې ډلو کې شاملول او ګمارل ، چې په فعال ډول په جنګ کې برخه واخلي جنګي جرم ګڼل کیږي (د ۸ مادې (۲) (ب) (XXVi ) او ۸ (۲)(e) (vii) (وګورئ.)

419 له وسله والو ډلو سره د ملګرو ملتونو د بشر پالنې خبرې اترې: د فعالینو لپاره لارښود ، جیراډ مک هو او مانول بیسلر ، د بشر پالنې د چارو د همغږې لپاره د ملګرو ملتونو دفتر ، نیویارک ،جنوری ، ۲۰۰۶. د وسله والو ډلو د خصوصیاتو لپاره ۲.۳ برخه وګورئ.

**ملکپان:** د توپیر د اصل په هدف ، د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې "ملکې وګړي" هغه افراد دي چې د پوځي /نیمه پوځي ځواکونو غړي نه وي یا په جنګ کې د یوې خوا په منظمو وسله والو ډلو کې غړیتوب و نه لري او هم (د یوه پراخ یاغیتوب) برخه و نه اوسی. ملکې وګړي په هغه صورت کې د بریدونو په وړاندې د خوندیتوب تضمین له لاسه ورکوي کله چې دوي په نښتو کې نیغ په نیغه برخه واخلي.

**د جګړې څخه وتلی کس او یا خوندی پرسونل** : د ملکې وګړو په څېر د جګړې څخه وتلی کس (ژوبل شوی ، ناروغ ، د ویجاړې شوې کښتۍ عمله ، توقیف شوي یا او هم تسلیم شوي) یا هغه څوک چې د وسله والو ځواکونو په طبي یا مذهبي پرسونل پورې اړه ولري ، دوي هم د برید څخه د خوندیتوب حق لري. په دغه راپور کې که د جګړې څخه وتلی کسان ووژل شي او یا ژوبل شي ، دوي د ملکې کسانو په تلفاتو کې نه شمېرل کیږي.

**ډله ییز برید:** یوناما پیچلی برید د یوه قصدي او همغږي برید په حیث په کوم ګې چې ځانمرګي وسیله (د بیلګې په توګه په ځان پورې تړلې تبعیه شوې چاودیدونکې توکي یا په نقلیه وسیله کې ځای پر ځای شوې چاودیدونکي توکي) ، د یوه څخه زیات بریدګر او د یوې څخه زیاتې وسیلې (د بیلګې په توګه ، په ځان پورې تړلې چاودیدونکې توکي او هاوانونه) شامل وي ، تعریفوي.

**COM-RS:** په افغانستان کې د ناتو تر رهبرۍ لاندې د غوڅ ملاتړ د ماموریت او د نورو امریکایي ځواکونو قومندان.

**د EOF پیښې (د عکس العمل ښودلو پیښې):** چې "د ځواک د ساتنې پیښې" ورته هم وایي. په دې کې داسې حالات شامل دي چې کله ملکې وګړي پوځي قطارونو ته د نږدې کیدو یا له هغو څخه د مخکې کېدو په وخت کې د پوځي پرسونل اخطارونو ته پاملرنه و نه کړي او یا د تلاشۍ په پوستو کې لارښوونو ته توجه و نه کړي او تر برید لاندې راشي.

ایساف یې بیا داسې تعریفوي: دا یو دفاعي حالت دی چې له وړاندې تهدید په ګوته کوي او تهدید سره سم دفاعي عکس العمل د ځواکونو د خوندي ساتنې لپاره اخیستل کیږي.[۴۲۰]

**ERW:** له جګړې څخه چاودیدونکي پاتې شوني چې ناچاودي توکي ،او پرېښودل شوي چاودېدونکي توکي هم یادیږي.

**چاودیدونکي وسلې:** چاودېدونکې وسلې د نړیوال قانون له مخې په وضاحت سره نه دي تعریف شوي. چاودېدونکې وسلې په عمومي صورت د یو جعبې/ لولې څخه جوړې دي چې په کې د لوړې کچې د چاودېدونکو موادو څخه ډکه وي چې ویجاړونکې اغیزې یې په عمومي توګه د چاودنې د موج له لارې او هغو ټوټو څخه را ولاړیږي چې د انفجار وروسته تولیدیږي. هاوانونه ، د توپ ګولۍ ،د الوتکو بمونه ، راکټونه اود میزایلو جنګي سرګولولې ، او ډیری ځاي پر ځاي شوي چاودېدونکي توکي د دغې اصطلاح لاندې راځي. ځینې مشخصې چاودېدونکې وسلې کېدلای شي چې د **سپکو وسلو** په کتګورۍ کې ( د بیلګې په توګه ، د لاسي بمونو ګوزارونکي لانچرې چې د توپک د میل لاندې نصب کیږی او د اوږی د پاسه ګوزارونکی لانچری ، د ټانک ضد میزایلونو وارونکي لاسي لانچرې او د راکټونو سیستمونه ، د الوتکو ضد د میزایلو لاسي سیستمونه ؛ او د ۱۰۰ ملی مترو څخه کم لوله ییز هاوانونه) راځي. ډیری چاودېدونکي وسلې ، لکه د الوتکو بمونه ، د راکټونو سیستمونه ، د توپ ګولۍ او ستر هاوانونه د **درندو وسلو** په کتګوریو کې راځي.[۴۲۱]

---

۴۲۰ د ایساف د مرکزي دفتر د چارواکو سره د یوناما مرکه ،د جنوری ۳۱، ۲۰۱۴، کابل.

۴۲۱ بوري ج او بریهم م "په ګڼ میشتو سیمو کې د چاودېدونکو وسلو د کارولو څخه د ملکپانو د ساتنې تقویه کول: د سره صلیب نړیوال کمیته په بیا کتنه کې د پالیسۍ او څیړنې د اجندا جورول ، ۹۳ جلد ، ۸۸۳ ګڼه " ۳۳ او ۱۹۶ پایڅوري

**ځمکنۍ نښتې:** په ځمکنیو جګړو کې دغې جګړې شاملې دي: د جګړې د ښکیلو خواوو تر منځ ځمکنۍ متحرک عملیات ، دلېرې واټن ځخه برید ، د ډزو تبادله او وسله والې نښتې. په ځمکنیو نښتو کې د بریدونو او عملیاتو په وخت کې د سپکو او درندو وسلو ، او یا د ساحوي وسلو سیستمونه لکه د هاوانونو راکټونو کارول هم شامل دي.

**درندې وسلې:** که څه هم د " درندو وسلو" اصطلاح په پراخه توګه کارول کیږي ، خو د دې لپاره په عمومي صورت موافقه شوی نړیوال تعریف نشته.[422] د دې په نمونه یې بیلګو کې اوږده هاوانونه ، د راکټونو سیستمونه او توپخانې شاملې دي(د چاودیدونکو توکو په اړه پورته مراجعه وکړئ).

**د زیات قوت چاودېدونکو توکو د تمرین ځایونه:** یوه محوطه چې د پوځ او یا هم پوځي ځواکونو له خوا د دې لپاره کارول کیږي چې هلته د هغو وسلو سیستمونه ځای پرځای شي چې په کې چاودیدونکي مهمات د درندو وسلو په شمول کارول کیږي .

**IDP:** داخلي بې ځایه شوي کسان

**IED:** (ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي): یو بم چې د دودیزې پوځي طریقې په خلاف په نورو طریقو جوړیږي او کارول کېږي. کیدای شي چاودیدوني توکې په څلورو کتګوریو تقسیم شي: د کنټرول له لارې فعالیدونکې چاودیدونکي توکې ، د قرباني شخص په وسیله فعالیدونکي چاودیدونکې توکې ، د ځانمرګي بم په شکل کې استعمال شوي چاودیدونکو توکو او نور ځای پر ځای شوی چاودیدونکی توکې.

*د دستور له لارې فعالیدونکی ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي*- هغه رادیویي یا د لېرې څخه کنټرول شوي ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي (ریموټ کنټرول بمونه RC-IEDs)) (دي چې د لېرې واټن څخه کار کوي چې استفاده کوونکی کولای شي د وړاندې څخه ځای پر ځای شوي دغه توکي ته په یوه مناسب وخت کې چاودنه ورکړي او یو متحرک هدف په نږدې کېدو سره تر برید لاندې راولي.[423] په دغه ډله کې لاندیني چاودیدونکي توکي شامل دي: د استفاده کوونکي په ذریعه فعالیدونکي چاودیدونکي توکي ، لکه د سړک د غاړې بمونه او پر اشیاوو یا حیواناتو باندې ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي لکه موټر ، بایسکل ، موټر سایکلونه او مرکب، مقناطیسي- تبعیه شوی ځای پر ځای شوي چاودیدنکي توکې د یوې مقناطیسي او یا نورو وسیلو په واسطه نښلول کیږي او دا د تماس له لارې فعالیدونکي چاودیدونکي توکې دی ، په افغانستان کې د عادي رسولو د میتود له امله یوناما دا وسیلې په جلا ډول ثبت کوي ، د بیلګې په توګه ، د هدف وړ اشخاصو په نقیله وسیلو کې ځای په ځای کول.

*د قرباني شخص په ذریعه فعالیدنوکی ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي*- دغه چاودیدونکي توکي په هغه وخت کې فعاله کیږي چې کله یوه شخص او یا موټر د ده د پټاقۍ سویچ ته فشار ورکړي ، دغه سویچ ممکن فشاري وي یا د فشار د خوشې کېدو سیستم وي او یا هم د کش کولو سیم یا د کوم بل سیستم په توګه وي چې په هر صورت کې د چاودنې سبب ګرځي.[424]

---

۴۲۲ درندې وسلې په بشري نړیوالو حقونو او د بشر پالنې د نړیوال قانون په معیارونو کې نه دې یادې شوې . مویس ، ر ، بریهم ،م او ناش ، ت ؛ درندې وسلې او د ملکیانو ساتنه ، ۳۶ ماده (۲۰۱۲).

۴۲۳ د کوچنیو وسلو سروې ، تعبیه شوي چاودیدونکو توکو ، ۱۰ څپرکۍ ساعتې بمونه ، ۲۲۰- ۲۲۱ مخ.

۴۲۴ همدغه ماءخذ

*نور چاودېدونکي توکي*- په دې کتګورۍ کې عام تاري بمونه او ساعتی بمونه (د ۲۰۰۹ څخه راهیسې، یوناما د دې چاودیدونکو توکو له امله ډېر کم شمېر پېښې ثبتې کړې دي)، او هغه چاودیدونکي توکي په کې شامل دي چې د پټاقۍ یا سویچ ډول یې نه مالومېږي.

*ځان مرګی ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي (ځان مرګي/انتحاری بریدونه)*- د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په هکله د مالوماتو برسیره، یوناما د ځان مرګو او پیچلو عملیاتو له امله د ملکي خلکو د مرګ ژوبلی پېښې ثبتې کړې دي. د دغو پېښو په ارقامو کې د یو ځان مرګی برید کونکي یا ډریور له خوا د چاودیدونکو توکو نه ډک موټر چاودل او یا د یوه انتحاري په واسطه د واسکټ یا کمر بند چاودل شامل دي.

**د ځاي پر ځاي شويو چاودېدنکو توکو تحلیل او تشخیص:** د ځاي پر ځاي شویو چاودېدونکو توکو تحلیل د هغو معلوماتو او موادو د تشخیص، راټولولو، پروسس او معلوماتو خپرولو پروسه ده چې د ځاي پر ځاي شویو چاودېدنکو توکو د پیښې له ځاي څخه راټول شوي دي تر څو د عمل وړ استخباراتي معلومات تر لاسه شي، د ځاي پرځاي شویو چاودېدونکو توکو ضد پروسیجرونه او میتودونه غښتلي او د دې لپاره چې د یاغیانو منابع کمزوري کړای شي او د دوی د عدلي تعقیب ملاتړ وشي. په دې کې د ځاي پر ځاي شویو چاودېدونکو توکو ساتنه، د مختلفو برخو تشخیصونه، تخنیکي، عدلي طب او بایومتریک ازمویني او تحلیل راځي چې د با صلاحیته متخصصو اسانتیاوو او مرکزونو د لوري تر سره کېږي. د چاودیدونکو توکو تحلیل او تشخیص چاودیدونکو توکو پر ضد د اغیزمنو او دوامداره اقداماتو یوه اساسي برخه ده.

**پېښې:** هغه پیښې دي چې په وسله والو جګړو کې ملکي وګړو ته تلفات اړوي. د یوناما په راپورونو کې هغه تلفات نه دي شامل چې د جنايي پېښو په پایله کې پېښېږي.

**IHL:** د بشر پالنې نړیوال قانون

**Imam:** مذهبي عالم څوک چې لمونځ ورکوي.

**نړیوال پوځي ځواکونه:** په "نړیوالو پوځي ځواکونو" کې ټول هغه بهرني عسکر شامليږي کوم چې د ناټو د پريکنده ملاتړ د ماموریت یوه برخه جوړوي کوم چې پخوا د (ایساف) په نوم یادیده او په افغانستان کې د امریکې د متحده ایالاتو نورو ځواکونه (د سنټینیل د ازادۍ د عملیاتو په شمول، چا چې د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ د ۱ نیټې څخه د پایښت لرونکې ازادۍ د عملیاتو ځای ونیو) او او همدارنګه څوک چې د غوڅ ملاتړ د ماموریت تر قوماندان لاندی دي او څوک چې په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو قوماندان هم دی. دغه اصطلاح همدا راز پر ځانګړو عملیاتي ځواکونو او نورو بهرنیو استخباراتي او امنیتي ځواکونو باندې هم د پلي کیدو وړ ده.

**ټپونه:** د جسماني سختو ژوبلو یا ټپي کېدنو مختلف ډولونه په کې شاملیږي. د یوناما د بشری حقونو په ډیتابیس کې د جسماني ژوبلې درجه نه ده شامله. ارواېي یا روحي صدمه یا دماغي جرک د پیښې په ژوبلو کې نه دی شامل.

**ایساف:** په افغانستان کې مرستندویه امنیتي سوله ساتي ځواکونه. ایساف د ملګرو ملتونو د منشور د VII فصل له مخې د سولې د پلي کولو ماموریت یا دنده لري. ایساف د ملګرو ملتونو د امنیت شورا په امر او صلاحیت ځای په ځای کېږي. د ۲۰۰۳ کال په اګست کې د افغانستان د حکومت او ملګرو ملتونو په غوښتنه د ناټو سازمان د ایساف مشرتابه په غاړه واخیست. د ۲۰۰۸ د نومبر څخه د ایساف قوماندان په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو

قوماندان هم دی ، که څه هم د مراتبو سلسله ښېله پاتې شوې. د امنیت شورا ۲۱۲۰ (۲۰۱۳) شمیره پریکړه لیک د ایساف په اړه مخکني پریکړه لیکونه تاییدوي او د ۲۰۱۴ د دسمبر تر ۳۱ نېټې پورې د نورو ۱۴ میاشتو لپاره د ایساف ماموریت غزوي، د ۲۰۱۵ کال د جنوری له ۱ نیټې راهیسې ، د غوڅ ملاتړ ماموریت د ایساف ځای ونیو. (د غوڅ ملاتړ ماموریت وګوری)

**سپکې وسلې:** هغه وسلې دي چې د دوو او یا دریو کسانو چې په یوه عمله کې فعال وي لپاره ډیزاین شوي دي ، که څه هم ځینې یې کېدلای شي چې د یو تن له خوا ولیږدولې شي او په کار ولویږي. په هغو کې د نورو په شمول درندې ماشین ګنې ، لاسي ماشین دارې او د بمونو لانچرې ، سپکې لیږدېدونکې د الوتکو ضد توپکې ،سپکې د ټانک ضد ټوپکې ، بې پس لګده توپونه ، سپکې لېږدېدونکې د ټانک ضد میزایلونه او د راکټ سیستمونه ، د الوتکو ضد د میزایلونو سیستمونه ، او هغه هاوانونه چې د میل قطر یې د ۱۰۰ ملي مترو څخه کم وي شاملي دي.[۴۲۵]

**محرم:** د ښځې میړه ، یا د هغې نارینه خپل(د بیلګې په توګه ، پلار ، ورور ، ترونه او ماما ګان او د هغې وریرونه او خوریيونه) د چا سره چې د شریعت د قانون لاندې واده منع دی.

**MoI:** د کورنیو چارو وزارت

**ناټو:** د شمالي اتلانتیک د تړون سازمان. د ناټو سازمان غړي هیوادونه د ایساف اساسي مرستندویه هیوادونه دي. د غوڅ ملاتړ ماموریت او ایساف وګورئ .

**NDS :** د ملي امنیت ریاست یا د افغانستان دولتي استخباراتي اداره

**NGO :** نادولتي سازمان

**دولت پلوه وسله والې ډلې:** د دولت پلوه وسله والو ډلو" اصطلاح یوه نا دولتي تنظیم شوی فعال ته چې په شخړه کې ښکیل وي او د دولتي ځواکونو ،یاغیانو او جنایي ډلو څخه توپیر ولري راجع کیږي. دولت پلوه وسله والې ډلې افغان سیمه ییز پولس کوم چې د کورنیو چارو د وزارت تر کنترول او قوماندې لاندې راځې نه احتوا کوي. دغه وسله والې ډلې د افغانستان د قانون لاندې کوم حقوقي بنسټ نه لري. وسله والې ډلې دا پوتانسیل لري چې د ځواک په کارولو سره وسلې وکاروي تر څو سیاسي ، ایدلوژیکي او اقتصادي موخې تر لاسه کړي ، دا ډلې د هیوادونو ، دولتي ایتلافونه او بین الحکومتي ادارو د رسمي پوځې جوړښتونو په دننه کې ځای نه لري او د هیواد(هیوادونو) تر کنترول لاندې نه دي په کومو کې چې دوي فعالیت کوي. په ځینو مواردو کې ، وسله والې ډلې د کوربه هیواد یا نورو هیوادونو څخه مستقیمې او غیرمستقیمې مرستې تر لاسه کوي. په دې تعریف کې دا شامل دی ، خو تر لاندې ډلو پورې محدود نه دي: د ملي پاڅون حرکتونه[۴۲۶] ،محلي ملیشا(نژادي ، قومي یا په پل عبارت) او ملکې دفاعي ځواکونه او نیمه پوځې ډلې(داسې ډلې په ښکاره د دولت تر کنترول لاندې نه دي).

---

۴۲۵ پخپل وخت او په باوري توګه د ناقانونه کوچنیو او سپکو وسلو د تشخیص اوڅرک معلوملو لپاره د دولتونو د ځواکمنولو لپاره نړیواله مقرره ، چې د ۲۰۰۵ کال د ډسمبر په ۸ نېټه د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا له خوا تصویب شوې، A/CON.192/15 : په لاندني سایټ کې د لاسرسی وړ دی: http://www.un.org/events/smallarams2006/pdf/international_instrument.pdf

۴۲۶ په شخړه کې د ملي پاڅون د غورځنګ د غړو د ښکیلتیاوو په اړه تفصیلاتو او تعریفونو ته په وسله واله شخړه کې د ملکې کسانو د ساتنې په اړه د ۲۰۱۴ راپورونه وګورئ.

**دولت پلوه ځواکونه:** افغان دولتي ځواکونه او ټول هغه ځواکونه او ډلې دي چې په پوځي او نیمه پوځي عملیاتو یا د بغاوت ضد عملیاتو کې برخه اخلي او په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه د افغانستان د دولت تر قوماندې او اداري لاندې دي. په دې ځواکونو کې افغان ملي پوځ ، افغان ملي پولیس ، افغان سرحدي پولیس ، افغان سیمه ییز پولیس د ملي امنیت په شمول نور دولت پلوه سیمه ییز دفاعي ځواکونه هم شامل دي. افغان ملي امنیتي ځواکونه عبارت دي له : ملي پوځ ، چې دفاع وزارت ته راپور ورکوي او په رسمي ډول د افغانستان په وسله والو ځواکونو کې شامل شوي دي ؛ او هغه ځواکونه چې د کورنیو چارو د وزارت تر کنترول لاندې دي ، په هغو کې افغان سیمه ییز پولیس شامل دي ، دا ځواک د هغوي د دندو له امله د وسله والو قوتونو یوه غیری رسمي برخه تشکیلوي او په قانوني ډول د ملکې خلکو په څیر خوندیتوب نه لري ؛ او افغان ملي پولیس ، افغان یونیفورم لرونکي پولیس او افغان سرحدي پولیس د قانون پلي کونکي اداري دي چې په رسمي ډول د وسله واله ځواکونو برخه نه دي او د کورنیو چارو وزارت ته مسؤل دي ،د قانون پلي کونکو ادارو غړي هغه مهال خوندیتوب د لاسه ورکوي چې د وسله واله ځواکونو دنده اجراء کړي او په جګړه کې نیغ په نیغه برخه واخلي. دوي د خپل ځان د دفاع پر وخت د ځواک کارولو له امله د ملکې په حیث خوندیتوب له لاسه نه ورکوي.

همدارنګه په دغه اصطلاح کې نړیوال ځواکونه او نور بهرني استخباراتي او امنیتي ځواکونه هم شامل دي.(نړیوال پوځې ځواکونه وګورئ)

**دولت پلوه ملیشې:** دولت پلوه وسله والې ډلې وګورئ.

**د غوڅ ملاتړ ماموریت:** د ۲۰۱۵ کال د جنوری په ۱ نېټه ، د شمالي اتلانتیک تړون سازمان (ناټو) په افغانستان کې خپل ماموریت د ایساف څخه د غوڅ ملاتړ غیر جګړه ییز ماموریت ته واړاوه چې موخه یې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته د روزنې ، مرستې او مشورې برابرول دي. د ایساف پر خلاف ، چا ته چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا لخوا اختیارات ورکړل شوی و خو د غوڅ ملاتړ د ماموریت لپاره حقوقي بنسټ د ځواکونو د تړون دریځ(SOFA) برابر کړی ، کوم چې په کابل کې د ۲۰۱۴ کال د ډسمبر په ۳۰ نېټه لاسلیک شو او د افغان پارلمان لخوا د ۲۰۱۴ کال د نومبر په ۲۷ تصویب شو. د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۲۱۸۹(۲۰۱۴) شمیرې پریکړه لیک د افغانستان د اسلامي جمهوریت او ناټو تر منځ د دوه اړخیزه تړون چې موخه یې د غوڅ ملاتړ د ماموریت را منځ ته کول وه ستاینه کړی. د ۲۰۱۵ کال د می د میاشتې را هیسې ، د غوڅ ملاتړ د ماموریت د ځواک ۱۳۱۹۹ تنه سرتیري د سرتیرو د ۴۲ ورکونکو هیوادونو څخه را منځ ته شوی چې دا بیا د روزنې ، مرستې او مشورې د څلورو سیمه ییزو قرارګاوو په شمول ، د غوڅ ملاتړ د ماموریت د مرکزي دفترونو او د روزنې ، مرستې او مشورې په هوایي قرارګاوو کې تنظیم شوي ، دا بیا د افغان ملي امنیتي ځواکونو سره د یوه مسلکي ، وړ او پایداره هوایي ځواک په جوړولو کې مرسته کوي. د غوڅ ملاتړ د ماموریت قوماندان همدارنګه د افغانستان لپاره د امریکایې ځواکونو د قوماندان په حیث دنده ترسره کوي خو د قوماندې د مراتیبو سلسلې یې بیلې دي.

**کوچنی وسلې:** هغه وسلې دي چې د انفرادي کارونې لپاره ډیزاین شوي دي. په هغو کې اوه ډزې تومانچې یا د ملا وسله ، او توماتې تومانچې ، ټوپکې ،کاربینونه ، نیمه اوتومات ماشینګنې ، ګوزاریزې ټوپکې او سپکې ماشینګنې شاملې دي.[۴۲۷]

---

۴۲۷ پخپل وخت او په باوري توګه د ناقانونه کوچنیو او سپکو وسلو د تشخیص اوڅرک معلومولو لپاره د دولتونو د ځواکمنولو لپاره نړیواله مقرره ، چې د ۲۰۰۵ کال د ډسمبر په ۸ نېټه د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا له خوا تصویب شوې ، A/CON.192/15 : په لاندني سایټ کې د لاسرسی وړ دی:
.http://www.un.org/events/smallarams2006/pdf/international_instrument.pdf

**SOPs:** معیاري عملیاتي طرزالعملونه.

**هدفي وژنې:** هغه وژنې دي چې په ارادي ، د مخه سنجول شوي او قصدي ډول د دولت او یا د دولت کارکونکو چې د قانون په چوکاټ کې دنده لري( او یا په وسله واله شخړه کې د منظمې وسله والې ډلې) له خوا د یو په نښه شوي شخص پر ضد وژونکي ځواک وکاروي ، او هغه شخص د مرتکبینو د فزیکي ساتني او نظارت لاندي نه وي.[٤٢٨] یوناما د ملکي کسانو د تلفاتو داسي قضي ثبت کړیدي کوم چې په نیغه د دا ډول بریدونو څخه رامنځته شوي او یا هم ورسره تړلي دیي. په دي اړوند څلورم څپرکی ؛د دولت مخالف هدفی وژني چې د ملکي کسانو د تلفاتو لامل شوي ؛ وګورئ.

**تشکیل:** په دري کې د جوړښت په مانا ده چې د کارکونکو د ګمارنې رسمي فهرست او د تجهیزاتو اختصاص ته چې د افغانستان د دولت له خوا د دولت د یوه ځانګړې نهاد ، د امنیتي ځواکونو او ملکي حکومت دواړو لپاره تصویب شوې وي ، راجع کیږي

**UNDSS:** د ملګرو ملتونو د مصوونیت او امنیت څانګه .

**UNAMA:** په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی .

**UNHCR:** د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمشنري.

**USSOF:** د امریکې متحده ایالاتو د ځانګړو عملیاتو ځواکونه .

**UXO:** نا چاودي توکي.

**جنګي جرایم:** جنګي جرمونه د بشر پالنې د نړیوال قانون د میثاق او عرفي قانون څخه جدی سرغړونې دي. د جرمونو د نړیوالې محکمې د منشور ( یا د روم اساسنامه) له مخې جنګي جرمونه[٤٢٩] په تعریف کې د نورو تر څنګ د ژینو د کنوانسیونونو د درییمې مشترکې مادې څخه سرغړونه شامله ده چې په هغه کې د شخص او د هغه پر ژوند تیری ، په تیره بیا هر ډول قتلونه ، د اندامونو پرې کول ، بې رحمه سلوک او شکنجه ؛ د شخص حرمت او وقار پایمالولو ، په تیره بیا سپکاوی او د بې عزتۍ چلند ، یرغمل کول ؛د قانوني محکمې د قضاوت او د عدلي تضمیناتو د وړاندیزولو پرته چې هغه په عمومي صورت د اجراء کولو لپاره لازمي دي تر مخه د مجازاتو تصویب او د اعدامونو سرته رسول په دغو جرمونو کې راځي.

٤٢٨ که څه هم چې په زیاترو حالتونو کې چې هدفي وژنې د ژوند د حق څخه سرغړونه کوي ،د وسله والې شخړې په استثنایی حالتونو کې ، کیدای شي حقوقي بڼه ولري خو په دې شرط چې د نړیوال بشر دوستانه قانون د اړوندو مقرراتو او بشری حقونو درناوي شوي وي. د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې ، د بشري حقونو د شورا ۱۴مه ناسته ، د اجنداء دریيمه ماده ،د غیر قانوني یا په خپل سر او نا قانونه اعدامونو په هکله د ځانګړي راپور ورکونکی ، فیلیپ آستون راپور ته مراجعه وکړئ. د هدفي وژنو په هکله تعدیل شوي څیړنه A/HRC/14/24/Add.6. 10 May 2010. په یوناما کې د دیټا بیس د ثبتولو په موخه ، د هدفي وژنو په کټګوري کې د وژنو ځینې داسې قضیې هم شاملې دي چې قرباني شوي کس د لنډې مودې لپاره د وژنکو په حراست کې پاتې شوي خو دغه حراست د تیښتوني له امله نه وو په دا معنی چې تشخیص شوي کس چې باید وژل شوي واي لومړي د مسلحو کسانو له خوا درول شوي ، هویت یې معلوم شوي او وروسته برید کوونکي دغه کس وژلي چې دا ډول وژنی اکثراً د ناقانونه تلاشي پوستو کې ترسره شوي.

٤٢٩ د جرمونو د نړیوالې محکمې منشور ، ۸ ماده ، نړیوال عرفي قانون چې په نړیواله او غیر نړیواله وسله واله شخړه کې د پلي کېدو وړ دی ، د هغه له مخې د نړیوال بشر دوستانه قانون څخه جدي سرغړونې جنګي جرایم شمیرل کیږي. د هیوادونو اجرات د نړیوال عرفی قانون نورمونه تشکیلوي. ۱۵۶ مه قاعده د جنګي جرایمو تعریف. د بشرپالنې د نړیوال عرفي قانون په اړه د سره صلیب د نړیوالې کمیټې څېړنه ، ۱جلد ، جین ماری هینکرتز او لویز ډوزوالډ- بیک (سی یو پی/ د سره صلیب نړیواله کمیټه ، کمبریج ۲۰۰۵) [د سره صلیب د نړیوالې کمیټې څیړنه]

**لومړی ضمیمه: د طالبانو له خوا ادعا شوي بریدونه: د هدف د نوعیت په پر اساس تجزیه**

| د افغان امنیتي ځواکونو ،نړیوالو پوځي ځواکونو او دولت پلوه ډلو په وړاندې هدایت شوي بریدونه | |
|---|---|
| افغان ملي پولیس | ۵۹ |
| افغان سیمه ییز پولیس | ۲۵ |
| افغان ملي پوځ | ۱۸ |
| افغان ملي امنیتي ځواکونه | ۱۹ |
| د ملي امنیت ریاست | ۱۰ |
| افغان سرحدي پولیس | ۷ |
| نړیوال پوځي ځواکونه | ۳ |
| دولت پلوه ملیشې | ۲ |
| **د امنیتي او پوځي خواکونو په وړاندې ټولټال بریدونه د کومو په پایله کې چې ملکې تلفات را منځ ته شوي او په ویب پاڼه او تویټر ټولنیزه شبکه باندې د طالبانو ادعاوې** | **۱۴۳** |

| د ملکي کسانو او ملکي هدفونو په وړاندې هدایت شوي بریدونه | |
|---|---|
| نوري ملکي موخې | ۲۸ |
| ملکي حکومتي اداره | ۲۲ |
| قاضیان ،څارنوالان او قضایی کارکونکي | ۱۶ |
| قومي مشران | ۵ |
| قراردادیان/مزدوران | ۴ |
| روغتیایي کارکوونکي | ۱ |
| بشري ماین پاکوونکي | ۲ |
| شخصی امنیتی کمپنی ګانی | ۲ |
| پوهنه | ۱ |
| ملګري ملتونه | ۱ |
| **د طالبانو له خوا په ملکي کسانو او ملکي ځایونو ادعا شوي بریدونه چې ملکي تلفات یې رامنځ ته کړي:** | **۸۲** |
| **د طالبانو له خوا ټولټال ادعاء شوي بریدونه په کومو کې چې ملکې تلفات را منځ ته شوي** | **۲۲۵** |

**دویمه ضمیمه: د طالبانو د ادعاوو فهرست "جنګي جرمونه"**

| تولټال | د یوناما مستند کول | پایلې | منسوبونه |
|---|---|---|---|
| | د طالبانو د بیانونو د نشر کېدو څخه وړاندې د یوناما له خوا ۱۳۹ قضیې مستندې شوې. | په ۳۹ قضیو کې د ملکي تلفاتو ورته شمیرې موجودې وې<br>د وژل شوی او ټپي شویو کسانو تر منځ د مختلف نسبت په درلودلو سره ،په ۷ قضیو کې د ملکي تلفاتو ورته شمیرې موجودې وې. | ۳۶ دولت پلوه ځواکونه<br>د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ د ډزو په تبادله کې ۵<br>دولت ضد عناصرو ته ۵ |
| | | په ۴۷ قضیو کې د ملکي تلفاتو ټیټې شمیرې موجودې وې. | دولت پلوه ځواکونو ته ۳۹<br>د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ د ډزو په تبادله کې ۴<br>دولت ضد عناصرو ته ۴ |
| | | په ۳۰ قضیو کې د ملکي تلفاتو لوړې شمیرې موجودې وې. | دولت پلوه ځواکونو ته ۲۰<br>دولت پلوه ځواکونو او د دولت ضد عناصرو ته ۱<br>دولت ضد عناصرو ته ۹ |
| | | ۴ قضیو د وسله والې شخړې سره تړاو نه درلود | |
| ۲۵۴ | | د ۱۲ قضیو تلفات ملکیان نه و یا یې هیڅ تلفات نه درلودل. | |
| | د طالبانو د بیانونو د نشر کېدو څخه وروسته د یوناما له خوا ۶۵ قضیې مستندې شوې. | په ۲۲ قضیو کې د ملکي تلفاتو ورته شمیرې موجودې وې.<br>د وژل شویو او ټپي شویو کسانو تر منځ د مختلف نسبت په درلودلو سره په ۵ قضیو کې د ملکي تلفاتو ورته شمیرې موجودې وې. | دولت پلوه ځواکونو ته ۱۵<br>د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ د ډزو په تبادله کې ۸<br>دولت ضد عناصرو ته ۴ |
| | | په ۱۲ قضیو کې د ملکي تلفاتو کمې شمیرې موجودې وې. | دولت پلوه ځواکونو ته ۸<br>د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ د ډزو په تبادله کې ۲<br>دولت ضد عناصرو ته ۲ |
| | | په ۴ قضیو کې د ملکي تلفاتو لوړې شمیرې موجودې وې. | دولت پلوه ځواکونو ته ۳<br>دولت پلوه ځواکونو او د دولت ضد عناصرو ته ۱ |
| | | ۳ قضیو د وسله والې شخړې سره تړاو نه درلود | |
| | | د ۱۹ پیښو تلفات ملکیان نه وو او یا هیڅ ډول تلفات ندرلود | |
| | یوناما و نه شوای کولای ۵۰ قضیې تایید کړې. | | |

**دریېمه ضمیمه: په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د عامه چارو مطبوعاتي خبرپاڼه**

کندز ته څیرمه د ملکي تلفاتو په اړه معلومات (د ۲۰۱۶ د نومبر ۵)

کابل ، افغانستان (د ۲۰۱۶ د نومبر ۵) — لومړني پلټنې ښیې چې کندز ته څیرمه د افغان دفاعي او امنیتي ځواکونو څخه دفاعي هڅې د ملکي وګړو د تلفاتو سبب ګرځېدلې دي.

"زه د بې ګناه خلکو پر مرګ ژوبله ، حالاتو ته له پامه پرته ، ډېر خواشینی یم. د بې ګناو خلکو وژل کیدل یوه غمیزه ده او موږ د قربانیانو له کورنیو سره په دغه غم کې شریک یو ،" جنرال جان نیکولسن ، په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو قوماندان. "موږ به له خپلو افغان سیالانو سره په ګډه د دغې پېښې د حقایقو په اړه پلټنه وکړو او د افغانستان دولت سره په ګډه مرسته برابره کړو."

د نومبر پر دریېمه نېټه ، افغان ځواکونه ، د امریکایي ځواکونو په هدایت د کندز ولایت د کندز ولسوالی په بز کلی کې پوځي عملیات تر سره کړل چیرې چې طالب مشرانو پر کندز ښار د لا زیاتو بریدونو پلان جوړاوه. د عملیاتو په ترڅ کې ، افغان او بهرني ځواکونه له بیلابیلو ساحو ، د دښمن له خوا له سختو ځوابي بریدونو سره مخ شول چې په پایله کې د دفاع په موخه ، ځمکنۍ بریدونه او د امریکایي ځواکونه له خوا هوایي برید تر سره شو. لومړني راپورونه ښیې چې په دغه نښته کې یو شمېر طالب مشران او غړي ووژل شول.

څرنګه چې د افغانستان دولت ویلي ، په کندز ولایت کې د طالبانو شتون خلکو ته ګواښ رامنځ ته کړی دی. د افغانستان د خلکو په دفاع کې به موږ د خپل افغان شریکانو ملاتړ ته دوام ورکړو.

**په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د عامه چارو دفتر**

http://www.rs.nato.int/article/press-releases/update-on-civilian-casualties-near-kunduz-nov.-5-2016.html

**د کندز په بز کلی کې د ملکي وګړو د تلفاتو پخلی**

کابل ، افغانستان (د ۲۰۱۷ د جنورۍ ۱۲) — په افغانستان کې امریکایي ځواکونه ، د هغو ادعاوو په اړه چې ګواکې د افغان او امریکایي ځواکونو په ګډ عملیات کې چې د ۲۰۱۶ د نومبر پر ۲-۳ نیټې د کندز په بز کلی کې تر سره شول ، د ملکي وګړو د تلفاتو سبب ګرځېدلي دي ، پلټنې بشپړې کړې. پلټنه وښوود چې په خواشینی سره ، د هغه عملیات په ترڅ کې ۳۳ ملکي وګړي وژل شوي او ۲۷ نور ټپیان شوي دي. د ځان او د افغان ځواکونو د دفاع په موخه ، امریکایي ځواکونو ، پر هغو طالب جنګیالیو چې د ملکي وګړو کورونه د سنګر په توګه کارول ، برید وکړ.

"زه د بې ګناه خلکو پر مرګ ژوبله ، حالاتو ته له پامه پرته ، ډېر خواشینی یم ،" جنرال جان نیکولسن ، په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو قوماندان. "په دې موقع ، طالب جنګیالیو د ملکي وګړو په کورنو د پټېدو وروسته ، پر افغان او امریکایي پوځیانو برید وکړ. زه غواړم چې ولسمشر اشرف غني او افغان خلکو ته ډاډ ورکړم چې موږ به د افغان ولس د ساتنې لپاره هر ممکن ګام اوچت کړو. د هیواد په دفاع کې د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو په هڅو کې به موږ د دوی سره خپلې مرستې ته دوام ورکړو."

دغه عمليات د هغو طالب مشرانو د نيولو په موخه تر سره شول چې په کندز کې د اکتوبر مياشت د تاوتريخوالو مسؤل ول. دغه عمليات د افغان ځانګړو عملياتو ځواکونو له خوا تر سره کيدل چې په کې امريکايي ځواکونه يوازې د سلا مشورې او مرستې ونډه لرله. کلی ته درسيدو پر مهال ، ګډ ځواکونه ډير ژر له بيلا بيلو ملکي ودانيو څخه د طالبانو تر ډزو لاندې راغلل. د نښتې په دوام سره ، په داسې حال کې چې ګډ ځواکونه له ملکي ودانيو څخه د طالبانو د ډزو له امله تلفات ورکول ، افغان او امريکايي ځواکونه اړ شول چې د ځان د دفاع لپاره له امريکايي اډو څخه د هوايي مرستې غوښتنه وکړي. د امريکايي ځواکونو هوايي بريد هغه طالبان هم په نښه کړل چې د مړو او ټپيانو د انخلا پر امريکايي طبي تجهيزاتو ډزې کولې.

د پلټنې پايلې ښيي چې امريکايي جنګي الوتکې د ګډ ځواکونو د خونديتوب او له ملکي ودانيو څخه د ګواښونو په خنثی کولو کې لږترلږه ځواک کارولی دی. پلټنه ښيي چې د نښتې په ترځ کې هيڅ ملکي وګړی نه دی ليدل شوی او نه هم مشخص شوی دی. احتمالا ، ملکي وګړي په هغو ودانيو کې د ننه ول له کوم څخه چې طالب جنګياليو ډزې کولې. سربېره پر دې ، د طالبانو د وسلو او مهماتو زيرمتون هم په نښه کړای شو چې کيدای شي د ملکي ودانيو تخريب او د ملکي وګړو تلفات د دغو مهماتو د چاودنې له امله رامنځ ته شوي وي.

پلټنه په دې نتيجې پای ته ورسيده چې امريکايي ځواکونو د ځان په دفاع کې ، د وسله والو نښتو د قانون او د تطبيق وړ تړولو مقرراتو او تګلارو پر بنسټ ګام اوچت کړی دی. د دغې نښتې شدت له دې څخه څرګنديږي چې د دغو عملياتو په ترځ کې دوه امريکايي او د افغان پوځ درې کوماندو سرتيري ووژل شول. سربيره ، څلور امريکايي سرتيري او ۱۱ افغان کوماندو ټپيان شول. د پلټنې د پايلې پر بنسټ ، په دغه نښته کې د درې طالب مشرانو په ګډون ۲۶ طالب جنګيالي ووژل شول او ۲۶ نور ټپيان شول. دا پريکړه شوې چې په دې اړه د نور هيڅ اقدام ته اړتيا نشته ځکه امريکايي ځواکونه له ځانه د دفاع په خاطر عمل کړی او د تطبيق وړ قانون او تګلاره تعقيب کړې ده.

سرچينه:
http://www.rs.nato.int/article/press-releases/civilian-casualties-confirmed-in-boz-villagekunduz.html
(وروستی ځل د جنوري پر ۱۷مه کتل شوي)

**ځلورمه ضمیمه: په وسلواله جګړه کې د ملکي وګړو د خوندي ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۶ کال راپور په اړه د افغانستان د اسلامي جمهوریت اعلامیه**

**د افغانستان اسلامي جمهوریت**

**د بهرنیو چارو وزارت**

**د بشري حقونو او د ښځو د نړیوالو چارو ریاست**

**د اهمیت درجه:**

**مهم**

**محرم**

**عادي شمیر:**

**نیټه: ۱۳۹۵-۱۱-۱۶**

**موضوع: یادونه**

**ضمیمې: ۳**

**د افغانستان د اسلامي جمهوریت د بهرنیو چارو وزارت په کابل کې د یوناما دفتر ته د درناوي په وړاندې کولو سره داسې څرګندوي:**

**د یوناما په وسله واله جګړه کې د ملکې وګړو د ساتنې د ۲۰۱۶ کال د راپور په اړه د افغانستان د اسلامی جمهوریت رسمي ځواب ، په درو پاڼو دغه محترم دفتر ته لیږي.**

**د افغانستان د اسلامي جمهوریت د بهرنیو چارو وزارت له موقع څخه په غنیمت ، یو ځل بیا د خپلې درناوي مراتب وړاندې کوي.**

**په کابل کې د یوناما محترم دفتر ته!**

**د افغانستان د اسلامي جمهوریت دولت ، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سازمان د مرستندویه ماموریت (یوناما) څخه په وسله واله جګړه کې د ملکې وګړو د ساتنې د ۲۰۱۶ کال د راپور د شریکولو څخه مننه کوي. د افغانستان د اسلامي جمهوریت دولت په وسله والو شخړو کې ملکي وګړو ته د زیان د مخنیوي او کمولو ته ډیر زیات اهمیت ورکوي او په لیوالتیا سره د یوناما له خوا زموږ د هیواد د دې شان پېښو د څارنې او ثبتولو ستاینه کوي.**

**څرنګه چې په راپور کې راغلی ، افغان ولس د رواني جګړې ډیره لوړه بیه ورکوي چیري چې وسله وال طالبان او نورې سیمه ایيزې او نړیوالې ترهګرې ډلې هڅه کوي چې زموږ هیوادوال له یوه بنستیز بشري حق ؛ یعني په سوله کې ژوند څخه محرومه کړي. دغه ترهګر بې له توپیره ، بې له دې چې انساني کرامت ته درناوی ولري او بې لې دې چې اسلامي ارزښتونو او د بشرپالنې نړیوال قانون ته پام وکړي زموږ پر بې ګناه ولس ظلم ته دوام ورکوي.**

دغه راپور په سمه توګه ، غیر انساني چلند او تکتیکونه لکه ځانمرګي او څوارخیز بریدونه ، هدفي او قصدي وژنې ، د بم او نورو چاودیدونکو توکو کارونه ، تښتونې ، په خپل سر او له محاکمې پرته مجازات او داسې نورې کړنې چې ترهګر زموږ د ولسي خلکو په وړاندې کاروي ، راپه ګوته کوي.

د افغانستان د زیاتو سیمو د نیولو او تر ولکې لاندې راویستلو په موخه طالبان او په دوی پورې تړلې نورې ترهګرې شبکې په ۲۰۱۶ کې د خپل بریدونو په زیاتولو سره وښودل چې د ملکي وګړو ساتنه دوی ته هیڅ معنا نلري او د دوی بریدونه د ډیر زیات ملکي وګړو د مرګ ژوبلې سبب وګرځید. په ډیرو مواردو کې دوی په قصدي ډول په ملکي میشتو سیمو کې پناه اخیستله او ښځې او ماشومان یې د انساني ډال په توګه کارول.

د تیر کال په شان ، راپور ښیي چې په ۲۰۱۶ کې ښځې او ماشومان تر ټولو زیات له ترهګرۍ اغیزمن شوي دي او دا په ډاګه کوي چې " ښځې او ماشومان د جګړې اړوند تاوتریخوالو کې وژل شوي او یا ټپیان شوي دي ، د حکومت مخالفو عناصرو د سختو مجازاتو ، بندیزونو او د بشري حقونو نورو سرغړونو لکه وژنه ، فزیکي مجازات ، لکه شکنجه او پر بنسټیزو بشري حقونو قصدي بندیزونو او محدودیتونو سره مخ شوي دي..." د ماشومانو د قربانیو په اړوند ، دغه راپور کې همدا شان زړه بوګنونکي انځور وړاندې کوي او د طالبانو ، داعش او نورو ترهګرو ډلو له خوا د کوچني ماشومانو وژنه ، جنسي تیری ، تښتونه او جګړې ته په زوره استخدام په ډاګه کوي.

زموږ راپورونه او پلټنې هم په افغانستان کې د ترهګرو ډلو له خوا د ملکي وګړو په ځانګړې توګه ښځو او ماشومانو په وړاندې سخت جنایتونه راپه ګوته کوي. د بشریت په وړاندې دغه جنایتونه کاملاً د تشویش وړ دی ؛ او د افغانستان د اسلامي جمهوریت دولت له یوناما څخه غواړي چې د طالبانو او د دوی اړوندو ترهګرو ډلو له خوا د ښځو او ماشومانو پر ضد د ظلم مخ په ډیریدو میلان ته ځانګړې پاملرنه وکړي.

په داسې حال کې ده چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت دولت د افغانستان د امنیتي وضعیت په څارلو او په جګړه کې د بشري حقونو د سرغړونو د بیلګې او کچې په اړه د یوناما د راپور ورکولو هڅې ستایي ، په دغه راپور کې یو لړ توپیرونه ، سوء تفاهم او غلطې څرګندونې هم راپه ګوته کوي. د دې یوازینی مقصد دا دی چې د یوناما راپور لا پیاوړې کړای شي او د ځمکنیو حقایقو بشپړ او دقیق انځور وړاندې کړای شي:

• د ملکي وګړو تلفاتو د تشخیص او مسؤلیت په اړه ، د افغانستان د اسلامي جمهوریت دولت د یوناما د څېړندود په اړه اندېښنه لري. د یوناما کړنلاره ، د دوو هیوادونو تر منځ د دودیزې جګړې په اړه چیرې چې ښکېلې غاړې ، د جګړې ډګر ، د ښکیلتیا اصول ، کاریدوونکې وسلې او تکتیکونه څرګند او مشخص وي ، مناسبه ده. خو موږ د ترهګرۍ په وړاندې کمپاین کې جنګیږو چیرته چې ترهګر کوم یونیفورم په غاړه نلري ، په ملکي میشتو سیمو کې فعالیت لري ، د ښکیلتیا ځانګړې اصول نلري او زموږ د ولس د وژلو او ټپي کولو لپاره له هر راز امکاناتو څخه کار اخلي. له همدې کبله ، په ډیرو مواردو کې ، که نامکنه نه وي ، خو دا ډیر ګران کار دی چې په تحقیق سره په ډاګه شي چې وژل شوی او یا ټپي شوی کس ملکي دی او یا وسله وال مخالف. په دې توګه ، موږ په درناوي ، له یوناما څخه غوښتنه کوو چې پر خپلې کړنلارې بیا کتنه وکړي تر څو د روانې جګړې سره سمون پیدا کړي.

• د پورتني مطلب سره په تړاو ، د ملکي زیان مسؤلیت دی چې د یوناما د راپور له مخې ، حکومت پلوو ځواکونو د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د ۲۳ سلنې مسؤلیت په غاړه لري. موږ په درناوي سره د یوناما د دغه شمیر سره

مخالفت څرګندوو او غواړو چې یوناما په مناسبه توګه پر دې بیا کتنه وکړي. د دولتي ارقامو پر بنسټ ، دغه شمیر خورا لږ دی او لا کمولو لپاره یې اړین اقدامات تر سره شوي دي.

• د افغانستان د اسلامي جمهوریت دولت د دغه راپور وراندیزونه جدي نیولي او په دولتي تګلارو او کړنو کې د شاملولو لپاره یې تر غور لاندې نیسي. د مثال په توګه ، په ملکي میشتو سیمو کې د هاوان ، توغندي ، لاسي بم ، هوایي برید او نورې غیر مستقیمې وسلې د کارولو د درولو د وړاندیز په اړه د افغانستان د اسلامي جمهوریت دولت داسې کړنلارې او طرزالعملونه په کار اچولي چې په ملکي میشتو سیمو کې له دغه وسلو کارول منع او د بالقوه سرغړونې په اړه فوري پلټنه کوي.

• د افغانستان د اسلامي جمهوریت دولت د دې وضاحت کوي چې له ملکي ودانیو لکه ښوونځي ، روغتونونو او کلینیکونو څخه د پوځي مقاصدو لپاره کار نه اخلي. په داسې مورد کې چې کوم پوځي یا دولتي چارواکي داسې کوم اقدام وکړي ، نو په چټکه توګه پلټنه کوي او په دې اړه مناسب اقدامات تر لاس لاندې اخلي.

• د ۲۰۱۶ په لړ کې ، د افغانستان د اسلامي جمهوریت دولت د قربانیانو له کورنیو او له هغو کورنیو سره چې د رواني جګړې او یا ترهګریزو بریدونو له امله په مالي توګه زیانمن شوي د خپلې مرستې او معاوضې پر تګلاره عمل کړی دی او په آینده کې به هم دغې تګلارې ته دوام ورکړي.

• د افغانستان د اسلامي جمهوریت دولت به د ملکي وګړو د تلفاتو د مخنیوي او راکمولو د تګلارې تطبیق ته دوام ورکړي تر څو د دولتي ځواکونو د عملیاتو په لړ کې ، په استراتیژیکه ، اوپراتیفي او تکتیکي کچه ملکي وګړو ته د زیان مخنیوي وشی او یا هم کم شي. د دولت د څار عالي اداره او همدا راز کاري ډله به په منظمه توګه غونډې وکړي ، د یادې تګلارې پر تطبیق به کتنه وکړي او په دې اړه به د دولت مشرتابه ته راپور ورکړي.

د افغانستان د اسلامي جمهوریت دولت ، د ملکي وګړو ساتنه خپله نهایي دنده بولي او په دغه لار د حکومت د ملاتړ لپاره هر راز هڅه تشویقوي او هرکلی یې کوي.

**پنځمه ضمیمه: په وسلواله جګړه کې د ملکي وګړو د خوندي ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۶ کال راپور ته د غوڅ ملاتړ ماموریت رسمي ځواب**

په کابل ، افغانستان کې د غوڅ ملاتړ ماموریت مرکز

د ۲۰۱۷ د جنورۍ ۲۶

د ریکارډ لپاره یاددښت

موضوع: د یوناما په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په راپور کې د نړیوال پوځ ځواکونو ته د سپارښتنو رسمي ځواب.

**۱-** د ناتو غوڅ ملاتړ ماموریت او یوناما د یوه هدف د تر لاسه کولو په لور کار کوي او هغه دا چې افغانان په یوه خوندي او محفوظه افغانستان کې د سولې او سوکالۍ ژوند وکړي. یوناما ، په افغانستان کې د بشري حقونو له درناوي څخه په دفاع کې ډېر زیار ایستلی او ځان یې وقف کړی دی او د غوڅ ملاتړ ماموریت په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې د یوناما په ۲۰۱۶ راپور کې د هراړخیزو اقداماتو ستاینه کوي. په لاندې کې د نړیوال پوځ ځواکونو ته د وړاندیزونو په اړوند د غوڅ ملاتړ ماموریت له خوا د عملي شویو اقداماتو په اړه معلومات ورکول کیږي.

**۲- لومړي سپارښتنه:** د غوڅ ملاتړ ماموریت د ملکي وګړو د تلفاتو د راکمولو تیم ، د افغانستان د اسلامي جمهوریت دولت ته د ملکي وګړو د تلفاتو د مخنیوي او راکمولو د ملي تګلارې د مسودې په جوړولو او نهایي کولو کې د پام وړ مرسته وکړه. دغه تګلاره د افغانستان د اسلامي جمهوریت دولت له خوا د منظورۍ نه وړاندې ، اوسمهال تر نهایي غور لاندې ده. د منظورۍ وروسته ، د غوڅ ملاتړ ماموریت د ملکي وګړو د تلفاتو د راکمولو تیم به د ملي امنیت شورا او د عمومي قوماندان په دفترونو کې د روزنې ، سلا مشورې او مرستې ماموریت ته به دوام ورکړي تر څو دغه تګلاره په اغیزمنه توګه پلې شي.

**۳- دویمه سپارښتنه:** د غوڅ ملاتړ ماموریت د افغانستان د ملي دفاع او امنیتي ځواکونو ته ده قول اردو او زون په کچه ، او دولتي دفاترو ته د ریاست او وزارت په کچه مرسته او سلا مشوره برابروي. د افغانستان د ځانګړې امنیتي ځواکونو او هوایي ځواکونو په استثنا ، د غوڅ ملاتړ ماموریت د روزنې ، سلا مشورې او مرستې ماموریت ، د افغانستان ملي دفاع او امنیتي ځواکونو ته په تکتیکي کچه د روزنې دنده په غاړه نلري. د ۲۰۱۶ د دسمبر په میاشت ، د ناتو سلاکاران ، د افغانستان د ځانګړو عملیاتو ځواکونو ته له هوا څخه ځمکې ته د عملیاتو روزنه ورکړه. سربیره ، د افغانستان هوایي ځواکونه ، د هدف بوږد ایجاد کړ چې د هوایي برید نه وړاندې د منظوري ورکولو واک لري. دغه بورډ ، د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې مخنیوۍ اړین ګام بولي. د افغانستان د ځانګړې امنیتي ځواکونو د دغو پرمختګونو سربیره ، د حکومت مخالف جنګیالي ، له ملکي میشتو سیمو څخه بریدونو ته دوام ورکولو سره د ملکي وګړو ژوند په خطر کې اچوي.

**۴- دریيمه سپارښتنه:** د غوڅ ملاتړ ماموریت د سړک غاړې د ماینونو پر ضد د مبارزې پرسونل به د افغانستان د اسلامي جمهوریت دولت ته د بنسټونو په کچه له دغو ماینونو او د جګړې پاتې چاودیدونکو توکو له ګواښ څخه د ملکي وګړو او پوځي ځواکونو د ساتنې سلا مشورو ته دوام ورکړی. د کورنیو چارو وزارت د سړک د غاړې ماینونو پر ضد د مبارزې د

۱۱۹ د اړیکې مرکز له پخوا څخه فعالیت لري چې د ملتي میډیا کمپاین سره ملاتړ کیږي. دغه کمپاین ، د سړک غاړې ماینونو د پوهاوي په اړه په ورځ کې دوه اعلانونه خپروي او د اعلانونو د خپرولو ۲۴ لوحې لري. سربیره پر دي ، د ماشومانو د ساتنې ۱۲۳ دفترونه ، د ناچاودو توکو ، ماینونو او د سړک د غاړې ماینونو د پوهاوي په اړه روزل شوي چې په ټول هیواد کې به ماشومانو ته زدکړه ورکړي. د غوڅ ملاتړ ماموریت دغه راز د وزارتونو په کچه د هغو نوښتونو ملاتړ کوي تر څو د سړک غاړې ماینونو په اړه عامه پوهاوي د افغانستان د منځنیو ښوونځیو په تعلیمي نصاب کې شامل شي. اوس مهال ، د سړک غاړې ماینونو ، ناچاودو توکو او ماینونو د پوهاوي په اړه د ۵۰۷۴ ښوونکو د روزنې په اړوند د ښوونې وزارت او امریکا سفارت تر منځ همکاری جریان لري. د غوڅ ملاتړ ماموریت د سړک غاړې د ماینونو پر ضد د مبارزې اداره د موسساتو او د ګرځنده روزنیزو ډلو د روزنې لپاره د ۱۲۰ ښوونکو پر قرارداد کار کوي. دغه قرارداد به د چاودیدونکو وسلو پر شنډولو ، د سړک غاړې د ماینونو د له منځه وړلو او د لارې پر پاکولو متمرکز وي او سربیره پر دي به د اړینو تجهیزاتو ۱۰۰ فیصد تدارک تر څنګ د ماین پاکۍ ۳۰۰ سپکې آلې برابرې کړي.

**۵- څلورمه سپارښتنه:** د عملیات وروسته بیاکتنه په معول ډول تر سره کیږي. که چیرې واحدونه کومه اندېښنه ولري ، د غوڅ ملاتړ ماموریت د ملکي وګړو د تلفاتو د راکمولو تیم په ذریعه ، د غوڅ ملاتړ ماموریت له مرکز څخه په رسمي دول غوښتنه کوي. دغه عمل هغه مهال هم تر سره کیږي کله چې د نورو بنسټونو له خوا د ملکي وګړو د تلفاتو په اړه خبرتیا تر لاسه شي. د امر په صورت کې په ملي کچه د پلټنو غوښتنه کیږي. په دغو مواردو کې چیرې چې د ملکي وګړو د تلفاتو د راکمولو په اړه پرمختګونه مشخص شي ، څیړندود او اوپراتیفي بهیرونه کیدای شي توپیر ولري. د غوڅ ملاتړ ماموریت مرکز پر دې حقیقت ټینګار کوي چې د نړیوال ځواکونو هوایي بریدونه د منظورۍ له سخت او پیاوړي بهیر څخه تیریږي چې د ملکي وګړو د تلفاتو مخنیوی ته ډیره زیاته پاملرنه کوي. غوڅ ملاتړ ماموریت او ملي ځواکونه ، د ملکي وګړو د تلفاتو کمولو ته بنسټیز اهمیت ورکوي. د ملکي وګړو د تلفاتو تورونه ، د غوڅ ملاتړ ماموریت د ملکي وګړو د تلفاتو د راکمولو ډله د " ملکي تلفاتو د اعتبار ارزونې بورډ" له خوا تر غور لاندې نیول کیږي. د غوڅ ملاتړ ماموریت مرکز د پلټنو د څیړندود او پایلې په اړه په علني توګه عمل کوي او په آینده کې به هم وکړي. خو د ټول عملیات د تفصیلاتو خپرول ، وسله والو مخالفینو ته د راتلونکو ورته عملیاتو لپاره یوه کونده برابروي چې د عملیات د خوندیتوب پر خلاف عمل دی.

**۶-** د دغه یادداښت په اړه د معلوماتو لپاره د غوڅ ملاتړ د ملکي وګړو د تلفاتو د راکمولو تیم ، د آی سي سي ، یم کترې سره اړیکه ونیسی: برېښنا لیک آدرس: rshqopscj3civcassorns@hq.isaf.nato.int

او یا ناتو (انکلاسیفاید) تلیفون شمېره: ۴۴۳۲-۶۸۶-۶۰

تورن جنرال کریستوفر کې هاز

د امریکا پوځ

د عملیاتو د لوی درستیز مرستیال

د غوڅ ملاتړ مرکز

**شپږمه ضمیمه: په وسلواله جګړه کې د ملکي وګړو د خوندي ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۶ کال راپور په غبرګون کې د طالبانو ځواب**

**په افغانستان کې د ملګري ملتونو د حقوق بشر د څانګې د ۲۰۱۶ میلادي کال د ملکي تلفاتو د راپور ځواب**

ستاسو څخه ډیره مننه چې له موږ سره مو خپل راپور شریک کړ. مونږه ستاسو راپور وکوت. خو په ډیر تأسف او خواشیني سره دا وایو چې ستاسو راپور په ډیر مهارت سره داسې جوړ شوي دی چې د ملکیانو په مرګ ژوبله کې د افغانستان اسلامي امارت لخوا تلفات زیات وښودل شي او د امریکایانو او د مزدورې ادارې لخوا تلفات کم وښودل شي. مثلا تاسو په ۲۰۱۶م کلني راپور کې ستاسو په اصطلاح د دولت په مخالفینو کې د اسلامي امارت څخه علاوه نورې ډلې هم راوستي دي. نو پر ځای ددې چې دا پیښې په مختلفو ډلو د فیصدی په حساب وویشل شي چې هرې ډلې ته به یې ارقام کم ورسیږي تاسې یې ټول په مجموع کې د دولت مخالفینو ته منسوب کړي دي او د راپور په خلص کې مو داسې ویلي دي چې په مجموع ملکي تلفاتو کې ۶۲ سلنه د دولت ضد عناصرو ، خصوصا د اسلامي امارت مجاهدینو ، لخوا شوي دي ، چې دا خبره بیا مبهمه ده او قصدا داسې شکل ورکړل شوی چې د نورو دولت ضد عناصرو تلفات هم په مجموع کې په اسلامي امارت ورواوړي او دا وښودل شي چې ګواکې د افغانستان اسلامي امارت مجاهدین د عامو وګړو په مرګ ژوبله کې زیاته ونډه لري ، چې دا رنګ کړنه ستاسو د حقایقو په پټولو کې څرګنده او قصدي عمل دی چې مونږ ته د منلو وړ نه دی او مونږه داسې کړنه یو طرفه عمل بولو.

همداراز ستاسو دا څیړنه هم ستاسو د عدم تحقق پوره ثبوت دی چې تاسو د حقاني شبکه د افغانستان د اسلامي امارت حخه جلا ګڼلې ده او حال دا چې حقاني صاحب حفظه الله د امارت معاون (مرستیال) دی ، نو جلا ډله کله شوه بلکې د اسلامي امارت ډله ده او په امارت کې دا فرق نیشته چې دا امارت دی او دا حقاني شبکه. مګر تاسو جلا جلا حساب کړي چې ستاسو دا عمل هم د عدم اګاهی پوره ثبوت دی.

سربیره پر دې ستاسو په راپور کې هغه تلفات چې په حقیقت کې ملکي تلفات نه دي په ملکي تلفاتو کې حساب شوي دي او په ډیر مهارت سره مو کوښښ کړی دی چې د ګوډاګي ادارې او یرغلګرو پورې تړلې نظامیان په ملکیانو کې حساب شي چې له دې سره د اسلامي امارت دملکي تلفاتو ارقام زیات وښودل شي.

علاوه له دې څخه تاسو په خپل راپور کې د ګوډاګي ادارې پورې مربوط کسان په ملکیانو کې شمیرلي دي او حال دا چې دوی په پوځي چارو پورې مربوط خلک دي ، مثلا شخصي امنیتي کمپینیانې چې عملي پوځي فعالیتونه کوي او په مسلحه توګه د اسلامي امارت خلاف جنګیږي. ددې برعکس د اسلامي امارت د تعلیم او تربیې مامورین په نظامیانو کې حسابوئ ، ځکه ستاسو په راپور کې په هیڅ ځای کې هم نه دي راغلي چې د اسلامي امارت د ننګرهار ولایت لپاره د تعلیم او تربیې ولایتي مسؤل د امریکایانو لخوا شهید شو او تاسو هغه په خپل راپور کې په هیڅ ځای کې نه ده یاده کړې چې امریکایانو د تعلیم او تربیې مسؤل شهید کړ.

تاسو همداراز دومره له حقائقو څخه عاري راپور ترتیب کړی چې د امریکایانو لخوا د ملکي تلفاتو پیښې لکه د لمر په څیر روښانه دي چې ډیرې پیښې شوي دي ، مګر تاسو په ۲۴ سلنه تلفاتو کې چې ستاسو په اصطلاح د دولت پلوو ځواکونو لخوا شوي دي دوه سلنه مو امریکایانو ته منسوب کړي دي چې دا عمل مو د امریکایانو ښکاره طرفداري ده او غالبا د امریکایانو لخوا په فرمایش به شوی وي.

بله دا چې د امریکایانو لخوا د ملکي تلفاتو کې مو صرف د کندز ولایت د بز کنداري د پیښې یادونه کړې او دومره په شد او مد سره مو یاده کړې ده چې ګواکې امریکایان او ګوډاګی اداره یې کلکه پوښتنه کوي او حال دا چې موږ سره په سلګونو داسې پیښې ثبت دي چې امریکایان پکې رسما ښکیل دي چې تاسو د هغو د سره یادونه نه ده کړې او ددې لپاره چې امریکایان بیخي بري ښکاره کړئ یو طرفه راپور مو ترتیب کړی دی.

دا هم د یادولو وړ دی چې د اسلامي امارت دمقدس جهاد په مهمو اهدافو کې یو خصوصي هدف د عامو وګړو څخه دفاع ده چې په همدې اساس د اسلام د روښانه اصولو موافق خپله جهادي مبارزه پر مخ بیايي تر څو مظلوم افغانان د یرغلګرو امریکایانو او د هغو د لاس پوڅو د ظلم څخه نجات پیدا کړي او خپل قیمتي ژوند د اسلام د اصولو موافق تیر کړي. د همدغه هدف ترلاسه کولو لپاره د ملکي تلفاتو د مخنیوي او سمع شکایات په نامه مستقله اداره تأسیس شوې ده چې په ډیر دقت سره د ملکیانو تلفات څیړي او په هر ولایت کې خپل نمایندګان لري چې پیښې له نږدې څخه څیړي ،له سیمې څخه لیدنه کوي او له خلکو کره معلومات راټولوي چې تاسو سره بیا دغه سهولتونه نیشته. نه تاسو په ټولو ولایتونو کې نمایندګان لرئ او نه له متضررینو سره اړیکې نیولی شئ. ستاسو په راپور کې د یو څو محدودو کسانو په استناد چې تاسو ورته مصیبت ځپلي ویلي دي نمونې وړاندې کړې دي او بس او په کومو لرو پرتو سیمو کې چې ملکي تلفات شوي وي د هغو سره بیخي تماس نه دی نیول شوی.

نو بناء ستاسو راپور موږ ته دمنلو وړ نه دی او ردوو یې ، له تاسو څخه غواړو چې په دې اړه ، چې د انسانانو ژوند پورې تړلې خبره ده ، تل بې پرې او داسې قضاوت وکړئ چې د منلو وړ وي.